د افغانســــــــتان اســــلامي امارت
دلوړو زده کړو وزارت
دعلمي چارو معينيت

سلام پوهنتون
د شرعياتو او قانون پوهنځی
د فقهې او قانون د ماسترۍ پروګرام

# فقهي قواعد په کتاب البيوع د بدائع الصنائع کې

## د ماسترۍ رساله

محصل: حضرت ګل ( مسکين )
لارښود: دوکتور محمد سليم ( مدني)

کال: ۱۴۰۰ هـ ش ۱۴۴۳هـ ق

د افغانســــــتان اســـلامي امارت
دلوړو زده کړو وزارت
دعلمي چارو معينيت

سلام پوهنتون
د شرعياتو او قانون پوهنځی
د فقهې او قانون د ماسترۍ پروګرام

# فقهي قواعد په کتاب البيوع د بدائع الصنائع کې
## د ماسترۍ رساله


محصل: حضرت گل ( مسکين )
لاربنود: دوکتور محمد سليم ( مدني)


کال: ۱۴۰۰ هـ ش ۱۴۴۳هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

## د فقه اوقانون دیپارتمنټ

## د ماسترۍ بورډ

# تــصدیق نـــامـــه

ښاغلی حضرت گل د محمد گل زوی د ID: SH-MSF-97-354 نمبر لرونکی، د فقه اوقانون د شپږم دور محصل د ماسترۍ مرحلې رساله چې عنوان يې: فقهي قواعد په کتاب البيوع د بدائع الصنائع کې د پنجشنبې ورځ په ۱۴۰۰/۱۲/۲۶هـ ل نېټه يې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۹۳ (نمرو په عدد) دری نوی (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور محمد یونس ابراهیمی | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور رفیع الله عطاء | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور محمد سلیم مدنی | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسترۍ د بورډ آمر.......................... علمی مرستیال ..........................

## ډالۍ

خپله دغه هڅه !
خپل ګران مرحوم پلار ته چې زما د لوړو زده کړو په هیله یې ډېرې ستړې او ستومانې وګاللې خو زما ثمره او سیورى یې په نصیب نه شو .
او هغه چا ته چې دحق دکلمې دلوړ والیلپاره یې هره ستونزه منلې او دهر طاغوت او جبر په وړاندې دغره په څیر په خپل اسلامي او حق دریځ ولاړ دی او دټولنې دسمون لپاره هڅې کوي .
په ډېره مینه او اخلاص سره ډالۍ کوم .

حضرت ګل (مسکین)

## مننلیک

دهر څه نه مخکې دالله تعالی حمد او شکر  اداء کوم ، چې پر ما عاجز بنده يې دشرعي علومو زده کړه پيرزو کړه او په ځانګړې توګه دغه ستره پيرزوينه چې زه يې د ماسترۍ درجې ته ورسولم ، بيا يې دفقهي قواعدو اړوند دبحث دليکلو او څيړنې توفيق راپه برخه کړ ځکه چې الله تعالی فرمايي : ﴿ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴾[1]

ژباړه : که چيرې شکروويست تاسې ( په تيرو نعمتونو احسانونو زما ) نو خامخا زيات به کړم تاسې ته نعمت او قسم دی که بې قدري ناشکري وکړه تاسې ( د نعمتونو احسانونو زما ) نو بيشکه عذاب زما خامخا ډېر سخت دی .

او درسول الله ﷺ په دې وينا دعمل کولو لپاره چې فرمايي : « مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللَّهَ ».[2]

چا چې دخلکو شکر  اداء نکړ ګويا چې دالله تعالی شکر يې هم ندی  اداء کړی .

نو په همدې اساس زه دسلام پوهنتون له محترمې رهبرۍ ، او ټولو مهربانه استاذانو څخه مننه کوم ، چې شپه او ورځ يې دهيواد دځوان کهول دروزنې او سمون په موخه خپلو مادي او معنوي هڅو ته دوام ورکړی ، په ځانګړې توګه له ګران ، مشفق او قدرمن لارښود استاذ ( دکتور محمد سليم مدنی ) صيب ، چې هم يې دماسترۍ په منهجي دوره کې په ډېر اخلاص او مينې سره درس راکړی او هم يې په خورا ورين تندي زما دڅيړنې اشراف او لار ښودنه ومنله او خپلې ارزښتناکه علمي او منهجي لارښوونې په ډېره سړه سينه او ورين تندي وخت په وخت را باندې لورولي ، زه داستاذ دقدر دانۍ او مننې لپاره مناسب الفاظ نه لرم  خو دزړه له تله ورڅخه مننه کوم او دټولو هڅو ستونزو او لارښوونو بدله ورته  له الله تعالی  څخه غواړم .

په درنښت

حضرت ګل (مسکين)

---

۱: د ابراهيم سورت ۷ آيت

۲: الترمذي ، الامام محمد بن عيسى ، سنن الترمذي :  كتاب البر والصلة ، باب ما جاء في الشكر لمن أحسن اليك ، دحديث شميره : ۱۹۵۵ ، امام ترمذي رحمه الله وايي : دا حديث حسن صحيح دی ، او شيخ البانی دصحيح لغيره حکم ورباندې کړی ، چاپ : شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر ، دويم چاپ  ، کال : ۱۳۹۵هـ - ۱۹۷۵ م ، تحقيق : إبراهيم عطوة عوض المدرس في الأزهر الشريف ج۴ص ۳۳۹

**خلاصه**

دا ځیرنه چې د بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع په کتاب البیوع کې د (فقهي قواعد په کتاب البیوع د بدائع الصنائع کې ) تر عنوان لاندې تر سره شوې ، هڅه شوې چې داسلامي فقهې د یو معتبر فقیه او د حنفي مذهب پېژندل شوی عالم امام کاساني رحمه الله او کتاب یې بدائع الصنائع چې دحنفي فقهې له باوري او مشهورو مصادرو او مراجعو څخه شمېرل کېږي او دفقهي قواعدو چې په اسلامي فقه کې داساس او بنسټ مثال لري ځیرل شوي په لاندې ډول دی :

پیلیزه (مقدمه) ، درې فصلونو ، پایلي ، وړندیزونه ، د آیاتونو ، آحادیثو ، او اعلامو لړلیکونه ، مأخذونه او په آخیر کې د انګلیسي ژبې په لنډیز مشتمله ده .

پیلیزه کې دموضوع اهمیت ، ضرورت ، د غوره والیلاملونه ، دځیرنې اصلي پوښتنې ، د موضوع په اړه پخوانۍ لیکنې ، کړنلاره ، موخې ، ستونزې او ترتیب بیان شوی دی .

لومړی فصل په دی فصل کې د فقهي قواعدو د پیژندني او بیا د هغې ارزښت او اهمیت ، او د هغې ډولونه ځیرل شویدي ، او د دې ترڅنګ د فقهي قواعدو حجت والی تر ځیرنې لاندې نیول شوی دی ، او همدارنګه د امام کاساني رحمه الله ترجمه او د هغه د کتاب پیژندنه پکې بیان شوې ده.

دویم فصل په بیان د هغه قواعدو کې چې استخراج شوي د فصل د ( رکن البیع )نه تر فصل د ( بیوع المکروه )پورې په دیکې (۷) مبحثه دي.

لومړې مبحث: فقهي قواعد د( رکن البیع ) په فصل کې.

دویم مبحث: فقهي قواعد په فصل د(شرائط انعقاد البیع ) کې چې متعلق دي د عاقد،نفس العقد،او مکان د عقد پورې.

دریم مبحث: فقهي قواعد د(شرائط انعقاد البیع) په فصل کې.

چې متعلق دي معقود علیه پورې.

څلورم مبحث: فقهي قواعد د(شرائط صحة البیع) په فصل کې.

پینځم مبحث: فقهي قواعد د(شرائط نفاذ البیع) په فصل کې.

شپږم مبحث: فقهي قواعد د(ربا او جریان الربا) په فصل کې.

اووم مبحث: فقهي قواعد د(شرائط الرکن ) په فصل کې.

په دریم فصل کی هغه فقهي قواعد راټول شوي چی په فصل د حکم البیع او په فصل د ما یرفع به حکم البیع کی ذکر شوي دي او دا فصل مشتمل دی په څلورو مبحثونو.

لومړی مبحث: فقهی قواعد د ( الحکم الأصلی للبیع) په بحث کی په دې کې پنځه مطلبه دي.

دویم مبحث: فقهی قواعد په بحث د هغه احکامو ی تابع د حکم اصلی د بیعې دي په دې کې څلور مطلبه دي.

دریم مبحث: فقهی قواعد په بحث د خیاراتو کې په دې کې لس مطلبه دي.

څلورم مبحث: فقهی قواعد په بحث د ( ما یمنع الرجوع بنقصان العیب و ما لا یمنع) په دې کې شپږ مطلبه دي.

# موضوعاتو لیکلړ


مقدمه ........ 8

د موضوع اهمیت: ........ 2

د موضوع د غوراوي لاملونه او ضرورت : ........ 2

د څیړنې اصلي او فرعي پوښتنې: ........ 3

د څیړنې مخینه(سوابق): ........ 3

دڅیړنې کړنلاره : ........ 4

د څیړنې موخې : ........ 4

د بحث په اوږدو کې ستونزې او خنډونه : ........ 5

د موضوع د جوړښت پلان ( خطه ) ........ 5

**لومړی فصل: تعریفونه** ........ 10

**لومړی مبحث:** د فقهې او قواعدو پیژندنه ........ 11

لومړی مطلب: د فقهې لغوي او اصطلاحي تعریف ........ 11

دویم مطلب : د قواعدو تعریف ........ 14

دریم مطلب: د فقهي قواعدو اهمیت: ........ 16

څلورم مطلب: د فقهي قواعدو ډولونه ........ 18

پینځم مطلب: د فقهي قواعدو حجت والی: ........ 20

**دویم مبحث :** د امام کاساني رحمه الله او د هغه د کتاب ( بدائع الصنائع) پیژندنه ........ 23

لومړی مطلب: د امام کاسانی پیژندنه ........ 23

دویم مطلب : د امام کاساني رحمه الله د کتاب ( بدائع الصنائع ) پیژندنه ........ 30

**دویم فصل: فقهي قواعد د (رکن البیع) دفصل څخه تر(بیوع المکروه)د فصل پورې** ........ 37

**لومړې مبحث:** فقهي قواعد په فصل د( رکن البیع ) کې ........ 38

لومړې مطلب: د ( العرف قاض على الوضع ) قاعدې زده کړه. ........ 38

دویم مطلب: د (العبرة للمعنى لا للصورة) قاعدې زده کړه ........ 42

تطبیقي بیلگې: ........ 45

**دویم مبحث:** فقهي قواعد په فصل د شرائطو د انعقاد د بیعي کی چې متعلق دي عاقد، نفس عقد،او ځای د عقد پورې، په دیکې پنځه مطلبه دي. ........ 46

لومړي مطلب: د (اهلية المتصرف شرط انعقاد التصرف) قاعدې زده کړه. ........ 46

دویم مطلب: د( الحكم فی البعض كالحكم فی الكل) قاعدې زده کړه ........ 50

دریم مطلب: د (الإشارة المفهومة من الاخرس تقوم مقام عبارته) ........ 53

څلورم مطلب: د ( الضرر منفي ) قاعدې زده کړه. ........ 57

پينځم مطلب: د ( خطاب الغائب كتابه) قاعدې زده كړه. .......... 60
**دريم مبحث:** فقهي قواعد په فصل د شرائطو د انعقاد دبيعي كي چي متعلق دی د معقود عليه پوری، په ديكي شپږ مطلبه دي..... 63
لومړي مطلب : د (الضرورات تبيح المحظورات ) قاعدې زده كړه. .......... 63
دويم مطلب: ( الكفار مخاطبون بشرائع هی الحرمات وهو الصحيح) قاعدې زده كړه.......... 69
دريم مطلب: ( الشبهة ملحقة بالحقيقة في باب المحرمات احتياطا) قاعدې زده كړه.......... 74
څلورم مطلب: ( الحكم يثبت بقدر العلة هذا هو الأصل) قاعدې زده كړه. .......... 77
پينځم مطلب: (مالم يكن ثابتًا بيقين انه لايثبت بالشك والاحتمال) قاعدې زده كړه.......... 80
شپږم مطلب : د ( الثابت باليقين لا يزول بالشك) قاعدې زده كړه.......... 87
**څلورم مبحث:** فقهي قواعد په فصل د شرائطو د نفاذ د بيع كي : .......... 91
لومړی مطلب: (الأصل ان تصرفات الفضولي التي لها مجيز حالة العقد منعقدة على اجازة المجيز وما لا فلا) قاعدې زده كړه 91
دويم مطلب: ( تصرف العاقل محمول على وجه الأحسن ما امكن) قاعدې زده كړه .......... 94
د قاعدې دليل.......... 96
دريم مطلب : ( الأصل ان يكون تصرف الإنسان لنفسه لا لغيره) قاعدې زده كړه .......... 98
څلورم مطلب :( الإجازة الاحقة بمنزلة الوكالة السابقة) قاعدې زده كړه.......... 101
پينځم مطلب: ( لا ضرر ولا إضرار فی الاسلام) قاعدې زده كړه.......... 105
**پينځم مبحث:** ( فقهي قواعد په فصل د الربا او جريان الربا كي).......... 108
لومړی مطلب : ( الجهالة المفضية الى المنازعة تفسد العقد) قاعدې زده كړه. .......... 108
دويم مطلب: ( مطلق الإسم ينصرف الى المتعارف) قاعدې زده كړه.......... 113
دريم مطلب: (الثمن يقابل الأصل لا الصفة) قاعدې زده كړه.......... 116
څلورم مطلب: ( المعروف بالعرف كالمشروط بالشرط) قاعدې زده كړه.......... 119
پينځم مطلب: ( الجهالة لا تمنع صحة الإسقاطات) قاعدې زده كړه .......... 122
**شپږم مبحث :** فقهي قواعد په فصل د (الربا) او ( جريان الربا) كي .......... 124
لومړی مطلب : ( الدراهم والدنانير لا يحتملان التعين شرعا في عقود المعاوضات) قاعدې زده كړه .......... 125
دويم مطلب: ( اختلاف الأصل يوجب اختلاف الفرع) قاعدې زده كړه.......... 128
دريم مطلب : ( الأصل كل ما جاز فيه المفاضلة جاز فيه المجازفة وما لا فلا) قاعدې زده كړه .......... 130
څلورم مطلب: د (اعتبار الغالب والحاق المغلوب بالعدم هوالأصل في الشرع) قاعدې زده كړه.......... 132
پينځم مطلب: د ( الكثير لايكون تابعا للقليل) قاعدې زده كړه.......... 136
شپږم مطلب: (اختلاف الملك بمنزلة الإختلاف العين) قاعدې زده كړه.......... 138
**اوم مبحث:** فقهی قواعد په فصل د( شرائط ركن البيع ) كي په ديكي پنځه مطلبه دي.......... 141
لمړی مطلب: د (المسلمين عند شروطهم) قاعدې زده كړه.......... 141
دويم مطلب: (البقاء اسهل من الإبتداء) قاعدې زده كړه .......... 145
دريم مطلب:د(امورالمسلمين محمولة على الصحة والسداد ما امكن) قاعدې زده كړه.......... 148
څلورم مطلب: (الأصل اعتبار الحقيقة) قاعدې زده كړه.......... 152
پنځم مطلب: ( عرف المسلمين وعادتهم حجة مطلقة) قاعدې زده كړه .......... 155

**دریم فصل: فقهي قواعد د (حکم البیع) فصل څخه د (ما یرفع به الحکم البیع) فصل پورې** ................ 159
**لومړی مبحث:** فقهی قواعد په بحث د ( الحکم الأصلی للبیع) په دې مبحث کی پنځه مطلبه دي ........................................ 160
لومړی مطلب: د ( اختلاف الأسامیدلیل اختلاف المعانی هو الأصل) قاعدې زده کړه ................................................ 160
دویم مطلب: د (مبني المعاوضة علي المساواة) قاعدې زده کړه.................................................................... 162
دریم مطلب:(فعل العجماء جبار) قاعدې زده کړه.................................................................................... 166
څلورم مطلب (الظاهر بقاء ماکان علي ما کان) قاعدې زده کړه ........................................................................ 169
پنځم مطلب: (وماشرعت البینات الا لإثبات خلاف الظاهر) قاعدې زده کړه............................................................. 173
**دویم مبحث:**......................................................................................................................... 176
فقهي قواعد په بحث د هغه احکامو کې چې تابع دي د حکم اصلي د بیع او په دې کي څلور مطلبه دي. ........................... 176
لومړی مطلب: ( المضمونات تملك باختیارالضمان) قاعدې زده کړه................................................................ 176
دویم مطلب: (البینة المثبتة اولي ) قاعدې زده کړه) قاعدې زده کړه.................................................................. 179
دریم مطلب (لا دلا لة مع النص بخلا فها) قاعدې زده کړه........................................................................... 182
څلورم مطلب: د (الوارث خَلَفَ المورَث) قاعدې زده کړه.......................................................................... 187
**دریم مبحث** ........................................................................................................................ 191
فقهي قواعد په بحث د خیاراتو کې په دي کې لس مطلبه دي. ...................................................................... 191
لومړي مطلب د ( السبب المفضي الی الشي یقوم مقامه) قاعدې زده کړه ............................................................. 191
دویم مطلب: ( الباطل متلاش) قاعدې زده کړه...................................................................................... 194
دریم مطلب: د ( کلما یوجب النقصان في عادة التجار نقصانا یسیراً اوفاحشا فهوعیب) قاعدې زده کړه ........................ 197
څلورم مطلب: د ( السلامة مشروطة في العقد دلالة فکان کالمشروط نصا) قاعدې زده کړه ........................................ 198
پنځم مطلب: د ( اختلاف السبب یوجب اختلاف الحکم) قاعدې زده کړه.............................................................. 200
شپږم مطلب ( البینة حجة مطلقه) قاعدې زده کړه.................................................................................. 202
اووم مطلب (الإقرارحجة قاصرة) قاعدې زده کړه.................................................................................. 204
اتم مطلب: (الشرکة في الأعیان عیب) قاعدې زده کړه............................................................................. 207
نهم مطلب( ماکان تابعا في العقد یکون تابعا في الفسخ) قاعدې زده کړه........................................................... 210
لسم مطلب د (الضرر واجب الدفع ما امکن) قاعدې زده کړه......................................................................... 212
**څلورم مبحث:** فقهي قواعد په بحث (مایمنع الرجوع بنقصان العیب وما لایمنع )په دې کې ۷ مطلبه دي. ........................... 214
لومړي مطلب: د (القدرة علي الأصل تمنع المصیر الیالخلف) قاعدې زده کړه....................................................... 214
دویم مطلب: د ( الحرمة الثابتة حقا للشرع لا تسقط برضا العبد) قاعدې زده کړه.................................................... 217
دریم مطلب: د ( الأصل في الآدمي عدم الملك والمالیة) قاعدې زده کړه ........................................................... 220
څلورم مطلب: د (حکم التبع حکم الأصل) قاعدې زده کړه............................................................................ 223
پنځم مطلب: د ( الشي قد یثبت ضمنا لغیره وان کان لا یثبت مقصودا) قاعدې زده کړه.......................................... 225
شپږم مطلب : (الثابت بدلالة النص کالثابت بصریح النص) قاعدې زده کړه........................................................ 228
اووم مطلب:( القدرة علی الأصل بعد حصول المقصود بالخلف لایبطل حکم الخلف) قاعدې زده کړه.............................. 231
پایله...................................................................................................................................... 235

د آیاتونو فهرست ........................................................................................................................ 241
د حدیثونو فهرست ........................................................................................................................ 244
د اعلامو فهرست ........................................................................................................................ 246
مآخذونه ........................................................................................................................ 247

## مقدمه

إن الْحَمْدُ لِلَّهِ نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، مَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا﴾ [1] ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ﴾ [2] ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا[3]﴾ [4]

امابعد: اسلامي فقه د اسلامي امت لپاره هغه لويه علمي پانګه ده چې د ټل لپاره مسلمان نسلونه پرې وياړي ، دا علم د مجتهدينو او فقهاؤ له لوري د شرعي أدله وو څخه د استخراج او استنباط ثمره ده ، چې د هغوی د حق پالنې او حق پلټنې په پايله کې مونږ ته را پاتې ده او په حقوقي مسائلو کې نه يوازې اسلامي ټولنې ته بلکې ټولو نړيوالو ته د هدايت يوه روښانه ډيوه ده ، د اسلامي امت فقهاؤ د ټولنې د ډول ډول حوادثو چارو له پيښيدو سره په پراخه پيمانه د کتاب الله او د رسول الله ﷺ د سپيڅلو احاديثو په رڼا کې استنباطات وکړل، پرله پسې اجتهادونو په پايله کې پراخ فقهي فروعات او تفصيلي مسائل رامنځ ته شول ، چې دا ټول د شريعت عمومي مباديو ، اصولو په رڼا کې او د قياسي تحليلونو او تعليلونو په واسطه منځ ته راغلل ، چې د هم دغو فروعاتو زياتيدل د فقهي قواعدو د منځ ته راتک او د يو مستقل علم په توګه د هغه د راڅرګنديدو لامل شو. کله چې فقهي فروعات او جزئيات زيات شول ، نو د بې شميره مسائلو حفظ او ضبط دروند کار وه او آن تر دې چې ځينو کسانو لپاره يو ناشونی کار وه ، نو فقهاؤ د همدې بې شميره مسائلو د حفظ ضبط د اسانولو لپاره داسې کلي او ياهم اکثري قواعد تدوين کړل چې د يوې قاعدې زده کول او خپلو جزئياتو صحيح تطبيقول يې د زرګونو مسائلو او فروعاتو د پوهيدو په معنا دي .

او اسلامي فقه د نورو ځانګړتياوو تر څنګ دا ځانګړتيا هم لري چې د ژوند د هرې برخې لپاره اصول او قواعد لري ، د همدې اصولو او قواعد په مټ فقهاؤ او علماؤ د هرې نوې حادثې او مسئلې حل پيدا کوي .

دا اصول او قواعد ځيني يې په کتاب الله او ياهم د رسول الله ﷺ په احاديثو نه صراحتًا معلوميږي ، او ځينې يې د اسلامي امت مجتهدينو ، فقهاؤ د شرعي نصوصو څخه او ياهم د اصحابو کرام رضی الله عنهم او تابعينو رحمهم الله د آثارو څخه استنباط کړي دي ، او بيا په هر عصر کې علماؤ د دې اصولو

[1] : د النساء سورت ١ ايت
[2] : د ال عمران ١٠٢ آيت
[3] : د الاحزاب سورت ٧١ آيت
[4] :اخرجه أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني في سننه، سنن أبی داود ، کتاب النکاح باب خطبة الحاجة،خپروونکی مکتبة العصرية بيروت لمړی چاپ کال ١٤٠٩هـ ق ج٢ص٢٣٨ رقم الحديث(٢١١٨)

او قواعدو د تو ضیح او تشریح خدمت سرته رسولی دی ؛ او په خپلو کتابونو او لیکنو کې ئې کارولي او د استدلال اویا هم تعلیل په طریقه یې ذکر کړي دي .
نو ما هم وغوښتل چې د دې کاروان یو لاروی شم ، نو ځکه مې هوډ وکړو چې د حنفي فقهې د یو اهم کتاب (بدائع الصنائع) چې د فقهي اصولو او قواعدو یوه ذخیره ده بلکې د فقهي قواعدو د موسوعې حیثیت لري ، د یوې برخې چې عبارت د (کتاب البیوع) څخه دي ، چې د معاملاتو سره تړاو لري قواعد را جمع او څیړنه وکړم ، چې د دې اهم کتاب د مسائلو په پوهه کې د اسلامي فقهې مینه والو لپاره مصدر د خدمت شم.

**د موضوع اهمیت:**

د دې بحث او څیړنې اهمیت په دې کې دی چې په فقهي قواعدو پوهه حاصلول د یو باحث لپاره ډیر اهمیت لري ځکه دا قواعد د ډیرو مسائلو او احکامو اصل او مرجع ده د دې قواعدو زده کړه د بې شمیره او بې حسابه فقهي مسائلو په یوه لړ کې د تنظیم لاره ده .
څیړونکو فقهاؤ د فقهي مسائلو لپاره کلي یا اکثري قواعد وضع کړي دي چې هره قاعده یې په ډیرو فروعاتو مشتمله ده ، چې د هغو فقهاؤ له جملې څخه امام کاساني رحمه الله هم وه ، ځکه چې هغه ته الله تعالی د فقهي قواعدو په جوړونه او په هغو باندې ګڼ شمیر فقهي فروعاتو او جزئیاتو تنظیمولو کې ډیره پوهه او برلاسی ور په برخه کړی وه.

**د موضوع د غوراوي لاملونه او ضرورت :**

۱ـ لکه څنګه چې معلومه ده چې اسلام یو کامل او هراړخیزه،او د اصولو او قواعدو درلودونکی دین دی ، دا اصول او قواعد د بشریت د کامیابي او سعادت ضامن دي ، نو مسلمان باید خپل ژوند او چارې باید دې اصول سره عیار کړي ، په ځانګړي توګه معاملات ، کاروبار، او تجارت یې د دې اصولو سره برابر وي ځکه چې انسان الله تعالی د عبادت لپاره پیدا کړی دی او عبادت د قبلیدو لپاره ضروري ده چې خوراک ، پوخاک ، او کاروبار یې حلال وي لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ)[1].
ژباړه: ای هغه کسانو چې ایمان ئی راوړی دی(یعنې ای مؤمنانو)خورئ تاسې له پاکو حلالو هغه چې در کړي دي مونږ تاسې ته ، او شکر وباسئ الله لره (په دغه حلالو شیانو) که چیرې یئ تاسې چې خاص ده لره عبادت کوئ

نو د عبادت ګزار بنده د جوړیدو لپاره دا ضروري ده چې یو مسلمان باید ځان د حرامونه وژغوري او حلال څیزونو نه استفاده وکړي نو وه مې غوښتل چې د (بدائع الصنائع) د (کتاب البیوع) څخه قواعد راجمع او څیړنه وکړم چې ترڅو د معاملاتو ، بیع او شرا په مسائلو په پوهیدو کې مونږ سره وکړي او ګټه، خوراک ، او پوخاک مو حلال وي او عبادت مو قبول شي.

۲ـ بله دا چې د درس په جریان کې مو ډیر عنوانونه د ماستري اداري ته وړاندې کړل چې متأسفانه ټول رد کړی شول ، نو بالآخره د موضوع د انتخاب لپاره مې د دکتور محمد سلیم مدني سره مشوره وکړه نو

[1] : د بقرې سورت ۱۷۲ آیت

هغوې ماته دا مشوره راکړه چې د نورو مذاهبوعلماؤ د خپل مذهب د متونو او مهمو کتابونو ډېر خدمت کړی او د هغه کتابونو نه قواعد را ویستي او شرحه کړي یې دي مونږ هم باید د حنفي مذهب د متونو او مهمو کتابونو خدمت کې برخه واخلو ، نو د دکتور صاحب د مشورې په اساس مې دا موضوع(فقهي قواعد په کتاب البیوع د بدائع الصنائع کې) د ماسترې اداري ته وړاندې کړه او خوشبختانه د هغوې لخوا ومنل شوه.

۳ـ او دا چې بدائع الصنائع کتاب په حنفي فقه کې يو ډېر معتبر کتاب دی او په اړه یې د هیواد په ملي ژبو (پښتو او دري) کې تر کوم حده چې ماته معلومات دی کومه لیکنه او څېړنه تر دې دمه نده شوې ، نو ومې غوښتل چې دې کتاب د یوې برخینه نه فقهي قواعد را جمع او په ملي ژبه (پښتو) یې تشریح وکړم ترڅو خپل وطنوالو ته مصدر دخدمت شم.

**د څېړنې اصلي او فرعي پوښتنې:**

د دې څېړنې په ترڅ کې لاندې اصلي او فرعي پوښتنو ته ځوابونه ویل شوي:

**اصلي پوښتنې:**

۱ـ فقه څه مفهوم لري؟

۲ـ قاعده څه مفهوم لري؟

۳ـ امام کاساني رحمه الله څوک وه؟

۴ـ بدائع الصنائع د چا لیکنه او د کوم کتاب شرحه ده؟

۵ـ د بدائع الصنائع په کتاب البیوع کې د بیع متعلق کوم قواعد دي؟

فرعي پوښتنې:

۱ـ فقهي قواعد په څو ډوله دي؟

۲ـ آیا په فقهي استدلال کیدای شي او کنه؟

۳ـ آیا امام کاساني رحمه الله د قواعدو لپاره دلیل او اصل ذکر کړی او کنه؟

۴ـ آیا امام کاساني رحمه الله په فروعاتو کې په فقهي قواعد استدلال کړی؟

**د څېړنې مخینه(سوابق):**

د اړونده موضوع په اړه مې چې پلټنه وکړه نو کومه مستقله لیکنه مې ونه موندله، سره د دې چې د فقهي په کتابونو کې په پراخه کچه قواعد اشتون لري او د فقهي قواعدو په اړه ډېر کتابونه لیکل شوې دي ، خو دا چې دامام کاساني رحمه الله د کتاب بدائع الصنائع او دهغه څخه د فقهي قواعدو استخراج او تطبيق په اړه هر اړخيزه څېړنه شوې وي لیکنه نه ده تر سره شوې.

خو دنورو فقهي کتابونو اړوند عربي څېړونکو ځیني لیکني کړي ، چې له هغو جملې څخه د ځینو لیکنو نومونه یادوم .

1 – القواعد و الضوابط الفقهية المستخرجة من " فتح القدير لإبن الهمام " نبيل محمد ابراهيم الرجوب.

2 – القواعد و الضوابط الفقهية في كتاب " المغني لإبن قدامة " عادل بن علي حمود الأحمدي .

3 – الضوابط الفقهية في العبادات من كتاب " الهداية للإمام المرغيناني " أسامة محمد شيخ .

د پورته ليکنو څخه په استفادې سره مې وغوښتل چې په بدائع الصنائع کتاب کې د کتاب البيوع څخه د بيع اړوند فقهي قواعد را ټول او څېړنه يې وکړم ، هيره دې نه وي چې د دغه موضوع په اړه مې په خپلو ملي ( پښتو او دري ) ژبو کې هيڅ ډول کتاب ونه مونده ، نو ځکه مې وغوښتل چې پر دغه موضوع په خپله ملي ژبه کې ليکنه تر سره کړم .

**دڅېړنې کړنلاره :**

1 - د موضوع په را ټولونه کې مې دکتابتوني ، استقرايي اسلوب څخه استفاده کړې ، د بدائع الصنائع له کتاب البيوع له فصلونو څخه فقهي قواعد او مختلف الفاظ يې د بدائع الصنائع او نورو فقهي کتابونوڅخه د توان تر اندازې را ټولې کړي ، لومړی مې دهغې دمفرداتو شرحه ، د قاعدې اجماليمعنی کړې ، د قاعدې اصل او بيا د قاعدې تطبيقي بيلګې د بدائع الصنائع کتاب او نورو فقهي کتابونو څخه ذکر کړي .

2 – د قرآن کريم د ايتونو شميره او سورت د اړوند مخ په پا ورقي کې ليکل شوې دي.

3 – په ليکنه کې چې کوم ځای قرآني آياتونه راغلي د هغې ژباړه مې د تفسير کابلي څخه را نقل کړي او کوم ځای کې چې د تفسير اړتيا ليدل کيده بيا مې د معتمدو تفاسيرو څخه تفسيري ويناوې نقل کړي .

4 – مبارک حديثونه له صحيحينو ( صحيح بخاري او صحيح مسلم )څخه نقل شوې دي خو د نه شتون په صورت کې د حديثو د نورو کتابونو څخه هم استفاده شوې ده .

5 – د قرآن کريم له آياتونو او د پيغمبرﷺ د احاديثو څخه د استدلال وجه د معتمدو سرچينو څخه اخيستل شوی.

3 - په څېړنه کې شامل د ټولو احاديثو تخريج مې کړی او هغه احاديث مې چې د صحيحينو پرته د نورو کتابونو څخه رانقل کړي ، د باوري مراجعو څخه مې د صحت او ضعف درجې هم رانقل کړي .

4 - علمي امانت مې رعايت کړی ، د فقهاوو د اقوالو او آثارو توثيق مې په نظر کې نيولی دی ، د هغوی ويناوې مې د هغوی اصلي مراجعو ته منسوب کړي او په تحقيق کې مې يواځې د غير مشهورو اعلامو ترجمه ( پېژندنه ) کړې ده د صحابه وو او مشهورو اعلامو ترجمه مې نده کړې .

5 – او کله چې په موضوع کې ګڼ تعريفونو ته اړتيا وه نو کوښښ مې کړې چې اړونده موضوع باندی ګڼ تعريفونه ذکر کړم .

6 - د موضوع اړوند اصطلاحاتو لغوي معنی د معتمدو معاجمو څخه او اصطلاحی تعريفونو يی د مؤثقو او معتمدو فقهي سرچينو څخه را اخلم .

7 - په ليکنه کې مې د لوړو زده کړو وزارت او د پوهنتون د علمي بورډ په را ګوته شوو لارښوونو عمل کړی.

**د څېړنې موخې :**

په دې څېړنه کې لاندی موخې په نظر کې نيول شوي :

1 – د فقهې مفهوم روښانه کول .

2 – د قاعدې مفهوم روښانه کول.

3 – د امام کاساني رحمه الله او د هغه د کتاب پیژندنه .

4 – د بیعې اړوند فقهي قواعد راویستل.

5 – د فقهي قواعدو شرحه ، د هغه قواعدو د ادله وو پیژندنه ، او د ځینو تطبیقي بیلګو یادونه.

6 – د فقهي قواعدو او په هغو د استدلال په اړه د مخکینیو علماوو د اهتمام تصویر ښکاره کول ، او د هغوې تراثو ته خدمت کول .

7 - د ماسترې د دورې وروستي مسولیت ادا کول .

**د بحث په اوږدو کي ستونزې او خنډونه :**

دا طبیعي خبره ده چې هر کار له ځان سره ستونزې او کړاوونه لري خو دا په دې معنی نده چې کله انسان له ستونزو سره مخ شي نو لاس تر زني کښیني بلکه له توان سره سم به د ستونزو مقابله کوي ، په همدې بنسټ د بحث په اوږدو کي د زیاتو ستونزو سره مخ شوم چې په لنډه توګه یې یادونه کوم .

1 - یوه بنسټیزه ستونزه مي دا وه چې د کورنی د کفالت چارې را په غاړه وې ، معمولا هره ورځ به د تدریس لپاره مکتب ته تلم او د امامت او خطابت مهمي چارې مي هم سر ته رسولې ، نو د وخت کمښت او بوختیا زما پر مخ لویه ستونزه وه .

2 - مونږ په یو داسی هیواد کې ژوند کوو چې که له هر اړخه ورته وکتل شي نقص او نیمګړتیاوې تر سترګو کیږي ، لویه ستونزه داده چې د نورو اسلامی او عربی هیوادونو په څیر پریمانه علمي مواد او کتابتونونه نلرو ، دا مو لویه او بنسټیزه ستونزه ده چې د یو څیړونکي پر مخ لدې ستونزې بله ستره ستونزه نشته ، که څه هم الکترونیکي کتابتونونه تر یو بریده دا ستونزه حل کوي خو دا هم په هاغه کچه ندي ، چې د یو محصل د علمي موادو او مراجعو په اړه ټولی اړتیاوې پوره کړي .

**د موضوع د جوړښت پلان ( خطه )**

دا بحث مشتمل دی په یوه پیلیزه (مقدمه) ، درې فصلونو او یوه خاتمه په لاندې ترتیب سره :

مقدمه : د موضوع اهمیت ، ضرورت ، د غوراوی لاملونه ، موخې ، ستونزې او تګلاره بیان شوي دي.

**لومړی فصل تعریفونه**

او دا فصل مشتمل دی په دوه مبحثو او اووه مطلبونو باندې، په لاندی ډول:

لومړی مبحث : د فقهي او قواعدو پیژندنه :

لومړی مطلب: د فقهي تعریف.

دویم مطلب: د قواعدو تعریف.

دریم مطلب: د قواعدو اهمیت.

څلورم مطلب: د قواعدو ډولونه.

پینځم مطلب : د قواعدو حجت والی.

دویم مبحث کې د امام کاسانی او د هغه د کتاب بدائع الصنائع پیژندنه.

لومړی مطلب: د امام کاساني پیژندنه.

دویم مطلب: د هغه د کتاب پیژندنه.

**دویم فصل**

په بیان د هغه قواعدو کې چې استخراج شوي د فصل د ( رکن البیع )نه تر فصل د ( بیوع المکروة پورې په دیکې (۷) مبحثه دي او (۳۴) مطلبه دي په لاندی ډول :

لومړې مبحث: فقهي قواعد په فصل د( رکن البیع ) کې

په دیکې ، دوه مطلبه دي:

لومړې مطلب: د ( العرف قاض علی الوضع ) قاعدې زده کړه.

دویم مطلب: د ( العبرة للمعنی لا للصورة) قاعدې زده کړه.

دویم مبحث: فقهي قواعد په فصل د شرائطو د انعقاد د بیعې کی چی متعلق دي عاقد، نفس عقد،او ځای د عقد پورې، په دیکې پینځه مطلبه دي:

لومړې مطلب: د(اهلیة المتصرف شرط انعقاد التصرف) قاعدې زده کړه.

دویم مطلب: د(الحکم فی البعض کالحکم فی الکل) قاعدې زده کړه.

دریم مطلب: د(الاشارم المفهومة من الاخرس تقوم مقام عبارته) قاعدې زده کړه.

څلورم مطلب: د(الضرر منفي) قاعدې زده کړه

ینځم مطلب: د(خطاب الغائب کتابه) قاعدې زده کړه.

دریم مبحث: فقهي قواعد په فصل د شرائطو د انعقاد دبیعي کې چې متعلق دی د معقود علیه پورې، په دیکې شپږ مطلبه دي:

لومړې مطلب: د (الضرورات تبیح المحظورات) قاعدې زده کړه.

دویم مطلب: د (الکفار مخاطبون بشرائع هی الحرمات) قاعدې زده کړه.

دریم مطلب: د (الشبهة ملحقة بالحقیقة فی باب المحرمات) قاعدې زده کړه.

څلورم مطلب: د (الحکم یثبت بقدر العلة ) قاعدې زده کړه.

پینځم مطلب: د ( الثابت بالیقین لایزول بالشك) قاعدې زده کړه.

شپږم مطلب: د (ما لم یکن ثابت بالیقین لایثبت بالشك) قاعدې زده کړه.

**ځلورم مبحث: فقهي قواعد په فصل د شرائطو د نفاذ د بيع کې :**

په ديکې پينځه مطلبه دي:

لومړی مطلب: (الأصل ان تصرفات الفضولي التي لها مجيز حالة العقد منعقدة على اجازة المجيز وما لا فلا)

دويم مطلب: ( تصرف العاقل محمول على وجه الاحسن ما امكن)

دريم مطلب : ( الأصل ان يكون تصرف الإنسان لنفسه لا لغيره)

ځلورم مطلب :( الإجازة الاحقة بمنزلة الوكالة السابقة)

پينځم مطلب: ( لا ضرر ولا إضرار فى الاسلام)

**پينځم مبحث: ( فقهي قواعد په فصل د الربا او جريان الربا کې)**

په دې کې پنځه مطلبه دي:

لومړی مطلب : ( الجهالة المفضية الى المنازعة تفسد العقد) قاعدې زده کړه.

دويم مطلب: ( مطلق الإسم ينصرف الى المتعارف) قاعدې زده کړه

دريم مطلب: (الثمن يقابل الأصل لا الصفة) قاعدې زده کړه

ځلورم مطلب: ( المعروف بالعرف كالمشروط بالشرط) قاعدې زده کړه

پينځم مطلب: ( الجهالة لا تمنع صحة الإسقاطات)

**شپږم مبحث : فقهي قواعد په فصل د (الربا) او ( جريان الربا) کې .**

په دې مبحث کې اووه مطلبه دي.

لومړی مطلب: (الدراهم والدنانير لا يحتملان التعين شرعا في عقود المعاوضات) قاعدې زده کړه.

دويم مطلب: ( اختلاف الأصل يوجب اختلاف الفرع ) قاعدې زده کړه

دريم مطلب : ( الأصل كل ما جاز فيه المفاضلة جاز فيه المجازفة وما لا فلا) قاعدې زده کړه

ځلورم مطلب:(اعتبار الغالب والحاق المغلوب بالعدم هوالأصل في الشرع) قاعدې پوه

پينځم مطلب: ( الكثير لايكون تابعا للقليل ) قاعدې زده کړه.

شپږم مطلب: (اختلاف الملك بمنزلة الإختلاف العين) قاعدي زده کړه.

**اووم مبحث: فقهی قواعد په فصل د( شرائط ركن البيع ) کی په دیکی پنځه مطلبه دي:**

لومړی مطلب: (المسلمون عند شروطهم ) قاعدې زده کړه.

دويم مطلب:(البقاء اسهل من الإبتداء) قاعدې زده کړه.

دريم مطلب: (امور المسلمين محمولة على الصحة والسداد ما امكن). قاعدي پوهه.

څلورم مطلب:(الأصل اعتبار الحقيقة) قاعدې زده کړه.

پنځم مطلب: (عرف المسلمين و عادتهم حجة مطلقة) قاعدې زده کړه.

**دریم فصل**

فقهي قواعد په فصل د حكم البيع او په فصل د ما يرفع به حكم البيع دي او دا فصل مشتمل دی په څلورو مبحثونو.

**لومړی مبحث:** فقهی قواعد په بحث د ( الحكم الأصلى للبيع) کی په دې کې پنځه مطلبه دي.

لومړی مطلب : د ( اختلاف الأساميدليل اختلاف المعانى) قاعدی پوهه.

دويم مطلب:( مبنى المعاوضات على المساوات) قاعدې زده کړه.

دريم مطلب: (فعل العجماء جبار) قاعدې زده کړه.

څلورم مطلب: (الظاهر بقاء ما كان على ماكان)قاعدی پوهه.

پنځم مطلب: (و ما شرعت البينات الا لإثبات خلاف الظاهر) قاعدی پوهه.

**دويم مبحث: فقهي قواعد په بحث د هغه احکامو کې چې تابع دي د حكم اصلي د بيع او په دې کې څلور مطلبه دي.**

لومړی مطلب: ( المضمونات تملك باختيار الضمان ) قاعدې زده کړه.
دويم مطلب: ( البينه المثبتة اولى ) قاعدې زده کړه.
دريم مطلب: (لا دلالة مع النص بخلا فها) قاعدې زده کړه.
څلورم مطلب: ( الوارث خلف المورث ) قاعدې زده کړه.
**دريم مبحث : فقهي قواعد په بحث دخياراتو کې په دي کې لس مطلبه دي.**
لومړی مطلب: د ( السبب المفضي اليالشي يقوم مقامه ) قاعدې زده کړه.
دويم مطلب: د( الباطل متلا شي ) قاعدې زده کړه.
دريم مطلب: د ( كلما يوجب النقصان في عادة التجاره نقصانا يسيرااوفاحشا فهو عيب ) قاعدې زده کړه.
څلورم مطلب: د ( اختلاف السبب يوجب اختلاف الحكم ) قاعدې زده کړه.
پنځم مطلب: ( السلا مة مشروطة دلا لة فكان كا لمشروط نصا ) قاعدې زده کړه.
شپږم مطلب: ( البينة حجة مطلقة ) قاعدې زده کړه.
اووم مطلب: د ( الا قرار حجه كاصرة ) قاعدې زده کړه.
اتم مطلب: د ( الشركة في الأعيان عيب ) قاعدې زده کړه.
نهم مطلب: د( الا ما كان تابعا في العقد يكون تابعاً في الفسخ ) قاعدې زده کړه.
لسم مطلب: د ( الضررواجب الدفع ما امكن ) قاعدې زده کړه.
**څلورم مبحث: فقهي قواعد په بحث (مايمنع الرجوع بنقصان العيب وما لايمنع )په دې کې ۷ مطلبه دي.**
لومړی مطلب: د القدرة علي الأصل تمنع المصير اليالخلف .
دويم مطلب: د الحرمة الثابته حقاً للشرع لا تسقط برضاالعبد .
دريم مطلب: د الأصل في الادمي عدم الملك والمالية.
څلورم مطلب:د حكم الأصل حكم التبع .
پنځم مطلب: د الشئ قد يثبت ضمنا وان كان لايثبت مقصودا .

شپږم مطلب: د  الثابت بد لالة النص كالثابت بصريح النص .
اووم مطلب: د  القدرة علي الأصل بعد حصول المقصود بالخلف لا يبطل حكم الأصل .
پایله.

وړاندیزونه.

فهرستونه.

ماخذونه.

# لومړی فصل: تعریفونه

په دی فصل کې د فقهي قواعدو د پیژندني او بیا د هغې ارزښت او اهمیت ، او د هغې ډولونه څیړل شویدي ، د دې ترڅنګ پکې د فقهي قواعدو تو پیر له اصولي قواعدو او فقهي ضوابطو سره او د فقهي قواعدو حجت والی تر څیړنې لاندې نیول شوی دی ، او همدارنګه د امام کاساني رحمه الله ترجمه او د هغه د کتاب پیژندنه پکې بیان شوې ده .

او دا فصل مشتمل دی په دوه مبحثو او اووه مطلبونو باندې، په لومړي مبحث کې د فقهې او قواعدو پیژندنه په دی کې پینځه مطلبه دي .

او دویم مبحث کې د امام کاسانی او د هغه د کتاب بدائع الصنائع پیژندنه د څیړنې لاندې نیول شوې ، او په دیکې دوه مطلبه دي .

**لومړی مبحث: د فقهي او قواعدو پيژندنه.**

په دې رساله کې د فقهي قواعدو څخه بحث کيږي ، او د فقهي قواعدو عنوان د دوو کلمو څخه جوړ شوی دی چې يوه يې ( فقه ) او بله يې ( قاعده) ده ، نو اړتيا ليدل کيږي  چې د فقهې او قاعدې کلمو لغوي او اصطلاحي معنا هم بايد څرګنده شي.

**لومړی مطلب: د فقهې لغوي او اصطلاحي تعريف.**

په دې مطلب کې د فقهې لغوي او اصطلاحي معنا څيړل شوې ده چې (فقه) په لغت کې په کومو معناګانو کې کارول شوې ده ، او دا چې د فقهې اصلي معنا او حقيقت يې څه دی ، او په عرف کې د فقهې څخه څه مراد دی، او (فقه) په اصطلاح کې فقهاؤ څرنګه تعريف کړې ده په ديکې دوه فرعې دي.

لومړې فرعه: د فقهې لغوي معنا.

ابن فارس[1] رحمه الله وايي: الفاء والقاف والهاء ، يو اصل دی چې دلالت کوي به درک کولو د يو شي او پوهه په هغې باندې، او هر ډول پوهې د يو شي ته فقه ويلکيږي. [2] او د ( الفقه) په معنا کې د اهل لغت او علماؤ څخه څلور قوله نقل شوي دي.

۱ـ فقه په معنا د فهم پوهه ابن الاثير[3] رحمه الله فرمائي: ( الفقه فی الأصل الفهم)[4] ژباړه: فقه په اصل کې په معنا د پوهې سره ده . الله تعالی فرمائي: (وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي يفقهوا قولي)[5] ژباړه: او پرانيځه غوټه له ژبې زما چې وپوهيږي خلق په خبرو زما( په وخت د تبليغ کې).

۲ـ فقه په معنا د ( الفهم الدقيق المؤثر فی النفس الباعث علی العمل)[6] ژباړه: فقه عبارت دی د هغه دقيقې پوهې څخه چې مؤثِر وي په نفس کې ، او باعث وي په عمل باندې. الله تعالی فرمائي: (قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا تَقُولُ)[7] ژباړه: وويل قوم (د ده په ځواب کې): ای شعيبه نه پوهيږو مونږ په ډيرو هغه خبرو چې ته يې وايې.

د شعيب عليه السلام قوم د هغه په ژبه او وينا پوهيده البته د هغه د خبرو په دقيقه معنا ، مفهوم او موخه نه پوهيدل.

---

[1] : ابن فارس ، ابو الحسين ، احمد بن فارس بن زکريا ، د ادب او لغت د امامانو له جملې څخه دی ډير تصنيفات لري چې د هغې له جملې څخه : معجم مقييس اللغه په لغت کې ، او جامع التاويل په تفسير کې ، او په کال ۳۹۶ ه  په ( الری) کې وفات شوی دی . طبقات الفقهاء الشافعيه ، مؤلف: ابن صلاح تقی الدين ، ابو عمر عثمان بن عبد الرحمن . خپروونکی: دارالبشائر الاسلاميه ، بيروت لبنان کال ۱۹۹۲م  ج۲ص۶۵۷، الاعلام للزرکلي ج۱ص۱۹۳ شذرات الذهب لابن عماد ج۳ص۱۳۲

[2] : ابن فارس احمد بن فارس بن زکريا ، معجم مقييس اللغه ، خپروونکی: دارالفکر بيروت لبنان ، لومړی چاپ کال ۱۳۹۹ه ج۴ص۴۴۲

[3] : ابن الاثير ابوالسعادات مجدالدين المبارک بن محمد بن محمد ، محدث، اصولي، او لغوي عالم دی ډير تاليفات لري چې مشهور يې : النهايه في غريب الحديث ، او جامع الاصول في احاديث الرسول او په کال ۶۰۶ه کې وفات شوی دی. الذهبي شمس الدين محمد بن احمد ، سير اعلام النبلاء ، خپروونکی: مؤسسة الرسالة لومړی چاپ کال ۱۴۰۱ه ج۱۲ص۴۸۹

[4] : ابن الاثير ابوالسعادات مجدالدين المبارک بن محمد بن محمد، النهاية في غريب الحديث، خپروونکی: المکتبة العلمية بيروت لبنان لومړی چاپ کال ۱۳۹۹ه ج۳ص۹۰۳

[5] : د طه سورت ۲۷ ايت

[6] : الشيخ العلامة ، محمد الامين بن عبدالسلام ، تفسير حدائق الروح والريحان ، خپروونکی: دارطوق النجاة بيروت لبنان ، کال ۱۴۲۱ه ج۱۳ص۲۴۲

[7] : د هود سورت ۹۱ ايت

۳ـ فقه په لغت کې ( عبارة عن فهم غرض المتکلم عن کلامه) [1] ژباړه: فقه عبارت ده د پوهېدو څخه په مقصد د کلام د متکلم.

۴ـ فقه په معنا د ( ادراک الاشیاء الخفیة یقال: فقهت کلامک ولا یقال فقهت السماء والارض.) [2] ژباړه: درک کول د خفي شیانو نو ځکه ویلکیږي (فقهت کلامک) پوه شوم ستا په خبرو، او نه ویلکیږي ( فقهت السماء والارض) پوه شوم په آسمان او ځمکې.

او علامه زمخشري[3] رحمه الله فرمائي: (الفقة حقیقة: الشق والفتح ، والفقیه العالم الذي یشق الاحکام و یفتش عن حقائقها ویفتح ما استغلق منها) [4] ژباړه: فقه په حقیقت کې څیرکول او خلاصولو ته وایي، او فقیه هغه عالم دی چې احکام څیري او د هغې د حقائقو پلټنه کوي او مغلق احکام خلاصوي یعني واضحه کوي.

لنډه دا چې فقه پر یو شي پوهیدلو او علم حاصولو ته ویل کیږي ؛ خو استعمال یې په قرآن کریم کې د دې لاربنوونه کوي چې مطلق علم ترې مراد نه دی ، بلکې دقیقه پوهه، قوي ادراک او د متکلم په مطلب پوهیدل ترې مراد دي.[5]

فقه خو په لغت کې په معنا دې پوهې یا د قیقې پوهې، یا په معنا د ادراک خفي شیانو او یا په معنا د پوهیدو په غرض د کلام د متکلم ده لکن په عرف کې د شرعي احکامو علم ته او مخصوصا بیا د شریعت فروعي احکامو علم ته فقه ویل کیږي.[6] نو ځکه بعض اهل لغت د (الفقه) معنا په (العلم فی الدین)[7] سره کړې ده.

او لفظ د ( الفقه) ځکه غالب اطلاق یې په شرعي علومو کیږي ځکه چې شرعي علوم د نورو علومو څخه اشرف او غوره دي.[8]

**راجح قول:**

لومړی قول راجح او غوره  دی هغه داچې فقه په اصل کې په معنی د مطلق فهم ده ، نو څوک چې فقه مقید کوي په دقیق فهم او یا ادراک د اشیاء خفیه و پورې دا صحیح نه بریښي ځکه چې امامانو دلغت فقه په مطلق فهم سره معنا کړې ده ، او دا چې ( فقهت کلامک) ویل کیږي او (فقهت السماء) نه ویل کیږي دا ځکه چې فقه تعلق لري د معنویاتو سره نه د محسوساتو سره او آسمان د محسوساتو له جملې څخه دی.[9]

---

[1] : الجرجاني علي بن محمد بن علي ، التعریفات، خپروونکی: دار الکتب العربی بیروت لبنان ، لومړی چاپ کال ۱۴۰۵ه ج۱ص۲۱۶

[2] : ابن امیرالحاج، التقریر و التحریرفي اصول الفقه، خبروونکی: دارالفکر بیروت لبنان کال ۱۴۱۷ه ج۱ص۲۷

[3] : الزمخشري ابوالقاسم محمود بن عمر بن محمد الخوارزمي په لغت، نحو، او علم بیان کې امام وو لکن معتزلي الاعتقاد وو دیر تالیفات لري چې مشهور یې : الکشاف په تفسیر کې ، الفائق في غریب الحدیث به لغت کې، او په کال ۵۳۸ه کې وفات شوی دی. سیر اعلام النبلاء ج۲۰ص۱۵۱

[4] : الزمخشري، ابوالقاسم محمود بن عمر، الفائق في غریب الحدیث، خپروونکی: دارالمعرفة بیروت لبنان، دویم چاپ ۱۳۹۸ه ج۳ص۱۳۴باب الفاء مع القاف.

[5] : زیدان، دکتور عبدالکریم ، الوجیز في اصول الفقه، خپروونکی: دارنشرالکتب الاسلامیه، لاهور پاکستان ص۸

[6] : النهایة لابن الاثیر ج۳ص۹۰۳

[7] : المحیط فی اللغة ، لصاحب ابن عباد ، مصدر الکتاب: موقع الوراق،http.www.alwarraq.com

[8] : الافریقي, محمد بن مکرم بن منظور. **لسان العرب،** خپروونکی:دارصادر بیروت لبنان ، لومړی چاپ کال ۱۴۱۲ه ج۱۳ص۵۲۲

[9] : وکتل شي: التقریروالتحبیر لابن امیرالحاج ج۱ص۲۷

**دويمه فرعه: فقه په اصطلاح کې:**

دفقهې بيلا بيل تعريفونه شوي دي؛ خو د دې لپاره چې دلته اصلي موضوع فقه نه ده ؛ د فقهاوو د يو دوه مهمو تعريفونو په ليکنه بسنه کوو.

امام ابو حنيفه رحمه الله فقه داسې تعريف کړې ده:(معرفة النفس مالها وما عليها)[1]ژباړه:پيژندل د نفس دي په ټولو هغه حقوقو چې ده لره دي او په ټولو هغو واجباتو چې په ده باندې دي.

دا تعريف د فقهې لپاره هغه عام تعريف دی چې شامل دی اعتقادي احکامو ته لکه وجوب د ايمان په الله تعالی باندې، او شامل دی وجدانياتو ته لکه اخلاق او تصوف ، او همدا رنګه شامل دی عملي احکامو لکه لمونځ، بيع،روژه او داځی نورو ته ، نو ځکه امام ابوحنيفه رحمه الله خپل کتاب چې د عقايدو څخه بحث کوي په ( الفقه الاکبر) نومولی دی، دا تعريف په هغه وخت کې ښه او مناسب وو چې فقه له نورو علومو څخه بيله نه وه، البته په اوسني وخت کې فقه له نورو علومو څخه بيله شوی ده ، نو له همدې امله احنافو په پورتني تعربف کې د ( عملا) کلمه زياته کړې ده ترڅو له اعتقادياتو او وجدانياتو څخه جلا شينو اوس يې تعريف داسې کيږي: (معرفة النفس مالها وماعليها من الاحکام العملية)[2]

اوفقه امام شافعي رحمه الله داسې تعريف کړې ده:

( بانه العلم باحکام الشرعية العملية المکتسبة من ادلتها التفصيليه)[3] ژباړه: فقه په هغه شرعي عملي احکامو باندې علم حاصلول دي چې له تفصيلي دلايلو څخه اخيستل شوی وي.

په دې تعريف کې فقه د يو مستقل علم په توګه تعريف شوې ، له همدې امله دا تعريف نسبت نورو تعريفونو ته شايد جامع تعريف وي، ځکه چې ډير قيدونه لري چې فقه له نورو علومو څخه بيلوي.

**د قيدونو فوائد:**

هدف د ( العلم) څخه په تعريف کې مطلق ادراک دی ، چې شامل دی يقين اوظن دواړو لره ؛ ځکه چې عملي احکام کله ثابتيږي په قطعي او يقيني دلائلو سره لکه څنګه چې ثابتيږي غالبا په ظني دلائلوسره.

(الاحکام) جمع د حکم ده او حکم عبارت دی د مطلوب د شارع څخه او يا عبارت دی د خطاب د الله تعالی څخه چې متعلق دی د افعالو د مکلفينو سره اقتضاء، تخييرا، او يا وضعا. او مراد د خطاب څخه په تعريف کې په نزد د فقهاؤ اثرمرتب دی لکه ايجاب،تحريم. اباحت. اشتراط.

په ( العلم بالاحکام) سره احتراز دی د علم نه له ذواتو، صفاتو، او افعالو څخه.

---

[1] : التهانوي، محمد بن علي بن القاضي محمدحامد الحنفي ، کشاف اصطلاحات الفنون، مکتبة البنان الناشررون، بيروت لومړی چاپ کال ۱۹۹۶م ج۱ص ۴۰ ، البخاري عبيد الله بن مسعود المحبوبي الحنفي، شرح التلويح على التوضيح لمتن التنقيح في أصول الفقه، الناشر دار الكتب العلمية بيروت لبنان دويم چاپ کال ۱۴۱۶ه ج۱ص۱۶

[2] : الزحيلي، دکتور وهبة ، الفقه الاسلامي وادلته، خپروونکی: دارالفکر سوريه دمشق څلورم چاپ کال ۱۴۳۲ه ج۱ص۱۴

3 : الرملي شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة ابن شهاب الدين الشهير بالشافعي الصغير، نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج. خپروونکی دار الفکر للطباعة بيروت لبنان دريم چاپ کال ۱۴۰۴ه ج۱ص ۳۱ .

په ( الشرعية) سره احتراز دی د حسي احکامو څخه لکه (الشمس مشرقة) ، او د عقلي احکامو څخه لکه (الواحد نصف الاثنين) ، او لغوي او وضعي احکامو څخه لکه ( الفاعل مرفوع)

د ( العملية) نه مراد عملي احکام دي برابره خبره ده چې د قلبي عمل سره تعلق ولري لکه نيت ، او يا غير قلبي عمل سره تعلق ولري لکه تلاوت، او لمونځ.

(المکتسبة) قيد صفت دی لپاره د (العلم) او د (المکتسبة) څخه مراد هغه علم دی چې مستنبط وي په نظر او اجتهاد سره ؛ نو په دې قيد سره احتراز شو د علم ا الله تعالى ، علم د ملائکو، علم د رسول الله صلى الله عليه وسلم، او د علم زمونږ څخه په بدهياتو او ضروورياتو چې دليل ته محتاج نه وي لکه وجوب د صلوات خمسه و، پس داسې معلوماتو ته علم نه ويلکړي ځکه چې دا غير مکتسبه دي.

د (الادلة التفصيلية) څخه مراد هغه څه چې په قرآن، سنت، اجماع، قياس کې راغلي وي؛ نو په دې قيد سره خارج شو علم د مقلد[1]

**فائده**: د (الادلة)**تعريف**: الادلة جمع د دليل ده چې په لغت کې په معنا د ( الهادي المرشد)سره دی ، برابره خبره ده چې د په حسياتو کې وي او که معنوياتو کې [2].

او په اصطلاح کې: ( ما يستدل بالنظر الصحيح فيه على حكم شرعى عملى على سبيل القطع او الظن) ژباړه: هر هغه څه چې په صحيح نظر سره په کې په هغه سره استدلال کيږي په شرعي عملي حکم باندې په طريقې يقين او يا ظن باندې. ( التفصلية) نه مراد جزئي او يا فرعي دلائل دي.

د (الادلة التفصيلية) تعريف: (هى كل دليل يختص بمسألة معينة) ژباړه: دا عبارت دی د هر هغه دليل څخه چې مختص وي د يوې معينې مسألې پورې. لکه دا قول د الله تعالى په باره د حرمت د زنا (وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا)[3] ژباړه: او مه نژدې کيږئ تاسې زنا ته. نو دا ايت تفصيلي دليل دی چې مختص دی په يوې معينې مسألې پورې چې هغه زنا ده.[4]

**دويم مطلب : د قواعدو تعريف**:

لومړۍ فرعه: د قاعدې لغوي معنى:

قاعده په لغت کې په معنى بنسټ بنياد او اساس ته ويل کيږي برابره خبره ده چې دا بنياد حسي وي او که معنوي وي ، حسي لکه داچې عربان وايي: ( قواعدالبناء) يعنې د ودانۍ بنيادونه او يا ويل کيږي ( قواعدالبيت) يعنې د کور بنسټونه ، او الله تعالى په قرآن عظيم الشان کې فرمايلي دي: (وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ

---

٢ : الزحيلي، الفقه الاسلامي وادلته،ج١ص١٥ الشامي محمدامين بن عمر بن عبدالعزيزعابدين، ردالمحتار على درالمختار . خپروونکی ، دارالفكر للطباعة والنشر بيروت لبنان دريم چاپ کال ١٤٢١ه ج١ص٩٨-٩٩
2 : الشنقيطي ، محمد الحسن الددو، شرح الورقات فى اصول الفقه ، ج١ص٧مصدر الكتاب : دروس صوتية قام بتفريغها موقع الشبكة الإسلامية
[3] : د الاسراء سورت ٣٢ ايت
[4]: الجديع عبدالله بن يوسف ، تيسير اصول الفقه للجديع ج١ص٦

الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ)[1] ژباړه: او ( یاد کړه ای محمده) هغه وخت چه پورته کړل ابراهیم تا دوونه( بنیادونه) د کعبې او اسماعیل.

او په حدیث کې راغلي: (إن البيت لما هدم أخرجت منه حجارة عظام" فقال ابن الزبير : هذه القواعد التي رفعها إبراهيم عليه السلام)[2] ژباړه: کله چې بیت الله ړنګ کړی شو ، له دې نه لويې ګټې راوويستل شوې، ابن زبير و ويلې: دا هغه بنيادونه دي، چې ابراهيم عليه السلام پورته کړي وو.

د قاعدې معنا په دغو مثالونو کې حسي ده او لکه څنګه چې قاعده په حسي معنا استعماليږي، همدا ډول په معنوي توګه هو استعماليږي، لکه دا چې عربان وايي: ( قواعدالدين) يعنې د دين بنسټونه.

همدا رنګه الله تعالی فرمايلي دي: (قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُمْ مِنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ)[3] ژباړه: يعنې: له دوی نه وړاندې هم خلکو د حق خلاف تدبيرونه او دسيسې جوړې کړې وې ، الله تعالی د هغوی د دسيسو مانۍ له بيخه ونړوله او پر هغوی رانسکوره کړه.[4]

**دويمه فرعه: د قاعدې اصطلاحي تعريف:**

د قاعدې فقهاء مختلف تعريفونه ګړي چې د هغې له جملې څخه يې يو دوه تعريفه ذکر کوو:

۱:(هی قضية كلية منطبقة على جميع جزئياتها)[5] ژباړه: قاعده عبارت ده له هغه کلي قضيې څخه چې په خپلو ټولو جزئياتو باندې منطبق کيږي.

۲: (هو الحكم الكلي أو الأكثري الذي يراد به معرفة حكم الجزئيات)[6] ژباړه: هغه کلي يا اکثري حکم دی چې په هغې سره د جزئياتو حکم پيژندل کيږي.

د کلي قاعدې څخه د جزئياتو د حکم پيژندني لاره داده چې : (قاعدة: القديم يترک على قدمه) يعنې قديم شی پخپل قدامت پاتې کيږي. په دې سره دا يوه کليه شوه او جزئيه يې داده چې : ( د زيد د کور لاره قديمي وي؛ نو بايد په لازمي او حتمي توګه پخپل قدامت پاتې شي ، ځکه قديم پخپل قديمي حالت پاتې کيږي او داسې نور.[7]

---

[1]: د بقرې سورت ۱۲۷ايت

[2]: القرطبي، أبو عبد الله، محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري، **الجامع لاحكام الفران**، خپرونکې، دار عالم الکتب، والنشر، د چاپ ځای،الرياض، سعودي،د چاپ ،کال ۱۴۲۳ج۲ص۱۲۰

[3] : د النحل سورت ۲۶ايت

[4] : ابن منظور، لسان العرب ج۳ص۳۵۷ د قعد ماده. المعجم الوسيط ج۲ص۷۴۸باب القاف

[5] : الجرجاني، التعريفات، ج۱ص۲۱۹ . معجم لغة الفقهاء ج۱ص۴۲۰

[6] : علي حيدر ، دررالحکام شرح مجلة الاحکام ، خپروونکی دارالکتب العلمية بيروت لبنان دويم چاپ کال ۱۴۰۹ه ج۱ص۱۷

[7] : پورتني مصدر

**دفقهي قاعدې تعریف:**

(هي اصل فقهي يتضمن احكاما تشريعيةعامة من ابواب متعددةفى القضايا التي تدخل موضوعه) [1] ژباړه:
دا يو فقهي كلي اصل دی، چې متضمن دی تشريعي احكامو لره هغه احكام چې عام دي ، د متعددو ابوابو څخه په هغه قضاياو كې چې د دې د موضوع لاندې داخليږي.

**فائده:** د قاعدې څخه كله كله په لاندې عباراتو هم تعبير كيږي: الأصل ، الاساس ، المبدء، القانون، المسألة ، الضابط ، القضية ، الدليل، الدستور. دا مختلف تعبيرونه له قاعدې څخه ، د پخوانی و او معاصرو علماء په عباراتو كې وارد شوې دي، لكن مشهور تعبير يې همغه د ( القاعدة) لفظ استعمال دی. [2]

**دريم مطلب: د فقهي قواعدو اهميت:**
په فقهي قواعدو پوهه حاصلول د يوه فقيه لپاره ډير زياد اهميت ، ځكه دا قواعد د ډيرو فروعاتو د پلټنې او مطالعې په نتيجه كې لاس ته راغلي ، د يوې قاعدې صحيح زده كول او بيا پخپل ځای كې د هغې تطبيقول په ډيرو فقهي فروعاتو باندې د پوهيدو معنا لري، دارنګه په دې قواعدو د مجتهد او مستنبط پوهيدل به هغوی له ډيرو اشتباهاتو څخه وژغوري. علامه قرافي [3]رحمه الله په خپل كتاب (الفروق) كې داسې وايي:( امابعد! الله تعالى دې د محمدي معظم شريعت منار او شمله او چته لري ، محمدي معظم شريعت په اصولو او فروعو مشتمل دی، اصول يې په دوه ډوله دي : يو يې د اصول فقه په نامه نومول شوې دي چې دا په غالبه توګه داسې قواعد دي چې احكام يې د عربي ژبې له الفاظو څخه سرچينه اخلي.

دوهم ډول : فقهي قواعد د فقهې له بنسټيزو بې شميره مرستندويه قواعدو څخه عبارت دی، هره قاعده يې په شريعت كې دومره فروعات لري چې تر شميراو حساب لاندې نه راځي ، دا قواعد په فقه كې ډير مهم او ګټور دي ، فقيه چې د دې قواعدو په اړه څومره خپل معلومات زياتوي، هومره يې مرتبه او مقام او چتيږي ، چاچې په مضبوطه توګه فقه له قواعدو سره زده كړه ، هغه بيا د ډيرو فروعاتو او جزئياتو زده كولو ته اړتيا نه لري، ځكه جزئيات يې په كلياتو كې داخل دي[4] .

امام سيوطي رحمه الله[5] پخپل كتاب ( الاشباه والنظائر) كې وايي: (پوه شه چې اشباهو او امثالو باندې علم حاصلول يو لوی فن او كمال دی، په دې برخه كې پوهه لاسته راوړل د فقهې په حقايقو، مداركو او ماخاذونو باندې پوهيدل دي ، د همدې په واسطه فقه پيژندل كيږي او مسايل يې ذهن ته مستحضر كولای شي، په الحاق او تخريج كولو يې ځان قادر كولای شي تر دې چې د هغو مسايلو احكام پرې پيژندل

---

[1] : الندوي، احمد، شرح القواعد الفقهيه ج١ ص٢٣

[2] : الخادمي، نورالدين مختار، القواعد الفقهية، خپروونكی، جامعة تونس الافتراضية ، كال ٢٠٠٧م ص۴

[3] : دا احمد بن ادريس بن عبدارحمن شهاب الدين القرافي (۶٢۶-۶٨۴) نسبت يې (القرافة) ته چې په قاهره كې يوځای دی ګيږي د مالكيه و د لويو فقهاو څخه وو، مولد، منشا، او وفات يې په مصر كې شوی، ډير قيمتي تاليفات لري چې د هغې له جملې څخه ، (الفروق )په فقهي قواعدو كې ( الذخيره) په فقه كې او (شرح تنقيح الفصول) په اصول فقه كې . الاعلام للزركلي ج١ ص٩۶

[4] : القرافي أبو العباس أحمد بن إدريس الصنهاجي الفروق أو أنوار البروق في أنواء الفروق، خپروونكی ، دارالكتب العلميه بيروت لبنان دويم چاپ كال ١۴١٨ه ج١ص١٣-١۴

٢ : دا عبدالرحمن بن ابى بكر بن محمد السيوطي په كال ٨۴٩ه كې ځيګيدلی امام، حافظ، مؤرخ، او اديب وو چې تقريبا ۶٠٠ تصنيفات لري چې مشهور يې : الاتقان في علوم القرآن، تدريب الراوي، او الاشباه والنظائر في فروع الشافعي. او په كال ٩١١ه كط وفات شوی دی. الاعلام للزركلي ج٣ص٣٠١

کیږی چې له سره لیکل شوي هم نه وي او په دې سره د هغوواقعاتو او حوادثو په اړه معلومات لاسته راوړل کیږي چې د وخت په تیریدو سره ختمیدلای نشي، له همدې امله زمونږ ځینو ملګرو به ویلې: د فقهې معنا د نظائرو او امثالو پیژندل دي.

او د عمر رضی الله عنه له وینا څخه د دې خبرې لپاره اصل پیدا کړ، هغه وایې: ( اعرف الاشباه والامثال ثم قس الامور عند ذلک.)[1] ژباړه: بیلګې او ورته شیانو پیژندل بیا په دې وخت کې مسایل قیاس کړه.

ابوبکر الاهدل رحمه الله[2] د فقهې د علم پراختیا او دهغې په ضبط او حفظ کې د فقهي قواعدو د نقش په هکله فرمائي: ( هو فن واسع منتشر فروعه بالعد لاتنحصر

وانما تضبط بالقواعد فحفظها من اعظم الفوائد )[3]

ژباړه: فقه پراخه او خپور علم دی ، فروعات یې په شمیر او حساب کې نه راځي ، اما د قواعدو په واسطه ضبط او قید کې راتلای شي د دې قواعدو زده کول لویې فایدې لري.

حافظ عراقي[4] رحمه الله فرمایي:( د مسائلو الحاق خپلو نظائرو پورې ډیر غوره دی ،له دې چې نوی مستقل حکم ورته اختراع شي .

ابن رجب حنبلي[5] رحمه الله فرمائي: ( فقهی قواعد ډیر مهمې او ګټورې قاعدې دي ، د فقیه لپاره د مذهب اصول تر ضبط او قید لاندې راولي او هغه ته د فقهې د هغه ماخذ په ارتباط معلومات ورکوي چې ترې پټ وي . خواره واره فقهي مسائل ورته په یو تار کې منظم کوي او ډیر شړیدلي اخوا دیخوا مسائل ورته مقید کوي ، ټول خواره واره او لرې مسائل ورته نږدې کوي او دنظر خاوند باید پدې هکله ښه غور او سوچ وکړي.[6] او علامه ابن نجیم[7] رحمه الله د فقهي قواعدو د اهمیت په اړه فرمائي: ( وهي اصول الفقه فی الحقیقة وبها یرتقي الفقیه الی درجة الاجتهاد ولو فی الفتوی.)[8] ژباړه: دا فقهي قواعد په حقیقت

---

1 : السیوطي جلال الدین عبدالرحمن بن ابي بکر ، الاشباه والنظائر خپروونکی، دارالکتب العلمیة بیروت لبنان لومړی چاپ کال ۱۴۰۳ه ج۱ص۴

۴ : د ابو بکر بن ابی القاسم بن احمد الیمني التهامي الحنفي په کال ۹۸۴ه کې ځیګیدلی ډیر مفید تالیفات لري چې د هغې له جملې څخه : المندل بذکربني الاهدل، نظم التحریر فی الفقه، الفرائدالبهیة نظم القواعدالفقهیة. او په کال ۱۰۳۵ه کې وفات شوی. ملحق البدرالطالع، تالیف: محمد بن محمد بن یحی . خپروونکې دارالمعرفة بیروت لبنان لومړی چاپ کال ۱۴۰۵ه ج۲ص۱۴

3 : الاهدل ابوبکربن ابی القاسم ، الفرائدالبهیة نظم قواعد الفقهیة،خپروونکی دارالکتب العلمیة بیروت لبنان دریم چاپ کال ۱۴۲۳ه ص۱۶

4 : دا ابوالفضل زین الدین عبدالرحیم بن الحسین بن عبدالرحمن دی چې په الحافظ العراقي سره مشهور دی د احادیثو د لویو حفاظو له جملې څخه دی په کال ۷۲۵ه کې ځیګیدلی دی، کردي الاصل دی د تصنیفاتو له جملې څخه یې: نکت منهاج البیضاوي فی الاصول، التحریر په اصول فقه کې ، او په کال ۸۰۶ کې وفات شوی . الطبقات الشافعیه ج۳ص۱۹۷

5 : عبدالرحمن بن رجب بن الحسن البغدادي الدمشقي الحنبلي په کال ۷۳۶ه بغداد کې ځیګیدلی دی ، دی محدث، حافظ، فقئه، اصولیو مؤرخ عالم وو د تصنیفاتو له جملې څخه یې : ذیل طبقات الحنابلة، لطائف المعارف فی المواعظ، تقریرالقواعد او تحریرالفوائد فی الفقه. او په کال ۷۹۵ه په د مشق کې وفات شوی. معجم المؤلفین ج۵ص۱۱۸

6 :الحنبلي ابن رجب ، تقریرالقواعد او تحریرالفوائد، خپروونکی دارالحسن للنشر والتوزیع ، اردن، بیدون له تاریخه ج۱ص۴

7 : زین الدین بن ابراهیم بن محمد، مشهور په ابن نجیم په کال ۹۲۶ه کې ځیګیدلی فقیه او اصولي حنفي عالم وو د مصر دلویو فقهاو له جملې څخه وو ، ډیر تصنیفات لري چې مشهور یې دادي: البحرالرائق شرح کنزالدقائق، الفتاوی الزینیة، الاشباه والنظائر، او په کال ۹۷۰ه کې وفات شوی.الطبقات : : السنیة فی تراجم الحنفیة، مؤلف: التقي الغزي ج۱ص۲۸۹. معجم الؤلفین ج۴ص۱۹۲ الاعلام للزرکلي ج۳ص۶۴ 7

8 : ابن نجیم، زین الدین بن ابراهیم، الاشباه والنظائر، خپروونکی دارالکتب العلمیة دویم چاپ کال ۱۴۰۰ه ج۱ص۱۵

کې فقهي اصول دي، او په همدې(فقهي قواعدو) سره فقيه درجې د اجتهاد ته رسيږي اګر که په فتوی کې وي.

فقهي قواعد لوړه مرتبه او مقام لري، ځکه په دې ځانګه کې پوهه ترلاسه کول فقيه ته ملکه او استعداد وربښي، د همدې ملکې د پياوړتيا په پايله کې ګڼ شمير جزئيات او فروعات په اسانه توګه پيژني ، ذهن يې هم ښه وده کوي او د استنباط قوه يې مضبوطيږي.

لنډه دا که څوک غواړي د فقهي د علم په پراخ ډګر کې داخل شي او پدې اړه هر اړ خيز معلومات پيدا کړي ؛ نو بايد قواعدو باندې پوهه حاصله کړي تر څو فروعاتو باندې د تطبيق کولو وړتيا پيدا کړي.

**څلورم مطلب: د فقهي قواعدو ډولونه:**

فقهاء کرامو فقهي قواعد د مختلفو اعتباراتو د لحاظه په مختلفو ډولونو ويشلي دي، لکه دا چې د اتفاق او اختلاف د علماء په اعتبار ، د اصليت(استقلاليت)او تبعيت(عدم استقلاليت) په اعتبار سره، د لحاظه د شمول ، د لحاظه د مصدر او دليل.

**لومړی فرعه: د فقهي قواعدو ډولونه د علماء د اتفاق او اختلاف د لحاظه:**

فقهي قواعد د اتفاق او اختلاف د علماء د لحاظه په څلورډوله دي :

۱ـ **المتفق عليها بين المذاهب**: دا هغه فقهي قواعد دي چې د ټولو مذاهبوورباندې اتفاق دی او د هيڅ يو مذهب په کې اختلاف نشته او دا هغه قواعد دي چې په صيغه د استفهام سره نه وي وارد شوي لکه : پينځه لويې کلي قاعدې بناء په مشهور قول چې عبارت دي د : ا ـ الأمور بمقاصدها ۲ـ اليقين لا يزول بالشك ۳ـ المشقة تجلب التيسير ۴ـ الضرر يزال ۵ـ العادة محكمة. او علامه ابن نجيم رحمه الله يوه بله لويه کلي قاعده ورسره اضافه کړې ده چې عبارت ده د ( لاثواب الا بالنية)[1]

۲ـ **المتفق عليها بين اكثر المذاهب**: دا هغه فقهي قواعد دي چې د اکثرو مذاهبو ور باندې اتفاق دی، او د دې قواعدو د جملې څخه ابن نجيم رحمه الله نولس قواعد په خپل کتاب( الاشباه والنظائر) کې په ( الفن الاول) کې لاندې د (النوع الثاني من القواعد) عنوان لاندې ذکر کړي دي.[2] او علامه سيوطي رحمه الله په دې ډول قواعدو د (القواعد الكلية) اطلاق کړی دی، او د دې قواعدو د جملې څخه يې څلويښت قاعدې په خپل کتاب ( الاشباه والنظائر) کې د (الكتاب الثاني = في قواعد كلية يتخرج عليها ما لا ينحصر من الصور الجزئية)عنوان لاندې ذکر کړي دي.[3] او دې ډول قواعدو ته علامه کرخي رحمه الله په خپل کتاب اصول الكرخي کې خاصه توجه کړې ده ، او اکثره قواعد يې د همدې قبيل څخه دي ، او ځينې فقهاو خپل جهد او اهتمام په همدې ډول قواعدو منحصر کړی دی لکه ابي سعيد الخادمي متوفی ۱۱۷۶ه په خپل کتاب ( مجامع الحقايق)کې ، او ابن عبدالهادي متوفی ۹۰۹ه په خپل کتاب (مغنی ذوی الافهام) کې.[4]

---

[1] : ابن نجيم الاشباه والنظائر ج۱ص۲۰ـ۱۰۴

[2] : ابن نجيم الاشباه والنظائر ج۱ص۱۰۵ـ۱۰۵۵

[3] : السيوطي ،الاشباه والنظائر ج۱ص۱۰۱ـ۱۶۲

[4] : دـ عماد علي جمعة ، القواعد الفقهية الميسرة ، خپروونکی، مکتبة الملك فهد الوطنية، رياض، لومړی چاپ کال ۱۴۲۷ه ص۴۹

**۳- المختلف فيها بين المذاهب:** دا هغه قواعد دي چې په مينځ  د فقهاء د مذاهبو کې په کې اختلاف دی، او صيغي د خلاف او تردد سره ذکر شوی وي لکه دا قواعد:( هل العبرة بالحال او بالمأل)او يا ( النادر هل يلحق بجنسه او بنفسه) دا ډول قواعد د فقهي په کتابونو کې زياد ذکر کيږي خصوصا په وخت د بيان د سبب خلاف په مسأله کې لکه په کتاب د (بداية المجتهد لابن رشد) ، او ځيني فقهاء خپل جهد او اهتمام منحصر کړی لپاره د دا ډول قواعدو چې بغير د دې قواعدو څخه نور يې نه دي ذکر کړي لکه ابو زيد الدبوسي په خپل کتاب (تأسيس النظر) کې او والونشرسي متوفى ۹۱۶ه په خپل کتاب( ايضاح المسالک )کې.[1]

**۴- المختلف فيها بين علماء المذهب المعين:**

يصيغي د استفهام سره وي لکه :(العصيان ينافي الترخيص ام لا؟) او يا په صيغي د خلاف سره وي لکه: ( الأصل ان ام الولد ليست بمال ولا قيمت لها عنده خلافا لهما)او ابوزيد الدبوسي رحمه الله د دې قواعدو له جملې څخه يو څلويښت مختلف فيها قواعدپه منځ د ائمة و د احنافوکې په خپل کتاب ( تأسيس النظر) کې ذکر کړي دي [2]

**دويمه فرعه: فقهي قواعد د استقلاليت او عدم استقلاليت او يا اصليت او تبعيت د لحاظه.**

فقهي قواعد د استقلاليت او عدم استقلاليت او يا اصليت او تبعيت د لحاظه په دوه ډوله دي:

۱- **مستقل يا اصلى قواعد**: دا هغه کلي قواعد دي چې د بلې لويې کلي قاعدې فرعه نه وي يعنې د بلې قاعدې لاندې داخل نه وي لکه: پينځه لويې مشهورې قاعدې ، دا قواعد د نورو قواعدو فروع نه دي او نه د نورو قواعدو د لاندې داخل دي بلکې نور  قواعد د دې قواعدو فروع او د دې لاندې داخل دي. [3]

۲- **غير مستقل او يا تابع قواعد**: دا هغه قواعد دي چې د نور لويو او کلي قواعدو لاندې داخل وي يعنې د هغهې د فروعو څخه يوه فرعه وي ، دا بيا په درې ډوله دي:

**الف:** په ديکې ځيني هغه قواعد دي چې د يوې لو يې کلي فقهي قاعدې يو جانب تمثيلوي لکه: ( العبرة فى العقود للمعاني لا للالفاظ والمباني) قاعده چې د ( الامور بمقاصدها) کلي قاعدې د معملاتو جانب تمثيلوي.

**ب** - او ځيني داسي قواعد دي چې  هغه به يا شرط ، او يا قيد وي د بلې قاعدې لپاره مثلا د ( الضرورة تقدر بقدرها) قاعده چې دا قيد ګڼل کيږي د ( الضرر يزال) قاعدې لپاره.

**ج** - او يا به استثناء وي لپاره د يوې قاعدې څخه لکه: ( الضرورات تبيح المحظورات) قاعده چې دا په حقيقت کې مستثناء کوي حالات د ضرورت د محظوراتو شرعيه و څخه.[4]

---

[1] : پورتنی مصدر.

[2] : الدبوسي،ابوزيد،عبدالله بن عمر، تأسيس النظر، خپروونکی، دارالمعرفة، بيروت لبنان دريم چاپ کال ۱۴۱۵ه  ص۲۳

[3]: السدلان، دکتور، صالح بن غانم، القواعد الفقهية الکبری وماتفرع عنها، خپروونکې، مکتبة الملك فهد الوطنية، رياض،لومړی چاپ کال ۱۴۱۷ه ص۴۱

[4] : دـ عماد علي جمعة ، القواعد الفقهية الميسرة ، ص۱۲

**دریمه فرعه: د فقهي قواعدو ډولونه په اعتبار مصدر او دلیل د هغه:**

فقهي قواعدو د مصدر او دلیل د لحاظه په دوه ډوله دي:

۱ـ **منصوصي قواعد**: دا هغه قواعد دي چې خپله نص وي او یا په هغې کې نص وارد شوی وي لکه د ( الخراج بالضمان ) قاعده چې نص د حدیث شریف دی او یا ( لاضرر ولإضرار) قاعده چې نص د حدیث دي ، او یا ( المشقة تجلب التیسیر) قاعده چې نص قرآني (يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ اليسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ)[1] په کې وارد شوی .

۲ـ **مستنبطة قواعد**: دا عبارت د هغه قواعدو څخه دي چې فقهاء په فقهي فروعو کې د تتبع او استقراء په نتیجه کې استنباط او استخراج کړي وي لکه: ( الیقین لایزول بالشك) قاعده. [2]

**څلورمه فرعه: فقهي قواعد د لحاظه شمولیت :**

فقهي قواعد د لحاظه شمولیت په درې ډوله دي:

۱ـ القواعد الکلیة الشاملة الکبری: دا هغه فقهي قواعد دي چې ډیر فقهي مسائل ورته راجع کیږي لکه: القواعد الخمسة الکبری: ا ـ الأمور بمقاصدها ۲ـ الیقین لا یزول بالشك ۳ـ المشقة تجلب التیسیر ۴ـ الضرر یزال ۵ـ العادة محکمة.

۲ـ القواعد الکلیة الشاملة الصغری: : دا هغه قواعد دي چې ډیر فقهي مسائل ورته راجع کیږي لکن نه د (القواعد الخمسة الکبری) په اندازه لکه: د (التبع تابع) قاعده او یا ( الاجتهاد لا ینقض بمثله ) قاعده او یا ( اذا اجتمع الحلال والحرام غلب الحرام) .

۳ـ القواعد الخاصة بباب فقهي واحد: چې دې ډول قاعدو ته ځیني فقهاء د ظابطې نوم ورکوي دا د هغه قواعد دي چې د فقهي ابوابو له جملې څخه تر یو باب پورې مخصوص وي مثلا:( کل المیتة نجس الا میتة السمک والجراد) قاعده او یا ( ایما اهاب دبغ فقد طهر) قاعده، او په دا ډول قواعدو اطلاق د اسم ( الضوابط الفقهیة) کیږي .[3]

**پینځم مطلب: د فقهي قواعدو حجت والی:**

د بیان د اهمیت د فقهي قواعدو کې واضحه شوه چې فقهي قواعد ډیر فوائد لري او فقیه کې ملکه د اجتهاد پیدا کوي، او د اصولو د مذهب نه سړی خبروي ، او سبب د حل کیدو د ډیرو فروعو ګرځي، او د حفظ د ډیرو مسائلو څخه سړی مستغني کوي .

نو اوس پوښتنه داده چې ایا جائز دی چې دا قواعد دلیل وګرځوو لپاره د احتجاج په ده باندې ، او استنباط کړی شي احکام له ده څخه .[4]

---

[1] : د بقرې سورت ۱۸۵ایت

[2] : دـ عماد علي جمعة ، القواعد الفقهیة المیسرة ص۱۴

[3] : الخلیفي د. ریاض بن منصور، المنهاج في علم القواعد الفقهیة ،ج۱ص۴ القواعد الفقهیة المیسرة ص۱۶

[4] : البورونو،ابوحارث،محمدصدقی بن احمد ، موسوعة القواعد الفقهیة خپروونکی، مؤسسة الرسالة بیروت لبنان لومړی چاپ کال ۱۴۲۴ه ج۱ص۴۱

( په نزد بعضو علماء فقهي قاعده يو شرعي دليل ګڼل کيږي چې قابل د احتجاج ده په دې شرط چې دې قاعدې لره اصل موجود وي د کتاب الله او يا سنت څخه ، بلکې دا بيا په درجه د هغه قوي دلايلو کې حسابيږي چې هغې د وجې نه فيصله د قاضي نقض کيږي کله چې حکم يې کړی وی په خلاف د قوي دلايلو ، او دا قوي دلايل عبارت دي له: النص،الاجماع، القياس الجلی په دې شرط چې سالم وي د معارض څخه.

او هيڅ شک نشته چې دلته بعض اساسي قواعد داسې دي چې مبني دي په دلايلو باندې د کتاب او سنت څخه ، او به واضحه توګه اخيستل کيږي د کتاب او سنت څخه، او ځينې قواعد داسې دي چې تعبير کوونکي وي د يو اصولي دليل څخه ، او يا به مستقل ثابت حديث وي مثلا:

قاعده د ( الأمور بمقاصدها) نو استدلال په دې قاعدې باندې سرچينه اخلي د احتجاج نه په اصل د دې قاعدې باندې چې حديث د ( إنما لأعمال بالنيات) دی، او لکه قاعده د (اليقين لايزول بالشك)(البينة على المدعي واليمين على من أنكر) ( الخراج بالضمان) ، نو دا قاعدې په مثابة د شرعي دلايلو دي ، نو په دې صورت کې ممکن دی استناد په دې قواعدو په استنباط د احکامو کې ، او اصدار د فتوی ، او الزام د قضاء په ده باندې.)[1] په دې اړه علامه قرافي رحمه الله فرمائي: ( که قاضي حکم وکړي ، دا به نقض کيږي که چيرته وي دا حکم په خلاف د يوې قاعدې د قواعدو څخه چې سالمه وي د معارض څخه)[2]

او علامه نووي[3] رحمه الله فرمائي: ( نشته دی فرق په نزد امام احمد رحمه الله په مينځ د غوښې د اوښ کې چې هغه خامه وي، که پخه شوې، او که وريته شوې په ټولو کې اودس دی ، او همدارنګه زمونږ په قديم قول کې ، او د امام احمد رحمه الله څخه يو روايت دی چې : واجبيږي اودس په شرب د شيدو د اوښانو، او زه نه پيژنم يو تن د فقهاء څخه چې ده سره يې موفقه کړې وي په دې قول کې ، زمونږ مذهب او مذهب د ټولو علماء دا دی چې نشته اودس کول د شيدو د اوښانو څخه ، او استدلال کړی دی اصحابو د امام احمد رحمه الله په دې حديث باندې: (ان النبی صلی الله عليه وسلم قال: لا توضؤ من البان الغنم و توضؤ من البان الابل)[4] دا حديث ابن ماجه په ضعيف سند سره روايت کړی، نو نشته دی حجت په دې کې لپاره د ضعف دهغه ، او زمونږ دليل دادی چې : ( ان الأصل الطهارة ، ولم يثبت انه ناقض)[5]

دلته امام نووی رحمه الله استدلال کړی په ( الأصل بقاء ماكان على ماكان )مشهورې فقهي قاعدې باندې ، او هغه يې مقدم کړې په ضعيف حديث باندې.[6]

---

[1] : السدلان، القواعد الفقهيه الكبرى وماتفرع عنها، ص٣٧
[2] : القرافي، الفروق ج٤ص٩٨
[3] : يحيى بن شرف بن مري بن حسن الحزامي الحوراني، ، الشافعي، أبو زكريا، محيي الدين ، مشهور په نووي،په کال ٦٣١ ه په نوا چې د سور يی د حوران د منطقې يوه قريه ده زيږيدلې او همدې قريې ته يې نسبت کيږي، حافظ، محدث، فقهي، او لغوی عالم و ، ډير تصنيفات لري چې مشهور يې، شرح صحيح مسلم للنووی، الاربعين للنووي، په کال ٦٧٧په نوای کې وفات شوې. الذهبی، محمد بن أحمد بن عثمان، تذكرة الحفاظ، تحقيق: زكريا عميرات، خپروونکې، دار الكتب العلمية ، د چاپ ځای، بيروت ـ لبنان، د چاپ ګڼه ١ ،کال ١٤١٩هـ ج٥ص١٠٥
[4] : اخرجه ابن ماجه فی سننه فی باب ما جاء فی الوضوء من لحوم الابل ج ١ص ١٦٦ رقم الحديث (٤٩٦) و قال الالبانی ضعيف
[5] : النووي ، المجموع شرح المهذب ، خپروونکی دارالفکر ، بيروت لبنان دويم چاپ کال ١٤٠٥ه ج٢ص٦٠
[6] : السدلان، القواعد الفقهية الكبرى وما تفرع عنها ص٣٧

او همدا مسلک غالب دی په ابن قیم رحمه الله باندې ځکه چې هغه په خپل کتاب ( اعلام الموقعین) کې فقهي قاعده ذکر کوي په وخت د تعلیل د احکام شرعیه و کې او په هغې باندې استدلال کوي په اجتهادي حوادثو کې ، بیا په دې وخت کې داسې وایی: مقتضی قواعد الشرع واصولها، مطابق لقواعد الشرع واصولها. [1]

او علامه کاساني رحمه الله هم په خپل کتاب ( بدائع الصنایع) کې په وخت د بیان د تعلیل او دلیل د احکامو فرعیه و کې استدلال کوي په فقهي قواعدو باندې مثلا: وَأَمَّا الْمُضَارَبَةُ الْمُقَيَّدَةُ فَحُكْمُهَا حُكْمُ الْمُضَارَبَةِ الْمُطْلَقَةِ في جَمِيعِ ما وَصَفْنَا لَا تُفَارِقُهَا إلَّا في قَدْرِ الْقَيْدِ وَالأصل فيه أَنَّ الْقَيْدَ إنْ كان مُفِيدًا يَثْبُتُ لِأَنَّ الأصل في الشُّرُوطِ اعْتِبَارُهَا ما أَمْكَنَ )[2] ژباړه : د مقید مضاربت حکم لکه حکم د مطلق مضاربت دی په ټولو هغه مسایلو کې چې مونږ بیان کړل او فرق نه لري د هغې سره مګر په اندازه د قید کې او قاعده په دې کې داده چې که چیرې قید مفید وي نو ثابتیږي ، ځکه چې اصل په شرطونو کې اعتبار د هغه دی تر څو چې ممکن وي . او په بیان شرائطو د انعقاد د عقد کې فرمائي: (أَمَّا الذي يَرْجِعُ إلَى الْعَاقِدِ فَنَوْعَانِ أَحَدُهُمَا أَنْ يَكُونَ عَاقِلًا فَلَا يَنْعَقِدُ بَيْعُ الْمَجْنُونِ وَالصَّبِيِّ الذي لَا يَعْقِلُ لِأَنَّ أَهْلِيَّةَ الْمُتَصَرِّفِ شَرْطُ انْعِقَادِ التَّصَرُّفِ وَالْأَهْلِيَّةُ لَا تَثْبُتُ بِدُونِ الْعَقْلِ فَلَا يَثْبُتُ الِانْعِقَادُ بِدُونِهِ )[3] ژباړه : او هغه شرطونه چې راجع دي عقد کوونکي ته په دوه ډوله دي یو دا چې عاقد باید عاقل وي نو نه منعقد کیږي بیع د لیوني او د هغه ماشوم چې نه پوهیږي ځکه چې اهلیت د تصرف کوونکي شرط د منعقد کیدو د تصرف دی او اهلیت پرته له عقل څخه نه ثابتیږي نو نه ثابتیږي منعقد کیدل. او په نزد د ځینې علماء صحیح نه دی رجوع کول تنها دې قواعدو ته په حیث د قضائي دلائلو بلکې له دې څخه په تخریج د نوې قضیو کې په مدونه فقهی مسائلو باندې په حیث د شواهدو کار اخیستل کیږي . [4] او ممکن نه دی اعتماد کول په فقهي قواعدو باندې په استخراج د فقهي حکم کې . [5]

علامه حموي [6]رحمه الله په خپل کتاب (غمز عیون البصائر) کې دابن نجیم رحمه الله قول نقل کړی چې هغه په دې اړه فرمائي : (جائز نه دی فتوی ورکول په مقتضی د فقهی قواعدو او ضوابطو خکه چې دا کلي نه دي بلکې دا اغلبي دي)[7]

او په دررالحکام شرح مجلة الاحکام کې ذکر دي چې (فحکام الشرع ما لم یقفوا علی نقل صریح لا یحکمون بمجرد الاستناد إلی واحدة من هذه القواعد ، إلا أن لها فائدة کلیة في ضبط المسائل)[8] ژباړه :

---

[1] : الجزائري، ابي عبدالرحمن، عبدالمجید جمعه، القواعد الفقهیه المستخرج من اعلام الموقعین,خپروونکی ، دار ابن قیم ، بیروت لومړی چاپ کال ۱۴۳۰ه ج۱ص۲۱۴

[2] : بدائع الصنایع ج۶ ص ۹۸

[3] : بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۳۵

[4] : المقري، القواعد الفقه ج۱ص۳۴

[5] : الندوی، شرح القواعد الفقهیه ج۱ص۲۹۰

[6] : دا احمد بن محمد مکي ابو العباس شهاب الدین الحسیني ، فقیه ، مدرس، د احنافو مفتي وو ډیر تصانیف لري چې د هغې له جملې څخه :کشف الرمز عن خبایا الکنز، حاشیة علی الدرر والغرر ، غمز عیون البصائر، او په کال ۱۰۹۸ه کې وفات شوی. الاعلام للزرکلي ج۱ص۲۳۹

[7] : الحموي، ابوالعباس شهاب الدین احمد بن محمد مکي الحنفي ، غمزعیون البصائر، خپروونکی دارالکتب العلمیه لومړی چاپ کال ۱۴۰۵ه ج۱ص۳۷

[8] : علي حیدر، درر الحکام شرح مجلة الاحکام،ج۱ص۱۰

شرعي حاكمان تر څو چې په صريح نقل اطلاع و نه لري په مجرد استناد د يو د دغو قواعدو حكم نه كوي لكن دا قواعد په ضبط د مسايلو د فايدې څخه خالي نه دي .

دا اقوال د علماء او امثال د دې دا افاده كوي چې جائز نه دى ګڼل د فقهي قواعدوپه حيث د شرعي دلايلو و لپاره د استنباط د احكامو له وجې د دوو سببونو :

۱ـ لپاره د دې چې دا قواعد ثمره ده د مختلفو فروعو، او دا قواعد جامع او رابط دي لپاره د مختلفو فروعو، نو دا معقوله نه ده چې ثمره او جامع دې د فروعو دليل د استنباط د احكامو د فروعو شي.

۲ـ اكثره فقهي قواعد خالينه وي د مستثنياتو څخه ، نو كله داسې وي چې دكومې مسألې د حكم څخه چې بحث كيږي، هغه د مستثنا شوي مسائلو او فروعو له جملې څخه وي.[1]

**راجح قول:** حقه خبره داده چې كله استثناء كړى شي هغه شرعي قواعد چې د هغې بناء او تأسيس په ادله و دكتاب او سنت څخه وي ، نو صرف دې قواعدو ته بغير د بل كوم خاص او يا عام نص څخه چې شامل وى په عموم خپل سره هغه حادثې ته چې په هغې كې فيصله كيږى، رجوع كول صحيح نه دى، ځكه چې دا قواعد ډيرې استثناوې لري ، او احكام يې اغلبي غير عمومي دي .[2]

**دويم مبحث : د امام كاساني رحمه الله او د هغه د كتاب ( بدائع الصنائع) پيژندنه.**

دا مبحث مشتمل دى په دوه مطلبونو باندې ، په لومړي مطلب كې د امام كاساني رحمه الله د نوم ، لقب ، كنيې ، ولادت ، نشأت ، علمي مكانت ، اخلاق ، دعلماء ستاينه ، مؤلفات ،عقيده ، شيوخ ، او شاګردان ،او وفات تر څيړنې لاندې نيول شوى دى ؛ همدارنګه په دوم مطلب كې د كتاب (بدائع الصنائع ) پيژندنه سبب د تأليف او نومول يې ، علمي ارزښت ، او د امام كاساني تګلاره په جوړښت د كتاب او په بيان اختلافي مسائلو كې ، څيړل شوې ده .

## لومړى مطلب: د امام كاسانى پيژندنه.

### لومړى فرعه : دامام كاساني رحمه الله نوم ، لقب اونسبت :

اصولي عالم اوحنفي فقيه ابوبكر[3] بن مسعود بن احمد ، الكاساني رحمه الله چې

---

[1] : البورنو، موسوعة القواعد الفقهية ج١ص۴۴

[2] : السدلان، القواعد الفقهيه الكبرى وما تفرع عنها، ص٣٨

[3]: دامام كاساني دكنيې نه بغير بل كوم نوم ما ونه موند ، هغه يا همداچې كنيه يې په نوم غالبه شوې او يا كنيه يې نوم دى ، اوددغه وروستي احتمال ښكارندوينې دوه لامله دي :

لومړى : هغه دا چې علامه لكنوي رحمه الله ليكلي چې دامام كاساني رحمه الله دزوى نوم محمود وه ، كه يې كنيه نوم نه وى نود ده كنيه به ابو محمود وه . وګوره : لكنوي ، أبي الحسنات محمد عبد الحي ، الفوائد البهية في تراجم الحنفية صـ: ٥٣، چاپ : دارالكتاب الاسلامي – قاهره .

دوهم : ډيرداسې علماء شته چې دكنيې نه بغيربل نوم نه لري ، لكه : ابوبكربن عياش الحناط ، ځكه چې زوي يې وايي : مامې پلار ته وويل نوم دې څه دى ؟ هغه وويل ستا پلار نوم نه لري . القرشي ، محي الدين أبي محمد عبدالقادر ، الجواهرالمضية في طبقات الحنفيةج ۴ ص٢١ ، دويم چاپ : هجر- للطباعة والنشروالتوزيع والاعلان ، كال : ١۴١٣هـ ١٩٩٣ م .

اوشيخ ابن عديم رحمه الله دنوموړي ترجمه په هغه نوم لړ كې كړې ده چې په كنيې سره مشهور دي . وګوره : ابن عديم ، كمال الدين عمربن أحمد ، بغية الطلب في تاريخ حلب ج ٥ ص ١٣٥. چاپ : دارالفكرللنشروالتوزيع.

ملقب دی په : ملک العلماء ، علاء الدین ،[1] او په امیرکاسان سره - کنیه یې – ابوبکر- ده [2]

الکاساني : لکه څنګه چې په ( الانساب ) کتاب کې راغلي چې ( په فتح د کاف او سین او په منځ د دوې کې الف ، او په آخر کې یې نون ، دا نسبت د ده دی کاسان ته )[3]اوعلامه اللکنوي رحمه الله د ده د نسبت په اړه یې وایي :امام کاساني رحمه الله په کاشاني سره هم یاد شوی دی . [4] کاسان چې په کاشان[5] اوقاسان [6]سره هم یاد شوی ، او ځایې مشهور نوم یې کاسان دی ، د سیحون (سردریا) هغې غاړې دترکستان[7] د لومړیوښارونو څخه یولوی ښاردی ،[8] چې د ډېرو فقهاؤ اوعلماؤنسبت هم ورته شوی دی ، لکه : ابونصر احمد بن سلیمان بن نصر بن حاتم بن علي بن الحسن الکاساني ، بکر بن سلیمان بن عمران بن الیاس الکاساني ، او قاضي الامام أبو الجود عطاء بن أحمد بن الصادق الخالدي الکاساني .[9]

دامام کاساني رحمه الله کورنۍ دیادې سیمي دارالامارة پورې اړه لري ، شیخ ابن عدیم[10] رحمه الله وایي : ( وعنده نخوة الامارة وعزة النفس ) .[11]

دنفس عزت دبادشاهۍ اوسلطنتۍ فخرخاوند وه .

**دویمه فرعه:** د امام کاساني رحمه الله پیدائیښت ، نشأت او زده کړې:

د امام کاساني رحمه الله د ژوند زیاته برخه بلکې ټول ژوند یې په شپږم قرن کې تیر شوی دی ، چې وفات یې هم په اواخرو د همدې قرن په (۵۸۷هـ)کې شوی دی ، لکن د ده رحمه الله د پیدائیښت د تاریخ په اړه ـ زما د معلوماتو په اساس ـ د تراجمو په کتابونو کې کوم عالم یادونه نه ده کړې.

خوامام کاساني رحمه الله د کاسان په سیمه کې پیدا شوی ، او دعمرزیاته موده یې د ما وراء النهر[12] په سیمه کې تېره کړې ده ، هغه سیمه چې دډېرو علماؤ او فقهاو دپیدایښت او لوي والیځای دی ، او بیا په

---

[1]: القرشي ، الجواهرالمضية في طبقات الحنفية ، ج۴ ص ۲۵
[2]: ابن عديم ، بغية الطلب في تاريخ حلب ج۱ ص ۴۶۳.
[3]: السمعاني، أبو سعد عبد الكريم بن محمد بن منصور، الانساب ، خپروونکی، دارالفکر بیروت لبنان دریم چاپ کال ۱۴۲۳ه ج۳ ص۲۳۵
[4]: الکنوي ، الفوائد البهية في تراجم الحنفية ص ۵۳.
[5]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص۲۱۱
[6]: الحموي ، شیخ امام شهاب الدين أبي عبد الله ياقوت بن عبد الله ، معجم البلدان :خپروونکی .: دار صادر – بیروت ،لومړی چاپ کال : 1397 هـ 1977 م ، ج۴ ص ۲۹۵
[7]: ترکستان : د دوه کلمونه مرکب نوم دی ، چې لومړي کلمه یې ( ترک ) ده ، هغه ټولو ترکي قومونوته ویل کېږي چې اصلي داوسیدو ځای یې دآسیا نیمه ده ، دوهمه کلمه یې (ستان) ده ، چې معنی یې خمکه یا خاوره ده ، په یادې معنی دټولوترکې ملکونو یوهرأړخېزنوم دی . الحموي ، أبوعبدالله ياقوت ابن عبدالله ، معجم البلدان : ج۴ ص۴۳۰، دویم. چاپ : دارالفکر – بیروت . العبودي ، الشیخ ، محمد بن ناصر، فی بلاد المسلمین المنسیین ببخاری و ماوراء النهر لومړی چاپ دارالفکر بیروت لبنان کال ۱۴۱۲ه ص ۲۳۸
[8]: اللكنوي، الفوائدالبهية في تراجم الحنفية، ج۱۱ ص ۱۸
[9]: السمعاني، الأنساب، ج ۱۱ ص۱۸
[10]: ابن عديم : کمال الدين عمربن أحمد بن هبة الله بن أبي الجرادة العقيلي ، محدث اومؤرخ په کال ( 588 هـ ق ) په حلب کې زېږېدلي او په کال ( 660 هـ ق) په قاهره کې وفات شوی دی . زرکلي ، خيرالدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس ، الأعلام : ج۵ ص 40 ، پنځم چاپ : دارالعلم للملايين ، کال : 2002 م
[11]: ابن العديم ، کمال الدين عمربن أحمد بن هبة الله بن أبي الجرادة العقيلي ، بغية الطلب في تاريخ حلب :ج ۱۰ ص 4348.
[12]: دماوراء النهرنه مراد دجیحون ( امودریا) هغه غاړه ختيځ ته چې کوم ښارونه دي هیاطله نومیدل اولویدیزطرف ته یې خراسان داسلام د راتګ څخه وروسته په ماوراء النهریادیګي . وکتل شي : الحموي ، شیخ امام شهاب الدين أبي عبد الله ياقوت بن عبد الله ، معجم البلدان : ج۵ ص 45 . چاپ دار صادر – بیروت ، کال : 1397 هـ 1977 م .

بخارى[1] کې استوګن شو او هلته يې دامام علاء الدين محمد بن احمد السمرقندي رحمه الله څخه درسول الله صلى الله عليه وسلم حديث ، فقه ، تفسير او اصولو زده کړه وکړه ، او دهغه تصنيفات يې ورسره ولوستل ، د هغه او د نورو علماء څخه يې احاديث او ريدلې دي.[2] اوپه يو حديث کې يې چې سند رسول الله صلى الله عليه وسلم ته رسيدلې په لاندې ډول دى :

شيخ ابن العديم رحمه الله وايې : (يوې ډلې دشيوخومې موږ ته له امام کاساني رحمه الله څخه خبرراکړى چې هغه وايي : خبر راکړى موږ ته امام علاء الدين محمد بن أبي أحمد السمرقندي رحمه الله ، هغه وايي: موږ ته خبر راکه شيخ امام أبو علي الحسن بن محمد بن خدام البخاري رحمه الله ، هغه وايي : موږ ته خبر راکړى شيخ قاضي امام أبوعلي الحسين بن الخضر بن محمد النسفي رحمه الله ، هغه وايي : موږ ته خبر راکړى شيخ امام آبوبکرمحمد بن الفضل الکاغدي رحمه الله ، هغه وايي : موږ ته خبرراکړى أبومحمد عبد الله بن محمد بن يعقوب الحارثي رحمه الله ، هغه وايي : موږ ته خبر راکړى أبومحمد عبد الرحمن بن اسحاق السمناني رحمه الله ، هغه وايي : موږ ته خبرراکړى اسماعيل بن توبة القزويني رحمه الله ، هغه وايي : خبرراکړى موږته امام محمد بن الحسن الشيباني رحمه الله ، هغه وايي : موږ ته خبرراکړى امام أبوحنيفه رحمه الله ،[3] هغه وايي : موږ ته خبرراکړى علقمه بن مرثد رحمه الله او هغه له ابن بريدة څخه روايت کړى چې هغه له خپل پلار څخه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به کله چې يو لښکر دجهاد لپاره استوه ؛ نو ورته وبه يې فرمايل : « اغزوا بسم الله ، وفي سبيل الله ، قاتلوا من کفر بالله ، لا تغلوا ، ولا تغدروا ، ولا تمثلوا ولا تقتلوا وليدا ، وإذا حاصرتم مدينة أو حصنا فادعوهم إلى الاسلام فإن أسلموا فأخبروهم أنهم من المسلمين لهم مالهم وعليهم ما عليهم»[4].ژباړه : دالله تعالى په نوم اوپه لاره دالله تعالى کې جهاد وکړئ ، او هغه څوک چې کافردي دهغوي سره جهاد وکړئ ، زياتى ، خيانت اومثله ( داندامونوقطعه کول ) مه کوئ ، ماشومان مه وژنئ ، کله چې يو ښار يا کلا محاصره کړه ؛ نواهل ته يې داسلام دعوت ورکړئ که مسلمانان شوه ؛ نو خبر ورکړئ چې هغوي له مسلمانانو څخه دي ، کوم حقوق چې دنورو مسلمانانو لپاره دې هغه به دوي ته هم وي ، کوم مکلفيتونه چې په نورو مسمانانو لازم دي هغه په دوى هم لازم دي .

اوامام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کې ياد حديث پدې لفظ ذکر کړى دى : کان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أمر أميراً على جيش أوسرية أوصاه في خاصته بتقوى الله ومن معه من المسلمين خيراً ثم قال : « آغزوا با سم الله وفي سبيل الله...... ».[5]

---

[1]: - بخارى : دبا په پيښ او دخا په زور سره دماوراء النهر دمشهورو ښارونو څخه دى او ډېرعلماء ورته منسوب دي ، دهغو له جملې څخه مشهور محدث امام ابي عبد الله محمد بن اسماعيل البخاري رحمه الله دى ، چې په اوس وخت کې دتاجکستان دښارونوڅخه دى . حموي ، معجم البلدان : ج١ ص 353 .

[2]: ابن العماد، عبد الحي بن أحمد العکري الدمشقي، شذرات الذهب، خپروونکى دارالکتب العلمية بيروت لبنان لومړى چاپ کال ١٤٣٥هـ ج٢ص ٢٥٨

[3]: ابن العديم، بغية الطلب في تاريخ الحلب، ج١٠ ص٤٣٤٧

[4]: الأصفهاني ، أبونعيم أحمد بن عبدالله ، مسند الإمام أبي حنيفة رحمه الله ، چاپ : مکتبة الکوثر – رياض ، لومړى چاپ کال: 1415 هـ ، تحقيق : نظر محمد الفاريابي صـ : 146.

[5]: اخرجه، أبوالحسين مسلم بن الحجاج ، فى صحيحه ،صحيح المسلم ، کتاب الجهاد والسير ، باب : تأمير امام الأمراء على البعوث ووصية إياهم بآداب الغزو وغيرها ، خپروونکى : دار احياء التراث العربي – بيروت ، لومړى چاپ کال : 1283 هـ ، تحقيق :محمد فؤاد عبد الباقي رقم الحديث (١٧٣١).ج٣ ص ١٣٥٧

ژباړه : وو رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله به یې امیر وټاکه دیو لښکر یا سریې لپاره ؛ نو وصیت به یې وکه په خاصه توګه هغه ته او نورو مسلمانان ته چې ورسره به وه د الله تعالی څخه په وېره او په نیکی باندې او بیابه یې وفرمایل : دالله تعالی په نوم او په لاره دالله تعالی کې جهاد ته روان شئ .

امام کاساني رحمه الله په بخاری کې دامام سمرقندي رحمه الله[1] څخه دهغه خپل لیکلي کتابونه لکه : تحفة الفقهاء ، شرح التأويلات اونور اصولي او فرعي علوم ولوستل ، او د یادوعلومو د لوستلو څخه وروسته دا کتاب بدائع الصنائع چې د تحفة الفقهاء شرحه ده ولیکله ، اویاده لیکنه یې خپل شیخ ته وړاندې کړه ، امام سمرقندي رحمه الله چې هغه مطالعه کړه ډېر خوښ شو ، او امام کاساني ته یې دیاد خدمت په بدل کې خپله لورفاطمه چې یوه عالمه او فقیهه او دخپل پلار دیادو کتابونو حافظه او دوخت یوه ښایسته ښځه وه ، په نکاح ورکړه ، اومهریې ورته نوموړی کتاب وګرځوه ، نو ځکه به دوخت فقهاؤ ویل : تحفه یې ورته شرحه کړه او لوریې ورته په نکاح ورکړه . [2]

بیا امام کاساني رحمه الله او مېرمن یې دروم ښارونوته ولاړل او وروسته د روم د بادشاه لخوا داستازي په توګه حلب[3] ته واستول شو او هلته یې نورالدین محمود بن زنکي [4] ډېر قدر او احترام وکړ، او غوښتنه یې ورنه وکړه چې په حلاویه مدرسه کې دتدریس دنده په غاړه واخلي ، امام کاساني رحمه الله دنورالدین محمود بن زنکي یاده غوښتنه ومنله او په نوموړې مدرسه او جاولیه مدرسه کې دتدریس دنده پیل کړه ، اودعمرترآخر پورې یې په یاده مدرسه کې تدریس وکړ.[5]

**دريمه فرع: د امام کاساني رحمه الله شيوخ(استاذان) او تلاميذ (شاګردان) :**

**شيوخ يي:**

امام کاساني دهدایي د مصنف په څېرداسي کوم کتاب نه دې لیکلي چې پکې دخپلو استاذانو (شیوخو) یادونه کړې وي ، اوپدې کې شک هم نشته چې امام کاساني رحمه الله به د ډېرو علماؤ څخه زده کړه کړي ده ، خو کوم دتراجمو کتابونه چې ما مطالعه کړل هغوي یوائې دیوه شیخ یادونه کړي ، چې هغه امام علاء الدین محمد بن أحمد بن أبي أحمد السمرقندي رحمه الله دی ، ځکه چې امام کاساني رحمه الله دنوموړي ډېروخت شاګرد پاتي شوی ، اودهغه ډېرې کتابونه یې لوستي دي لکه : په فقه کې تحفة الفقهاء

---

[1]: السمرقندي : امام أبو بكر محمد بن أحمد بن أبي أحمد علاء الدين ، په کال : ۴۹۱ هـ ق کې زېږيدلی او په کال : 575 هـ ق کې وفات شوی ، رحمه الله . الزركلي ، الأعلام :ج 5 ص 317 .

[2]: اللكنوي ، الفوائد البهية في تراجم الحنفية :ص 53 .

[3]: حلب : دحا او لام په زور سره دشام دمشهورو ښارونوڅخه دی ، چې اوس د سوریې په شمال طرف کې واقع دی . الحموي ، معجم البلدان :ج 2 ص 282 .

[4]: محمود زنكي دعماد الدين زنكي زوی چې لقب یې نورالدين دی ، په کال – 511 هـ ق – په حلب کې زېږېدلی اوپه – 541 هـ ق – کې دخپل پلار دوفات وروسته دامارت چارې په لاس کې واخیستي . أبي شامه : أبو القاسم شهاب الدين عبدالرحمن بن اسماعيل بن ابراهيم ، الروضتين في أخبار الدولتين النورية والصلاحية :ج 1 ص 107 – 152 ، تحقيق : ابراهيم الزيبق ، لومړی چاپ : مؤسسة الرسالة – بيروت ، کال : 1418 هـ ق – 1997 م .

[5]: ابن العديم ، بغية الطلب في تاريخ حلب :ج 10 ص4348 .

، په تفسیرکي شرح التأویلات ، اونوردأصولو کتابونه ، لکه څنګه چې له ده څخه او د نورو فقهاؤ څخه احادیث یې اوریدلي دي. [1]

**شاګردان یې :**

امام کاساني رحمه الله دهغو فقهاؤ له جملې څخه وه ، چې یوزیات شمېرخلکوته یې فقه او علمي فائده رسولي ، الله تعالی ډېره پوهه اوفقاهت ورپه برخه کړی وه ، نوله همدې امله یوزیات شمېر شاګردان یې درلودل چې دهغوله جملې څخه :

1 - دامام کاساني رحمه الله ځوی محمود وه چې دخپل پلار نه یې زده کړه کړی وه .[2]

2 – أبوعبدالله محمد بن سعید بن سلامة الحلبي.[3]

3 - محمد بن أحمد بن محمد بن خمیس الموصلي الحلبي .[4]

4 - أبوالسرایا خلیفة بن سلیمان بن خلیفة القرشي . [5]

5 – أبوبکرالمجلد .[6]

6 – أحمد بن محمود بن سعید الغزنوي.[7]

7 – محمد بن یوسف بن الخضربن عبدالله الحلبي.[8]

8 – شمس الدین نجا بن سعد بن نجا بن أبي الفضل . [9]

9 – أبوحفص عمربن علي بن محمد بن قشام الدارالقطني . [10]

---

[1]: القرشي، الجواهر المضیة فی طبقات الحنفیة ،ج۴ ص ۲۵،

[2]: اللکنوي، الفوائدالبهیة في تراجم الحنفیة ص ۵۳

[3]: أبوعبدالله : مشهورپه ابن الرکابي سره دی ، په کال – 561 هـ ق – کې زېږیدلې په کال – 617 هـ ق – کې وفات شوی دی . القرشي ، الجواهرالمضیة في طبقات الحنفیة :ج 4 ص 476 .

[4]: الموصلي : په کال – 542 هـ ق – په موصل کې زېږیدلې ، اوپه کال – 622 هـ ق – په حلب کې وفات شوی . قرشي ، الجواهرالمضیة في طبقات الحنفیة :ج 3 ص 59

[5]: أبوالسرایا خوارزمي : په کال – 566هـ ق – کې زېږیدلې اوپه کال – 638 هـ ق –دشوال دمیاشتې په 13 تاریخ وفات شوي . اللکنوي ، الفوائد البهیة في تراجم الحنفیة ص : 71 .

[6]: أبوبکرالمجلد الحنفي : په حلب کې دحلاویې مدرسې نقیب ( مشر ) وه ، او په یاده مدرسه کې دمشهورو فقهاؤ څخه وه ، اوکتابونه به یې پوښول ابن عدیم ، بغیة الطلب في تاریخ حلب :ج 10 ص 4367 – 4368 .

[7]: الغزنوي : مشهورپه تاج الحنفي دحنفي مذهب دمشهورو فقهاؤڅخه دی ، په اصول فقه او فقه کې یې کتابونه لیکلي ، لکه : أصول فقه ، روضة اختلاف العلماء ، مقدمة فی الفقه چې مشهورپه مقدة الغزنویة سره ده ، په کال – 593 هـ ق – کې په حلب کې وفات اودحنفي فقهاؤ په هدیره کې خاوروته وسپارل شو. لکنوي ، الفوائد البهیة في تراجم الحنفیة ص : 39 .

١: شمس الدین : چې دفقهې زده کړه یې دامام کاساني څخه کړې ، اودبدائع الصنائع کتاب یې په خپل لاس لیکلې دی . قرشي ، الجواهرالمضیة في طبقات الحنفیة :ج 3 ص531 .

[٢]: أبوحفص : دحلب په دارالقطن سیمه کې په کال – 543 هـ ق – کې زېږیدلی او په کال – 623 هـ ق – کې وفات شوی دی . الذهبي ، شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ، تاریخ الإسلام ووفیات المشاهیر ولأعلام : ،خپروونکی : دارالغرالإسلامي – بیرت - لبنان دریم چاپ کال : 2003م ، تحقیق او تعلیق : د / بشار عواد معروف . ج 45 ص 162 – 163.

[٣]: اللکنوي ، الفوائد البهیة في تراجم الحنفیة ص ۵۳

**ځلورمه فرع: د امام کاساني رحمه الله علمي مکانت (علمي رتبه) ، مناقب او صفات ، او په هکله يې د فقهاؤ ستاينې:**

۱ـ علمي مکانت:

امام کاساني رحمه الله داسلامي فقهې يومعتبر فقيه ، دحنفي مذهب پېژندل شوی عالم ، اودوخت دمشهورو امامانوڅخه يومشهورامام دی ، دوخت دحاکمانولخوا دډېرقدراو احترام خاوند ؤ ، آن تردې چې دملک العلماء لقب ورته ورکړل شوی وه .[1]

کله چې امام کاساني رحمه الله د روم د حاکم لخوا حلب ته واستول شو، حلب ته دنوموړي دتلو لامل همداوه ، چې د روم د يوفقيه سره يې په مسأله د دوه مجتهدينوکې مناظره وکړه چې هغه دواړه مصيب دي اوکه يويې مخطئ دی؟

نوموړي فقيه وويل چې دامام أبوحنيفه رحمه الله څخه نقل دی ، چې هرمجتهد مصيب دی ، امام کاساني رحمه الله ورته وويل چې دامام أبوحنيفه رحمه الله څخه صحيح نقل دادی چې په دوه مجتهدينو کې يومصيب اوبل مخطئ وي ، اوحق په يوطرف کې وي ، او څه چې ته وايي هغه دمعتزله وو مذهب دی [2]

دنوموړي فقيه اوامام کاساني رحمه الله په ياده مسأله کې اختلاف اوجنجال پيښ شو، چې امام کاساني رحمه الله په ياد فقيه لرګی را پورته کړ، اونوموړي فقيه د روم حاکم ته شکايت وکړ، نوموړی حاکم ډير خفه شو خو څه يې ورته ونه ويل [3]او د امام کاساني رحمه الله په هکله يې دخپل وزيرسره مشوره وکړه او ورته يې و ويل چې : چې دې کس (يعني امام کاساني) استبداد کړی دی په هغه سړي ( يعني د روم فقيه) باندې ، نو دی زمونږ نه واړوه يعني لرې کړه ، وزيرورته وويل : امام کاساني رحمه الله يولوی عالم اومحترم شخصيت دی د دې لرې کول پکار نه دي ، بلکې نورالدين محمود بن زنکي ته به يې د استاذي په توګه حلب ته واستوو، او په دې طريقې سره به له ده نه خلاص شو ، نو کله چې حلب ته و رسيدو ، په حلب کې يې نورالدين محمود بن زنکي او فقهاؤ يې دروند هرکلی وکړ ، اوپه حلب کې يې داوسيدو اوپه حلاويه مدرسه کې دتدريس غوښتنه ورڅخه وکړه اوهغه قبوله کړه ، او وعده يې ورسره وکړه چې روم ته ځم اود روم دحاکم دخط دجوابولو څخه وروسته به واپس حلب ته راځم، امام کاساني دروم نه واپس حلب ته لاړ، نو کله چې د را رسيدو خبر يې خلکو ته ورسيدو ، نو يوه ډله د علماء د ده د استقبال لپاره د بزاعة نومي ځائ ته راغلل ، او دا فقهاء به د ده په غياب کې هره ورځ د ده لپاره به سجاده غوړوله او شاؤخوا به ورته ناست ول تر دې چې امام کاسني رحمه الله بيرته راغلو، نورالدين زنکي يې ډېر احترام وکړ او په ياده مدرسه کې يې ورته دتدريس چارې وروسپارلې ، امام کاساني په ياده مدرسه کې په تدريس بوخت وه ، او زياتره وخت به دپښنواو بندونو دپړسيدو تکليف ورته پيښيده ، شيخ ابن عديم رحمه الله د حافظ محب الدين طبري رحمه الله [4] څخه رايت کوي چې هغه ويل : ما د ډېرو

---

[1]: اللکنوي ، الفوائد البهية في تراجم الحنفية ص ۵۳

[2]: القرشي ، الجواهرالمضية في طبقات الحنفية :ج 4 ص 25 . او لکنوي ، الفوائد البهية في تراجم الحنفية صـ : 53 .

[3]: القرشي، الجواهر المضية ج۱۰ ص ۴۳۵۱

[4]: الطبري : حافظ أبوالعباس محب الدين أحمد بن عبدالله بن محمد ، په کال : 615 هـ ق کې زېږيدلی او په کال : 694 هـ ق کې وفات شوی ، رحمه الله . الزرکلي ، الأعلام :ج 1 ص 159 .

خلکو څخه اورېدلېدي چې دامام کاساني رحمه الله څخه یې نقل کوه ، هغو ویل چې امام کاساني رحمه الله دیاد مرض له وجهي ناست وه ، نورالدین محمود بن زنکي یې پوښتنې ته راغي ، امام کاساني رحمه الله دخپل ځاي نه حرکت وکړ نورالدين محمود بن زنکي ګومان وکړچې هغه د ودرېدوکوښښ کوي ، نوپه فارسي ژبه یې ورته وويل (بنشين بنشين ) .[1]

او امام کاساني رحمه الله په ډېرو علومو کې لکه تفسير ، حديث ، فقه ، او اصول فقه کې لوی لاس درلودلو ؛ او په ادب او لغت کې یې هم پوره مهارت درلودلو.[2] او کاساني رحمه الله یو حنفي فقيه عالم وو ، او صاحب دعلم په حنفي مذهب ، او په منهج د امام ابو حنيفة رحمه الله وو، او په دې خبره د ټولونه لوی دليل د ده خپل کتاب (بدائع الصنائع) دی چې مشتمل دی په ډېرو فقهي مسائلو او په رواياتو د امام ابو حنيفة رحمه الله باندې.[3]

۲ـ مناقب او صفات يې:

امام کاساني رحمه الله لکه څنګه چې د علم په لحاظ يو ستر شخصيت وو ، همدارنګه د ښو اخلاقو او عاليصفاتو درلودونکی هم وو چې د اخلاقو او صفاتو له جملي څخه يې:

۱ـ د خپل استاذ علاءالدين السمرقندي به يې ډېر تقدير او اکرام کولو ، تر دې چې د هغې په توصيف کې فرمائي: ( استاذي الشيخ الزاهد علاءالدين رئيس اهل السنة محمد بن احمد السمر قندي).[4]

۲ـ احترام او اکرام کول د ده د خپل ميرمنې چې يوه فقيهه او د استاذ لور يې وه ، تر دې چې په ځينې مسائلو کې به د خپل ميرمنې قول ته رجوع کوله ، کله به چې ده ته په کومه فتوی کې وهم پيدا شو او ميرمنې به تنبيه کړو صواب طرف ته.[5]

۳ـ او امام کاساني د علم او اهل علم سره ډېره مينه وه ، او د علم د خاوندانو يې ډېر قدر کاوه او هغوې ته به يې ډېر په درنه سترګه کتل ، نو په همدې اساس کله چې تاسو د ده کتاب ( بدائع الصنائع) مطالعه کړې نو وه به ګورې چې کله هم د فقهاء يادونه کوي نو ډېر په لويو او د احترام نه ډکو الفاظ د هغوې نوم اخلي د بېلګې په توګه: الْفَقِيهُ الْجَلِيلُ أبو أَحْمَدَ الْعِيَاضِيُّ السَّمَرْقَنْدِيُّ،[6] الشَّيْخِ الْإِمَامِ أبي بَكْرٍ مُحَمَّدِ بن الْفَضْلِ الْبُخَارِيِّ،[7] الشَّيْخِ الزَّاهِدِ فَخْرِ الْإِسْلَامِ عَلِيِّ بن مُحَمَّدٍ الْبَزْدَوِيِّ،[8] الْقَاضِي الْإِمَامِ صَدْرِ الْإِسْلَامِ

---

[1]: ابن العديم ، بغية الطلب في تاريخ حلب :ج 10 ص 4348 – 4349 .
[2]: القرشي، الجواهر المضية ، ج۴ ص ۲۵. اللکنوي، الفوائدالبهية فی طبقات الحنفية ، ص ۶۹
[3]: ابن العديم، بغية الطلب فی تاريخ الحلب، ج۱۰ ص ۳۴۵۰.
[4]:الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۲۹۷
[5]: ابن العديم ، بغية الطلب فی تاريخ الحلب، ج۱۰ ص ۴۳۴۹
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۱ ص۱۰۳
[7]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۱ص۳۴
[8]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۱ص۱۷۴

الْبَزْدَوِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ،[1] الشَّيْخُ الإمام الزاهد صَدْرُ الدِّينِ أبو الْمُعِينِ رحمه الله تعالى، [2] أُسْتَاذُ أُسْتَاذِي الشَّيْخُ الْإِمَامُ فَخْرُ الْإِسْلَامِ عَلِيُّ بن مُحَمَّدٍ الْبَزْدَوِيُّ.[3]

لكه څرنګه چې امام کاساني رحمه الله ته د وخت حاکمانو قدر اواحترام ورپه برخه وه ، همدا شان د وخت علماؤ دنوموړي ډېره ستاينه کړې ده .

شیخ ابن عدیم رحمه الله دنوموړي په اړه وايي : يوفقيه عالم اودصحيح عقيدې خاوند ، طالبانوته په فائده رسولو او تعليم کې ډېرحريص وه ، په معتزله ډلې او بدعتيانوباندې ډېربد اولعنت ويونکی وه . [4]

دويم مطلب : د امام کاساني رحمه الله د کتاب ( بدائع الصنائع ) پيژندنه.

په دې مطلب کې د د کتاب ( بدائع الصنائع ) د تسمي يې وجه ، د ليکلو لامل او هدف ، د کتاب موضوع ، او کتاب ( تحفة الفقهاء) سره يې تړاو ، او د ( بدائع الصنائع) په کتاب کې د امام کاساني رحمه الله ، علمی ارزښت يې تر څيړنې لاندې نيول شوی دی.

**لومړۍ فرعه**: د کتاب نوم او د ليکنې لامل او هدف:

**الف:د تسمي يې وجه:**

دبدائع الصنائع کتاب دنوم په اړه امام کاساني رحمه الله دکتاب په مقدمه کې وايي : ما په بدائع الصنائع في ترتيب الشرئع سره ونوموه ، ځکه چې دايو نا اشنا جوړښت اوعجيب ترتيب دی ، پدې خاطرچې نوم دنومول شوي اوصورت دمعنی سره برابرشي .[5]

همدارنګه هغه علماؤ چې دامام کاساني رحمه الله دتاريخ اودليکنويادونه کړې ، اودنوموړي کتاب څخه يې نقل کړی هغوي هم ياد کتاب په همدغه نوم يادکړی دی .[6]

اوامام کاساني رحمه الله ياد کتاب په کال 583 هـ ق کې ليکلی دی . [7]

با:دليکنې لامل يې :

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج١ص٢٤٧

[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج١ص١٨٩

[3]: الكاساني، بدائع الصنائع،ج٥ ١٠٨

[4]: ابن العديم ، بغية الطلب في تاريخ حلب :ج 10 ص 4348 – 4349 .

[5] : الكاساني ، علاء الدين أبو بكربن مسعود ، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع : ، چاپ : دارالكتب العلمية – بيروت ، كال : ١٤٢٤ هـ ، ٢٠٠٣ م ، تحقيق : شيخ علي محمد معوض او شيخ عادل أحمد عبد الموجود . ج ١ ص ٨٩

[6] : ابن العديم ، بغية الطلب في تاريخ حلب :ج ١٠ص ٤٣٤٨ .

[7] : القرشي ، الجواهرالمضية في طبقات الحنفية :ج ٤ ص 2٥٢٥.

دا یوه ضروري اولازمي خبره ده ، چې هرعالم اولیکوال څه لیکنه کوي باید هغه لیکنه یې لامل او هدف ولري ، چې له امله یې یاده لیکنه کوي او هدف یې وي چې په هکله یې لیکنه وکړي .

دبدائع الصنائع کتاب دلیکنې لامل ( سبب ) هم امام کاساني رحمه الله دفقهي دعلم اهمیت ته په کتو اوداچې دایو ضروري او لازمي علم دی ، دغه بي ساری خدمت کړی دی اووایي : یقینا چې دتوحید دعلم نه وروسته ډېردشرف علم دفقهي علم دی ، اوهغه دحلالو اوحراموپه نوم نومول شوی ، هغه دشرائعو اواحکاموعلم دی ، دهغه دپوهې لپاره انبیاعلیهم السلام راستول شوي ، اسماني کتابونه نازل شوي ، اودنوموړی علم دپوهې لپاره یوازي عقل بسنه نه کوي ، نواوریدل اونقل ورسره لازم دی .[1]

**ج: دلیکنې هدف یې :**

دبدائع الصنائع دلیکنې هدف لکه څنګه چې د امام کاساني رحمه الله د قول څخه معلومیږي هغه دا دی چې فقه په داسې شکل ترتیب اوتنظیمول چې زده کونکی په آسانی سره ورته لاس رسی پداکړي ، او فقهي مسائل اوجزئیات دقاعدې په بڼه ترتیب اوراویستل شي ، ترڅود پوهې اوحفظ لپاره اسانه شي ، په دې اړه امام کاسانی رحمه الله وایي : ( إذ الغرض الأصلي، والمقصود الكلي من التصنيف في كل فن من فنون العلم هو تيسير سبيل الوصول إلى المطلوب على الطالبين، وتقريبه إلى أفهام المقتبسين، ولا يلتئم هذا المراد إلا بترتيب تقتضيه الصناعة، وتوجبه الحكمة، وهو التصفح عن أقسام المسائل، وفصولها، وتخريجها على قواعدها، وأصولها ليكون أسرع فهما، وأسهل ضبطا، وأيسر حفظا فتكثر الفائدة، وتتوفر العائدة فصرفت العناية إلى ذلك .[2]

ژباړه : په هر علم او فن کې د تصنیف او لیکلو اصلي غرض او کلي مقصد طالبانو ته ؛ مطلب ته د رسیدلو لاره اسانول او نږدې کول د هغې افهامو د طالبانو ته دی، نو دغه مقصد ته رسیدل بغیر له صحیح ترتیب څخه نه کیږي ، هغه ترتیب چې جوړونه او حکمت یې غوښتنه کوي ، چې هغه ورقې اړول د ډول ډول مسائلو او فصلونو او دهغو تخریج په خپلو اصولو او قواعدو باندې دی ، د دې لپاره چې پوهه وربانديې اسانه ، قید او ضبط او حفظ یې په اسانه وشي ، نو فائده به زیاته شي او لاسته راوړنه به یې ډېره شي نو ما خپله توجه د دې لپاره مصرف کړې ده .

**د: دکتاب موضوع اودتحفة الفقهاء کتاب سره یې تړاو:**

بدائع الصنائع دحنفي فقهاؤ د اهمو او ضروري مصادرو اومراجعوڅخه شمېرل کیږي ، اوپه مقارنه فقه کې لیکل شوی دی ، ځکه چې امام کاساني رحمه الله په یاد کتاب کې دامام أبوحنیفه رحمه الله اودحنفي مذهب دنورو مشهورو امامانو[3] اوهمدا رنګه دنورومذاهبو دفقهاؤ اقوال رانقل کړي دي ، خوسره موضوع یې په حنفي مذهب باندې څرخیږي چې له دې امله دا ویلای شو چې حنفي فقه کې لیکل شویدی ، بل دا چې د نورو مذاهبو څخه د امام شافعي رحمه الله او د امام مالک رحمهما الله اقوال یې ډیر ذکر

[1] : الکاساني ، بدائع الصنائع :ج ١ص ٨٧
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ، ج١ ص ٨٨
[3]: لکه : امام أبویوسف ، امام محمد بن الحسن الشیباني ، امام زفر امام الطحاوي ......

کړي دي ، او د امام احمد بن حنبل رحمه الله رأی او نظر يې صرف په دوه ځايه کې : يو په بحث (الترتيب فی الوضوء )[1] او په بحث د ( واجبات الصلوة )[2] کې ذکر کړی دی.

**هـ:دتحفة الفقهاء کتاب سره يې تړاو:**

بدائع الصنائع په اصل کې دتحفة الفقهاء شرحه ده ، علامه لکنوي رحمه الله [3] وايي : بدائع الصنائع چې د ( تحفة الفقهاء ) شرحه ده ، امام کاساني رحمه الله چې وليکه اوخپل استاذ ته يې وړاندې کړه ،استاذ يې د ياد کتاب په ليکلودېرخوښ شو،اوخپله لوريې ورته په نکاح ورکړه ، مهريې ورته نوموړی کتاب وګرځوه ، نو د وخت فقهاؤ به ويل چې تحفه يې ورته شرحه کړه او لوريې ورته په نکاح ورکړه .[4]

امام کاساني رحمه الله تګلاره دياد کتاب په شرحه کولوکې دعاموشارحينو په څېرنه ده ، چې د کتاب عبارات راواخلي اوشرحه يې کړي ، بلکې دعباراتو د نقل نه بغيريې پوره په ترتيب سره شرحه کړی ده ، اود نوموړي کتاب څخه يې د يواصل او قاعدې په ډول استفاده کړې ده لکه چې وايي : ( په دې فن کې زموږ د شيوخو مخکنۍ او اوسنۍ ډېرې زياتې زياتې ليکنې شوي دي او فائده يې رسولې ، خو د ترتيب په هکله زما له استاذ پرته بل چا داسې پام لرنه نه ده کړې ). [5]

**۶: د بدائع الصنائع د کتاب په ليکنه اوجوړښت کې دامام کاساني رحمه الله تګلاره اودکتاب علمي ارزښت :**

دامام کاساني رحمه الله تګلاره په نوموړي کتاب کې په لاندې ډول ده.

**الف : د ترتيب طريقه اوتګلاره يې :**

امام کاساني رحمه الله د بدائع الصنائع په ليکنه اوجوړښت کې يوځانګړی ترتيب غوره کړی دی ، هغه دهرکتاب په مقدمه کې دهماغه کتاب اړوند مسائل دنچوړاوخلاصې په ډول ذکرکوي ، بيا په تفصيل سره دهرې مسئلې دقيقه اوعلمي څېړنه کوي ، يعنې د لف او نشر مرتب له طريقې څخه يې کار اخيستی دی ، چې د دغې تګلارې ښکارندوينه يې دکتاب په مقدمه کې کړي اووايي :(وجمعت في كتابي هذا جملا من الفقه مرتبة بالترتيب الصناعي، والتاليف الحكمي الذي ترتضيه أرباب الصنعة، وتخضع له أهل الحكمة.) [6]

ژباړه : ما په خپل دغه کتاب کې د فقهې څه مسائل جمع کړي ، چې په صناعي ترتيب او حکمي تأليف سره مرتب کړی شوي ، چې دليکنې خاوندان يې خوښ او اهل د حکمت ورته عاجز شي .

د بېلګې په ډول د کتاب البيوع په پيل کې وايي :( الْكَلَامُ في هذا الْكِتَابِ في الأصل في مَوَاضِعَ في بَيَانِ رُكْنِ الْبَيْعِ وفي بَيَانِ شَرَائِطِ الرُّكْنِ وفي بَيَانِ أَقْسَامِ الْبَيْعِ وفي بَيَانِ ما يُكْرَهُ من الْبِيَاعَاتِ وما يَتَّصِلُ بها وفي

---

[1]: لکاساني ، بدائع الصنائع ، ج۱ ص ۲۱
[2]: لکاساني ، بدائع الصنائع ، ج۱ ص ۱۴۶
[3]: الكاساني ، بدائع الصنائع ، ج۱ ص ۲۱
[4]: اللكنوي : علامه بحر العلوم أبوالعياش محمد عبد الحي بن نظام الدين ، په کال : 1225 هـ ق کې وفات شوی ، رحمه الله . اوګورئ : الزركلي ، الأعلام : 7 / 71 ، چاپ
[5] : الكاساني ، بدائع الصنائع ، ج۱ ص ۸۸
[6]: الكاساني ، بدائع الصنائع ، ج۱ ص۸۹

بَيَانِ حُكْمِ الْبَيْعِ وفي بَيَانِ ما يَرْفَعُ حُكْمَ الْبَيْعِ أما رُكْنُ الْبَيْعِ فَهُوَ مُبَادَلَةُ شَيْءٍ مَرْغُوبٍ وَذَلِكَ قد يَكُونُ بِالْقَوْلِ وقد يَكُونُ بِالْفِعْلِ )[1] ژباړه: په اصل کې خبره په دې کتاب (يعنې په کتاب البيوع ) کې په سو موضوع ګانو څرخيږي: په بيان د رکن د بيع ، په بيان د شرائطو د رکن د بيع ، په بيان د اقسامو د بيع ، او په بيان د هغې کې چې مکروه دي د بيعو څخه او د هغې سره اړوند مسائل ، او په بيان د حکم د بيع ، او په بيان هغه څه کې چې پورته کوي حکم د بيع ، او هرڅه رکن د بيع چې دی دا عبارت دی د مبــــــادلې مرغوب څيز څخه او دا کله په قول سره وي او کله په فعل سره.

د پورته عبارت څخه په واضحه توګه معلوميږي چې اول يې خلاصه او نچوړ د موضوعاتو ذکر کړو او بيا يې په (أما رُكْنُ الْبَيْعِ ) سره په تفصيل پيل کړی او هره موضوع يې په ترتيب د لف او نشرې مرتب سره په جلا جلا فصلونو کې تشريح کړې ده .

**با : داستدلال طريقه اوتګلاره يې :**

د امام کاساني رحمه الله تګلاره د فقهي مسائلود دليل اوعلت په بيانولوکې ښکاره اوروښانه ده ، ځکه چې هغه د اکثرو مسائلو اوبلکې دهرې مسئلې دليل اوعلت ذکرکوي ، او په بيان د دلائلو کې د دلائلو د مراتبو په نظر کې نيولو سره لومړی په کتاب الله اوبيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنت ،اجماع ، اوعقل باندې استدلال کوي ، لکه څنګه چې په بحث د ( وجوب د مساوات په ربوي اموالو کې فی الحال او فی المآل ) کې وايي : (فَأَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ يَعْتَبِرُ الْمُسَاوَاةَ في الْحَالِ عِنْدَ الْعَقْدِ وَلَا يَلْتَفِتُ إلَى النُّقْصَانِ في الْمَآلِ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ يَعْتَبِرُهَا حَالًا وَمَآلًا وَاعْتِبَارُ أبي يُوسُفَ مِثْلُ اعْتِبَارِ أبي حَنِيفَةَ إلَّا في الرُّطَبِ بِالتَّمْرِ فإنه يُفْسِدُهُ بِالنَّصِّ.... وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ الْكِتَابُ الْكَرِيمُ وَالسُّنَّةُ الْمَشْهُورَةُ.)[2] ژباړه: ابو حنيفه رحمه الله معتبر ګڼي مساوات په وخت د عقد کې او التفات نه کوي نقصان ته په آينده کې ، او امام محمد رحمه الله حالاً او مآلاًمساوات معتبر ګڼي او اعتبار د امام ابو يوسف رحمه الله په مثل د اعتبار د امام ابو حنيفه رحمه الله دی مګر تازه خرما په وچه خر ما ، پس دا د نص په سبب فاسده ګڼي.

او بل ځای کې فرمائي: (وَلَنَا في إثْبَاتِ الأصل إشَارَاتُ النُّصُوصِ من الْكِتَابِ الْعَزِيزِ وَالسُّنَّةِ وَالِاسْتِدْلَالِ)[3] ژباړه: او مونږ لپاره په اثبات د اصل کې اشارات دي د نصوصو د کتاب الله څخه ، سنت ، او استدلال (يعنی معقول) اوامام کاساني رحمه الله په احاديثواو آثارويي استدلال د تخريج اومرتبې د يادوني نه بغيرکړی دی.

**ج: په اتفاقي او اختلافي مسائلو کې يې تګلاره :**

امام کاساني رحمه الله داتفاقي مسائلويادونه د دلائلواوعلتونوسره کوي .

اما هغه مسائل چې اختلافي دې دهغوپه اړه دامام کاساني رحمه الله تګلاره په لاندې ډول ده :

---

[1]: الكاساني ، بدائع الصنائع ، ج٥ ص ١٣٣
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج ٥ ص ١٨٨
[3]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج ٥ ص ١٨٤

1- لومړی دهغه قول يادونه کوي چې دنوموړي په وړاندې غوره اومختاردی ، که هغه قول دامام ابوحنيفه رحمه الله وي اويا د نورو فقهاؤ وي.

2 – بيا دخصم يا د مخالفوفقهاؤ اقوالو يادونه د دلائلوسره کوي ، اوپه اکثره مسائلوکې دحنفي مذهب دمشهورو فقهاؤ [1] اونورومذاهبود فقهاؤ او مجتهيدينو[2] د اقوالو مقارنه کوي .

3 – بيا دهغه لومړي قول دلائلو ذکرکوي چې د نوموړي په وړاندې غوره دې .

۴- او په اکثره ځايونو کې د خصم د دلائلو مناقشه هم کوې. د بيلګې په تو ګه لاندې مثالونو ته ځير شئ :

**لومړی مثال** :په بحث د تصرفاتو د ولي د صغير کې فرمائي :( ليس له أَنْ يَهَبَ بِعِوَضٍ عِنْدَ أبي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ له ذلك (وَجْهُ قَوْلِهِ) أَنَّ الْهِبَةَ بِعِوَضٍ مُعَاوَضَةُ الْمَالِ بِالْمَالِ فَكَانَ في مَعْنَى الْبَيْعِ فَمَلَكَهَا كما يَمْلِكُ الْبَيْعَ ( ولهما ) أنها هِبَةٌ ابْتِدَاءً بِدَلِيلِ أَنَّ الْمِلْكَ فيها يَقِفُ على الْقَبْضِ وَذَلِكَ من أَحْكَامِ الْهِبَةِ وَإِنَّمَا تَصِيرُ مُعَاوَضَةً في الِانْتِهَاءِ وهو لَا يَمْلِكُ الْهِبَةَ فلم تَنْعَقِدْ هِبَتُهُ فَلَا يُتَصَوَّرُ أَنْ تَصِيرَ مُعَاوَضَةً بِخِلَافِ الْبَيْعِ لِأَنَّهُ مُعَاوَضَةٌ ابْتِدَاءً وَانْتِهَاءً وهو يَمْلِكُ الْمُعَاوَضَةَ)[3] ژباړه: جائز نه دی ولي د صغير لپاره چې بخشش کړي مال د صبي په مقابل د عوض کې په نزد امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله ، او په نزد امام محمد رحمه الله ولي دا اختيار لري ،( وجه د قول د امام محمد رحمه الله )بخشش په مقابل د عوض کې په حقيقت کې معاوضه د مال ده په مقابل د مال کې ، نو دا شوه په معنا د بيع کې ، نو مالک شو د بخشش په مقابل د عوض کې لکه څنګه چې مالک دی د بيع ، (وجه د قول د شيخينو رحمها الله): دا هبه ده ابتداءً په دې دليل چې په ديکې ملک موقوف دی په قبض ، او دا داحکامو د هبې څخه دی او ګرځي د معاوضي عقد انتهاءً او حال دا چې دا ( ولي د صغير) اختيار د هبې نه لري پس منعقده نه شوه عقد هبه نو متصوره نه ده چې وګرځي عقد معوضه ، په خلاف د بيع ځکه چې هغه معاوضه ده ابتداءً او انتهاءً او دا يې اختيار لري.

دويم مثال : وَاللُّحُومُ مُعْتَبَرَةٌ بِأُصُولِهَا فَإِنْ تَجَانَسَ الأصلانِ تَجَانَسَ اللَّحْمَانِ فَتُرَاعَى فيه الْمُمَاثَلَةُ وَلَا يَجُوزُ إلَّا مُتَسَاوِيًا

وَإِنْ اخْتَلَفَ الأصلان اخْتَلَفَ اللَّحْمَانِ فَيَجُوزُ بَيْعُ أَحَدِهِمَا بِالْآخَرِ مُتَسَاوِيًا وَمُتَفَاضِلًا بَعْدَ أَنْ يَكُونَ يَدًا بِيَدٍ وَلَا يَجُوزُ نَسِيئَةً لِوُجُودِ أَحَدِ وَصْفَيْ عِلَّةِ رِبَا الْفَضْلِ وهو الْوَزْنُ

إذَا عُرِفَ هذا فَنَقُولُ لُحُومُ الْإِبِلِ كُلِّهَا على اخْتِلَافِ أَنْوَاعِهَا من لُحُومِ الْعِرَابِ وَالْبَخَاتِيِّ وَالْهَجِينِ وَذِي السَّنَامَيْنِ وَذِي سَنَامٍ وَاحِدٍ جِنْسٌ وَاحِدٌ لِأَنَّ الْإِبِلَ كُلَّهَا جِنْسٌ وَاحِدٌ فَكَذَا لُحُومُهَا

وَكَذَا لُحُومُ الْبَقَرِ وَالْجَوَامِيسِ كُلُّهَا جِنْسٌ وَاحِدٌ وَلُحُومُ الْغَنَمِ من الضَّأْنِ وَالنَّعْجَةِ وَالْمَعْزِ وَالتَّيْسِ جِنْسٌ وَاحِدٌ اعْتِبَارًا بِالْأُصُولِ وَهَذَا عِنْدَنَا وقال الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ اللُّحُومُ كُلُّهَا جِنْسٌ وَاحِدٌ اتَّحَدَتْ أُصُولُهَا أو اخْتَلَفَتْ حتى لَا يَجُوزَ بَيْعُ لَحْمِ الْإِبِلِ بِالْبَقَرِ وَالْبَقَرِ بِالْغَنَمِ مُتَفَاضِلًا

---

[1]:لکه: امام أبوحنيفه ، امام أبويوسف ، امام محمد بن الحسن ،امام حسن بن زياد،او امام زفر،ابي ليث سمرقندي رحمهم الله .
[2]: لکه امام شافعي ، امام مالک ،امام احمد بن حنبل، ابن ابی ليلی ، ابن سيرين ، رحمهم الله او داسي نور.
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۵۳

وَجْهُ قَوْلِهِ أَنَّ اللَّحْمَيْنِ اسْتَوَيَا اسْمًا وَمَنْفَعَةً وَهِيَ التَّغَذِّي وَالتَّقَوِّي فَاتَّحَدَ الْجِنْسُ فَلَزِمَ اعْتِبَارُ الْمُمَاثَلَةِ في بَيْعِ بَعْضِهَا بِبَعْضٍ

وَلَنَا أَنَّ أُصُولَ هذه اللُّحُومِ مُخْتَلِفَةُ الْجِنْسِ فَكَذَا اللُّحُومُ لِأَنَّهَا فُرُوعُ تِلْكَ الْأُصُولِ وَاخْتِلَافُ الأصل يُوجِبُ اخْتِلَافَ الْفَرْعِ قَوْلُهُ الِاسْمُ شَامِلٌ وَالْمَقْصُودُ مُتَّحِدٌ قُلْنَا الْمُعْتَبَرُ في اتِّحَادِ الْجِنْسِ اتِّحَادُ الْمَقْصُودِ الْخَاصِّ لَا الْعَامِّ أَلَا تَرَى أَنَّ الْمَطْعُومَاتِ كُلَّهَا في مَعْنَى الطَّعْمِ مُتَّحِدَةٌ ثُمَّ لَا يُجْعَلُ كُلُّهَا جِنْسًا وَاحِدًا كَالْحِنْطَةِ مع الشَّعِيرِ وَنَحْوِ ذلك حتى يَجُوزَ بَيْعُ أَحَدِهِمَا بِالْآخَرِ مُتَفَاضِلًا مع اتِّحَادِهِمَا في مَعْنَى الطَّعْمِ لَكِنْ لَمَّا كان ذلك مَعْنًى عاما لم يُوجِبْ اتِّحَادَ الْجِنْسِ كَذَا هذا.)[1] ژباړه: غوښې قیاسیږي په خپل اصولو باندې پس که د دواړو غوښو اصول هم جنس وي نو غوښې هم همجنس ګڼل کیږي ، نو د مماثلت خیال دې په کې وساتل شي او (بیع یې) جائز نه ده مګر په تساوي سره ، او که چیرته اصول یې مختلف الجنس وي نو غوښه یې هم مختلف الجنس ګڼل کیږي ، پس جائز ده بیع یې د یو بل مقابل کې متفاضلا او متسامیًا وروسته د دې چې لاس په لاس وي او نسیه په کې جائز نه ده د وجې د وجود یو د دوو علتونو د رباالفضل چې هغه وزن دی ، کله چې دا خبره معلومه شوه نو مونږ وایو چې غوښې د اوښانو سره د اختلاف د ډولونو د اوښانو لکه غوښې د عربي اوښانو،البخاتي اوښانو[2]، الهجین [3] اوښانو ، دوه کوهانو والا ، او یوکوهان والا اوښ دا ټول یو جنس حسابیږي ځکه چې اوښان ټول یو جنس دی ، پس همدارنګه غوښې د غویانو او میښو ټول یو جنس دی ، او غوښې د ګډو ، لکه پسه، میږه، اوزه ، سیرلي یو جنس دی د لحاظه د قیاس په اصولو باندې دا زمونږ په نزد ، او امام شافعي رحمه الله فرمائي: ټولې غوښې یو جنس دی اصول یې متحد وي او که مختلف تر دې چې جائز نه دی خرڅول د غوښې د اوښ په غوښې د غوائي او غوښه د غوائي په غوښې د ګډو متفاضلا (وجه د قول داامام شافعي رحمه الله) بیشکه دا دواړه غوښې مساوي دي په نوم او منفعت کې چې هغه عبارت د تغذیه کیدل او قوت حاصلولو څخه، نو جنس متحد شو ،پس لازم دی اعتبار د مماثلت په بیع د ځینو په مقابل ځینو نورو کې ( او زمونږ لپاره دلیل) بیشکه اصول د دغه غوښو مختلف الجنس دي نو همدارنګه غوښې هم مختلف الجنس ګڼل کیږي ځکه چې غوښې فروع د دغه اصولو دي او اختلاف د اصل لازموي اختلاف د فرعې لره ؛ (مناقشه دلیل د امام شافعي رحمه الله )او دا خبره د امام شافعي رحمه الله چې نوم یې شامل او منفعت یې متحد دی ، مونږ وایو: معتبر په اتحاد د جنس کې اتحاد د مقصود خاصه دی نه مقصودِ عامه ته نه ګورې چې مطعومات ټول لکه غنم د اوربشو سره په معنا د طعامیت کې متحد دي بیا هم یو جنس نه ګڼل کیږي تر دې چې جائز دی بیع د یو بل مقابل کې متفاضلا سره د دې چې متحد دي په معنا طعامیت کې؛ لکن کله چې دا معنا عام وه نو لازم یې نه کړو اتحاد د جنس همدارنګه مسئله د غوښو هم ده.

په دې مثال کې (قوله الإسم شامل و المقصود متحد) سره د خصم د دلیل مناقشه کوي هغه داسې چې : مونږ وایو معتبر په اتحاد د جنس کې اتحاد د خاص مقصد دی نه عام ته نه ګورې چې مطعومات ( خوراکي توکي ) په معنی د طعام والي کې سره متحد دي بیا هم یو جنس نه ګڼل کیږي لکه غنم سره د

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ، ج۵ ص ۱۸۹
[2]: البخاتي: خراساني اوښانو ته بخاتي ویلکیږي. المعجم الوسیط باب الباء ج۱ص۴۱
[3]: الهجین: هغه اوښ ته ویلکیږي چې بلار یې عربي نسل څخه وي او مور یې غیر عربي وي. النهایه لابن اثیر ج۴ ص۷۰

اوربشو او ددې په مثل نور ځيزونه تر دې چی جايز دی بيع د يو د مطعوماتو په مقابل د بل کې په تفاضل سره ، سره د اتحاد نه په معنی د طعام والي کې لکن کله چی دا معنی عامه وه نو لازم يی نکړو اتحاد د جنس نو همدارنګه په غوښو کې اتحاد د عام مقصود دی نه خاص نو ځکه اتحاد د جنس نه راولي.

**د : علمي ارزښت يې:**

بدائع الصنائع دحنفي فقهي يومعتبرکتاب اوفقهي موسوعه ده ، دنويوفقهي مسائلويومهم مصدراو مرجع ده ، ډيروفقهاؤاوعلماؤ يې ترتيب اوجوړښت ته تعجب کړی ، اوپه ( الشرح العظيم او الکتاب الجليل )[1] سره يې دنوموړي يادونه کړي ، اوکله يې چې خپل شيخ ته وړاندې کړهغه هم دنوموړي دغه ترتيب اوجوړښت ډير خوښ شو.

شيخ ابن عابدين رحمه الله [2] دحنفي فقهي په فقهي کتابونو باندې غوره اوبهترکڼلي وايي :( دا کتاب دلوړ شان خاوند دې ، زموږ په کتابونو کې يې سارى نه ليدل کيږي).[3]

شيخ ابن العديم رحمه الله دشيخ شمس الدين الخسرو شاهي رحمه الله [4] څخه روايت کړي چې راته يې وويل : په ملګروباندې دې بدائع الصنائع دامام کاساني رحمه الله لازم کړه ، ځکه چې هيڅ ليکوال اومصنف دهغه په څيرکتاب نه دې ليکلی .[5]

[1]: القرشي، الجواهر المضيه فی طبقات الحنفيه ج۴ص۲۵

[2]: ابن عابدين : علامه محمد علاء الدين بن محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز الحسيني الدمشقي ، په کال : ۱۱۹۸ هـ ق په دمشق کې زيږيدلی او په کال : ۱۲۵۲ هـ ق کې وفات شوی ، رحمه الله . اوګورئ : الزرکلي ، الأعلام ج۶ص۴۲

[3]: ابن عابدين امين بن عمر بن عبدالعزيز ، ردالمحتار علی درالمختار، خپروونکي: دارالفکر بيرت لبنان يم چآب ج۱ص۲۲۵

[4]: دو خسرو شاهي : عبدالحميد بن عيسى بن عمربن يوسف بن خليل بن عبدالله بن يوسف په کال ( ۵۸۰ هـ ق) زيږېدلي اوپه کال (۶۲۵ هـ ق) کې وفات شوی دی . ابن قاضي شهبة ، أبوبکربن أحمد بن محمدبن عمر، طبقات الشافعية : ج۲ص ۱۰۸ ، چاپ : عالم الکتب – بيروت ، کال : ۱۴۰۷ ، تقيق : د / الحافظ عبد العليم خان

[5]: ابن العديم ، بغيه الطلب في تاريخ الحلب ،ج۱۰ ص۴۳۵۰

## دويم فصل: فقهي قواعد د (ركن البيع) دفصل څخه تر(بيوع المكروه)د فصل پورى

**په بيان د هغه قواعدو کې چې استخراج شوي د فصل د ( ركن البيع )نه تر فصل د ( بيوع المكروة )پورې په ديكي (٧) مبحثه دي.**

**لومړی مبحث: فقهي قواعد په فصل د( ركن البيع ) کې.**

**دويم مبحث: فقهي قواعد په فصل د(شرائط انعقاد البيع ) کې چې متعلق دي د عاقد،نفس العقد،او مكان د عقد پورې.**

**دريم مبحث: فقهي قواعد په فصل د(شرائط انعقاد البيع) کې چې متعلق دي معقود عليه پورې.**

**څلورم مبحث: فقهي قواعد په فصل د(شرائط صحة البيع) کې.**

**پنځم مبحث: فقهي قواعد په فصل د(شرائط نفاذ البيع) کې.**

**شپږم مبحث: فقهي قواعد په فصل د(ربا او جريان الربا) کې.**

**اووم مبحث: فقهي قواعد په فصل د(شرائط الركن ) کې.**

**لومړۍ مبحث: فقهي قواعد په فصل د( ركن البيع ) كې.**
**په ديكي ، دوه مطلبه دي**

**لومړۍ مطلب: د ( العرف قاض على الوضع )[1] قاعدې زده كړه.**
عرف راجح دی په وضعي باندې

**د قاعدې نور الفاظ:**

(١)العرف قاض على اللغة.[2]

(٢)تترک الحقيقة بدلالة الاستعمال و العادة.[3]

(٣)تترک الحقيقة بدلالة العادة.

**د مفرداتو څیرنه**:

په قاعده كې ځینې مهم كلمات داسې دي چې باید لغوي او اصطلاحي تعريف شي ترڅو قاعدې باندې صحیح پوهه لاسته راشي، لكه د عرف كلمه، د وضع كلمه.

**د عرف تعريف:** عرف په لغت كې مختلفې معناوې لري لكه: پيژندل،د خوښې څيز،ضد المنكر، اعتراف یا اقرار کول عربان وايي:( له علي الف عرفا) زه اقرار كوم چې د هغه پرما زر روپۍ دي.همدارنګه عرف په معنى عام خلكو ته یو منل شوې څيز5.

عرف او معروف په معنى د( الجود) سخاوت،احسان،نيكي، الله تعالى فرمائ:( وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ)[4] ژباړه: او امر(حكم) وكړه په معروف(نيكو كارونو) همدارنګه عرف په معنى د (تتابع)پرلپسی والي، الله عزوجل فرمايي: (وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا)[5] ،ژباړه:قسم دی په هغو بادونو چه ليږلی شوی دي(د الله له طرفه)پی در پی، پرله پسی.[6] او په اصطلاح كې: ( ما استقرت النفوس عليه بشهادة العقول و تلقته الطبائع السليمة

---

[1] :الكاساني، الحنفي ،علاء الدين، ابي بكر، د مسعود ځوي، چی لقب يي ملک العلماء دی. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع.خپروونکی:دارالكتاب العربي، دچاپ ځای: بيروت لبنان، د چاپ كال:١۴٠٢ه.ج ۵ ص ١٣٣.

[2] الشامي، ابن عابدين،محمدامين،د محمدعمرځوی د عابدين مسې.ردالمحتار على درالمختار. خپروونكې:دارعالم الكتب،د چاب ځای:الرياض، دچاپ كال:١۴٢٣ه. ج ص

[3] :ابن نجيم، زين الدين، د ابراهيم ځوی، د محمد مسې، د بكر كړوسی. الاشباه والنظائر.خپروونکی،امام محمد غزالي.چاپ اول، كال ١٣٩٩،ص٧٩

[4]: ابن الهمام، كمال الدين، د محمد ځوی، د عبد الواحد السواسي مسی. شرح فتح القدير. خپروونکی:دارالفكر،د چاپ ځای:بيروت. لبنان،د چاپ كال:١۴٣٢،د چاپ ګڼه:٣ ج٨ص٣۵۵.

5: لويس, معلوف,ترجمه: محمد بندر ريگِی،المنجد عربی به فارسی. خپروونکی:انتشارات ايران ،د چاپ ځای: تهران ،د چاپ كال:١۴٣٢،د چاپ ګڼه:۵ ج٢ص1١٠٧6

6: الافريقي, محمد د مكرم ځوی د منظور مسې. لسان العرب، خپروونکی:دار صادر ،د چاپ ځای:بيروت ،د چاپ كال:١۴٢٢،د چاپ ګڼه:١ج٩ص٢٣۶ المنجد ج٢ص١١٠٧

[4] : د الاعراف سورت ١٩٩ ايت

[5] : د المرسلات سورت ايت ١

[6] : مرتضى ، الزَّبيدي , أبو الفيض, محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني, تاج العروس من جواهر القاموس, تحقيق مجموعة من المحققين، خپروونکی، دار الهداية، د چاپ ځای: بيروت لبنان ،د چاپ كال:١۴١٨،د چاپ ګڼه:٣ ج٨ص٩٨٧

بالقبول)[1] ژباړه:هغه معقول او منل شوې کار دی چې نفسونو کی یې ځای نیولې وي او انسان یې په کولو روږدی شوی وي.

علامه مصطفی احمد الزرقاء عرف داسی تعریف کړې:(عادة جمهور قوم فی قول و فعل)[2] ژباړه: د اکثره خلکو عادت په وینا او کار کی.

**د عرف ډولونه:** عرف د موضوع اومتعَلق په اعتبارپه دوه ډوله دی ۱:لفظي عرف ۲: عملي عرف.

**د لفظي عرف تعریف:** عبارت دی له هغه عرف څخه چی خور شي، د خلکو په منځ کی استعمال د بعضو الفاظو او یا جملاتو په یوه ځانګړې معنی کی په داسی ډول چی په وخت د کارولو کی همدا معنی ذهن ته راشي بغیر د قرینې او عقلي علاقې نه. لکه استعمال د لفظ د دراهمو په معنی د رائجو پیسو په ښار کې، هغه که د هر ډول نوعیت او قیمت وي، حتی دا کاغذي نوټونه دراهم ویلکیږي په عرف کې.[3]

او کله دا عرفي معنی مغایره د لغوي معنوي، نو کله چې تعارض راشي په منځ د عرف او لغت کې ترجیح به عرف ته ورکول کیږي.[4]

**د عملي عرف تعریف:** عبارت دی د روږدي(اعتیاد) کیدو د خلکو په ځینې عادي افعالو او یا مدني معاملاتو. عملي عرف ته تعامل او عادت هم ویلکیږي.

د عادي افعالو څخه مراد شخصي افعال دي لکه: اکل، شرب،لبس ،رکوب، حرث، کرنه چې په هغې سره انشاء د حقوقو مینځ ته نه راځي او د مدني معاملاتو څخه مراد هغه تصرفات دي چی هدف د هغه څخه انشاء د حقوقو په منځ د خلکو کی وي . او یا تصفیه او یا هم اسقاط د حقوقو وي، برابره خبره ده چی دا تصرفات عقود وي او که غیر عقود ، لکه نکاح، بیع، ابراء،غصب، قبض،او اداء، د عملي عرف مثال: لکه رخصتي کول د اونۍ په یوه ورځ کې، او یا مهر تقسیمول مهر معجل او مؤجل ته .[5]

الوضع: په لغت کی ، ګرځول د یو څیز په مقابل د معنی کی، او په اصطلاح کی: وضع عبارت دی د خاص ګرځولو د یو څیز بل څیز پوری په داسی ډول کله چی اطلاق د اول وشي دویم څیز ورځینې فهم کیږي.[6]

**د قاعدې مفهوم**: کله داسی وي چی د یو لفظ په اعتبار د لغت یوه معنی وي ، او د خلکو په دود او دستور، او یا عرف کی بله معنی وي ، نو په وخت د استعمال  د دغه لفظ په تصرفاتو، عقودو، قضاء،او فتوی کې عرفي معنی ته اعتبار ورکول کیږي په نسبت سره لغوي معنی ته او د خلکو  هغه الفاظ چې د

---

[1]: الشامي،ابن عابدین.محمد امین،عمر ځوی،عبد العزیز مسې،شرح عقود رسم المفتي، خپروونکی،امام محمد غزالي.د چاپ ځای .هرات د چاپ ګڼه لومړی،دچلپ کال ۱۳۹۹، ص۷۵

[2] : الزرقا، مصطفی احمد، المدخل الفقهی العام، خپروونکی،دارالقلم.د چاپ ځای .دمشق د چاپ ګڼه ۲،دچلپ کال ۱۴۲۵،ج۲ص۸۷۲

[3] : وکتل شي:المدخل الفقهي العام،ج۲ص۸۷۶

[4] : عثماني. محمد تقي، د مفتي محمد شفیع ځوی. اصول الافتاء وآدابه. خپروونکی،امام محمد غزالي.د چاپ ځای .هرات د چاپ ګڼه لومړی،دچلپ کال ۱۳۹۷، ص۲۹۷

5 : الزرقا،المدخل الفقهي العام ج۲ص۸۷۷،عثماني، اصول افتاء وآدابه،ص۳۰۰

6 : المناوي،محمد عبدالروف، التوقیف علی مهمات التعاریف، خپروونکی،دارالفکر المعاصر.د چاپ ځای .بیروت د چاپ ګڼه لومړی،دچلپ کال ۱۴۱۰، ج۱ص۷۲۷

عقودو او تصرفاتو سره تړلي دي ، په عرفي معنى به حمل کيږي، او په دى به هغه التزامات جاري کيږي چې د عرف د لحاظه ور باندي مرتب کيږي.[1] دا قاعده د لفظي عرف سره تعلق لري.

**د قاعدې دليل:**

ځيني هغه دلائل چې دلالت کوي په معتبر والي د عرف ، او رجوع عرف ته، او په بناء د احکامو شرعيه و په هغه باندې، په لاندې ډول دي.

كتاب الله:

الله عزوجل فرمايي: (وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ) [2] ژباړه: او گزران گوئ تاسي(اى ميرونو)له دى (ښځو) سره په نيکى طريقى سره.

د استدلال وجه:

علامه شوکاني[3] رحمه الله د دى ايت په تفسير کى فرمايي:(په هغه طريقى سره چې معروفه(پيژندل) شوې ده په شريعت، او په مينځ د اهل شريعت کى)[4] امام کاساني رحمه الله فرمايي:( او ويل شوي چې معاشرت بالمعروف دادى، چې ښځې سره داسى چلند وکړې که هغه چلند تاسره وکړې شي ته يې بد ونه گڼې بلکى وېپيژني، قبول يې کړې،اوخوشحاله وسى). [5]

(۲)الله عزوجل فرمايي: (وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ)[6] ژباړه: او ده پر هغه چا چه زيږول شوى دى ورته (يعنى پلار)روزي د دوى (يعنى د ميندو)او کالي(جامى) په معروفه (سم له دستوره) سره.

د استدلال وجه:

امام كاساني رحمه الله فرمايي: (واجب گرځولې الله عزوجل نفقه د مرضعى او لباس د هغې په نوم د رزق ، او رزق ويلکيږي هغه څه ته چې کفايت کوي انسان ته په عرف او عادت کى)[7] .

(۳) حديث :( ما رُوِيَ أَنَّ رَجُلًا جاء إلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رضي اللَّهُ عنهما وقال إنَّ صَاحِبًا لنا مَاتَ وَأَوْصَى بِبَدَنَةٍ أفتجزى عنه الْبَقَرَةُ فقال ابن عَبَّاسٍ رضي اللَّهُ عنهما مِمَّنْ صَاحِبُكُمْ فقال السَّائِلُ من بَنِي رَبَاحٍ فقال ابن

---

1 : الهيتمي، ، أبو العباس. شهاب الدين، أحمد بن محمد بن علي بن حجر الفتاوى الفقهيه الكبرى، خپروونکى، دار الفكر.د چاپ ځاى .بيروت د چاپ ګڼه لومړى،دچلپ كال ۱۴۲۷، ج۳ص۲۷۴

2 : د النساء سورت ۱۹ ايت

3 : محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني. فقيه او مجتهد دى ديمن دلويو علماء څخه وو د يمن په شوكان کى زيږيدلې او صنعاء کى يي ژوند کړې ، د صنعاء دلويو علماء څخه زدکړه کړى،په منصب دقضاء او افتاء هم كار كړى،كله چې شروط د اجتهاد په کى پوره شول تقلبد يې پريخود اجتهاد ته يې مخه کړه،ډير تصنيفات لرى چې د هغى جملې څخه ، فتح القديرپه تفسير کى.او نيل الاوطار په حديثو كى، او په كال ۱۲۵۰ کې وفات شوى (الاعلام للزركلى ج۶ص۲۹۸

4 : الشوكاني. محمد بن علي بن محمد بن عبد الله، **تفسير فتح القدير**. خپروونکى، مكتبة الرسالة.د چاپ ځاى .بيروت د چاپ ګڼه لومړى،دچلپ كال ۱۴۳۰، ج۱ص۶۶۳

5 : بدائع الصنائع ج۲ ص۳۳۴

6 : د بقرى سورت ۲۳۳ايت

7 : بدائع الصنائع ج۴ص۲۳

عَبَّاسٍ رضي اللَّهُ عنهما مَتَى اقْتَنَتْ بَنُو رَبَاحٍ الْبَقَرَ إِنَّمَا الْبَقَرُ لِلْأَزْدِ وَذَهَبَ وَهُمُ صَاحِبُكُمْ إِلَى الْإِبِلِ)[1] ژباړه:روایت شوی چی یو سړی عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما ته راغی او ویویل:زمونږ یو صاحب وفات شوی او وصیت یې د اوښې کړی ایا د هغه په عوض غوا صحیح کیږي عبد الله ابن عباس رضی اللع عنهما و فرمایل:د کوم (قوم یا قبیلي)څخه دی ستاسو صاحب ، سائل و ویل: د بنی رباح څخه دی ، عبد الله ابن عباس رضی اللع عنهما و فرمایل: د کله نه بنورباح د بقر ساتل شروع کړي بقر خو د ازد(قبیلی)لپاره دی(یعنی هغوی یي ساتي)گمان د صاحب ستاسو ابل ته تلی.

د استدلال وجه:

امام کاساني رحمه الله فرمایی:( دا حدیث اصل اصیل دی په حمل د کلام د خلکو په هغه څه باندی چی اوهام د خلکو هغه طرف ته ځي ، ځکه چی عرف وضع طاري ده په وضع اصلي باندی)[2]

تطبیقي بیلگي:

۱- ایجاب او قبول کله په صیغې د ماضي سره وي او کله په صیغې د حال سره په صیغې د ماضي سره لکه دا چی بایع و وایي: بعتُ او مشتري و وایي اشتریتُ، پس رکن د بیعې تمام شو ځکه چی دا صیغې اگر چی د ماضي لپاره وضع شوي لکن په عرف د اهل لغت او شریعت کی د حال لپاره دي، او عرف راجح دی په وضعي باندي.[3]

۲- که یو کس قسم وکړي، چی څه سر نه خورم او بیایي د چنچړې سر وخوړنو آیا دی حانث کیږي او کنه ؟ نو پدی صورت کی به عرف ته اعتبار ور کول کیږي ،او هغه داچی د سر څخه معمولا هغه سر مراد وي چی په بازار کی خرڅیږي نو پدی سره نه حانث کیږي.[4]

۳- که چا وصیت وکړو قاریانو ته نو نه داخلیږي په وصیت کی هغه اشخاص چی قرآن د مخی تلاوت کوي او حفظ یې نه وي کړې ځکه چی عرف کی قاري حافظ ته ویلکیږي نه د مخې څخه تلاوت کوونکي ته.[5]

۴- او که چا قسم وکړو چی په فرش باندی به نه کینم ، او بیا په ځمکه کیناستو نو نه حانث کیږي، اگر چی الله عزوجل ورته قرآن کریم کی فرش ویلي ، ځکه چی په عرف کی ورته فرش نه ویلکیږي.[6]

---

[1] : دا حدیث ابن ابی شیبه په خپل مصنف کی کتاب الحج،باب فی البدن من قال لاتکون الا من ابل کی روایت کړی ج۳ص۷۸۳د حدیث شماره ۱۴۸۷۷ أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة العبسي الكوفي (۱۵۹ ـ ۲۳۵ هـ) تحقيق : محمد عوامة. مُصنف ابن أبي شيبة خپروونکی: دارالسلفبه. د چاپ ځای:هند بغیر له تاریخه.

[2] : بدائع الصنائع ج۳ص۳۵

[3] : بدائع الصنائع ج۵ص۱۳۰

[4] : بدائع الصنائع ج۳ص۵۹

[5] : الهیتمي، الفتاوی الفقهیه الکبری.ج۳ص۲۷۴

[6] : ابن نجیم، زین الدین،بن ابراهیم بن محمد، الاشباه والنظائر، خپروونکی:امام محمد غزالي. د چاپ ځای ،هرات افغانستان، د چاپ گڼه لومړی. د چاپ کال ۱۳۹۹ص۸۲

**دویم مطلب: د (العبرة للمعنی لا للصورة)1 قاعدی زدکړه .**

اعتبار معنی لره دی نه صورت لره.

**د قاعدی نور الفاظ:**

(۱): العبرة فی العقود للمقاصد والمعاني لا للالفاظ والمباني.[2]

(۲): العبرة لما نوی.[3]

(۳): العبرة فی باب العقود للمعاني[4].

(۴):العبرة للمعنی لا للمبنی.[5]

(۵): العبرة فی العقود الی المعاني لا للالفاظ.[6]

**د مفرداتو څیړنه:**

**العبرة**: په لغت کې اسم دی د( الإعتبار) جمع یې عِبَر ده په، معنی ده عبرت پند، الله عز و جل فرمائي: (إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِمَنْ يَخْشَى)[7] ژباړه:بیشکه په دغه (اغراق او احراق ) کې خامخا عبرت دی هغه چا لره چې ویریږي (له الله نه). او په معنی د تعجب هم راځي عربان وايي: اعبرمنه ای تعجب،او په معنی د وړتیا(صلاحیت)هم راځي لکه عربان وايي: (هو عبر لكل شیء) هغه وړ دی د هرڅه لپاره.[8] په معنی د( نفوذ والمضی فی الشیء)نفوذ کول او تلل په یوشي کی،[9].

او په اصطلاح کی: (الاعتداد على الشيء في ترتيب الحكم)[10] ژباړه: اعتماد کول په یو شي په ترتیب د حکم کی.

**المعنی** : جمع یې معان ده په لغت کی په معنی دمفهوم ، مدلول د یو لفظ ، مقصود یو شي، ویلکیږي:معنی الکلمة، یعنی مقصود د کلیمې.[11]

په اصطلاح کی: معنی عبارت ده :( الصور الذهنية من حيث وضع بإزائها الألفاظ والصورة الحاصلة في العقل من حيث أنها تقصد باللفظ تسمى معنى)[12] ژباړه:هغه ذهني شکلونه چې مقابل کې یې الفاظ

---

[1] : بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۳۰

[2] : مجلة الاحكام العدلية ، خپروونکی، نور محمد، کارخانه تجارتِ کتب، آرام باغ،کراتشي ج۱ ص۱۶

[3] : ابن نجیم، الاشباه واالنظائر، ص۴۳

[4] : بدائع الصنائع ج۵ ص ۸۳

[5] : علاء الدين، محمد بن علي بن محمدالحصكفي، الدر المختار، خپروونکی:دارالفکر. د چاپ ځای ،بیروت لبنان، د چاپ ګڼه لومړۍ. د چاپ کال ۱۳۸۶ه ج۴ص۳۵۷

[6]: بدائع الصنائع ج۴ص۱۳۴

[7]: د النازعات سورت ۲۶ایت

[8]:المنجدج۲ص۲۶۶

[9]: أبو الحسين أحمد بن فارس بن زكريا ، معجم مقاييس اللغة ، خپروونکی:دارالفکر. د چاپ ځای ،بیروت لبنان، د چاپ ګڼه لومړۍ. د چاپ کال ۱۳۹۹ه ج۴ص۲۰۷

[10]: المناوي، التوقيف على مهمات التعاريف ج۱ص۵۰۱

[11]: المنجد ج۲ص۱۱۹۵

[12]: المناوي، التعريفات ج۱ص۱۶۴

وضع شوي ، او دا صور حاصله په عقل کې د دی لحاظه چی قصد يې کيږی په لفظ سره ورته معنی ويلکيږي.

**الصورة**: په لغت کی په معنی دشکل او مثل د يوشي.[1]. او په اصطلاح کی: (صورة الشيء ما يتميّز به الشيء عن غيره)[2] ژباړه: صورت د يو شي عبارت دی دهغه څيز څخه چی هغه سره يوڅيزد بل څيزڅخه جدا کيږي، او پيژندل کيږي.

د الفاظو صورتونو او شکلونوسره هم يو لفظ د بل لفظ څخه جدا کيږي او پيژندل کيږي.

**الالفاظ**: جمع د لفظ ده په لغت کی په معنی دغورځول ، ويلکيږي(لفظ البحر الدابة) بحر دابه يې ساحل ته وغورځوله،ويلکيږی(لفظ بکلام حسن) ښې خـــبرې يی وغورځولې يعنـــی ښې خـــبری يې وکـــړې.[3]

په اصطلاح کی: (فهي كلام الذي ينطق به الإنسان ، ويقصد به التعبير عما في ضميره)[4] ژباړه: الفاظ عبارت دي دهغه کلام څخه چی انسان ور باندی نطق کوي او قصد کوی په هغه سره تعبير د هغه څه څخه چی په زړه کی وي.

**المقاصد** : جمع د مقصد ده مراد د مقصد څخه اراده او نيت دی. **المباني:** نه مراد هغه (تامه جملې) دي چی افاده کوي يوه معنی د معناګانوڅخه.[5]

**العقود**: جمع د عقد ده ، عقد په لغت په معنی د ۱ـ عهد، او التزام، الله عزوجل فرمايي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُود)[6] ژباړه: ای هغه کسانو چه ايمان ئی راوړی دی(يعنی ای مؤمنانو) پوره کړی تاسی ګرد(ټول)عهدونه.

(العقد العهد الموثوق)[7] عقد په معنی د کلک عهد. ۲ـ عقد په معنی د تاکيد او توثيق ، الله عزوجل فرمايي:( وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ)[8] ژباړه: و ليکن نيسي تاسی په (ماتولو د)هغه (عهد) سره چه کلک کړی وي تاسی قسمونه( پر هغه په قصد د زړه سره ) او په اصطلاح کی:( ارتباط ايجاب بقبول علی وجه مشروع يثبت اثره فی محله)[9] ژباړه: عقد عبارت دی د ارتباط د ايجاب او قبول څخه په مشروعه طريقې سره چی ثابت شي اثرد هغه (دعقد) په محل( د عقد) کی.

[1]: الفيومي، أحمد بن محمد بن علي المقري. المصباح المنير في غريب الشرح الكبير للرافعي،، خپروونکی:مکتبة العلمية. د چاپ ځای ،بيروت لبنان، د چاپ ګڼه دويم. د چاپ کال ۱۴۲۰ه ص۱۸۲

[2]: التهانوي،محمد بن علي ابن القاضي محمد حامد بن محمّد صابر الفاروقي،كشاف اصطلاحات الفنون والعلوم، خپروونکی: مكتبة لبنان ناشرون. د چاپ ځای ،بيروت لبنان، د چاپ ګڼه لومړی. د چاپ کال ۱۹۹۶م ج۲ص۱۱۰۰

[3]: الفيومي، مصباح المنير،ج۲ ص۵۵۵

[4]: على حيدر، درر الحكام شرح مجلة الأحكام، خپروونکی: دارالکتب العلمية.چاپ ځای ،بيروت لبنان،چلپ ګڼه ۱ج۱ص۱۸

[5]: دکتور، محمد بکر اسماعيل، القواعد الفقهيه بين الاصالة والتوجيه، خپروونکې، دار المنار، بغير د مکان او زمان د نشر ص۳۵

[6]: د مائدی سورت ۱ايت

[7]: النسفي،أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود،مدارک التنزيل،

[8]: د مائدی سورت ۹۸ايت

[9]: الزحيلي، وهبة بن مصطفى. الفقه الاسلامي وادلته، خپروونکی: دارالفکر.چاپ ځای ،دمشق سوريه،چلپ ګڼه ۱ج۴ص۴۳۴

**د قاعدی معنی:** له دی قاعدی نه دا معلومیږي (چی په وخت د حصول دعقد کی د عاقد لخوا ویل شوي یا کارول شوي الفاظو ته په حین د عقد کی، نه کتل کیږي بلکي د عاقد د الفاظو حقیقي مقصد ته کتل کیږي او حقیقي مقصد معنی ده ، نه الفاظ او مستعملې صیغې، ځکه چی الفاظ ندي مګر قالبونه لپاره د معناګانو)[1] ، ابن قیم[2] رحمه الله فرایي:( څوک چی فکر وکړي په مصادرو د شریعت کی ، نو واضحه به شي ده ته دا چی به شریعت کی هغه الفاظ ملغی ګرزول شي چی متکلم د هغی دمعنی قصد نوي کړی، بلکی په غیر قصدي توګه په ژبه جاري شوی وي،لکه د ویده، ناسي،وغیره(خبری)...پس د قصد، نیت، او عقیدی په اساس یو شیء ، حلال او حرام، صحیح او فاسد، طاعت او معصیت ګرزول کیږي، لکه څنګه چی قصد په عبادت کی ګرزوي هغه لره واجب، سنت، مستحب، حرام،صحیح، او یا فاسد)[3]

خو دا په دی معنی نه ده چی الفاظ په کلي توګه ملغی او مهمل وګرزول شي، ځکه چی الفاظ د معنی تعبیر کوونکي دي، نو تر ممکن حده پوری باید د الفاظو ظاهري معنی مراعات شي اما کله چی په مینځ د الفاظو د ظاهري معنی او هغه مقصد چی عاقدینو په حین د عقد کی یې قصد کړی، جمع ناشوني وي ، نو په دی وخت کی بیا همغه مقصودې معنی ته اعتبار ورکول کیږي او د الفاظو جانب مهمل ګرزي.[4]

**د قاعدې دلیل:**

امام کاساني رحمه الله ده دې قاعدې لپاره کوم دلیل نه دی ذکر خو مونږ په لاندی ایاتونو او احادیثو استدلال کولی شو:

**کتاب الله**

**۱ـ:** الله عز و جل فرمایي(**وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَلِكَ إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا**)[5] ژباړه: او میړونه د دوې ښه لایق(وړ) دي په بیا کولو د دې ښځو په دې (موده) کې که اراده لري دوې د جوړښت (په خپلو منځو کې)

**د استدلال وجه:**

علامه جصاص رحمه الله په تفسیر د ایت کی فرمایي: ( اباحت د رجعت مقصور(مخصوص) دی د هغه حالت پوری چی اراده د اصلاح وي نه اراده د ضرر)[6]

---

[1]: علی حیدر، دررالحکام، ج۱ص۸

[2]:محمد بن ابي بکر بن ایوب بن سعد ، ابن القیم الجوزي،په کال ۶۹۱ه قاهره کې ځیګیدلې،اکثره ازده کړې یې له ابن تیمیه رحمه الله څخه کړي او له هغه څخه زیات متاثره وو،او دهغه کتابونه یې مهذب او علم یې ورته خور کړی، د اتم هجري قرن د لویو دیني مصلحینو څخه وو ،او د اسلامي فکر په نشر کې رغنده نقش درلود، چی یوځل بندي او څو ځله زورول شوی هم دی، ډیر کتابونه بې لیکلي،له دی جملې څخه ، الحکمية فی سیاسة الشرعسة، اعلام الموقعین،زادالمعاد،مدارج السلکین،او په کال ۷۵۱ه کی وفات شوی،طبقات الحنابلة ج۲ص۲۶۰

[3]: اعلام الموقعین، ج۳ص۹۵ـ۹۶

[4]: وکتل شي: زیدان، دکتور، عبدالکریم، المدخل لدراسة الشریعة الاسلامیة، خپروونکې،مؤسسة الرسالة،د چاپ ځای، بیروت لبنان، د چاپ ګڼه،۱۶،د چاپ کال،۱۴۲۳ص۷۸

[5]: د بقرې سوزت ۲۲۸ایت

۲: الجصاص، أبو بکر، أحمد بن علي الرازي ،احکام القرآن، تحقیق : محمد الصادق قمحاوي خپروونکې، دار إحیاء التراث العربي، د چاپ ځای:بیروت لبنان، د جاپ کال:۱۴۰۵ ج۲ص۶۶

ابن قیم رحمه الله فرمايي:( دا يت نص دی په ديکی ، چی الله عزوجل اختيار د رجعت هغه(زوج) ته ورکړی ، چی قصد د صلاح لري نه هغه ته چی قصد د ضرر لري.)[1]

۲ـ الله عزوجل فرمايي: (مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ)[2] ژباړه: و روسته له( اداء کولو د) وصيت چه وصيت کولې شي په هغه سره يا پس (له اداء کولو) د دين په دې حال کې چه ( نورو ته) نقصان ونه رسوي ( په دې وصيت کې).

ابن قیم رحمه الله فرمايي: (الله عزوجل وصيت په ميراث مقدم کړې په دی شرط چی د وصيت کوونکي قصد د ضرر نه وي، او که قصد د ضرر وي بيا ورثه کوې شي چی وصيت باطل کړی او نافذ يې نکړي.)[3] د اياتونو د تفسير څخه معلومه شوه چی په شريعت کی اعتبار قصد،نيت، او ارادې لره دی.

**سنت:**

پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (إنما الأعمال بالنيات وإنما لكل امرئ ما نوى )[4]ژباړه:په تحقيق سره دارمدار دعمل په نيت باندې دی ، او په تحقيق سره هر سړي لره هغه څه دی چی د څه يې چی نيت کړی وي.

**د استدلال وجه:**

ابن قیم رحمه الله فرمايي: ( نبي عليه السلام په اوله جمله کی دا بيان کړل ، چی د عمل دارمدار په نيت باندې دی، او په دويمه جمله کی يي دا واضحه کړه چی نشته عمل کوونکی لره مګر هغه څه چی نيت يي کړی دهغې، او دا حکم شامل دی معاملاتو، عباداتو،قسمونو، نذرونو، او ټولو عقودو او افعالو لره)[5]

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ کله چی بايع وه وايي: دا څيز واخله په دومره پيسو، يا در ميکړو په دومره پيسو، يا دا ستاشو په دومره پيسو، او وه وايي مشتري: واميخيستلو، او يا راضي شوم، يا ده دی په مثل نور الفاظ وه وايي، نو په دی سره رکن دعقد (چی ايجاب او قبول دی) تمام شو، ځکه چی هر يو د دی الفاظو څخه اداء کوي معنی د بيعي چی عبارت دی د مبادلې څخه او اعتبار معنی لره دی نه صورت لره.[6]

۲ـ کفالت په شرط د برائت د اصيل معنًا حواله ده ، اګرکه لفظ د حوالې نشته ، ځکه چی اعتبار په عقودو کی معنی لره دی نه الفاظو لره.[7]

---

[1]: ابن قيم الجوزية ، أبو عبد الله، محمد بن أبي بكر أيوب الزرعي، اعلام الموقعين ، خپروونکې، دار الجيل، د چاپ ځای:بيروت لبنان، د جاپ کال:۱۹۷۳م ج۳ص۹۶
[2]: د اللنساء سورت۱۲ايت
[3]: ابن قيم، اعلام الموقعين ج۳ص۹۶
[4]: صحيح البخاري، كتاب بدء الوحى ج۱ص۲شماره ۱
[5]: ابن قيم ، اعلام الموقعين، ج۳ص۹۶
[6]: بدائع الصنائع ج۵ص۱۳۰
[7]:بدائع الصنائعج۲ص۲۷۳

۳ـ بیعه منعقده کیږي په لفظ د تملیک سره بلا خلاف،او منعقده کیږي نکاح په لفظ د بیعې،هبې، او تملیک سره زمونږ په نزد،ځکه چی اعتبار په عقودو کی معنی لره دی نه صورتونو د الفاظو لره.[1]

۴ـ کله چی څوک چاته وه وایی: دا مال واخله او په دې کار وکړه څه چی الله تعالی مونږ ته نصیب کړي( د کټې) څخه هغه به زمونږ په منځ کی په دا ډول(نصف،یا ربعه، او یا ثلث) وي ، او نور څه و نه وايي دا عقد جایز دی، ځکه چی په داسی الفاظو یي راتک کړی چی اداء کوي معنی دعقد (مضاربت) او اعتبار په عقودو کی معنی لره دی نه صورتونو د الفاظو لره.[2]

**دویم مبحث: فقهي قواعد په فصل د شرائطو د انعقاد د بیعې کی چی متعلق دي عاقد، نفس عقد،او ځای د عقد پورې، په دیکې پنځه مطلبه دي.**

**لومړي مطلب: د (اهلية المتصرف شرط انعقاد التصرف)[3] قاعدې زده کړه.**
اهلیت د تصرف کوونکي شرط دانعقاد د تصرف دی.

د قاعدې نور الفاظ:

(۱)التصرف الشرعي، لا وجود له بدون الاهلية والمحلية.[4]

(۲) التصرف الصادر من غير الاهل وفى غير محله يكون ملحقا بالعدم.[5]

(۳) صحة التصرف باعتبار اهلية التصرف.[6]

**د مفرداتو څیړنه:**

**الاهلية:**( په لغت کې په معنی د صلاحیت،وړتیا،لیاقت، او اصطلاحي تعریف یې په ضمن د تعربف د ډولونو د اهلیت کې واضح کیږي.

**د اهلیت ډولونه** : اهلیت په دوه ډوله دی، ۱ـ د وجوب اهلیت ۲ـ د اداء اهلیت. .

د وجوب د اهلیت تعریف: **(عبارة عن صلاحيته لوجوب الحقوق المشروعة له وعليه)** ژباړه: عبارت دی، له وړتیا د انسان څخه لپاره؛ د وجوب د حقوقو مشروعه و، د ده لپاره او په ده باندی

د اداء د اهلیت تعریف: (صلاحية الإنسان لصدور الفعل منه على وجه يعتد به شرعا)ژباړه: وړتیا د انسان؛ لپاره د صادریدو د افعالو د ده څخه په داسې ډول چې شرعا معتبر وي .).[7]

---

[1]: بدائع الصنائع ج۲ص۲۲۹
[2]: بدائع الصنائع ج۶ص۸۰
[3]: بدائع الصنائع ج۵ ص۱۳۵
[4]: بدائع الصنائع ج۵ ص۳۰۵
[5]: بدائع الصنائع ج۲ص۲۰۴
[6]: السرخسي، شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل، المبسوط، خپروونکي، دارالفكر، د چاپ ځای:بیروت لبنان، د چاپ کال:۱۴۲۱ ج۱۳ص۲۳۸
[7]: البخاري، علاء الدين عبد العزيز بن أحمد بن محمد،، كشف الأسرار عن أصول البزدوي، خپروونکي، دار الكتب العلمية د چاپ ځای:بیروت لبنان، چاپ ګڼه لومړی کال:۱۴۱۸ ج۴ص۳۳۵

د وجوب اهليت او د اداء اهليت بيا(هر يو په دوه ډوله دی ۱ـ کامل ۲ـ ناقص. د وجوب کامل اهليت سره ثابتيږي ، حقوق د ده لپاره او په ده باندې، او دا اهليت انسان ته له ولادت څخه تر مرګه پورې ثابتيږي، نو په دې اساس ميراث وړي او له ده څخه ميراث وړل کيږي،او ده لپاره نفقه واجبيږي، او د ده په مال کې هم نفقه لازميږي.

د وجوب ناقص اهليت: عبارت دی له وړتيا د انسان څخه؛ لپاره د وجوب د حقوقو د ده لپاره؛ نه په ده باندې ، لکه اهليت د جنين چې ثابتيږي ده لپاره د مور په ګېډه کې، او په همدې اساس ګرزي اهل د ارث او وصيت.

د اداء کامل اهليت: عبارت دی له وړتيا د انسان څخه د افعالوه صادريدلو لپاره له ده څخه، په هغه ډول چې شرعا معتبر وي ، او دا اهليت د رشيد بالغ لپاره ثابتيږي ، د همدې اهليت په اساس د ټولو تصرفاتو د اجراء کولو وړ ګرزي؛ بغير د توقف نه په اجازه د غير پورې.

د اداء ناقص اهليت: عبارت دی له وړتيا د انسان څخه د ځينو افعالو صادريدو او د ځينو نه صادريدو لپاره ، او د دې اهليت اساس تميز دی تر دې چې عقلمند شي.)[1]

**شرط:** په لغت کې په معنی د التزام ، او تعلق د يو ځيز د بل ځيز سره[2] شروط جمع د شرْط په سکون د راء سره او اشراط جمع د شَرَط په فتحه د راء سره ، دا دواړه په معنی د علامة(نښه) او د فقهاء په ژبه د شروط لفظ کارول کيږي نه اشراط [3].

په اصطلاح کې: عبارت دی د ( هغه ځيز څخه دی چې موجوديدل د يو شي متوقف په موجوديدلو د هغې وي ، او خارج د حقيقت د هغې څخه وي،د وجود د هغې(يعنی شرط) څخه موجوديدل د هغه شي نه لازميږي ؛لکن له عدم څخه يې عدم د هغه شي لازميږي)[4]

**تصرف**:( مصدر دی د تصَرّفَ؛ (په لغت کې په معنی ، اوړيدل را اوړيدل په امورو کی ، او کوشش کول په طلب د کسب کې.

په اصطلاح کې: ما يصدر عن شخص با رادته و يترتب عليه الشرع احکاما مختلفة)[5] ژباړه: هغه څه چې د انسان په ارادې سره صادريږي، او شريعت په هغې باندې مختلف احکام مرتب کوي.

**د تصرف ډولونه**:( تصرف په دوه ډوله دی: ۱: قولي تصرف ۲: فعلي يا عملي تصرف.

قولي تصرف: هغه تصرف دی چې حاصل شي په اقوالو سره ، يعنې منشأ د هغه قول وي نه فعل .

---

[1]: العتيبي، سعود بن عبد العاليالبارودي، الموسوعة الجنائية الإسلامية، د چاپ ځای:رياض، د جاپ کال:۱۴۲۷ ج۱ص۱۶۶

[2]: المنجد عربي به فارسي ج۱ص۸۳۶
[3] : الکفومي، ابو البقاء، ايوب ابن موسی الحسيني ، الکليات، خپروونکې: مؤسسة الرسالة ، د چاپ ځای:بيروت، د جاپ کال:۱۴۱۹ج۱ص۸۳۴ ج۱ص۱۶۶
[4]: زيدان ، عبد الکريم ،الوجيز فی اصول الفقه، مترجم، داکتر فرزاد پارسا، ص ۵۳ کتاب خانه قلم www.qalamlib.com
[5]: هيئة من کبار العلماء، الموسوعة الفقهية الکويتية، خپروونکې: دارالسلاسل ، د چاپ ځای:الکويت، د جاپ کال:۱۴۲۷ج۱۲ص۷۱

تصرف فعلي يا عملي: هغه تصرف ته ويلکيږي، چې مصدر د هغه عمل وي يعنې حاصل شي په افعالو نه په اقوالو لکه: غصب.)[1]

**د قاعدې معنی:** د تصرف د منعقد کيدو لپاره د متصرف اهليت شرط دی، او کوم تصرفات چې شرعي احکام وربانديې بناء کيږي برابره خبره ده چې هغه تصرفات فعلي وي او که قولي ، د عباداتو له جملې څخه وي او که د معاملاتو، اعتبار ور لره نشته کله چې د هر هغه شخص څخه صادر شي چې اهل نه وي لکه صغير غير مميز او مجنون، او اهليت په عقل سره منځ ته راځي، امام کاساني رحمه الله فرمائي:( العقل شرط اهليت التصرف)[2].

په قاعده کی مراد د اهليت څخه اهليت د ادلء دی( ځکه چی شرط دی اهليت د عاقدينوو لپاره د معاملې او تصرف، يعنې په دوې کې اهليت د اداء وي)[3]

**د قاعدې دليل:** ۱ـ کتاب الله: الله عزوجل فرمائي:( لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا)[4] ژباړه: نه کوي تکليف الله پر هيڅ نفس باندې مګر( په اندازه د)طاقت د ده.

د استدلال وجه:

ممکن نه ده چې انسان مخکې له تميز او قدرت په اداء د واجباتو مکلف شي،او هغه دې د تصرفاتو په اساس مواخذه شي ، ځکه چې دا تکليف ما لا يطاق دی ، او دا منفي دی په نص د ايت سره. [5]

امام کاساني رحمه الله فرمائي: (ايجاب په هغه چا چې اهل نه وي، دا مکلف کول په هغه څه دي چې په وسعه کې نه وي)[6]

۲ـ سنت: عَنْ عَلِىٍّ رضی الله تعالی عنه عَنِ النَّبِىِّ ﷺ- قَالَ « رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِىِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَعْقِلَ »[7] ژباړه: پورته کړې شوی دی قلم د درېيو کسانو څخه د ويده نه تر څو چې ويښ شي، او د ماشوم نه ترڅو چې بالغ شي، او د ليوني نه ترڅو چې وښيار شي،

د استدلال وجه: نبي صل الله عيه وسلم، بيان کړی حکم د تکليف د دغه دری واړو په دې قول سره (رفع القلم)او کله چې مونږ فکر وکړو په اړه د علت مشترک په منځ د دوې کې نو معلوميږي چې علت د حکم عدم الفهم دی، يعنې عدم اهليت، او دغه معنی د قاعدې ده.[8]

---

[1]: موسوعة الفقهية الكويتية، ج١١٢ص٧٢
[2]: بدائع الصنائع ج٣ ص٩٩
[3]: مجموعة من المؤلفين، موسوعة فقه المعاملات، ج١ص٨٥٣ المصدر : موقع الإسلام http://moamlat.al-islam.com
[4] : د بقرې سورت ٢٨۶ايت
[5]: وګورئ : السرخسي، شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل، اصول السرخسي، خپروونکې،دارالکتب العلمية، د چاپ ځای:بيروت لبنان، د جاپ کال:۱۴۱۴ه ۱ ج۲ص۳۴۰
[6]: بدائع الصنائع ج١ ص٢۴۶
[7]: ابو داود روايت کړی، په کتاب الحدود باب فی المجنون يسرق او يصيب حدا . علامة الباني ور ته صحيح ويلې دي .ج۴ص٢۴۵ شماره۴۴۰۰ او امام ترمذي، روايت کړې، په کتاب الحدود باب من لايجب عليه الحد، او ورته يې (حسن غريب) ويلې دي ج۴ص۳۲شماره۱۴۲۳
[8]: البليهد، عبدالعزيزبن عبدالرحمن بن عبدالعزيز، القواعد الفقهية فی فتح القدير، خپروونکې،جامعة الامام محمد بن سعود، د چاپ ځای:ريلض، د جاپ کال:۱۴۳۰ه ۱ ص۳۳۰س

**تطبيقي بيلګې:**

۱ــ بيعه د صبي او مجنون نه منعقد کيږي، ځکه چې اهليت د متصرِف شرط د انعقاد تصرف دی، او اهليت بغير د عقل نه نوي.[1]

۲ــ امام کاساني رحمه الله فرمائي:( شرط ندی لپاره د صحت د بيعې ،علم په اوصافو د مبيعې او ثمن ،وروسته له علمه په ذات د مبيعې ، او جهل په اوصافو(دمبيعې) مانع د صحت نه دی، مګر دا شرط دی لپاره د لزوم د بيعې ، نو صحيح ده بيعه د هغه څه چې نوي ليدلې مشتري ، لکن بيعه نه لازميږي او هغه لره اختيار دی کله چې يې وليده،...او بيا وايي:(ځکه چې رکن د بيعې ، صادر شوې د اهل نه او مضاف هغه محل ته چې خالص خپل ملک يې دی، نو صحيح کيږي لکه ليدونکي په شان ، او دا ځکه چې وجود د تصرف حقيقتًا په وجود د رکن د هغه وي ، او دلته شرعا رکن موجود دی، ځکه چې دا عقد صادر شوې د اهل نه ، په محل کې.)[2]

۳ــ امام کاساني رحمه الله فرمائي:( وکيل بالبيع نه شي کولې چې بل څوک وکيل ونيسي، مګر دا چې ويل شوي وي د ته (د مؤکل) له طرفه (اعمل برايک) او يا نور الفاظ چې دلالت کوي په عموم باندې، او که بل څوک يې وکيل کړو په بيعه ، او بيعه وکړه دويم وکيل د ده په حضور کې دا بيعه جايز ده ، او که د ده په حضور کې نه وه بيا جايزه نده ، مګر دا چې اجازه وکړي لومړې وکيل او يا مؤکل، او همدا رنګه که بيعه وکړه فضولي ؛ او خبر ورسيدو وکيل يا مؤکل ته او اجازه يې وکړه بيا جايز دی دا په نزد (ائمة ثلاثة)...ځکه چې عبارت د وکيل مقصود د مؤکل نه دی بلکې رأی د هغه مقصود ده ، نو کله چې دويم وکيل بيعه وکړي په حضور (د لومړي وکيل) نو تصرف حاصل شو د ده په رأی او نافذ هم دی، او که بيعه د ده حضور په حضور کې نه وه او يا فضولي بيعه وکړه دا بيعه خاليده د رأيې د (لومړي) وکيل څخه نو نه نافذ کيږي ؛ لکن منعقد کيږي موقوف په اجازې د (لومړي) وکيل او يا مؤکل، ځکه چې دا تصرف صادر شوې د اهل نه په محل کې.)[3]

۴ــ د شروطو د انعقاد د عقد نکاح څخه يو دا دی چې عاقد بايد عاقل وي ، نو نه منعقد کيږي نکاح د مجنون او صبي لايعقل، ځکه چې عقل د تصرف د اهليت د شرطونو څخه دی.[4]

۵ـ نه صحيح کيږيي د مجنون ټول قولي تصرفات ، نو جايز نه دی طلاق ، عتاق ، عقد کتابت،او اقرار د هغه، او نه منعقد کيږي بيعه او شراء د هغه، تر ديې چې اجزه ور پورې هم نه ملحق کيږي، او نه صحيح کيږي قبلول د هديې، صدقې،او وصيت دهغه ، همدارنګه(دا قولي او فعلي تصرفات) د غير مميز ماشوم څخه نه صحيح کيږي ؛ځکه چې اهليت شرط د جواز د تصرف او انعقاد د تصرف دی او بغير د عقل څخه اهليت نه وي.[5]

---

[1]: بدائع الصنائع ج۵ص۱۳۵
[2]: بدائع الصنائع ج۵ص۱۶۳-۱۶۴
[3]: بدائع الصنائع ج۶ص۲۸
[4]: بدائع الصنائع ج۲ص۲۳۲
[5]: بدائع الصنائع ج۷ص۱۷۱

**دويم مطلب: د( الحکم فی البعض کالحکم فی الکل[1]) قاعدې زده کړه**
په کل چې کوم حکم مرتب کيږي هغه په جزء هم مرتب کيږي.

د قاعدې نور الفاظ:

(۱): حکم الجزء حکم الکل.[2]

(۲): البعض معتبر بالکل.[3]

(۳):البعض يجري عليه حکم الکل.[4]

(۴):للشطر حکم الکل.[5]

(۵): البعض تابع للکل.[6]

**د مفرداتو څيړنه:**

الحکم: حکم په لغت کی په معنی د:

۱ـ منع : الله پاک فرمائي: (احکمت اياته) [7] ای منعت وحفظت عن الغلط والکذب[8]ا منع کړې شوي او ساتل شوي اياتونه د قرآن د غلط والياو د دروغو څخه.

۲ـ حکم مصدر دی د حکَم يحکُمُ څخه په معنی د علم ، فقه ، قضاء، کلام نافع.[9]

په اصطلاح فقهاءکی: ( اثر خطاب الله المتعلق بافعال المکلفين، اقتصاءً او تخييرا او وضعا، فالحکم عندهم هو الاثرای الوجوب ونحوه)[10] ژباړه: اثر د خطاب د الله عز و جل چی تعلق لري افعالو د مکلفينو سره اقتضاءً يا تخييرا او يا وضعا، په نزد فقهاء همدا اثر لکه وجوب او غيره حکم دی. ( د اقتضاء څخه مراد طلب د کولو او يا نه کولو د يو کار، او مراد د تخيير څخه د يوکار د کولو او نه کولو اختيار، او مراد د وضعې څخه ټاکل د يوڅيز په عنوان د سبب يا شرط او يا مانع لپاره دبل څيز [11].

---

[1]: بدائع الصنائع ج۵ص۱۳۵
[2]: بدائع الصنائع ج۷ ص۲۶۵
[3]: بدائع الصنائع ج۲ ص۲۳
[4]: ابن قيم الجوزية ، أبو عبد الله، محمد بن أبي بکر أيوب الزرعي، بدائع الفوائد ، خپروونکي، مکتبة نزار مصطفی الباز، د چاپ ځای:مکه مکرمه، د چاپ کال:۱۴۱۶ه ج۲ص۲۸۴
[5]: يوه ډله د هند د علماء ، الفتاوی الهندية، خپروونکي، دار الفکر، د چاپ ځای ،بيروت لبنان،کال۱۴۱۱ ج۱ص۸۲
[6]: الماوردي. أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري،الحاوي في فقه الشافعي ، خپروونکي،دار الکتب العلمية، د چاپ ځای،بيروت لبنان، کال۱۴۱۴ج۱۸ص۷۱
[7]: د هود سورت ۱ايت.
[8]: ابی البقاء،الکليات،ج۱ص۵۹۲
[9]: ابن اثير، أبو السعادات المبارك بن محمد الجزري، النهاية في غريب الحديث والأثر، خپروونکي، المکتبة العلمية، د چاپ ځای،بيروت لبنان، کال۱۳۹۹ج۱ص۱۰۲۳
[10]: موسوعة الفقهيه الکويتية ج۱۸ص۶۵
[11]: زيدان، الوجيز فی اصول الفقه،ص۲۱

**د حکم ډولونه:**

ابن نجیم[1] رحمه الله فرمائي: حکم په دوه ډوله دی ۱ـ دنیوي ۲ـ اخروي، دنوي لکه: صحت،بطلان ،فرضیت، وجوب، اباحت، کراهت د یو څیز. اخروي لکه: ثواب او عقاب.[2]

البعض: بعض جمع یې ابعاض ده په لغت کې په معنی جزء ، برخه د یو څیز ، او کله په یو فرد د افرادو د یو څیز هم اطلاق کیږي لکه عربان وایي: بعض اللیالي. بعضې د شپو څخه.[3]

الکل: په معنی د ټول ، دا یو اسم دی چې ټول افراد رانغاړي،لکه ویلکیږي : کل امرئٍ، هر سړی [4]

**د قاعدې معنی:**

حکم د جزء د یو څیز لکه حکم د کل دی، یعني کوم حکم چې په کل مرتب کیږي همغه حکم په جزء یې هم مرتب کیږي ، مثلا : که حکم په کل کې وجوب وو نو په جزء کې هم وجوب دی . همداسی اباحت، حرمت،کراهت، استحباب و غیره.

**د قاعدې دلیل:**

دې قاعدې لپاره امام کاساني رحمه الله کوم دلیل نه دی ذکر کړې ، لکن کولې شو چې په لاندې دلائلو استدلال وکړو:

۱ـ سنت: ( عن ابي هريرة انّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من ادرک رکعة من الصلوة فقد ادرک الصوة)[5] ژباړه: چاچې یو رکعت د لمانځه را ګیر کړ ګویا ټول لمونځ یې را ګیر کړ.

د استدلال وجه:

امام نووي[6] رحمه الله فرمائي:( اجماع کړې مسلمانانو په دی چې دا حدیث په ظاهر حمل نه دي ، هغه دا چې مدرک د یو رکعت مدرک د ټول لمونځ نه دی،ادراک د یو رکعت کفایت نه کوي ،او یو رکعت سره د لمانځه نه یې ذمه نه خلاصیږي، بلکې دا حدیث مؤول دی، او په ده کې اضمار دی، تقدیر یې دا دی(

---

[1]: اصلي نوم یې ، زین الدین بن ابراهیم بن محمد بن محمد المصري الحنفي دی چی په کال ۹۲۶کې ځیګیدلې، د حنفي علماء له جملی څخه یو لوی فقهي او اصولي عالم وو،چی زدکړه یې د علامه قاسم بن قطلوبغا ، او البرهان الکرکي ، او الامین بن عبد العال او داسی نورو لویو علماء څخه کړې، ډیر تصنیفات لري، چې مشهور یې، البحر الرائق شرح کنز الدقائق، الاشباه والنظائر، شرح المنار فی الاصول،او الفوائدالزینیة فی الفقه الحنفیة، او په کال ۹۷۰کې وفات شوې، الاعلام للزرکلي ج۳ص۶۴ شذرات الذهب ـ ابن عمادج۸ص۳۵۵

[2]: ابن نجیم، زین الدین بن ابراهیم بن محمد ، بحرالرائق، خپروونکې، دارالمعرفة، د چاپ ځای، بیروت ـ لبنان،کال ۱۴۲۳ج۱ص۲۶

[3]: المنجد عربي به فارسي ج۱ص۸۹

[4]: المنجد عربي به فارسي ج۲ص۱۶۰۴

[5]: صحیح المسلم، کتابالمساجد باب من ادرک رکعة من الصلوة فقد ادرک الصوةج۲ص۱۰۲شماره۱۴۰۴

[6]: یحیی بن شرف بن مري بن حسن الحزامي الحوراني، ، الشافعي، أبو زکریا، محیي الدین ، مشهور په نووي،په کال ۶۳۱ ه په نوا چې د سور یی د حوران د منطقې یوه قریه ده ځیګیدلې او همدې قریی ته یې نسبت کیږي، حافظ، محدث، فقهي، او لغوی عالم و ، ډیر تصنیفات لري چې مشهور یې، شرح صحیح المسلم للنووی، الاربعین للنووي، په کال ۶۷۷په نوای کې وفات شوې. الذهبی، محمد بن أحمد بن عثمان، تذکرة الحفاظ، تحقیق: زکریا عمیرات، خپروونکې، دار الکتب العلمیة ، د چاپ ځای، بیروت ـ لبنان، د چاپ ګڼه ۱ ،کال ۱۴۱۹هـ ج۵ص۱۰۵

فقد ادرک حکم الصلوة، او وجوبها، او فضلها) [1] ژباړه: په تحقیق سره وه یې مونده حکم د لمونځ، او یا وجوب، او یا فضل .

حدیث نه ثابته شوه چې مدرک د یو رکعت د جماعت سره مدرک د فضل ده ټول جماعت دی. نو کوم حکم چې په ټول جماعت مرتب کیږي په جزء هم مرتب کیږي.

۲- (الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ اللَّيْثِيِّ، أَنَّهُ أَهْدَى لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا وَحْشِيًّا، وَهُوَ بِالأَبْوَاءِ، أَوْ بِوَدَّانَ، فَرَدَّهُ عَلَيْهِ، فَلَمَّا رَأَى مَا فِي وَجْهِهِ قَالَ: «إِنَّا لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكَ إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ)[2] ژباړه: صعب بن جثامه لیثي چې دنبی علیه السلام له صحابه و څخه وو خبر ورکوي : چې هغه په منطقه د ابواء یا ودّان کی یو وحشي حمار، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هدیه کړو او حال دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په احرام کې وو، نو هغه یې رد کړه، صعب رضی الله عنه فرمائي: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زما په مخ خفګان د رد کیدو د هدیې ولید نو وې فرمایل: مونږه په تا نه ردوله لکن مونږ په احرام کې یو.
ابن حجر عسقلاني[3] رحمه الله په فتح الباري کې د دې حدیث په شرح کې ډیر روایات را جمع کړی ، چې دبعضو روایاتو څخه دا معلومیږي چې صعب رضی الله عنه چې کوم حمار وحشي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هدیه کړی وو، هغه ژوندی وو،او بعضو روایاتو نه معلومیږي چې ذبحه شوی وو، او بعضو روایاتو نه معلومیږي چې د حمار وحشی د غوښې یوه برخه وه ، ابن حجر رحمه الله د روایاتو د روایاتو د تطبیق لپاره د محدثینو مختلف اقوال را نقل کړي په هغه اقوالو کی یو قول د علامه قرطبي رحمه الله دی چې فرمائي: ( احتمال لري چې اول یې ژوندې هدیه کړې وي ، او رد کیدو نه وروسته بیا یې ذبحه کړې وي او یوه برخه د غوښې یې په دی ګمان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړه چې کیدی شي رد کول د رسول الله، رسول الله صلی الله علیه وسلم به د یو معنی لپاره وي چې هغه معنی مخصوصه ده مکمل حیوان پورې، نو نبي علیه السلام په دوباره امتناع سره هغه یې پوه کړو چې حکم د جزء د ښکار حکم د کل دی.)[4]
**تطبیقی بیلګې:**

۱- اسلام د عاقدَینو شرط نه دی لپاره د انعقاد د بیعې ؛ لکن که کافر د مسلمان غلام مالک شي نو باید مجبور کړی شي چې غلام و پلوري ، ځکه چې امکان د وجود د داسی کار شته چې اسلام کی جایز نه

---

[1]: النووي،أبو زکریا یحیی بن شرف بن مري،شرح النووي على صحیح مسلم، خپروونکي، دار إحیاء التراث العربي، د چاپ ځای، بیروت ـ لبنان، د چاپ ګڼه ۲ ،کال ۱۳۹۲ج۵ص۱۰۵

[2]: صحیح البخاري کتاب الحج باب اذا اهدی للمحرم حمارا وحشیا، ج۳ ص۱۳ شماره ۱۸۲۵

[3]: شهاب الدین أبو الفضل، أحمد بن علي بن محمد بن علي، الکناني، العسقلاني، الشافعي. په اصل کې د فلسطین د عسقلان منطقې څخه دی؛ خو پیدایښت یې په کال ۷۷۳هـ او وفات یې په کال ۸۵۲هـ دواړه په قاهره کې شوي، دی لوی محدث، فقیه، او ادیب وو، ډیر ملازمت یې د شیخ ابا لفضل عراقي سره کړی، او د احادیثو د سماع لپاره یې یمن حجاز او نورو ځایونو ته سفرونه کړي، او څو ځله د مصر قاضي هم پاتې شوی، ډیر مهم او مشهوره تصانیف لري چې له جملې څخه یې: فتح الباري شرح صحیح البخاري، الاصابة فی تمیز اسماء الصحابة، بلوغ المرام من ادلة الاحکام. طبقات الشافعیه ج ۳ ص ۲۲۵

[4]: العسقلاني، أبو الفضل، أحمد بن علي بن حجر، فتح الباري شرح صحیح البخاري، خپروونکي، دارالمعرفة، د چاپ ځای، بیروت ـ لبنان، د چاپ ګڼه ۲ ،کال ۱۳۷۹ج۴ص۳۳

وي له کبله ده عداوت په منځ د مسلمان او کافر کې، همدارنګه که ذمي د نیم غلام مالک شي بیا به هم مجبور کړی شي په پلورلو، ځکه چې حکم د جزء حکم د کل دی.[1]

۲ـ د شرائطو د اقالې څخه یو شرط دادې چې محل د بیعې چې مبیعه ده ، باید باقي وي ، او که مبیعه هلاکه شوه بیا اقاله نه صحیح کیږي، همدا رنګه که بعض حصه د مبیعي هلاکه شوه ، په همغه مقدار کی اقاله نه صحیح کیږي ځکه چې حکم د جزء حکم د کل دی.[2]

۳ـ که د مقتول ولي دوه نفره وي، او یو یې قاتل معاف کړي نو قصاص ساقطیږي؛ د هغه بل حصه مال ته را اوړي چی نیم دیت دی، د ائمة ثلاثة و په نزد؛ قاتل به دا نیم دیت په درې کاله کې ور کوي ، ځکه چې د کُل د دیت اداء په درې کاله کی ده، نیم دیت خو د کل دیت جزء دی او حکم د جزء حکم د کل دی.[3]

۴ـ بعد د حولان حول نه که ټول نصاب هلاک شو نو مکمل زکات ساقطیږي، او که بعض نصاب هلاک شو باقي کی په اندازه د هغه زکات لازم دی، ځکه چی حکم د بعض حکم د کل دی.[4]

۵ـ مریض چې په څومره قیام قادر وي په همغه اندازه قیام په لمونځ کی ورباندی لازم دی( هغه مقدور قیام د یو ایت د قرئت په اندازه وي او یا کم او یا زیات ) ځکه چی حکم د جزء حکم د کل دی، په دی معنی که څوک په کل قیام قادر وي په هغه کل قیام لازم دی او که څوک په بعض قیام قادر وي په هغه بعض قیام لازم دی. [5]

۶ـ که مریض یا مسافر د رمضان میاشت مکمله ژوره ونه نیوله ، بعد د رمضان نه مریض روغ او یا مسافر مقیم شو خو لس ورځی؛ بیا وفات شو په ده لازم ده د لسو ورځو قضاء ځکه چی همدا لس ورځې یې په حالت د صحت او اقامت کی درک کړي نه باقي ورځې ، که مریض یا مسافر دا لس ورځی روژه و نه نیوله نو ورثه به یې د دې لسو ورځو فدیه ور کوي، ځکه چی که دا مریض یا مسافر یو میاشت مکمل یې درک کړې وې نو مکمل د یو میاشت قضاء به ورباندې لازمه وه، والبعض معتبر بالکل.[6]

**دریم مطلب: د (الإشارة المفهومة من الاخرس تقوم مقام عبارته)** [7]

معلومه او مفهومه اشاره د ګنګي قائم مقام د وینا د هغه ده
نور الفاظ د قاعدې:

(۱)الإشارة من الاخرس معتبرة تقوم مقام عبارته.[8]

---

[1]: بدائع الصنائع ج۵ص۱۳۵
[2]: ابن نجیم، بحر الرائق ج۶ص۱۱۵
[3]: وکتل شي: بدائع الصنائع ج۷ص۲۴۸
[4]: وکتل شي: بدائع الصنائع ج۲۷ص۲۳
[5]: الشامي، ابن عابدین، محمد امین بن عمرعابدین، رد المحتار علی الدر المختار، خپروونکي، دار الفکر للطباعة والنشر، د چاپ ځای، بیروت ـ لبنان، د چاپ ګڼه ۲ ،کال ۱۴۲۱ج۲ص۹۷
[6]: البورنو. ابو الحرث ،محمد صدقي بن احمد الغزي، موسوعة القواعد الفقهیه، خپروونکي، مکتبة التوبة، د چاپ ځای،الریاض، د چاپ کال۱۴۱۸، د چاپ ګڼه ۱ج۱ص۴۸
[7]: بدائع الصنائع، ج۵ص۱۳۵
[8]: ابن نجیم. الاشباه والنظائرص۲۹۶

(۲) الإشارة من الاخرس كالعبارة من الناطق.[1]

(۳) الاشارات المعهودة من الاخرس كالبيان باللسان.[2]

(۴) الإشارة من الاخرس قائم مقام النطق.[3]

الإشارة: په لغت کی په معنی د نښه (علامه) ، درول د حرکت په ځای د نطق په تعبیر کې لکه اشاره د ګونګي.[4] او په اصطلاح کې: تعینول د یو څیز په حِس سره.[5]

الاخرس: اخرس جمع یې خُرْس، خُرْسان، أَخارس ده، په معنی د ګنګ،[6] ه همدارنګه په معنی د یو ډول خورک، او یو ډول ظروفوهم راځي.[7] په قاعده کې اخرس په معنی د ګنګ ده.

العبارة: لغتًا په معنی د وضاحت، بیان،او هغه الفاظ چی په معانیو دلالت کوي، عربان وایي: فلان حسن العبارة: فلانې خوش بیانه دی.[8]

**د قاعدې معنی:** دا قاعده مونږ ته واضحه کوي چی اشاره د ګنګي په مثل د عبارت د ناطق ده ، لکه څنګه چی د ناطق په نطق احکام مرتب کیږی، او عقود یې صحیح کیږي همدارنګه د اخرس اشاره په ټولو څیزونو کې لکه: بیعه، اجاره،هبه،رهن،طلاق،عتاق،ابراء ،اقرار، دعاوي، قصاص، قائم مقام د عبارت ده، ځکه، که د اخرس اشارې ته اعتبار ور نکړې شي ، نو معاملات به یې صحیح نه شي د لوی مشکل سره به مخ شي، لکن په دې شرط چی اشاره معلومه او مفهومه وي.[9] لکن حدود او شهادت له دینه مستثنی دي، ځکه چې حدود په شبهاتو دفعه کیږي او مبنی یې په بیان صریح ده [10]، او شهادت د اخرس هم نه قبلیږي ځکه چی اداء د شهادت مخصوص دی د لفظ د ـ اشهد ـ پوری په اجماع د فقهاء، حتی تر دی که شاهد وه وایي: اخبر، او اعلم، او اتیقن لا تقبل [11] .او مراعات دعبارت د شهادت شرط د صحت د اداء د شهادت دی، نو ګنګي لپاره خو عبارت نشته نو شهادت هم نشته،[12] همدا رنګه لعان د ګنګي صحیح

[1]: السرخسي. المبسوط ج۶ص۲۵۸
[2]: یوه مجوعه د علماء، مجلة الاحکام العدلية خپروونکې، نور محمد، کارخانه تجارتِ کتب، د چاپ ځای، آرام باغ،کراچې، د چاپ کال۱۴۱۸، د چاپ ګڼه ۲ص۲۴
[3]: الزيلعي،فخر الدين عثمان بن علي،تبين الحقائق شرح كنز الدقائق، خپروونکې، دار الکتب الإسلامي، د چاپ ځای،قاهره ، د چاپ کال۱۳۱۳، ج۵ص۸
[4]: قلعه جي، دکتور،محمد رواس، معجم لغة الفقهاء،خپروونکې، دار النفائس،د چاپ ځای،بیروت، کال۱۴۳۱، د چاپ ګڼه ۳، ص۴۹
[5]: البرکتي، مفتي، عميم الاحسان المجددي، التعریفات الفقهية، خپروونکې، مکتبة البشری،د چاپ ځای،کراچې پاکستان،د چاپ کال۱۴۳۷، د چاپ ګڼه ۱، ص۱۱۵

[6]: ابن منظور، لسان العرب ج۱ص۳۷۵
[7]: ابن فارس، معجم مقاييس اللغة ج۲ص۱۳۴ لسان العرب ج۶ص۶۲
[8]: ابن منظور، لسان العرب ج۴ص۵۲۹ المنجد ج۲ص۱۰۶۸
[9]: وکتل شي: الاشباه والنظائر لابن نجيم ص۲۹۶ المنثور فی القواعد للزرکشي ج۱ص۱۶۴
[10]: الکاسانی، بدائع الصنائع ج۷ ص۳۲۷
[11]: الزيلعي، تبيين الحقائق ج۴ ص ۲۱۰
[12]: الکاسانی، بدائع الصنائع ج۶ ص۲۶۸

نه دی ځکه چی لعان شهادات دي[1] او ګنګي لره شهادت نشته، لکن د اخرس اقرار په قصاص صحیح دی خکه چی قصاص په صریح بیان بناء نه دی.[2]

اشاره د ګنګ په مثل د عبارت مشروط په شروطو:

اول شرط: اشاره باید مفهومه او معلومه وي، نو ځکه امام کاساني له دې قاعدې څخه داسې تعبیر کړې:( اشارة المفهومة تقوم مقام العبارة)[3]

دویم شرط: اشاره د هغه چا څخه صادره شي چی خلقتًا ګنګ وي امام کاساني رحمه الله فرمائي( د ګنګ بیعه او شراء جایز ده کله چی اشاره یي مفهومه وي ځکه چی کله اشاره مفهومه وي هغه قائم مقام د عبارت ګرزي، او دا په هغه صورت کې چې ګنګ والي اصلي وي هغه داسی چې ګنګ پیداء شي ، نو که ګنګ والي عارضي وي ، نو بیا نه صحیح کیږي مګر دا چې ګنګ والي دائم پاتې شي تر دی چې د خبرو کولو امید یې ختم شي، او اشاره یې مفهومه وګرزي بیا د اصلي ګنګ په شان ګڼل کیږي)[4]

دریم شرط: اشاره په حدودو او شهاداتو کې نه وي ، امام کاساني رحمه الله په بیان د شروطو د اقرار په حد باندې فرمائي :( د شروطو ځنې یو هم نطق دی، هغه دا چې اقرار باید په خطاب او عبارت سره وي نه په کتابت او اشارې سره ، تر دې که ګنګي اقرار یې ولیکو او یا یې ور ته اشاره وکړه په اشاره یې معلومه سره ؛ نشته حد وربانديې ، ځکه چې شریعت حد معلق کړی بیان متناهي پوری.[5]

څلورم شرط: بعضي احنافو او بعضي شوافعو[6] څلورم شرط عدم قدرت د ګنګي په کتابت باندې یاد کړې، که ګنګ قادر په کتابت وو بیا اشاره یې صحیح نه ده ځکه چی ضرورت دفع کیږي په هغه څه چی ډیر ښه دلالت کوونکې دی په مراد باندې د اشارې څخه [7] لکن جمهور فقهاء په نزد عدم کتابت شرط نه دې، ځکه چې اشاره او کتابت تقریبا په یوه درجه کې دي د لحاظه د دلالت نه په مراد باندی. [8]

**د قاعدې دلیل:**

۱ـ کتاب الله: امام کاساني رحمه الله فرمائي: ( چی اصل په قائم مقام کیدو د اشارې په ځای د عبارت کی دا قول د الله عز و جل دی چی خطاب یې کړی بي بي مریم علیها السلام ته (فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا )[9] ژباړه: و وایه : بیشکه زه چی یم نذر کړې مې ده پر ځان رحمان ذات (الله تعالی) ته روژه ( له کلامه).

---

[1]: وکتل شي : بدائع الصنائع ج۷ ص۴۳
[2]: بدائع الصنائع ج۷ ص۲۲۳
[3]: بدائع الصنائع ج۳ ص۱۰۰
[4]: بدائع الصنائع، ج ۵ ص ۱۳۵
[5]: بدائع الصنائع، ج ۷ص ۴۹
[6]: الاشباه لابن نجیم ص ۲۹۷ الاشباه للسیوطي ص۴۰۸
[7]: الشامي: ردالمحتار علی درالمختار ج۴ ص۴۳۵
[8]: الاشباه لابن نجیم ص ۲۹۷ درر الحکام ج ۱ ص۱۲۵
[9]: د سورت مریم ۲۶ ایت

**د استدلال وجه:**

او دا وینا د بي بي مریم په اشاره وه نه په قول ، او الله تعالی ور ته قول ویلې نو د لالت کوي پر دې چی اشاره ـ تعمل عمل القول ـ) [1]

علامه قرطبي[2] رحمه الله د دی ایت په تفسیر کی فرمائي(اشاره په منزله د کلام ده ، او فهم کیږي له اشاری څخه هغه څه چی فهم کیږي له کلام څخه ، او څنګه به داسی نوي حال دا چی خبر ور کړې الله تعالی له بي بي مریم علیه السلام څخه ( فا شارت الیه) ژباړه:ـ نو اشاره وکړه(مریمې) هغه ته (چی له دغه عیسی سره و غږیږي) ـ او خلک د بي بي مریمې د اشارې په غرض پوه شول او و ویل (كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا)[3]ژباړه: نو وویل (خلقو) څرنګه به خبرې وکړو مونږ له هغه چا سره چې دی هغه په مهد ( ځانګو یا غیږ) کې وړوکی ( تی رودونکې)[4]

۲ـ سنت: ( عن ابن عمر رضی الله عنهما قال : قال :رسول الله صلی الله علیه وسلم ( الشهر هكذا و هكذا وهكذا) يعني ثلاثين ثم قال: ( و هكذا وهكذا وهكذا) يعني تسعا وعشرين ، يقول مرة ثلاثين و مرة تسعا و عشرين.) [5]ژباړه: ابن عمر رضی الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: (میاشت داسې او داسې او داسې) یعنی دیرش ورځې بیا یې و فرمایل:( او داسی او داسی او داسی) یعنې نه ویشت ورځې. یو ځل دیرش ورځې بل ځل نه ویشت ورځې وه ویل.

د استدلال وجه:

نبي علیه السلام د لاسونو د ګوتو په اشارې سره بیان او واضحه کړه چی میاشت کله دیرش او کـــله نه ویشت ورځې وي په دیکې اقامت د اشارت دې په مقام د عبارت کې.[6]

۳ـ معقول: اشاره د ګنګي په منزله د عبارت د ناطق دی د ضرورت په اساس، ځکه چې څه ته ناطق محتاج دی هغې ته ګنګ هم محتاج دی ، نو که د ده اشاره د عبارت په څیر ونه ګڼل شي نو ولګې نه به مړ شي. [7]

---

[1]: بدائع الصنائع ج ۴ ص ۵۴

[2]: ابو عبدالله، محمد بن احمد بن ابي بكر بن فرح الخزرجي الانصاري، په ۶۰۰ه په قرطبه کې ځیګیدلي وروسته له سقوط دقرطبی اسکندریې ته او له هغه ځایه مصر ته تلی او همغلته پاتې شوی، علامه قرطبي لوی: مفسر، فقیه ، او عالم د لغت وو، علمي سرمایه یې ۱۳ کتابونه دي چې مشهور یې : الجامع لاحكام القرآن، التذكرة باحوال الموتى واحوال الاخرة، التذكار فی افضل الاذكار، او په کال ۶۷۱ په مصر کې وفات شوې او دفن شوی. الأعلام للزركلي ج ۵ ص ۳۲۲

[3]: د مریم سورت ۲۹ ایت

[4]: القرطبي، أبو عبد الله، محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري، الجامع لاحكام الفران، خپروونکي، دار عالم الكتب، ، د چاپ ځای،الرياض، سعودي،د چاپ ،کال ۱۴۲۳ج۱۱ص۱۰۴

[5]: صحيح البخاري كتاب الطلاق باب اللعان، ج۷ص۵۳ شماره ۵۳۰۲ صحيح المسلم كتاب الصيام باب وجوب صوم لرؤية الهلال والفطر لرؤية الهلال، ج ۳ ص۱۲۳ شماره ۲۵۵۸

[6]: وکتل شي: بدائع الصنائع ج۳ ص ۱۱۰

[7]: السرخسي، المبسوط، ج۶ ص ۲۵۸

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ د بیعې او شراء د انعقاد او نفاذ او صحت لپاره نطق شرط نه دي، نو صحیح ده بیعه ،او شراء د اخرس کله چې اشاره یې مفهومه وي ، ځکه چې اشاره یې مفهومه قائم مقام د عبارت وي.[1]

۲ـ لکه څنګه چې نکاح په عبارت سره صحیح کیږي همداسې په اشارې د ګنګ هم صحیح کیږي کله چې اشاره یې معلومه وي.[2]

۳ـ تکلم په طلاق شرط نه دی پس واقع کیږي طلاق په کتابت واضحه او اشاره مفهومه د اخرس ځکه چې کتابت واضحه قائم مقام د لفظ دی او اشاره یې مفهومه د اخرس قائم مقام د عبارت.[3]

۴ـ لازمه نه ده تسمیه ( په وخت د ذبح کې) په ناسي، اخرس،او مکرَه باندې اوکافي ده داخرس نه اشا ره اسمان طرف ته .ځکه چې اشاره د هغه قائم مقام د نطق د ناطق ده.[4]

۵ـ د جنابت په حالت کې ناطق باندې لفظا تلاوت حرام دی، او په ګنګ باندې اشارتًا ځکه چې اشاره په منزله د نطق ده. [5]

**څلورم مطلب: د ( الضرر منفي ) قاعدې زده کړه.**

ضرر منع کړې شوی دی.

د قاعدې نور الفاظ:

(۱)الضرر منفي شرعا .[6]

(۲) الحرج منفي .[7]

(۳) الضرر مسقط .[8]

(۴) الحرج مدفوع .[9]

(۵) الضرر مزال[10]

(۶) الضرر يزال .[11]

---

[1]: بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۳۵
[2]: بدائع الصنائع ج۲ ص ۲۳۱
[3]: بدائع الصنائع ج۳ ص ۱۰۰
[4]: موسوعه الفقهيه الكويتيه ج۸ ص ۹۰س
[5]: الزحيلي، وهبة بن مصطفى، الفقه الاسلامي وادلته، خپروونکي، دار الفكر، دچاپ ځاي، دمشق سوريه، د چاپ ګنه، ۱ج ۴ص۴۷۴
[6]: بدائع الصنائع ج۴ ص ۹۰
[7]: بدائع الصنائع ج۳ ص ۵۳۱
[8]: ابن نجيم، بحرالرئق ج ۲ص ۱۷۱
[9]: السرخسي ، المبسوط ج۲ ص ۲۱۹
[10]: الحصني. تقي الدين، ابي بكر بن محمد بن عبد المؤمن، كتاب القواعد، خپروونکي، مكتبة الرشد، د چاپ ځای، رياض، سعودي، د چاپ کال ۱۴۱۵ د چاپ ګڼه، ۱ ج۱ ص ۳۳۳
[11]: ابن نجيم ، الاشباه والنظائر ص ۷۲

**د مفرداتو څیړنه:**

الضرر: ضرر جمع يې إضرار ده په لغت کې په معنی د :زيان ، سختي ،بدحالي، بيماري ، تکليف ، تنګي ، [1] الضرر د ( الضرّ) څخه اخيستل شوی په معنی د :ضدالنفع . [2]

اصطلاحا: (اخلال مصلحة مشروعة للنفس اوالغير تعديا ، او تعسفا ، او اهمالا .)[3] ژباړه: د ځان او يا د بلچا په مشروع مصلحت کې خلل راوستل ، برابره خبره ده چې دا کار قصدا وي او که تعسفا ( يعنې د خپل حق نه داسې استفاده کول چې بلچا ته ضرر وي) او اهمالا ( يعني بې پروائي سره)

د قاعدې معنی :

دا قاعده مونږ. ته دا افاده کوي چې ضرر منفي دی ، يعنې ضرر ابتدا مشروع نه دی، او هيڅ دا سې

حکم به پيدا نکړې چې په هغې کې ضرر وي ، او نفيَ د ضرر دلالت کوي په وجوب د دفعې د ضرر قبل الوقوع ، په هره طريقه چې ممکن وي ځکه چې وقايه غوره ده د علاج څخه [4]

او په دې قاعدې باندې ( ډير ابواب د فقهې بناء دي لکه : خيارات د ټولو ډولونو سره ، حجر سره د ټولو انواعو ، او شفعه شريک لره لپاره د دفعې د ضرر د تقسيم او جار لره لپاره د دفع ضرر د بد ګاونډي ، قصاص، حدود، ضمان د متلفاتو، کفارات، د مشرکينو او بـــــغاتو سره قتال.[5] او هغه ضرر او تکليف چې د الله عز و جل له طرفه اذن يې شوې لکه : حدود، قصاص، او ټول عقوبات ، او تعزيرات هغه مستثنی دي له دی قاعدې څخه بلکې د دې قاعدې لاندې داخل نه دي ځکه چې دفعه د مفاسدو مقدم ده په جلب د منافعو او دا (حدود، قصاص، عقوبات، او تعزيرات) نه دي مشروع شوي مګر لپاره د دفعې د ضرر. [6]

**د قاعدې دليل :**

د قرآن کريم هر هغه ايات او د نبي صلی الله عليه وسلم هر هغه حديث چې د لالت کوي په منعې او حرمت د ضرر د دې قاعدې دليل دی لکه:

۱ـ کتاب الله:

الله تبارک وتعالی فرمائي: (لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا)[7] ژباړه: نه دې ضرر رساوه کيږي مور ته په سبب د ولد د دې سره.

---

[1]: المنجد عربي په فارسي ج ص۹۸۳

[2]: لسان العرب : ج۴ ص۴۸۲

[3]: موافي، الدکتور احمد ، الضرر فی الفقه الاسلامي ، خپرورنکي، دار ابن قيم، د چاپ ځای، رياض، سعودي، د چاپ کال ۱۴۲۹ د چاپ ګڼه، ۲ ج۱ ص ۹۷

[4]: البليهد، القواعد الفقهيه فی کتاب بدائع الصنائع، ص۱۶۳

[5]: ابن نجيم، الاشباه والنظائر، ص ۷۳

[6]: الزرقا، احمد بن محمد بن عثمان ، شرح القواعد الفقهية ، خپرونکي: دارالقلم، د چاپ ځای، دمشق سوريه، د چاب کال ۱۴۰۹ د چاپ ګڼه ۲ص۱۶۵

[7]: د بقرې سورت ۲۳۳ايت

د استدلال وجه : امام کاساني رحمه الله فرمائي : ( اخيستل د ولد له مور څخه ضرر دی هغه (يعنې مور) ته او دا کار منهي عنه دی په دليل د دا قول د الله تعالی (لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا) )[1]
۲ـ سنت :
قول النبي صلی الله علبه وسلم (لا ضرر ولا ضرار) [2] ژباړه : نشته ضرر رسول ابتدا او جزءً.
د استدلال وجه :
نبي کريم صلی الله عليه مطلقا ضرر يې نفي کړې دی ، ځکه چې د (ضرر) لفظ نکره ده په سياق د نفي کې او دا افاده د عموم کوي ، نو شو مراد د دی قول (لاضرر) چې نشته زمونږ په دين کې مطلق ضرر ، او همدا د قاعدې مطلب دي.[3]
ابن رجب[4] رحمه الله فرمائي:( په عموم د قول د نبي عليه السلام (لاضرر) کې دا خبره هم شامله ده چې الله تعالی خپل بندګان نه دي مکلف کړي په فعل د هغه څيزونو چې دوې ته په کې ضرر وي ، په څه يې چې دوې ته امر کړې هغه کې صلاح د دين او د دنيا ده ، او له څه څخه يې چې منع کړې په هغې کې فساد د دين او د دنيا د دوې دی، او دوې ته د هغه څه امر هم نه دی کړې چې د دوی بدن ته ضرر رسوي.[5])

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ د شرطونو د نفس عقد څخه يو شرط دادی چې قبول بايد مطابق د ايجاب وي ، يعنې مشتري هغه څه قبول کړي چې بايع د هغه ايجاب کړې وي او که په خلاف د هغه قبول کړي بيا نه منعقد کيږي،
لکه داچې بايع ايجاب په عبد کې وکړي او دې قبول په جاريه کې وکړي همدارنګه ايجاب په دوه غلامانو کې وي او دا يو قبول کړي ، لکه داچې بايع وه وايې: دا دوه غلامانه مې په زردرهمو په تا و پلورل او مشترِي وه وايي قبول مې کړو په دغه غلام کې ، اشاره وکړي يو معين غلام ته ، دا نه منعقد کيږي ځکه چې قبول په يو کې تفريق د صفقې دی په بايع باندې ؛ او صفقه چې کله د بايع له طرفه په مجموعي توګه واقع شي ؛ بيا مشتري مخکې له تمامېدونه اختيار د تفريق نه لري ځکه چې عادت د تجارانو وي يوځای کول د بيکاره ښه سره لپاره د ترويج د بيکاره په واسطه د ښه جنس ، نو که ثابت شي مشتري ته ولايت د تفريق ، نو قبول په کړي ښه جنس او بيکاره به ترک کړي ، نو په ده سره ضرر رسيږي بايع ته او ضرر خو منفي . [6]

---

[1]: بدائع الصنائع ج۴ ص۴۰
[2]: دا حديث ابن ماجه په ابواب الاحکام باب من بنا في حقه ما يضر به جاره روايت کړې ج۳ص۲۳۲شماره ۲۳۴۱ شيخ الارنؤوط ور ته صحيح لغيره ويلي ، سنن ابن ماجه تحقيق شيخ شعيب الارنؤوط ، خپروونکې دار الرسالة العالمية ، د چاپ کال ۱۳۳۰ او شيخ الباني هم ورته صحيح لغيره ويلې دي، صحيح وضعيف ابن ماجه ج۵ص۱۳۴ شماره ۲۳۴۱ تحقيق شبخ الباني ، ابن رجب رحمه الله فرمائي: الحديث الثاني والثلاثون لا ضرر ولا ضرار عن أبي سعيد سعد بن مالك الخدري رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال لا ضرر ولا ضرار حديث حسن رواه ابن ماجه والدارقطني وغيرهما مسندا ورواه مالك في الموطإ مرسلا. جامع العلوم والحكم لابن رجب، ج۱ص۳۰۲
[3]: الحصني، كتاب القواعد ص۳۳۴
[4] : دا زين الدين عبدالرحمن بن احمد بن رجب مشهور په ابن رجب الحنبلي دی په کال(۷۳۶ ه)کې ځيګيدلی، دا حفظ ، فقيه ، محدث، او واعظ عالم وو له تصانيفو له جملې څخه يې : شرح الترمذي، طبقات الحنابلة، جامع العلوم والحکم دي. طبقات الحفاظ للسيوطي ج۱ص۱۱۴
[5]: ا بن رجب، أبو الفرج عبد الرحمن بن أحمد الحنبلي، جامع العلوم والحكم، خپروونکې: دارالمعرفه، د چاپ ځای، بيروت، د چاب کال ۱۴۰۸ د چاپ ګڼه۱ ج ۱ص۳۰۹
[6]: بدائع الصنائع ج۵ ص۱۳۶

۲ـ د شرائطو د جواز د فسخې څخه یو هم قیام د خیار دی، او بل علم د صاحب(مقابل لورې) دی په فسخې باندې، ځکه چې که بغیر د علم دهغه څخه نافذه شي ضرر کوي هغه نو نه نافذه کیږي فسخه لپاره د دفعې د ضرر له هغه څخه،

وجه د ضرر دا ده: ځکه که مقابل لورې پوه نوي په فسخه باندې او تصرف وکړي په مبیعه کې وروسته له تیردو د مدې څخه په دې گمان چې دایې ملک دی، اوس که جایزه شي فسخه بغیر د علم د هغه نو واضحه ده چې دا تصرف په ملک د غیر کې دی او دا سبب د وجوب ضمان دې نو متضرر کیږي په ده سره[1]

۲ـ که په سفر کې چا سره اوبه نه وې نو که ملگري سره یې اوبه وې له هغه څخه دې وغواړي او که انکار وکړو چې بغیر د پیسو یې نه ورکوم ؛ نو که په ثمن مثل وو او ده سره پیسې وې نو اوبه دې واخلي بیا تیمم جایز نه دی، او که ثمن مثل نه یې زیاتې غوښتلې نو بیا تیمم جایز دی ځکه چې په اوبو اخیستلو کې ضرر دی او حرمت د مال د مسلم لکه حرمت د نفس د هغه دی، ضرر خو په نفس کې مسقط نو ضرر په مال کې هم مسقط دی.[2]

۴ـ د محدث لپاره د یخنی له وجې تیمم جایز نه دی بنا پر صحیح قول ځکه چې عادتا په دیکې هلاکت او مرض نوي لکن مختار قول دادې چې علت د عدم جواز د تیمم محدث لپاره عدم تحقق د ضرر دي، او که تحقق د ضرر وي بیا تیمم جایز دې ځکه چې حرج مدفوع بالنص دی.[3]

۵ـ د نجاست مرئي ( چې په سترگو لید کیږي ) طهارت یی په زوال د عین سره دي، او که اثر د نجاست باقي پاتې شي چې لرې کول یې مشکل وي بیا پروا نه کوي؛ ځکه چې حرج مدفوع دې.

**پینځم مطلب: د ( خطاب الغائب کتابه) قاعدې زده کړه.**

وینا د غائب لیکنه د هغه ده.

**د قاعدې نور الفاظ:**

(۱)الکتاب من الغائب خطابه.[4]

(۲) الکتاب من الغائب کالخطاب من الحاضر.[5]

(۳) الکتاب بمنزلة الخطاب من الکاتب.[6]

(۴) الکتابة المرسومة جاریة مجری الخطاب.[7]

(۵) الکتاب کالخطاب.[8]

---

[1]: بدائع الصنائع ج۵ ص۲۷۳
[2]: ابن نجیم، بحرالرائق ج۱ص۱۷۱
[3]: ابن عابدین، ردالمحتار علی در المختار ج۱ص۲۳۴
[4]: بدائع الصنائع ج۲ص۲۳۱
[5]: بدائع الصنائع ج۶ص۳۷
[6]: بدائع الصنائع ج۲ص۲۳۳
[7]: بدائع الصنائع ج۳ص۱۰۹
[8]: مجلة الاحکام العدلیة ج۱ص۲۴

**د مفرداتو څېړنه:**

الکتاب:  د کتاب جمع کَتْب او کُتُب ده په معنی د : لیک، حکم، فرض، واجب، اندازه مقدار، هغه څیز چې لازم کړې شي او کله چې لفظ د کتاب مطلق ذکر شي مراد ورنه قرآن وي..[1] امام کاساني وايي(کتاب په معنی د نیتې (اجل) سره هم راځي ، الله تعالی فرمائي:( وَمَا أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَعْلُومٌ) [2] ای اجل لا یتقدم ولا یتاخر.[3] د ایت ژباړه: او نه دي هلاک کړي مونږ له (اهله د) هیڅ کلي مګر خو لپاره (د هلاک) د هغه به یو وخت معلوم وو(لیکلي په لوح محفوظ کې).
په قاعده کې کتاب څخه مراد لیک دي.
په اصطلاح کې :( الصحف المجموعة التي حوت جملة من المعلومات.)[4] مجموعه د اوراقو چې په کې څه معلومات را تول شوي وي.
الخطاب: خطاب په لغت کې  په معنی د :هغه خبره چې چا ته مخامخ وکړې شي ، خبرې اترې،
عربان وايي: وعزّنِي فی الخطاب، په خبرو اترو کې يې مغلوب کړم.[5]
ابن فارس وايي: (ـ الخاء والطاء والباء ـ دوه اصله دي یو په معنی  د دوه نفرو منځ کې خبرې اترې، او اختلاف د رنګونو.[6]
په قاعده کې مراد له خطاب  څخه کلام بین الاثنین دی.
په اصطلاح کې: توجیه الکلام نحو الغیر للافهام. [7] اړول د خبرو بلچا طرف ته لپاره د افهام.

**د قاعدې معنی:**

دې قاعدې نه دا ثابتیږي چې لیکل شوي عبارتونه لکه  الفاظ منطوقه دي په وخت د خطاب کې، نو کوم احکام چې په مخاطبه مرتب کیږي په مکاتبه هم مرتب کیږي.[8]
**د خط دمعتبر والیشرطونه:** امام کاساني رحمه الله د خط د معتبر والیلپاره یو څو شرطونه ذکر کړي چې باید داشرطونه په خط کې پوره وي  :
**اول شرط:** خط باید واضحه(مستبینة)  وي، امام کاساني رحمه الله فرمائي: که کتابت غیرمستبینة یعني واضحه نوي لکه لیکل په هوا کې یا په اوبو کې  دا هیڅ شیء هم نه دې، تر چې د دا ډول خط سره طلاق هم نه واقع کیږي اګر که نیت یې هم کړې وي ، ځکه چې  هر هغه خط چې حروف یې نه معلومیږ. هغه ته خط نه ویلکیږي نو کالعدم دی.[9]
**دویم شرط:** خط باید مرسوم وي یعني خط او مخطوط علیه ( په څه چې لیکل کیږي) د عرف او عادت مطابق وي امام کاساني فرمائي: که چیر ته وې لیکو خط په  کتابت مرسومه سره په طریقه د

---

[1]: المنجد عربي بفارسي ج۲ص۱۵۵۲
[2]: د سورت حجر ۱۴ ایت
[3]: بدائع الصنائع ج۴ص۱۴۰
[4]: معجم لغة الفقهاء ج۱ص۴۵۴
[5]: المنجد عربي بفارسي ج۱۲ص۳۹۹
[6]: معجم مقاییس اللغة ج ۱ص۳۰۴
[7]: تاج العروس من جواهر القاموس ج۱ص۷۰
[8]: البرنو. موسوعة القواعد الفقهیة ج۷ص۲۷۳
[9]: بدائع الصنائع ج۳ص۱۰۹

خطاب او رسالت مثلا: اما بعد . يا فلانة فانت طالق ، او ان وصل كتابي اليک فانت طالق ، په دې سره طلاق واقع کيږي .. ځکه چې کتابت مرسومه لکه خطاب دی.[1]

**دريم شرط:** خط بايد د غائب له طرفه وي نو اعتبار نه لري خط د حاضر مګر داچې چې خبرې کولی ونه شي. او دا شرط د قاعدې له الفاظو څخه معلوميږي.

**د خط ډولونه:** خط په درې ډوله دی .

**اول:** خط مستبينة مرسومه: دا هغه خط دی چې واضحه او د عرف او عادت مطابق وي ، دا ډول خط په کاتب باندې حجت دی لکه نطق باللسان.

**دويم:** مستبينة غير مرسومة: دا هغه خط دی چې واضحه وي خو متعارف نه وي يعني د عرف او عادت مطابق نه وي لکه: ليکل په ديوال، او يا د ونې په پاڼه، داسې خط په کاتب حجت نه دی مګر داچې نيت وکړي او يا په وخت د کتابت کې په ځان شاهدان قائم کړي، او املاء هم په مثل د اشهاد ده، ځکه چې داسې خطونه کله په قصد دبيان د حقيقت وي او کله لپاره د تمرين وي او کله عبثا وي نو ځکه نيت او يا اشهاد او هم املاء ته ضرورت دی ترسو دا حجت وګرزي په کاتب باندی.

**دريم** : غير مستبينة : لکه ليکل په هوا يا اوبو کې ، حکم د دې حکم د کلام غير مسموع دی، نه مرتب کيږي د دې په کاتب باندې هيڅ حکم.[2]

**د قاعدې دليل:**

**١ـ** کتاب الله:

الله عز و جل فرمائي:( قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ إِنِّي أُلْقِيَ الِيكِتَابٌ كَرِيمٌ)[3] ژباړه: وويل (بلقيس) چې ای اشرافو ؛ بيشکه زه چې يم راغورځول شوې دی ماته يو ليک عزتناک.

**د استدلال وجه:**

علامه قرطبي رحمه الله د دی ايت د مسائلو د بيان په لړ کې فرمائي:( څلورمه مسئله دا ده : چې کله يو انسان ته خط راشي د سلام سره نو مناسب دې چې د سلام جواب ووايي، ځکه چې کتاب (خط) د غائب لکه سلام د حاضر دې ، او روايت شوې چې عبد الله ابن عباس رضی الله عنه به جواب د (سلام) د خط واجب ګڼلو لکه جواب د سلام)[4]

٢ـ سنت :

امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې لپاره استدلال کړې په فعل د رسول الله صلی الله عليه وسلم ، هغه فرمائي: ( ته نه کورې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله تبليغ په خطاب سره کولو او کله به يې په کتاب (خط) سره او کله به په ليګلو د نماينده سره، او وو تبليغ په کتاب او نماينده سره لکه تبليغ په خطاب ، نو دا دلالت کوي په دې چې کتابت مرسومه لکه خطاب داسې دی.)[5]

**٣ـ اجماع:**

---

[1]: مخکيني مصدر

[2]: علی حيدر. دررالحکم شرح مجلة الحکام ج١ص٦١

[3]: د نمل سورت ٢٩ ايت

[4]: قرطبي، الجامع لاحکام القرآن، ج١٣ ص١٩٣

[5]: بدائع الصنائع ج٣ص١٠٩

ابن قیم رحمه الله فرمائي: همیشه لپاره امت قدیما و حدیثا عمل په کتب (خطونو) کړی ؛ او اجماع کړی صحابه و په عمل په کتب ، او همدارنګه خلفاء راشدینو ، او نشته اعتماد د خلکو د علم په اړه مګر په کتابونو، او که عمل ونکړېشي په هغه څه چې په کتابونو کې دي نو شریعت به معطل کړې شي، او وو رسول الله صلی الله علیه وسلم چې لیګله به یې افاق او نواحیو ته خطونه او چا ته به چې رسیدله هغوی به وربانديې عمل کوله .)[1]

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ که ولیکي یو سړی بل سړي ته : اما بعد ما خپل غلام په تا په دومره پیسو و پلورلو ؛ او هغه ته خط ورسیږي او په همدې مجلس کې وه وایي چې ما واخیست، ( بیعه صحیح شوه) ځکه چې خط دغائب خطاب د هغه دی ، پس ګویا چې خپله حاضر شوې او د ایجاب خطاب یې کړې او بل په مجلس کې قبول کړی. [2]

۲ـ که وکیل غائب وو (او مؤکل ورته) کتاب د عزل ولیکه ؛ او هغه ته ورسید او وربانديې پوه شو نو معزول شو د ( وکالت څخه) ځکه چې کتاب د غائب څخه لکه خطاب د حاضر دی.[3]

۳ـ لکه څنګه چې نکاح په عبارت منعقد کیږي همداسې په کتابت سره هم منعقد کیږي، ځکه چې دا (کتابت) په مثل خطاب دی.[4]

۴ـ که څوک قسم وګړي چې؛ چې چا ته به تبلیغ نه کوم او چا ته به خبر نه ورکوم، یا څوک به نه یادوم یا هیڅ شيء نه یادوم، بیا یې دا څیزو نه ولیکل ، نو دی حانث کیږي ځکه چې کتابت مثل د خطاب دی.[5]

۵ـ د عقد کتابت او عقد اجارې د انعقاد لپاره اتحاد د مجلس شرط دې، مګر دا چې د غائب له طرفه قبلوونکې ؛ د رسالت او یا د خط په اساس موجود وي لکه څنګه چې په بیع کې دی.[6]

**دریم مبحث: فقهي قواعد په فصل د شرائطو د انعقاد دبیعې کې چې متعلق دی د معقود علیه پورې، په دیکې شپږ مطلبه دي.**

**لومړی مطلب : د (الضرورات تبیح المحظورات ) قاعدې زده کړه.**

ضرورتونه منع شوي څیزونه روا کوي.

دا قاعده ما د امام کاساني رحمه الله له دې عبارت څخه اخیستې ده: ( ونجس العین لا یباح الانتفاع به شرعا الا في حالة الضرورة)[7]

د قاعدې نور الفاظ:

(۱)الضرورات تنقل المحظور الى حال مباح.[8]

(۲) محال الاضطرار مغتفرة فی الشرع.[1]

---

[1]: ابن قیم ، اعلام الموقعین ج۲ص۱۴۴
[2]: بدائع الصنائع ج۵ص۱۳۸
[3]: بدائع الصنائع ج۶ص۳۷
[4]: بدائع الصنائع ج۲ص۲۳۱
[5]: بدائع الصنائع ج۳ص۸۹
[6]: بدائع الصنائع: ج۵ص۱۳۸
[7]: بدائع الصنائع ج۵ص۱۴۳
[8]: ابن عبد البر، أبو عمر یوسف بن عبد الله بن محمد، التمهید لما في الموطأ من المعاني والأسانید، خپروونکي،مؤسسة القرطبة،ج ۳ ص۱۵

(۳) يجوز فی الضرورت ما لا يجوز فی غيرها. [2]

**د مفرداتو څیړنه:**

الضرورات: الضرورات دا جمع ده الضرورة او دا مشتق دی (ضرر) نه او دا اسم دی د مصدر چې الاضطرار دی په معنی د محتاج کيدل يوڅيز ته، پناه وړل يو ځيز ته ويلکيږي: اضطره الی کذا ای احوجه اليه. [3] نو الضرورة په معنی د الاحتياج.[4]

ابن فارس وايي: الضاد والراء دري اصله لري ا- خلاف النفع ۲- اجتماع الشیء ۳- القوة.[5]

اصطلاحا: فقهاء د ضرورت مختلف تعريفو نه کړي چې له هغې څخه يوڅلور تعريفه يې ذکر کوو.
۱ ـ ( النازل مما لا مدفع لها ).[6] هغه را پيخه شوې حادثه چې خلاصې ور څخه نه وي.
۲ـ (خوف الضرر علی نفسه او اعضائه بترک الاکل).[7] ويره د ضرر په نفس يا په اعضاء په سبب پرينبودلو د خوراک..
۳ـ ( بلوغ الإنسان حدا ان لم يتناول الممنوع هلک او قارب و هذا يبيح تناول الحرام)[8]
رسيدل د انسان داسې حد ته که چيرته حرام ونکړي نو هلاکيږي او يا هلاکت ته نزدې کيږي، داسې حالت؛ تناول د حرامو مباح کوي.
۴ـ (العذر الذي يجوز بسببه اجراء الشیء الممنوع)[9] هغه غذر چې د هغې په سبب ارتکاب د ممنوع جايز کيږي . فقهاء (الضرورة) او( اضطرار ) په يوه معنی کې کاروي.
تبيح : تبيح صيغه د مضارع ده د (الاباحة) څخه اخيستل شوې او الاباحه د (بوح) څخه ماخوذ ده چې په معنی د (ظهور الشیء) ظاهريدل د يو ځيز. او مباح خلاف د محظور(ممنوع) دی.[10]
اباحت په اصطلاح کې: ( الاذ ن باتيان الفعل حسب مشية الفاعل فی حدود الإذن)[11] ژباړه: اجازت په کولو د يو کار په خوښه د فاعل په حدودو د اذن کې.
مباح په اصطلاح کې: (ما ليس لفعله ثواب ولا لترکه عقاب)[12] مباح هغه ځيز دی چې په کولو کې ثواب نشته او نه کولو کې يې عذاب.
او هدف د اباحت او مباح څخه په قاعده کې هغه عمل دی چې په هغې کې مؤاخذه نه وي.[13]

---

1: الشاطبي، إبراهيم بن موسی بن محمد اللخمي الغرناطي، الموافقات، خپروونکي، دار ابن عفان د جاپ کنه ۱کال ۱۴۱۷ج ۱ ص ۱۱۵
2: الشافعي، ابو عبدالله، محمد بن ادريس، الام ، خپروونکي، دارالمعرفة ، د چاپ ځای بيروت، دچاپ کال۱۳۹۳ج۴ص۱۶۸
3: ابن منظور، لسان العرب ج۴ص۴۸۲
4: الکفومي، کتاب الکليات، ج۱ص۹۱۰
5: معجم مقاييس اللغة ص۵۵۰
6: البرکتي، التعريفات الفقهيه، ص۲۱۷
7: الجصاص، ابوبکر،احمد بن علي الرازي، احکام القرآن، خپروونکي، احياء التراث العربي، بيروت، دچاپ کال ۱۴۰۵ج ۱ ص۱۵۹
8: الزرکشي، المنثور فی القواعد ج۱ص۱۱۵
9: علي حيدر، دررالحکام شرح مجلة الاحکام ج۱ص۴۶
10: لسان العرب، ج۲ص۴۱۶ماده بوح
11: موسوعه الفقهيه الکويتيه ج۱ص۱۲۷
12: البرکتي، التعريفات الفقهيه ص۲۷۱ حرف الميم
13: وکتل شي: دررالحکام شرح مجلة الاحکام ج۱ص۳۳

المحظورات: جمع د محظورة د حظر څخه اخيستل شوې . ابن فارس وايي: (حاء ، ظاء، او راء دا يو اصل دی په معنی د منعې .[1] المحظور معنی حرام ، ممنوع [2]، الله تعالی فرمائي: ( وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا)[3] ژباړه: او نه دي ورکول د رب ستا (په دنيا کې) منع کړی شوي (له هيچا نه)

**دقاعدې معنی:**

د قاعدې مختلفو الفاظو څخه په واضحه توګه معلوميږي ( چې ضرورت نقل وي حکم لره د حالت د ممنوعيت څخه اباحت ته او او خارجوي حکم لره د عامو احکامو د چوکاټ څخه او ګرزوي هغه لره عفوه شوې په مقتضی د ضرورت).[4] يعنې شارع چې انسان يې منع کړې وي د يو څيز څخه او انسان هغه څيز ته محتاج شي پس د دغه ضرورت په اساس دا حرام څيز مباح ګرزي بلکې کله درجې د وجوب او لزوم ته رسيږي.[5]

د قاعدې دليل:

دا قاعده اخيستل شوې ده د هغه استثناءاتو د قرآن کريم څخه چې په هغې کې الله تعالی ؛ حالت د ضرورت يې مستثنی کړې د عادي حالاتو څخه مثلا:

١ـ الله تعالی فرمائي:(وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اليهِ )[6] ژباړه: حال داچې په تحقيق سره واضحه کړې دی (الله) تاسې ته هغه چې حرام کړي پر تاسې مګر هغه محرمات چې اړ (محتاج) کړی شوئ تاسی (خوراک د)هغو ته(د هغې خوراک تاسو ته روا دی)

٢ـ الله تعالی فرمائي:( فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ) [7] ژباړه:

نو هغه حوک چې اړ (ضرورت مند) شي ( د دې حرامو خوړلو ته) حال داچې نه ظلم کوونکې او نه تجاوز کوونی وي ( له قدر د کفايت) نو نشته ګناه په ده باندې.

**د استدلال وجه:**

امام کاساني رحمه الله فرمائي : ( استثناء له تحريم څخه اباحت دی) [8] او الله عز و جل په دې اياتونو کې حالت د ضرورت يا اضطرار يې د محرماتو څخه مستثنی کړې ، دا دلالت په اباحت کوي او همدا د قاعدې مطلب او مقصد دې.

٣ـ سنت :( عن سعد بن زيد قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول من قتل دون ماله فهو شهيد ومن قتل دون دينه فهو شهيد ومن قتل دون دمه فهو شهيد ومن قتل دون أهله فهو شهيد )[9] ژباړه:سعد بن زيد رضی الله عنه فرمائي : چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې ويل يې: څوک

---

[1]: معجم مقاييس اللغة ج٢ص٨٠ماده حظر
[2]: المنجد عربي به فارسي ج١ص٣٠١
[3]: د الاسراء سورت ٢٠ ايت
[4]: الندوي، دکتور علي احمد، موسوعة القواعد والضوابط الفقهية ، خپروونکې، الرسالة ، بيروت، د چاپ کال ١٤١٩ د چاپ ګڼه٢ ج١ص١٣٨
[5]: الصقعبي، خالد بن إبراهيم، شرح منظومة القواعد الفقهية للسعدي ج١ص٣٥
[6]: د الانعام سورت ١١٩ايت
[7]: د بقرې سورت ١٧٣ايت
[8]: بدائع الصنائع ج٧ص١٧٦
[9]: دا حديث ابوداد په خپل سنن کتاب الجهاد باب قتال اللصوص ج٤ص٣٩١ شماره ٤٧٧٤ مع تعليق شيخ الباني او هغه ورته صحيح ويلي دي. امام ترمذي په کتاب الديات باب من قتل دون ماله فهو شهيد ج٤ص٣٠ شماره ١٤٢١ امام ترمذي ورته حسن او صحيح ويلي.

چې د خپل مال مقابل کې قتل شي هغه شهيد دی، څوک چې د خپل دين مقابل کې قتل شي هغه شهيد دی، او څوک چې د خپل ويني مقابل کې قتل شي هغه شهيد دی ، او څوک چې دخپل اهل مقابل قتل شي هغه شهيد دی.

د استدلال وجه:

دا حديث دليل دی په جواز د دفاع د مذکوره امورو څخه ځکه چې نبي عليه السلام دفاع کوونکي ته شهيد ويلي ، نو دا خبره دلالت کوي په خبره چې دفاع کوونکي ته قتل او قتال جايز دی.[1]

۴ـ ابن تيمية[2] رحمه الله فرمائي: ( حرام شوې لباس او ګاڼه لکه ذهب او حرير په حق د نارينه و کې، او په تحقيق سره بيان شوي په سنتو کې اباحت د دې څيزونو په وخت د ضرورت کې لکه : جوړول د پزې د ذهب څخه ، تړل د غاښونو په ذهب ، او لکه رخصت لپاره د ذبير او عبدالحمن بن عوف رضی الله عنهما په اغوستاو د جامې وريښمو له وجې د (حکه) نه ـ دا يو ډول د خارخ مرض دی ـ ، نو دغه زيات اصول دلالت کوي په اباحت د ممنوعاتو په وخت د احتياج او افتقار کې.[3])

**فائده:** امام کاساني رحمه الله د اکراه په بحث کې د حسي تصرفاتو احکام او انواع يې بيان کړي چې دلته يې خلاصه بيانوو ، ان شاء الله د فائدې نه به خالينه وي.

حسي تصرفاتو پورې دوه قسمه احکام متعلق کيږي يو اخروي او بل دنيوي ، هغه حسي تصرفات چې په هغې کې اکراه يا اضطرار واقع شوې د اخروي احکامو له پلوه په درې ډوله دي .۱ـ مباح ۲ـ مرخص ۳ـ حرام.

۱ـ مباح: لکه خوړل د مردارې، ويني ، غوښه د خنزير، څکل د شرابو په وخت د اکراه تامه کې : چې په وعيد د تلف ( دنفس سره وي يا د تلف اعضاء) ځکه چې داڅيزونه مباح ګرزي په وخت د اضطرار کې، الله تعالی فرمائي: ( الا ما اضطررتم)ـ ای دعتکم المجاعة الی اکلهاـ او استثناء له تحريم څخه اباحت دی، نو کله چې اضطرار متحقق شي بيا ارتکاب د محرماتو مباح دی، بلکې په داسی حالاتو کې ځان ساتل د ارتکاب د محرماتو څخه مباح نه دي او که څوک ځان وساتي هغه به مؤاخذه کيږي ، ځکه چې دا په معنی د ځان غورځول دي هلاکت ته ؛ او دا په شريعت کې ممنوع دي.

۲ـ مرخص: لکه اجراء د کليمې د کفر په ژبه باندې سره د اطمينان د قلب ؛ کله چې اکراه تامه وي، دا نوع تصرف سره د ثبوت رخصته في نفسه حرام دې ، او د رخصت اثر يې په تغير د حکم دفعل کې دی چې هغه مؤاخذه ده نه په تغير د صفت د فعل چې هغه حراموالي دی، نو کلمه دکفر هيڅ کله احتمال د اباحت نه لري ؛ حراموالي يې دائمي دی لکن مؤاخذه يې ساقطيږي د اکراه له وجينه،

---

[1]: الزحيلي، وهبة بن مصطفى، نظرية الضرورة، خپروونکې، مؤسسة الرسالة ، د چاپ ځای،بيروت، د چاپ کال ۱۴۰۵ ص۶۴

[2]: تقی الدين ابو العباس احمد بن عبدالحليم بن عبد السلام الحراني الدمشقي په کال ۶۶۱ د ترکيې په حرّان کې ځيګيدلی، بيا يې د هغه ځای څخه سره د خپلې کورنې د مشق ته تللې او هلته يې د خپل والد او د دمشق د مشايخو څخه زدکړه کړېې او دخپلې زمانې شيخ الاسلام او مفکر وو چې دفلسفې ډيرسخت نقّاد وو، د قوي حافظې خاوند وو، دې يو داعي، صالح، مصلح، په عربي لغت او مختلفو علومو کې لوې لاس درلود چې تصنيفات يې په اسلامي علومو کې تقريبا ۳۰۰ سوو ته رسيږي ، د هغې له جملې څخه : اقتضاء الصراط المستقيم، السياسة الشرعية، الصارم المسلول، مجموعة الفتاوی، بل آخره په کال ۷۲۸ د قلعه د مشق بندي خانه کې وفات شوې. الموسوعة العربية العالمية الأعلام للزرکلي ج ۱ ص ۱۴۴

۱: ابن تيمية، تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم، مجموع الفتاوی، خپروونکې، دارالوفاء، د چاپ ګڼه ۳ د چاپ کال۱۴۲۶ ج۲۱ص۵۶۳

په دا ډول تصرفاتو کې امتناع افضل ده حتی که قتل شو ثواب ورته ور کول کیږي، د همدې قبیل څخه دی د حکم شاتم الرسول صلی الله علیه وسلم، او همدا حکم د شتم المسلم (مسلمان ته د کنځلو حکم) هم دی.

۳ـ حرام: چې نه مباح دی او نه مرخص : لکه قتل د مسلمان په ناحقه برابره خبره ده چې اکراه تامه وي او که ناقصه(ناقصه لکه اکراه په ضرب، حبس) د همدې قبیل څخه دی قطع کول د اعضاؤ د یو مسلمان ، ضرب مهلِک ، او ضرب د والدینو، په دا ډول تصرفاتو کې ؛ رخصت او اباحت نشته ، او که چا اقدام وکړو نو ګناهګار دی.[1]

په قاعده کې مراد د ضرورت او اضطرار څخه اول او دویم ډول تصرفات دي نه دریم ډول.

**د ضرورت ضوابط:**

فقهاء د اسلامي اصولو په رڼا کې د ضرورت یا اضطرار لپاره څه شرائط یا ضوابط بیان کړي چې خلاصه یې په لاندې ډول ده :

۱ـ ضرورت باید قائمه وي نه منتظره : په دې معنی چې په واقعت کې باید خوف د تلف یا هلاکت د نفس یا د مال حاصل وي او دا د تجربې په اساس په غالب ګمان سره کیږي. یعني په یقین او یا غالب ګمان سره انسان ته ثابته شي چې یو د ضروریاتو خمسه و څخه ( چې دین،نفس، عقل ،عرض،اومال دی)د خطر سره مواجه کیږي، نو بیا ورته عمل په استثنائي احکامو جایز دی، لپاره د دفعې د ضرر؛ او که چیرته ضروریات خمسه په خطر کې نه وو نو بیا مخالفت د اصلي حکم څخه چې تحریم یا ایجاب دی جایز نه دی.

۲ـ لپاره د دفعې دضرر بغیر د ارتکاب د محظور نه بله کومه لاره نه وي او که بله کومه طریقه وه بیا ارتکاب د محظور او ترک د واجب جایز نه دی.

۳ـ دا ضرورت باید ملجئ وي په داسې ډول چې په هغې کې خوف د تلف دنفس او یا تلف د اعضاء وي.

۴ـ مجبور کس باید د اسلام د مقدس دین د اساساتو څخه باید مخالفت ونکړي په همدې اساس قتل او زنا کفر او غصب جایز نه دی فی ای حالٍ.

۵ـ په حالت د ضرورت کې باید د ضرورت په اندازه استفاده وکړي نه زیاد له ضرورت څخه.

۶ـ ارتکاب د حرامو متعین وي: یعني د محظور څخه د تداوي لپاره په دې شرط استفاده جایزه ده چې مسلمان او حاذق طبیب توصیه وکړي او غیر د حرامو نه بل کوم علاج او تدبیر وجود ونه لري.

۷ـ په حالت د ضرورت عامه کې که د مسلمانانو بادشاه ته که دا خبره متحققه شي؛ چې که په مقتضی د ضرورت عمل ونکړې شي نو لوې ظلم، ښکاره ضرر، حرج شدید، او یا داچې اسلامي دولت په له

[1]: وکتل شي: بدائع الصنائع ج۷ص۱۷۶

خطر سره مخامخ شي، نو په داسې حالاتو کې بعض فقهاء بادشاه لپاره په مقتضی د ضرورت عمل کولو اجازه کړې ده.[1]

۸ـ شوافعو علیهم الرحمة یو بل شرط هم زیات کړې هغه داچې ضرورت باید دمحظور نه کم نه وي، نو که چیرې میت نبي وي بیا جایز نه دی مضطر لپاره اکل د هغه ، ځکه چې حرمت د نبي لوې دی په نظر د شرع کې له حرمت روح د مضطر څخه.

ابن نجیم رحمه الله وایې چې زمونږ اصحابو داسې مسائل بیان کړي چې له هغې څخه دا شرط معلومیږي لکه دا مسئله: که چا باندې اکراه وشوه په قتل د غیر دا ورته جایز نه دی ځکه چې فساد د قتل د مکرَه کم دی د قتل د غیر څخه . همدا رنګه که میت بغیر د کفنه دفن کړې شو بیا به لپاره د تکفین قبر یې نه لوڅوي و ، ځکه چې فساد د هتک د حرمت د هغه زیات دې د عدم تکفین څخه.[2]

**تطبیقي بیلګې:**

۱ـ زمونږ په نزد د سپي (کلب) بیعه او شراء جایز ده هغه کلب معَلَّم وي او که غیر معَلَّم ، صرف یو روایت د امام ابو یوسف رحمه الله څخه نقل شوی چې کلب عقور( داړونکي) کلب خرڅول جایز نه دی.

او امام شافعي رحمه الله په نزد د سپي پلورل جایز نه دي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:( ومن السحت مهرالبغِی وثمن الکلب)[3] (او له حرامو څخه دي : د زنا کارې ښځې د زنا بدله او د سپي پیسې) که چیرې بیعه یې جایز وی نو بیا به یې پیسې حرام نه وی؛ او بل داچې کلب نجس العین دی نو پلورل یې جایز نه دي لکه خنزیر.

زمونږ دلیل دادی چې سپی مال دی لکه باز او چرخ ځکه چې دا منتفع به دی حقیقتا او مباح الانتفاع دی شرعا علی الاطلاق نو په دی اساس دا مال شو او دیکې خو شک نشته چې دا منتفع به دی حقیقتا او دلیل په دې چې دا مباح الانتفاع دی شرعا علی الاطلاق ، ځکه چې انتفاع اخیستل په سپي باندې لپاره د ښکار او حراست شرعا په مطلق ډول په ټولو احوالو کې مباح ده ، نو شو محل د بیعې،

او حدیث کې چې منع راغلې هغه احتمال د دې لري چې په پیل د اسلام کې دا حکم وو ځکه چې د خلکو د سپو ساتلو سره یې مینه وه ، د سپیو د وژلو امر وشو او له پلورلو یی منع شول لپاره د تاکید په منع کې او دا دلیل چې سپی نجس العین دی دا خبره ممنوع ده ځکه چې دا خو مباح انتفاع دی شرعا په مطلق ډول لپاره د اصطیاد او حراست او نجس العین نو انتفاع بغیر د ضرورت نه جایز نه وي لکه خنزیر.[4]

---

[1]: وکتل شي ،الزحیلي. نظریة الضرورة ص۶۹ـ۷۳
[2]: ابن نجیم الاشباه والنظائر ص۷۳
[3]: دا حدیث امام بخاري پ خپل صحیح ، کتاب اللباس باب من لعن المصور ج۷ص۱۶۹ شماره ۵۹۶۲ او امام مسلم په کتاب المساقات باب تحریم ثمن الکلب ج۳ص۱۱۹۹ شماره ۱۵۶۸ کي روایت کړی.
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۵ص۱۴۳

۲ـ د ضرورت په اساس جایز دی خوړل د مردارۍ (میتة) په وخت د سختې ولګې کې ، او تیرول د بندې شوې مرۍ په ستوني کې په شرابو، او تلفظ په کفر په وخت د اکراه کې ، او دفعه د صائل ( حمله کوونکي ) اګر که منجر قتل د هغې ته شي.[1]

۳ـ نظر کول د بل چا عورت ته حرام دی ، لکن پروا نه کوي په وخت دضرورت کې ؛ لکه نظر کول د قابلې موضع د فرج ته په وخت د ولادت کې ، ځکه چې قابله باید ماشوم  ته متوجه وسي کنه ویره د ضایع کیدو د ماشوم ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم جایز ګرزولی شهادت قابلې نو دا دلیل د اباحت نظر شو.[2]

۴ـ کله چې کشتۍ په غرقیدو شي ؛ نو جایز دی غورځول د امتعه و په بحر کې بلکې واجب دی لپاره د نجات د سورلۍ که ویره د هلاکت وه ، او واجب دی غورځول د بې روحه څیزونو لپاره د نجات د ذي روحو، او جایز نه دی غورځول د دوابو( حیواناتو) کله چې ممکن وي نجات بغیر د القاء د حیواناتو ، او که پیښ شو ضرورت  د حیواناتو غورځولو ته لپاره د نجات  انسانانو نو ودې غورځول شي ؛ خو د غلامانو غورځول په هیڅ صورت کې جایز نه دی.[3]

**دویم مطلب: ( الکفار مخاطبون بشرائع هی الحرمات وهو الصحیح)[4] قاعدې زده کړه.**
کفار مخاطب دې په هغه شرعي احکامو چې هغه محرمات دي او همدا صحیح قول دی.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ الکفار مخاطبون بالحرمات.[5]

۲ـ الکافر من اهل ثبوت الحرمة وبقائها في حقه.[6]

۳ـ الکفار مخاطبون بشرائع هي الحرمات ان لم یکونوا مخاطبین بشرائع هي العبادات.[7]

**د مفرداتو څیرنه:**

المخاطبون: دا صیغه د اسم مفعول ده د خاطب یخاطب مخاطبة وخطابًا څخه ، او خطاب په لغت کې به معنا د مراجعه د کلام په منځ د متکلم او سامع کې ویل کیږي :( خاطبه بالکلام) یعني یو بل سره یې خبرې وکړې.[8]

خطاب په اصطلاح کې: ( تو جیه الکلام نحوالغیر للافهام)[1] ژباړه: متوجه کول د خبرو بلچا ته لپاره د پوه کولو د هغه.

---

[1]: ابن نجیم الاشباه والنظائر ص۷۳
[2]: السرخسي، المبسوط ج۱۰ص۲۶۸
[3]: موسوعة الفقهیة الکویتیة ج ۲۸ ص۲۰۴
[4]:الکاساني ، بدائع الصنائع ج۵ص۱۴۳
[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۷ص۱۳۲
[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۳ص۱۷۵
[7]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۳ص۱۹۳
[8]: ابن فارس، معجم مقاییس اللغة، ج۲ ص ۹۹ ماده خطب. ابن منظور، لسان العرب، ج۱ص ۳۴۸ ماده خطب

**الشرائع:** جمع د (الشريعة) ده په معنا د لارې، قانون، د الله قانون، دين، ملت، منهاج.[2] او د روانو اوبو ځاى.[3]

الشريعة په اصطلاح کې: ( ما شرع الله لعباده من الاحكام التي جاءبها نبي من الانبياء عليهم الصلوة والسلام)[4] ژباړه: هغه څه چې قانون ګرځولی الله تعالی د احکامو څخه لپاره د خپلو بندګانو ؛ هغه چې راتک کړی په هغه سره يو نبي له انبياؤ څخه .

په قاعده کې هغه شرائع يا احکام مراد دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه سره راتک کړی.

**فائده:** د شرائع يا احکامو ډولونه: دا په دوه ډوله دي:

۱ـ که دا شرائع متعلق وي د کيفيت يا څرنګوالید عمل پورې دیته بیا فرعي او عملي احکام ويل کيږي؛ او دې لپاره فقه تدوين شوې ده ،۲ـ او که متعلق وي ( بکيفية الاعتقاد) څرنګوالید اعتقاد پورې دیته بیا اصلي او اعتقادي احکام ويل کيږی : او دې لپاره علم کلام مدون شوی دی، او کله شرع يا شرائع لفظ مخصوص کيږي د عملي احکامو سره نوځکه ځيني علماء( الشرائع) داسې تعريف کړی دی: العلم المتعلق بالاحكام الفرعية يسمى علم الشرائع والاحكام وبالاحكام الأصلية يسمى علم التوحيد والصفات)[5] ژباړه: کوم علم چې متعلق وي فرعي احکامو سره هغه ته علم الشرائع والاحکام ويل کيږی؛ او کوم چې د اصلي احکامو سره تعلق لري هغې ته علم التوحيد والصفات ويل کيږي.

او په قاعده کې د شرائعو څخه مراد همدغه عملي دي.

**المحرمات:** جمع ده (المحرمة) ده د ( الحرام) څخه اخيستل شوې ده ؛ او الحرام مصدر دی حرُم نه ابن فارس رحمه الله وايي: الحاء والراء والميم ؛ اصل واحد دی په معنا د منع سره او ( المحرم) په معنا د ( الممنوع) منع کړی شوی.[6] الله تبارک وتعالى فرمائي: (وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ... )[7] ژباړه: او حرام ( منع ) کړي وه مونږ پردغه ( موسى تی رودل د)دايګانو له پخوا(د بيرته ورتلو مور خبلې ته).

**په اصطلاح کې:** ( الحكم بطلب ترك الفعل ينتهض فعله سببا للعقاب ويسمى تحريما)[8] ژباړه: حکم کول په طلب د پريخودلو د يو فعل چې ګرځي کول د هغه سبب د عذاب او دیته تحريم وايی.

يا ( هو ما يذم فاعله شرعا)[9] ژباړه: هغه کار چې شرعا د هغې کوونکی بد ګڼل کيږي.

---

[1]: المناوي، التوقيف على مهمات التعاريف، ج۱ص۳۱۶ .
[2]: ابن منظور ، لسان العرب، ج۴ ص ۲۰۱۴
[3]: ابن اثير، النهايه فى غريب الحديث والاثر ص۴۷۴
[4]: التهانوي. كشاف اصطلاحات الفنون، ج۲ ص ۵۰۰
[5]: التهانوي. كشاف اصطلاحات الفنون، ج۱ ص ۱۰۱۹
[6]: ابن فارس، معجم مقاييس اللغة ج۲ ص۴۵ ماده حرم
[7]: د قصص د سورت ۱۲ ايت
[8]: التهانوي، كشاف اصطلاحات الفنون، ج۱ ص۶۶۰
[9]: الرازي محمد بن عمر بن الحسين. المحصول فى علم الاصول، خپروونکی جامعة الإمام محمد بن سعود الإسلامية – الرياض لومړی چاپ کال ۱۴۰۰ه ج۱ص۱۲۷

**د قاعدې معنی:**

قاعده دا افاده کوي ؛ کله چې وارد شي د شارع له طرفه يو عام خطاب چې دلالت کوي په يو شرعي او تکليفي حکم چې تقاضا د تحريم کوي ، نو کفار هم په عموم د خطاب کې داخل دي ، او دوې مکلف دي په هغه حکم لکه څنګه چې مسلمانان مکلف دي .

سره له دې چې علماء اجماع کړې ده په مخاطب واليد کفارو په ايمان ، عقوبات لکه حدود او قصاص بغير د حد شرب څخه[1] ، او په معاملاتو امام سرخسي[2] رحمه الله فرمائي: خلاف نشته په دې کې چې کفار مخاطب دي په ايمان باندې ځکه چې نبي عليه الصلوة والسلام د ټولو خلکو لپاره را ليګل شوی دی الله تبارک وتعالی فرمايي: (قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ اليكُمْ جَمِيعًا)[3] ژباړه: و وايه ( ای محمد چه) ای خلکو بيشکه زه رسول د الله يم تاسې ټولو ته (نه بعضو ته لکه نور انبياء).

او نشته خلاف په دې کې چې کفار مخاطب دي په مشروع عقوباتو باندې، ځکه چې دا عقوبات قائميږي په اهل ذمه باندې کله چې اسباب يې موجود شي ځکه چې دا عقوبات جزاګانې او زجرونه دي او او کفار ډير مناسب دي په عذاب او زجر له مسلمان څخه . او خلاف نشته په دې کې چې خطاب د معاملاتو شامل دی کفارو ته هم ځکه چې مطلوب د معاملاتو څخه دنيوي امور دي دوې ډير وړ دي د دې امورو ځکه چې دوې دنيا په آخرت غوره کړې ده ، او نشته خلاف په دې کې چې خطاب د شرائعو شامل دی دويته هم په حکم د مؤاخذه په آخرت کې.[4]

ايا کفار په فروعو د شريعت مخاطب دي او کنه ؟ په دې کې درې قوله مشهور دي :

۱ـ مخاطب دي. ۲ـ مخاطب نه دي. مخاطب دي په نواهيو نه په اوامرو.[5]

اول قول: چې کفار په فروعو د شريعت مخاطب دي دا قول د جمهورو اصوليينو دی .
دويم قول: چې کفار په فروعو د شريعت مطلقًا مخاطب نه دي دا قول د جمهورو احنافو ، او يو قول د امام شافعي رحمه الله او يو روايت د امام محمد رحمه الله دی.
دريم قول: چې کفار مخاطب نه دي په اوامرو او مخاطب دي په نواهيو دا قول د بعض احنافو دی چې امام کاساني رحمه الله همدا قول غوره کړی دی لکه څنګه چې د قاعدې د لفظ څخه معلوميږي .[6]

---

[1]: ابن عابدين، ردالمحتار علی درالمختار، ج۴ ص ۱۲۸

[2]: دا محمد بن احمد بن ابی سهل الرخسي چې شمس الائمة لقب دی فقهي، او اصولي عالم وو په فقه کې لويې مرتبې ته رسيدلې وو تر دې چې ابن کمال باشا په طبقه د مجتهدين فی المسائل کې شمار کړی ډير تاليفات لري چې د هغې له جملې څخه( المبسوط) په حنفي فقه کې او ( اصول السرخسی) په اصول فقه کې او ( شرح سيرالکبيرلامام محمد الشيباني)او به کال ۴۹۰ه وفات شوی دی . تاج التراجم في طبقات الحنفية ج۱ص۱۸ .الاعلام للزرکلي. ج۱ص۲۲۴. معجم المؤلفين، ج۸ ص۲۶۸

[3]: د الاعراف سورت ۱۵۸ايت

[4]: السرخسي، اصول السرخسي، ج۱ ص ۷۴

[5]: القرافي، الفروق، ج۱ ص۳۸۲

[6]: د زياد تفصيل او بيان د ادله د دې موضوع په اړه وکتل شي: اصول السرخسي ج۱ص۷۴. الفروق للقرافي ج۱ ص۳۸۲. قواطع الادله ج۱ ص ۱۰۶

**د قاعدې دليل:**

امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره استدلال کړی په لاندې دلائلو:

۱ـ **کتاب الله** : په دې قول د الله عز و جل :( وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ )[1] ژباړه: او په سبب د اخيستلو د دوی ( له خلکو نه سود) حال دا چې په تحقيق منع کړی شوي وو دوی له دغه سوده او په سبب د خوړلو د دوی مالونه د خلقو په ناحقه سره.

**د استدلال وجه**: الله تبارک و تعالی د کفارو مذمت بيان کړی په سبب د سودخوری د هغوی، پس دلالت په دې کوي چې کفار منع کړی شوي دي سود څخه په حال د کفر کې ، او مستحق د عذاب دي.[2]

۲ـ **سنت**: (رُوِىَ ان رسول الله صلى الله عليه وسلم کتب الى مجوس هَجَرَ اما ان تذروا الربا او تأذنوا بحرب من الله ورسوله)[3] ژباړه: روايت شوی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجر مجوسو ته وليکل يابه سود پرېږدي او يا به د الله او د هغه د رسول جنګ ته تيار شئ.

**د استدلال وجه:** امام کاساني رحمه اللله فرمائي: دا قول د رسول الله صلى الله عليه: ( اما ان تذروا الربا او تأذنوا بحرب من الله ورسوله) په نهايت وعيد کې دی نو پس دلالت کوي په نهايت حرمت باندې.[4] نو ثابته شوه چې کفار مخاطب دي په محرماتو.

۳ـ **معقول:** کفار مخاطب دي په نواهيو ځکه چې منع کيدل د محرماتو څخه ممکن دي په حالت د کفر کې ځکه چې په ترک د محرماتو کې نيت د تقرب الى الله ته ضرورت نشته بلکې ځان بندول د محرماتو څخه کفايت کوي ، په خلاف د عباداتو او قرباتو ځکه چې په هغې کې نيت د تقرب الى الله ته شرط دی.[5]

او بل دا چې مکلف کول د کفارو په عباداتو ممکن الامتثال نه دي ځکه چې محال دی اداء د عبادت په حالت د کفر کې ځکه چې کفر مانع د صحت د عبادت دی، او منع ده اداء د هغې وروسته د اسلام راوړو نه ځکه چې اسلام مسقِط د هغې دی په اجماع سره، نو هر هغه شي چې ممکن نه وي امتثال د هغې ؛ نو مکلف کول په هغه سره دا تکليف د مالا يطاق دی او دا ناجائز دي عقلا او شرعا.[6]

**تطبيقي بېلګې:**

۱ـ بيع د خنزير نه صحيح کيږي د مسلمان طرفه ځکه چې دا مال نه دی په حق د مسلمان کې ، او اهل ذمه به نه منع کيږي د بيع خمر او خنزير څخه ، بناء په قول د بعضو مشائخو: چې دا مباح الانتفاع دي

[1]: د النساء سورت ۱۶۱ايت
[2]: الجصاص، احکام القرآن،ج۴ ص۸۹
[3]: دا حديث امام کاساني په خپل کتاب بدائع الصنائع.ج۲ص ۳۱۲. او ج۵ ص ۱۹۳ کې ذکر کړی خو ما يې اصلي مصدر پيداء نشو کړاي.
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج۳ص۱۹۳
[5]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج۵ص۱۴۳
[6]: الکاساني. بدائع الصنائع،ج۲ص۸۷

دوې ته شرعًا لکه څنګه چې مونږ ته سرکه او ګډ مباح الانتفاع دی نو دا مال دی د دوې په حق کې نو بيع يې جايز ده دوې ته لکن بعض مشائخ فرمائي: چې حرمت د خمر او خنزير ثابت دی په طور د عموم په حق د مسلمان او کافر دواړو کې ځکه چې کفار مخاطب دي په هغه شرائعو چې هغه محرمات دي او دا صحيح قول دی ، نو حرمت يې ثابت دی په حق د کفارو کې ، لکن هغوې به نه منع کيږي ځکه چې هغوې عقيده د حرمت نه لري او مونږ ته امر شوی چې هغوي پريږدو په کوم دين چې هغوي ژوند کوي.[1]

۲ـ په باره د ربا په دارالحرب کې امام ابو يوسف رحمه الله فرمائي: د مسلمان لپاره هغه څه په دارالحرب کې جائز دي چې کوم په دار الاسلام کې جاېز دي ځکه چې حرمت د ربا په حق د عاقدَينو کې( چې يو مسلمان او بل حربي کافر) ثابت دی ، په حق د مسلمان کې خو ښکاره خبره دا ده او په حق د کافر کې هغه ځکه چې کفار مخاطب دي په حرماتو ، نو ځکه حرام دی سود کول د ذمي سره په دارالاسلام کې.[2]

۳ـ په نزد امام شافعي رحمه الله د ظهار لپاره اسلام د ظهار کوونکي شرط نه دی ځکه چې کافر اهل د ظهار دی ځکه چې حکم د ظهار حرمت دی او کافر مخاطب دی په هغه شرائعو چې هغه حرمات دي.[3]

۴ـ اسلام د متبايعَينو شرط نه دی لپاره د جريان د ربا، نو جاري کيږي ربا په منځ د اهل ذمه او مسلمان ځکه چې حرمت د ربا ثابت دی په حق د هغوې کې ځکه چې کفار مخاطب دي په هغه شرائعو چې هغه حرمات دي.[4]

۵ـ که نکاح وکړه ذِمِي د ذِمِي يې سره په عدت د بل ذمي کې ، نو نکاح فاسده ده او جداوالی دې وکړی شي په منځ د دوې کې دا په قول د امام ابويوسف ، امام محمد، امام زفر، او امام شافعي رحمه الله، د دوې دقول وجه: اهل ذمه په سبب د قبلولو د ذِمِّي التزام کړي په ځان باندې زمونږد احکامو ؛ او زمونږ د مجمع عليها احکامو څخه يو هم فساد د نکاح د معتدې دی ځکه چې خطاب په تحريم د نکاح د معتدې په دې قول د الله تعالی کې: (وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ)[5] ژباړه: او مه کوئ قصد د ( تړلو) د غوټې د نکاح ( د دوې)تر هغه پورې چې ورسيږي ټاکلی ( مقرر) عدت انتها د نيټې خپلې ته.

دا خطاب عام دی او کفار مخاطب دي په حرماتو.[6]

۶ـ جائز نه دی مسلمان خاوند ته جبر کول په خپله کافره ښځې باندې په غسل کولو د جنابت، حيض، او نفاس ، ځکه چې غسل د باب د قرباتو څخه دی او کافره مخاطبه نه ده په قرباتو.[7]

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج۵ص۱۴۳
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج۷ص۱۳۲
[3]: الماوردي، الحاوي في فقه الشافعي ، ج۱۰ ص ۴۱۲.
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۹۳
[5]: د بقرې سورت ۲۳۵ ايت
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۲ ص۳۱۱
[7]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۲ ص۳۱۱

۷ـ واجب نه دی په کتابیه ښځې باندې حِداد ( ویرکول ـ ترک د زینت) په خپل خاوند باندې ځکه چې حِداد یو بدني عبادت دی ، او دا په کافرې باندې واجب نه دی لکه نور عبادات چې واجب نه دي په مثل د لمونځ، روژه، او داسې نور.[1]

**دریم مطلب: ( الشبهة ملحقة بالحقيقة في باب المحرمات احتياطا) 2 قاعدې زده کړه.**

شبه د حقیقت په شان ګڼل کیږي په باب د محرماتو کې له وجې د احتیاط نه.

**د قاعدې نور الفاظ:**

**١ـ** الشبهة تقوم مقام الحقيقة في موضع الاحتياط.[3]
٢ـ الشبهة في الحرمات كالحقيقة احتياطا.[4]
٣ـ الشبهة معتبرة كالحقيقة في أبواب الربا.[5]

**د مفرداتو څیړنه:**

**الشبهة:** په لغت کې په معنا د ( شبه الشئ الشئ) ای ماثله في الصفات، ژباړه: مشابه شو یو شی د بل شي سره یعني د هغې په مثل شو پهد صفاتو کې. عربان وایي: ( الامور المشتبهة ای المشكلة لشبه بعضها ببعض) [6] ژباړه: مشکل امورو ته امور مشتبه ویل کیږی لپاره ځکه چې له وجې د ورته والید ځیني د دې امورو د ځیني نور سره اشکال په کې راغلی وي. همدارنګه شبهه په لغت کې په معنا د التباس هم ده.[7]

**په اصطلاح کې:** امام کاساني رحمه الله داسې تعریف کړې: ( الشبهة اسم لما يشبه الثابت وليس بثابت)[8] ژباړه: شبه نوم دی د هغه څه چې مشابه وي د ثابت سره او په حقیقت کې ثابت نه وي.

**الحقيقة:** په لغت کې په وزن د فعيلة دی مأخوذ د ( حق الشئ) څخه په معنا د ثابت شو څیز یقینا ، او د معاني و د حق څخه ثبوت ، وجوب، وجود ، او هغه شی چې د هغې ستاینه په انسان لازمي وي ، خلاف د مجاز .[9]

**په اصطلاح کې:** (هو استعمال اللفظ في المعنى الذي وضعه الواضع)[10] ژباړه: استعمالول د لفظ په هغه معنا کې چې واضع د هغې لپاره وضع کړی.

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج٣ ص٢٠٩
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج ٥ ص ١٤٥
[3]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج ٣ ص ١٩٢
[4]: السيواسي، شرح فتح القدير، ج٣ ص ٢٣٨
[5]: السيواسي، شرح فتح القدير، ج٦ ص ٤٧٤
[6]: الازهري، تهذيب اللغة ج٢ ص ١٨٢
[7]: الفيومي. المصباح المنير، ج٣ ص ٢٢٠
[8]: : الكاساني، بدائع الصنائع، ج ٧ ص ٣٦
[9]: الزيات، المعجم الوسيط، ج١ ص١٨٨ . تاج العروس، ٢٥ ص١٧١
[10]: علي حيدر، دررالحكام شرح مجلة الاحكام، ج١ ص ٢٧

**الاحتیاط**: احتیاط په لغت کې مصدر دی د باب افتعال څخه احتاط یحتاط احتیاطا، په معنا د ځان ساتل، حفظ.[1] احتیاط په معنا د ځان ساتل د خطاء څخه او برهیزکول د خطاء څخه.[2]

**په اصطلاح کې**:۱ـ تعریف: ( حفظ النفس عن الوقوع في الماثم)[3] ژباړه: ساتل د خپل نفس د وقوع څخه په ګناه کې.

**۲ـ تعریف**: ( وظییفة شرعیة تحول دون مخالفة امرالشارع عند العجز عن معرفة حکمه)[4] ژباړه: احتیاط یو شرعي وظیفه ده چې حائل واقع کیږي په مقابل د مخالفت د امر د شارع په وخت د عدم د معرفت د حکم د شارع.

**د قاعدې معنی:** قاعده دا افاده کوي چې شبه معتبره او قائم مقام د حقیقت ګڼل کیږي په هغه مسائلو کې چې په احتیاط بناء وي ( لکه مسائل د محرماتو، دماءو، فروجو، ربا، نسب. عدت)[5] اوس که شبه قوي وي ، نو په وجوب او تحریم دواړو کې تأثیر کوي او که شبه ضعیفه وي بیا په جانب د تحریم کې تلثیر کوي په نسبت سره جانب د وجوب ته ، امام کاساني رحمه الله په دې اړه فرمائي: شبه د حقیقت په شان ده په باب د محرماتو کې احتیاطا. او علامه شاطبي[6] رحمه الله فرمائي: شریعت بناء شوی دی په احتیاط او په ځان ساتنه د هغه څیز څخه چې سبب د فساد ګرځي.[7]

العزبن عبدالسلام رحمه الله فرمائي: شریعت لپاره د دفع د فساد د مفسدو د کراهت او تحریم احتیاط کوي لکه څنګه چې احتیاط کوي په جلب د منافعو د ندب او وجوب.[8]

**فائده: د احتیاط ډولونه:**

احتیاط په دوه ډوله دی ۱ـ مندوب احتیاط، ۲ـ واجب احتیاط.

**مندوب احتیاط**: لکه وینځل د لاسونو درې ځله وروسته له خوب څخه، خروج د اختلاف د علماء نه، او ځان ساتل د مَفسَده موهومه څخه او دیته ورع هم ویل کیږي.

**واجب احتیاط**: کوم شئ چې وسیله وي لپاره د هغه حرامو چې حرمت یې متحقق وي ، په دې صورت کې احتیاط واجب دی، نو کله چې دائر شي مصلحت په منځ د ندب او وجوب کې نو احتیاط په حمل د

---

[1]: ابن منظور، لسان العرب، ج۴ ص ۳۸۳. الازهري، تهذیب اللغة ج۳ ص ۱۸۰
[2]: البرکتي، التعریفات الفقهیة ، ص ۱۰۵
[3]: التهانوي، کشاف اصطلاحات الفنون، ج۱ ص۱۰۹
[4]: الجرجانی، التعریفات، ص ۶۷
[5]: البورنو. الموسوعة القواعد الفقهیة، ج۱۱ص ۳۱۱
[6]: دا ابراهیم بن موسی بن محمد اللخمي دی، چې حافظ، او اصولي علم وو د مالکیه و د امامانو څخه دی ډیر تصنیفات لري چې مشهور یې دادي: الموافقات في اصول الفقه، المجالس شرح کتاب البیوع لصحیح البخاري، المقاصد الشافیة فی شرح خلاصة الکافیة، او کال ۷۹۰ه کې وفات شوی دی، الاعلام للزرکلي، ج۱ ص ۷۵.
[7]: الشاطبي، ابراهیم بن موسب، الموافقات،خبروونکی، دار ابن عفان، بیروت،لومړی چاپ کال ۱۴۱۷ه ج۶ص۳۹۵
[8] ابو محمد عزالدین عبدالعزیزبن عبدالسلام ، قواعدالاحکام في مصالح الانام، خپروونکی، دارالمعارف بیروت لومړی چاپ کال ۱۴۲۰ه ج۲ص۱۴

هغې په وجوب باندې دی، او که دائره شي یوه مفسده په منځ د کراهت او تحریم نو احتیاط په حمل د هغې دی په تحریم باندې.[1]

**د قاعدې دلیل:** استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره په دې حدیث شریف باندې:( الحلال بین والحرام بین بینهما امور مشتبهات فدع ما یریبك الی ما لا یریبك)[2] ژباړه: حلال ښکاره دي او حرام ښکاره دي او د دوې دواړو په منځ کې مشتبه امور دي ، نو پرېږه ده هغه څه چې تا په شک کې اچوي او وکړه هغه څه چې تا په شک نه اچوي.
**د استدلال وجه**: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د رِیبَة (شبهة) څخه منع وکړه نو مونږ پوه شو چې شبهه د حقیقت په شان ده په ځای د احتیاط کې .[3] او ابن قیم رحمه الله فرمائي: چې لارښوونه وکړه ده ته د پرېخودو د مشتبه څیزونو ، او عدول واضح او ښکاره څیزونو طرف ته.[4]

**تطبیقي بیلګې:**

۱ـ که خرڅ کړل یو ذمي په بل ذمي شراب یا خنزیر بیا دا دواړه او یا یو له دوې څخه مخکې له قبض څخه مسلمان شو ، نو بیع فسخ شوه ، ځکه چې په اسلام سره بیع د دې څیزونو حرامه شوه نو قبض او تسلیم هم حرام شو ځکه چې قبض یا تسلیم مشابه دی د انشاء د عقد سره او یا من وجه انشاء ده نو دا ملحق شو د حقیقي انشاء سره په باب د محرماتو کې احتیاطا.[5]
۲ـ که یو چا یو څه په نقده یا نسیه باندې خرڅ کړل او مشتري مخکې له اداء د ثمن څخه هغه یې قبض کړه ، نو جائز نه دی بایع ته چې واخلي همدا شی له مشتري څخه په کمو ثمنو د هغه ثمن څخه چې ده پرې خرڅ کړی وو ، ځکه چې بیع کې شبه د (ربا ) ده ځکه چې ثمن ثاني عوض د ثمن اول ګرځي ؛ نو د ثمن اول څخه څه اضافه پاتېږي بلاعوض هغه هم په عقد معاوضه کې او همدا تفسیر د ربا دی ، مګر دومره خبره ده چې زیادت په نتیجه د مجموعې د عقدَینو کې منځ ته راځي، نو ثابت شو په یو د عقدینو سره شبه د رِبا او شبهه په باب د محرماتو کې د حقیقت په شان ده. [6]
۳ـ حد نه لازمېږي د شبهه سره ځکه چې شبهه په باب حدودو کې د حقیقت په شان ده.[7]
۴ـ د اسبابو د وجوب د عدت څخه یو هم ( وطء) عن شبهة النکاح ده ځکه چې شبهه قائم مقام د حقیقت وي په ځای د احتیاط کې ، او عدت د مواضع د احتیاط څخه دی.[8]

---

[1]: عز بن عبدالسلام، قواعد الاحکام في مصالح الانام، ج۲ص۱۴
[2]: د وابصة بن معبد الانصاري رضی الله عنه په روایت په دې الفاظو مرفوع حدیث په متونو د احادیثو کې ما پیداء نه شو کړای ، لکن په یو موقوف روایت د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه کې په ضمن د یو ه قصه کې دا الفاظ موجود دي، دا موقوف روایت امام بیهقي په خپل کتاب السنن الکبری کې روایت کړی دی، او محقق سلام بن منصور عبدالحمید ورته صحیح ویلي دي او ډېرو راویانو دا روایت کړی د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه په صحیحو اسانیدو . السنن الکبری، تالیف: امام ابی بکر احمد بن حسین بن علي البیهقي (تـ ۴۵۸ه)تحقیق سلام بن منصور عبدالحمید، خپروونکی، کتب خانه رشیدیه، پېښور پاکستان، ج۱۰ ص ۲۲۲. او همدا رنګه امام ترمذي رحمه الله د دې حدیث وروستئ برخه(دع مایریبک الی ما لا یریبک) په ابواب صفة القیامة کې روایت کړی دی او دیته یې حسن صحیح ویلي دي. جامع الترمذي، ابواب صفة القیامة ج۲ ص ۷۵.
[3]: البخاري، علاء الدین عبد العزیز بن أحمد بن محمد، کشف الاسرار عن اصول البزدوي، خپروونکی دارالکتب العلمیه بیروت لومړی چاپ کال ۱۴۱۸ه ج۳ص۵۶۷
[4]: ابن قیم ابوعبدالله محمد بن ابی بکر ایوب الزرعي، اغاثة اللهفان، خپروونکی: دارالمعرفه بیروت دویم چاپ کال ۱۳۹۵ه ج۱ص۱۶۳
[5]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۴۳
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۹۹
[7]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۷ ص ۶۷
[8]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۳ ص ۱۹۳

**۵-** که چا یو شی واخیست په نسیه، نو نه په یې پلوري په بیع مرابحې سره تر دې چې بیان نکړي چې ما دا په نسیه اخیستی ، ځکه چې نیټه د شبهه د مبیع لري اګر که حقیقتًا مبیع نه ده ، ځکه چې اجل یا نیټه یو مرغوب شی دی او خلک د هغې لپاره ثمن زیاتوي ، نو شبهه پیدا شوه چې په مقابل د نیټه کې هم ثمن وقع شوې وي نو ګویا ده دوه څیزونه واخیستل بیا یو یې په کل ثمن مرابحتًا خرڅ کړو نو شبهه د حقیقت په شان ده په دې باب کې .[1]

**څلورم مطلب: ( الحکم یثبت بقدر العلة هذا هو الأصل)[2] قاعدې زده کړه.**

حکم د علت په کچه ثابتيږي همدا یو اصل دی.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱- ترتیب الحکم علی حسب ترتیب العلة.[3]
۲- الحکم یدور مع العلة لا الحکمة.[4]
۳- الحکم یقدر بقدر العلة.[5]
۴- الأصل دوران الحکم مع العلة وجودا و عدما.[6]

**د مفرداتو څیړنه:**

الحکم: د دې کلیمې لغوي او اصطلاحي معنا په ضمن د قاعدې ( الحکم في البعض کالحکم فی الکل) کې څیړل شوې.[7]

العلة: جمع یې علل او علات او جمع الجمع یې اعلال ده په لغت کې په معنا د مرض.[8] او همدارنګه ( العلة) په لغت کې اسم دی د هغه څه لپاره چې د هغې د حصول په سبب یو څیز کې تغیر راځي او ( العلة) په معنا د مرض هم دی ، او مرض چې کله انسان ته پیښ شي صحت کې ورته تغیر راولي او تاثیر کوي په هغه باندې، همدارنګه علت هم چې کله پیښ شي په حکم باندې هغه کې تغیر راولي، د همدې لپاره علت ته علت ویل کیږي ځکه چې هغه مؤثر وي.[9]

**په اصطلاح کې:**۱- تعریف ( هي الوصف الذي من اجله شرع الحکم )[10] ژباړه: علت عبارت له هغه وصف څخه دی چې د هغې له وجېنه حکم مشروع شوی وي.

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۲۲۴
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع ج ۵ص ۱۴۵
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع ج ۵ص ۱۵۵
[4]: السیواسي، شرح فتح القدیر، ج۴ ص۳۴۲
[5]: ابن نجیم، البحرالرائق شرح کنزالدقائق، ج۷ ص ۱۲۷
[6]: السرخسي، المبسوط، ج۲ ص ۱۸۰
[7]: د همدې رسالې صفحه ۴۹
[8]: الازهري، تهذیب اللغة ج۲ ص۱۲۸
[9]: الصقعبي، خالد بن ابراهیم، شرح منظومة القواعدالفقهیة للسعدي، خپروونکی:داراحیاء تراث العربي،بیروت لومړی چاپ کال ۱۴۱۵ه ج۱ص۲۱۰
[10]: الصقعبي ، شرح منظومة القواعدالفقهیة للسعدي، ج۱ص ۲۱۰

**۲ـ تعریف**: (هی ما اضاف الشارع الحکم الیه وناطه به ونصبه علامة علیه )[1] ژباړه: هغه (علت) عبارت دی د هغه څه څخه چې شرع نسبت د حکم هغه ته کړی وي او حکم یې په هغه موقوف کړی وي او هغه یې په حکم باندې نښه ګرځولې وي

**د قاعدې معنی:**

پورتنۍ قاعده او دهغې مختلف الفاظ دا افاده کوي چې حکم دعلت تابع وي ، نو چیرته چې علت موجود شي هلته به حکم هم موجودیږی او چیرته چې علت نه وي نو هلته حکم هم نه وی، او په کومه کچه او درجه او ترتیب چې علت وي په هماغه کچه او درجه او ترتیب به حکم هم موجودیږي.

**د قاعدې دلیل:**

استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره په دې قول د الله عز و جل:
۱ـ **کتاب الله** : (وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ )[2]ژباړه: او شته په وارث ( د پلار) په شان د هغه (نفقه چې په پلار وه).

**د استدلال وجه:**

امام کاساني رحمه الله فرمائي:( الله تبارک وتعالی معلق کړی استحقاق د نفقې د ارث پورې ، نو لازمه ده نفقه په قدر د میراث.)[3] ځکه چې ارث علت دی لپاره د وجوب د نفقې نو ثابته شوه چې حکم به په قدر د علت وي .

او په تعبیر سره د قریب نه په ( الوارث) باندې اشاره ده دیته چې سبب د وجوب د نفقې وراثت دی، نو نظر دې ایت ته وجوب د نفقې تابع د میراث او درجې د توریث دی ، ځکه چې میراث سبب د وجوب د نفقې دی ، نو وي به وجوب مشتق د درجط ، قوت ، او مقدار د میراث څخه.[4] او د قاعدې همدا افاده کوي چې حکم په مقدار د علت وي.

او امام احمد بن حنبل رحمه الله د دې ایت څخه فهم کړې ده چې نفقه د قرابت ، په وجود او عدم کې د میراث سره تړاو لري، همدارنګه په وجوب او مقدار کې ځکه چې میراث اساس ګرځول شوی لپاره د انفاق په مقتضی د نص دایت.[5]

۲ـ **سنت**: د هغه دلائلو څخه چې د دې قاعدې په اثبات کې ور څخه استدلال کیدای شي هغه لاندې حدیث دی چې صحاح سته و روایت کړی دی.[6] ( عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما قال: نهی النبی صلی الله علیه وسلم ان یقرن الرجل بین التمرتین جمیعًا حتی یستأذن اصحابه )[7] ژباړه: منع کړې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جوړه کولو د خرما څخه ( یعني د دوه دوه جوړه خوړلو څخه) تردې

---

1 الموسوعة الفقهیة الکویتیة، ج۳۰ ص ۲۸۶
2: د بقرې سورت ۲۳۳ ایت
3: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۴ ص ۳۲
4: ابو زهره محمد بن احمد بن مصطفی ، زهرة التفاسیر، خپروونکی، دارالفکرالعربي، قاهرة ، لومړی چاپ کال ۱۴۲۰ه ج۲ ص۸۱۱
5: ابن قدامه، عبدالرحمن بن محمد بن احمد، الشرح الکبیر، خپروونکی، مؤسسة الرسالة بیروت،دویم چاپ کال ۱۳۹۷ه ج۹ ص۲۷۷
6: الندوي، موسوعة القواعد الفقهیة، ج۱ ص ۳۹۶
7: اخرجه البخاري فی صحیحه کتاب الشرکة باب القرآن فی التمرتین بین الشرکاء حتی یستأذن اصحابه، ج۳ ص ۱۳۹ رقم الحدیث(۲۴۸۹)

چې د خپلو ملګرو څخه اجازه واخلي .

**د استدلال وجه:**

نبي علیه السلام منع کړې ده د جوړه جوړه خرما خوړلو څخه لپاره د یو معلوم علت هغه داچې په خلکو قحطي او سخته ولګه راغلې وه ، نو داسې صورت کې کله خوراکي توکي کم وي ، او ځینې خلک سختې ولګې را اخیستي وي نو هغوې ویرېږي چې خوراک به مخکې د پوره کیدو د حاجت زما څخه ختم شي ، نو دوه خرما جوړه واخلي او مړی غټه کړي دې لپاره چې خپل ولګه ختمه کړي ، نو نبي علیه السلام دوی ته د ادب لاربښوونه وکړه او ملګرو څخه د اجازې غوښتلو امر یې وکړو ترسو د ملګرو په زړه کې څه ونه ګرځي، لکن نن ورځ پراخي ده نو اجازې ته ضرورت نشته لکن که کوم ځای یا کوم وخت قحط او ولګه راغله نو حکم راګرځي په ګرځیدو د علت سره.[1]

۳ـ **سنت**: او همدارنګه استدلال کړی امام کاساني رحمه الله په لاندې حدیث باندې:

( لا یبیع الحاضر لبادٍ دعوا الناس یرزق الله بعضهم من بعضٍ)[2] ژباړه: نه په خرڅوي ښاري سړی د باندچي لپاره ، پرېږدې خلک چې رزق ورکړي الله تعالی ځینو لره د ځینو نورو. **د استدلال وجه**: منع کړې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیع ښاري څخه لپاره د بانده چي ، ځکه چې سبب یا وسیله د ضرر ده ښاریانو ته ، او دا هغه وخت کې چې خلک په قحط کې ګرفتار وي او که قحط نه وو بیا پروا نلري ځکه چې ضرر نشته.[3]

**تطبقي بیلګې:**

۱ـ که چا جمعه کړو په منځ د هغه څه چې مال دی او هغه څه چې مال نه دی لکه داچې خرڅ کړي حر او عبد یوځای ، یا عصیر او خمر، یا میتة او ذبیحه په یو عقد سره ، نو که بیان نکړي حصه د هر یو له ثمن څخه دا بیع په اجماع سره نه منعقد کیږي او که د هر یو ثمن جدا جدا بیان کړي بیاهم په نزد امام ابو حنیفه رحمه الله نه منعقد کیږي او په نزد د صاحبینو عقد منعقد کیږي په عبد ، عصیر، او ذبیحه کې او نه منعقد کیږي په حُر، خمر، او میتتة کې ، ځکه چې فساد په اندازه د مفسِد وي لپاره د دې چې حکم په قدر د علت وي او علت خو مخصوص دی یو شي پورې نو فساد هم مخصوص دی د یو شي پورې ، پس نه عام کیږي حکم سره د خصوص د علت نه. [4]

۲ـ که رب السلم ، مسلم فیه یې قبض کړو او بیا یې اقاله وکړه دا اقاله صحیح ده ، او که په بعض مسلم فیه یې اقاله وکړه وروسته د پوره کیدو د نیټې د سلم نه بیاهم اقاله صحیح ده په همغه مقدار کې چې یاد ونه یې کړې ده په دې شرط چې باقي مسلم فیه معلوم جزء وي لکه نصف، ثلث او نور ، دا په نزد عام علماء او په نزد ابن ابي لیلی رحمه الله په دې صورت کې عقد فسخ کیږي په ټول مسلم فیه کې ، او

---

[1]: البستي، ابوسلیمان،احمد بن محمد الخطابي، معالم السنن، خپروونکی، المطبعة العلمیة حلب سوریه لومړی چاپ کال ۱۳۵۱ه ج۴ص۲۵۵
[2]: اخرجه المسلم فی صحیحه، فی کتاب البیوع باب بیع الحاضر للباد ج۳ ص ۱۱۵۷ رقم الحدیث(۳۹۰۲)
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۲۳۲
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۴۵

صحيح قول د عام علماء دى ځکه چې اقاله په بعض مسلم فيه کې موجوده شوې ده نه په کُل کې نو نه لازميږي عقد په کُل کې ځکه چې حکم په قدر د علت ثابتيږي.[1]

٣ـ که چا وصيت وکړو لپاره د وارثانو د فلان شخص او هغه شخص ځامن او لورګانې دواړه درلودل نو وصيت به د دوې په منځ کې : للذکر مثل حظ الانثيين وي يعنې ځامنو ته په دوه چنده د لورګانو ورکول کيږي ، او که وصيت وکړو لپاره د اولاد د فلان شخص ، نو په دې صورت کې به مذکر او مؤنث دواړه په وصيت کې برابر وي ، ځکه چې په اول صورت کې علت د وصيت وراثت دى او وراثت په ځامنو کې دوه چنده د لورګانو دى او په دويم صورت کې مدار د وصيت ولادت دى او دا په په دواړو کې مساوي دى.[2]

۴ـ که د چا ځوې او د ځوې ځوې موجود وي نو نفقه يې په ځوې واجب ده اګرکه ځوې يې غريب وي او د ځوې ځوې مالدار وي ځکه چې دا قريب دى.[3] ځکه چې علت د وجوب نفقې قرابت او وراثت دى او ځوې په قرابت او وراثت کې مقدم دى.

۵ـ ترتيب د ولايت : په ټولو اولياء کې غوره ولي پلار دى بيا وصى د پلار بيا د پلار د وصي وصي بيا نيکه دى بيا وصي د نيکه بيا قاضي بيا هغه څوک چې قاضي ټاکلى وي ، دا ځکه چې ولايت بناء دى په شفقت باندې ، نو شفقت د بلار فوق د ټولو شفقتونو دى او شفقت د وصي د پلار فوق دى د شفقت د نيکه نه ځکه چې خوښ او غوره کړى شوى دى د پلار له طرفه ، نو دا خلف يا ځاى ناستى د پلار شو او خلف د شخص قائم مقام شخص وي او شفقت د نيکه فوق دى د شفقت د قاضي نه ځکه شفقت د نيکه په اساس د قرابت دى او قاضي اجنبي دى او شفقت د قريب فوق وي د شفقت د اجنبي څخه همدارنګه شفقت د وصي د نيکه ، نو د کوم څه په اساس چې ولايت منځ ته راغلى ( چې هغه شفقت دى) نو ولايت هم په همغه ترتيب دى ځکه چې ترتيب د حکم په اساس د ترتيب د علت وي.[4]

**پينځم مطلب: (مالم يكن ثابتًا بيقين انه لايثبت بالشك والاحتمال)**[5]

هرهغه څيز چې په يقين سره ثابت نه وي ، هغه په شک او احتمال سره هم نه ثابتيږي.

**د قاعدې نور الفاظ :**

١ـ غيرالثابت بيقين لايثبت بالشك.[6]
٢ـ الأصل المعهود مالم يكن ثابت بيقين لا يثبت مع الشك
٣ـ مازال بيقين لا يثبت الا بقين مثله.[7]
۴ـ ان غيرالثابت لا يثبت بالاحتمال.[1]

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص٢١۵
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۴ ص٣٢
[3]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۴ ص٣٢
[4]: الكاسانى. بدائع الصنائع، ج۵ ص ١۵۵
۴: بدائع الصنائع ج۵ص١۴٧
[6]: بدائع الصنائع ج٢ص٣۴٠
[7] : بدائع الصنائع ج٣ص٢١١

[1] : البورنو، موسوعة القواعد الفقهيه ج٢ ص٢٩٣

**د مفرداتو څیرنه:**

**الثابت**: د اسم فاعل صيغه ده د( ثبت يثبت ثباتا او ثبوتا فى المكان) څخه الله تعالى فرمائي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ )[1] ژباړه: اى مومنانو كه چيرى تاسى امداد وكړې د دين د الله ، امداد به وكړي ستاسو او مضبوط به كړي قدمونه ستاسو.

الثابت ، الثبيت، الثبت په معنا د محكم ، ثابت ، دوام ور كوونكى يو كار ته ويلكيږي: ثبت فلان بمكان اى اقام به.[2]

**اليقين** : په لغت كې په معنا د باور كول، لرې كيدل د شک ، ثابت يا هغه علم چې په هغې كې شک نه وي ، واضح ، ښكاره، هر هغه شى چې په استدلال سره لاس ته راشي.[3]

(او يقين په اصل لغت كې په معنا د ( الاستقرار) سره دى عربان وايي: (يقين الماء فى الحوض اذا استقر فيه) ، او شرط نه دى په تحقق د يقين كې اعتراف او تصديق ته بلكې يقين د انكار سره هم متصور دى لكه څنګه چې الله تعالى فرمائي: (وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ )[4] ژباړه: او انكار وكړي دوى په هغو او يقين كړى وو په هغو زړونو د دوى .

**او په اصطلاح كې**: ( هو الاعتقاد الجازم المطابق للواقع الثابت) ژباړه : هغه قطعي باور چې مطابق وي د واقعت سره او ثابت وي.

په قيد د (الجازم) سره ظن ، او غالب ظن خارج شو ځكه چې په دوې كې جزم نشته ، او په قيد د (المطابق للواقع) سره هغه چې مطابق د واقعت نه وى خارج شو لكه جهل اګركه صاحب د هغې جازم وي، او په قيد د ( الثابت) سره اعتماد د مقلد ( فيما كان صوابا) خارج شو ځكه چې اعتقاد د هغه په دليل بناء نه دى ، او په معرض د زوال كې وي .)[5]

**فائده**: علامه نووي رحمه الله فرمائي: (پوه شه چې زمونږ اصحاب اطلاق د علم،او يقين كوي او په دې سره اراده كوي دوې د ظن ظاهر( غالب ګمان) نه حقيقت د علم او يقين ځكه چې يقين خو اعتقاد جازم ته ويلكيږي ، او دا شرط نه دى په داسې مسائلو كې )[6]

او علامه ابن نجيم رحمه الله فرمائي: ( غالب ګمان په نزد فقهاء ملحق دى د يقين سره او دا غالب ګمان هغه څيز دى چې بناء كيږي په دې باندې احكام ، او دا خبره معلوميږي د پلټنې د اقوالو د فقهاء څخه )[7]

---

[1] : د محمد د سورت ۷ ايت
[2] : ابن منظور، لسان العرب ج١ص٣٢
[3] : المجددى، مفتي عميم الاحسان، المجموعة للقواعد الفقهية ،خپروونكى، مكتبة دارالبشرى، كراچى پاكستان لومړى چاپ كال ١۴٣٧ه ص١٢٣
[4] : د نمل سورت ١۴ ايت
[5] : الزرقا ، الشيخ احمد بن الشيخ محمد، شرح القواعد الفقهية، خپروونكى،دارالقلم للطباعة ، د مشق سوريه دويم چاپ كال ١۴٠٩ه ص٧٩
[6] : النووي ، المجموع شرح المهذب، ج١ ص١٨٧
[7] : ابن نجيم ، الاشباه والنظائر ص۶٣

علامه قرافي رحمه الله فرمائي: ( اصل خو دادی چې احکام بناء شي په علم باندې ، لکن ضرورت داعي دی لپاره د عمل کولو په ظن باندي ، ځکه چې علم متعذر دی په اکثره صورتونوکي ، نو ثابتيږي په ظن باندې احکام لپاره د ندرت د خطا او غلبه د صواب واليد هغه ، او غالب نه ترک کيږي لپاره د نادر)[1]

عز بن عبدالسلام رحمه الله فرمائي : ( په مواردو او مصادرو د شرع کې عمل په گمانونو ځکه کيږي چې کذب د ظنونو نادر دی او صدق د هغې غالب دی ، نو که ترک کړی شي عمل په گمان باندې چې غالب دی صدق د هغه ، له وجې د خوف د وقوع نه په نادر کي چې هغه کذب د ظن دی، نو معطل به شي ډير غالب مصالح له وجې د ويرې د وقوع نه په لږو نادره مفاسدو کې ، او دا کار په خلاف د هغه حکمت د الله تعالی دی چې شريعتونه يې د هغې لپاره تشريع کړي دي).[2]

او امام کاساني رحمه الله فرمائي: ( غالبه رأيه حجت او موجب د عمل ده ، او دا په احکامو کې په منزله د يقين ده ، ځکه چې عمل په غالبه رأيه او اکبرالظن باندې په احکامو کې واجب دی. ) [3]

نو د فقهاء دې اقوالو نه معلومه شوه چې په قاعده کې د يقين څخه صرف اعتقاد جازم مراد نه دی بلکې غالب ظن هم مراد دی.

**الشك:** شک په لغت کې اصلا اتصال او نښلولو ته وايي ، بيا همدغه لفظ په عرف کې د تردد په معنا کې شهرت پيدا کړی، همدارنګه شک په معنا د (خلاف د يقين) او په معنا ( تردد په منځ د نقيضينو کې بغير ترجيح د يو نه پربل باندې په نزد د شک کوونکي) .[4]

**په اصطلاح کې:** علامه حموي رحمه الله فرمائي: ( شک مطلق تردد دی او په اصطلاح کې : د يو شي د دوو اړخونو مساوي والی او برابرتيا ته ويل کيږی ، يعنې د دوو شيانو تر منځ وقفه کول په داسې حالت کې چې زړه يې يو خوا هم ميلان ونه لري .)[5]

**فائده: د شيانو د ادراک مرتبې:**

د شيانو د ادراک مرتبې سره تفاوت لري اوله مرتبه يې يقين دی ورپسې دوهمه مرتبه د (ظن الغالب) دی او دريمه مرتبه يې (ظن) دی، څلورمه مرتبه يې شک دی چې پدې اړه په ( دررالحکام شرح مجلة الاحکام) کې داسې ذکر شوي :( شک په لغت کې تردد ته وايي او په اصطلاح کې د يو فعل تردد د هغه په واقع کيدو او عدم واقع کيدو ته وايي ، يعنې چې د يو لپاره په بل باندې کوم ترجيح ورکوونکی پيدا نشي او ممکن نه وي چې يو احتمال ته پر بل احتمال باندې ترجيح ورکړشي ، اما که د دې دوه احتمالونو څخه د يو اړخ ته ترجيح ورکول ممکن وي ، لکن زړه د غه راجح خوا ته مطمئن نه وي ، نو همدغه

1 : القرافي، شهاب الدين احمد بن ادريس، الذخبرة، خپروونکی، دالغرب بيروت لبنان لومړی چاپ کال ۱۹۹۴م ج۱ ص ۱۷۷
أبو محمد عز الدين عبد العزيز بن عبد السلام ، الملقب بسلطان العلماء ، قواعد الاحکام بمصالح الانام، خپروونکی، دارالمعارف بيروت لبنان لومړی
2 : چاپ کال ۱۴۰۷ه ج۲ص۵۰
3 : بدائع الصنائع ج۱ص۷۲
4 : الفيروزآبادي، القاموس المحيط ج۱ص۱۲۲۰ . مصباح المنير ج۱ص۳۲۰ . تاج العروس ج۲۷ص۲۲۹ ، معجم المقاييس اللغة ج۱ص۲۳۱
5 : الحموي ، غمز عيون البصائر شرح الاشباه والنظائر ج۱ص۸۴

راجح لوری د ظن په درجه کې او مرجوح لوری يې د (وهم) په درجه کې دی او که راجح لوري ته زړه مطمئن شي ؛ نوبيا دا ظن غالب دی او ظن غالب د يقين په منزله کې دی.[1]

او دا څرگنده ده چې غالب ظن په شرع کې اعتبار لري ، ځکه فقهي احکام په ظواهرو بناء دي او يقين ته رسيدل په ټولو حالاتو کې مشکل وي ؛ نو همدې امله شريعت غالب ظن ته اعتبار ورکړ ، ځکه خطاء يې کمه او رسيدل يې حق ته غالب دي.

**فائده: غالب گمان په ځينې مسائلو کې اعتبار نه لري:**

مخکې دې ته اشاره وشوه چې غالب ظن په شرعي احکامو کې د يقين منزله نيسي ؛ خو دا د دې معنا نلري چې په ټولو مسائلو او حالاتو کې د يقين په منزله ورته اعتبار ورکول کيږي ځينې داسې مسائل شته دي چې غالب ظن پکې اعبار نلري ، بلکې يقين پکې حتمي دی ، لکه که يو سړی د دوو پرله پسې عقدونو پواسطه دوو خويندو نکاح وتړي او لومړنی عقد هير کړي ؛ نو د دې سړي او د دوو خويندو تر منځبيلتون راځي او دا جائزه نه ده چې غالب ظن پواسطه د دې دوو خويدو لومړني عقد والا ته ترجيح ورکړو ، بلکې بايد درست علم لرلو سره دا کار وشي ، ځکه د فروجو مسائلو کې تحري او اجتهاد کول اعتبار نلري.

دارنگه که يو سړی د خپلو ميرمنو څخه يوې ته طلاق ورکړی او بيا ورنه هير شي چې کوم يوې ته يې طلاق ورکړی ، پدې صورت کې ورته هيڅ يوې ښځې وطي کول جواز نه لري تر هغې چې د طلاق شوې ښځې په هکله پوره علم حاصل نه کړي ، دلته غالب ظن او تحري کفايت نه کوي او حاکم هم نشي کولای چې د ده او د ميرمنو تر منځ بيلتون راولي تر هغې چې موضوع ورته څرگنده نشي. دلته د يادولو وړده چې غالب گمان که دليل باندې متکي نه وي ؛ نو اعتبار نلري لکه د غاصب په غالب گمان دا راشي چې عين مغصوبه ورته روا ده پدې احتمال چې مالک يې کيدای شي ورته حلاله گرځولې وي، دا ځکه ورته جواز نلری چې دا يو مجرد وهم دی کوم دليل باندې متکي نه دی او قاعده داسې ده چې : ( لاعبرة بالتوهم )[2]

او امام کاساني رحمه الله په دې اړه فرمائي: ( والظن انما يعتبر اذا نشأ عن دليل او شبه دليل) [3] ژباړه: ظن هغه وخت معتبر دی چې ناشي دليل او شبهې دليل څخه وي.

**فائده: د شک ډولونه:**

شک په درې ډوله دی: اول هغه شک دی چې يو حرام اصل باندې بناء وي، دوهم هغه شک دی چې يو مباح اصل باندې پيدا وي ، او دريم هغه شک دی چې اصل يې نه پيژندل کيږي.

د اول مثال: لکه يو ذبحه شوی پسه داسې سيمه کې و مومي چې هلته مجوسيان او مسلمانان وي، تر هغې دا حلال ندی چې پوه شي چې دا د مسلمانانو لخوا ذبح شوی ، ځکه د دې اصل حرام دی او موږ په حلال

[1]: علي حيدر، دررالحکام شرح مجلة الاحکام ج١ص٢٠
[2]: الزرقا، شرح القواعد الفقهيه ص٣٦
[3]: بدائع الصنائع ، ج١ص٣٤٣

شوې ذبیحه کې شک کړی، لیکن که په همدې سیمه کې مسلمانان اکثریت او غالب وي خوراک یې روا دی ، ځکه عمل په غالب باندې کیږي.

د دویم مثال : چې شک په مباح اصل ولاړ وي، لکه څوک متغیرې اوبه و مومي او احتمال د دې ولري چې تغیر د پلیتی په وجه وي او یا د درنګ او ډیرې مودې د تیریدو له وجې وي؛ نو طهارت کول وربانديې روا دي، ځکه عمل په غالب کیږي او غالبا طهارت اصل دی.

د دریم مثال: معامله کول د هغه چا سره چې اکثریت مال یې حرام وي ؛ او دا معلومه نه وي چې دا ماخوذ مال یې د حرامو څخه دی ، راکړه ورکړه ورسره حرامه نه ده، ځکه امکان لري چې د حلالو څخه وي او حرام متحقق نه دي، لیکن دا مکروه دي ، ځکه ویره د دې شته چې حرامو کې واقع شي.[1]

**فائده: په شریعت کې شکمن شی نشته:**

مونږ په دې باید باور ولرو چې شرعي احکام د شکوکو او شبهاتو څخه پاک دي او کوم شک او شبهه چې پیدا کیږي ، هغه مکلف ته پیدا کیږي شرعي احکام پخپل ذات کې کوم شک او شبه نه لري.

علامه ابن قیم رحمه الله په دې اړه فرمائي: ( پدې باندې باید پوه شو چې شریعت کې کوم مشکوک فیه شی نشته او شک مکلف ته پیښیږي چې د ده په وړاندې د دوو دلیلونو یا علامو تعارض وي ؛ نو مسئله د ده په نسبت مشکوک فیها کرځي او کیدای شي د ده په نزد شکي وي د بل په نزد ظني وي او ځینو نورو په نزد په قطعي وي، دا کیدل د مسئلې شکي او یا ظني او یا قطعي دایی یو ثابت صفت ندی، بلکې دا یو عارضي امر دی چې عارض کیږي دې مسئلې ته ، او دا هغه وخت دی چې د مکلف حکم ته یې اضافت کیږي.)[2]

**د قاعدې معنی:**

هر هغه امر چې ثابت نه وي یقینا او یا ظن غالب سره ؛ نو نه ثابتیږي په شک او احتمال سره ، یعني د یو شي اثبات او زوال په احتمال او شک سره نه کیږي بلکې واضح دلیل غواړي جائز نه دی چې په مجرد احتمال او یا شک سره غیر ثابت ثابت وګڼل شي.

**د قاعدي دلیل:**

امام کاساني رحمه الله استدلال کړی د دې قاعدې د اثبات لپاره په کتاب الله او سنت د رسول الله صلی اله علیه وسلم باندې:

١: کتاب الله: دا قول د الله تعالی: **(وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ)**[3] ژباړه:

---

[1] : السیوطي، الاشباه والنظائر، ج١ص٧٥
[2] : ابن قیم، محمد بن أبي بکر أیوب الزرعي ، بدائع الفوائد ، خپرونکی. مکتبة نزار مصطفی الباز - مکة المکرمة، لومړی چاپ کال ١۴١۶ه ج٣ص٧٨٨
[3] : د الاسراء سورت ٣۶ ایت

**د استدلال وجه:** الله تبارک وتعالی انسان منع کړی د اتباع د هغه څیز څخه چې په هغې علم نه لري[1] او مراد دعلم څخه په دې ایت کې راجح اعتقاد دی چې مستفاد وي د دلیل څخه چې هغه دلیل قطعي وي او که ظني[2] او اجماع کړې علماء په دې باندې چې هر هغه شی چې ښکاره او یقیني نه وي نو هغه علم نه دی[3] بلکې هغه شک دی نو اتباع یې نه کیږي، او دا یو اصل دی په نفي د اتباع د شک کې.[4]

**سنت:** وینا د نبی علیه السلام کله چې پوښتنه وکړی شوه د هغه څخه د هغه چا په اړه چې چې په لمونځ کې د څه ( یعني دباد دخارجیدو ) احساس کوي:( لا ینصرف حتی یسمع صوتا او یجد ریحا)[5] ژباړه: نه به ګرځي ( د خپل لمونځ څخه) تر دې چې اواز واوري او یا بوی و مومي.

**د استدلال وجه:** بیشکه نبي علیه السلام اعتبار ور کړو یقین ته او شک یې ملغی کړو.[6] علامه نووي رحمه الله فرمائي: (دا حدیث یو اصل دی د اصولو داسلام څخه ، او دا یوه قاعده ده د قواعدو د فقهې څخه ، هغه دا چې حکم کیږي په بقاء د اشیاء و تر دې چې متیقن شي خلاف د هغې ، او ضرر نه رسوي په هغه باندې ور پیښیدونکې شک)[7] نو په حدیث کې دلالت دی په دې باندې چې : هر هغه شی چې ثابت نه وي په یقین سره ، جائز نه دی اثبات دهغې په شک باندې، نو حدث ثابت شوی نه دی په یقین سره نو نه ثابتیږی په مجرد شک او وهم سره .

## تطبیقي بیلګې:

۱ـ د شرائطو د انعقاد دعقد څخه یو شرط دا دی چې مبیع باید مقدورالتسلیم وي په وخت د انعقاد د عقد کې او که مقدور التسلیم نه وي بیا عقد نه منعقد کیږي ، اګرکه مبیع مملوک د بایع وي لکه عبد آبق ، ځکه چې د عاقد لپاره قدرت لرل په تسلیمي باندې شرط د انعقاد د عقد دی ، ځکه چې عقد نه منعقد کیږي مګر لپاره د فائدې نو عقد مفید نه واقع کیږي کله چې قادر په تسلیمي نه وي ، نوعجز د تسلیمي څخه ثابت دی په حین د عقد کې او په حصول د قدرت کې وروسته له دې څخه شک او احتمال دی چې امکان لري چې حاصل به شي او احتمال لري چې حاصل به نه شي نو هغه عقد چې منعقد نه وي یقینا نه منعقد کیږي لپاره د هغې فائدې چې د وجود او عدم دواړو احتمال لري، بناء په دې اصل معهود باندې چې: مالم یکن ثابتًا بیقین انه لایثبت بالشك والاحتمال.[8]

۲ـ د شرائطو د الحاق د اجازې د تصرفاتو د فضولي پورې یو شرط دادی چې تصرف د فضولي باید په حین د وجود د عقد کې مجیز ولري نو هغه تصرف چې په حین د عقد کې مجیز ونلري اجازه ور پورې نه ملحق کیږي ځکه چې هرهغه تصرف چې مجیز ولري نو د هغې څخه تصور د اذن فی الحال او یا

---

1: بدائع الصنائع ، ج۳ ص۱۲۶
2: الشربیني شمس الدین محمد بن أحمد ، تفسیر السراج المنیر، خپروونکی، دارالکتب العلمیة بیروت، لومړی چاپ کال ۱۴۲۳ه ج۲ص۲۳۸
3: الشنقیطي محمد الأمین بن محمد بن المختار الجکني، أضواء البیان في إیضاح القرآن بالقرآن ، خپروونکی دارالفکر بیروت لومړی چاپ کال ۱۴۱۵ه ج۶ص۱۰۶
4: بدائع الصنائع ج۳ص۱۹۹
5: اخرجه البخاري في کتاب الوضوء ، باب من لا یتوضأ من الشک حتی یستیقن ج۱ص۳۹
6: بدائع الصنائع ج۳ص۱۲۶
7: النووي ،أبو زکریا یحیی بن شرف بن مري، المنهاج شرح صحیح المسلم، خپروونکی، دار احیاء تراث العربي، بیروت دویم چاپ کال ۱۳۹۲ه ج۴ص۴۹
8: بدائع الصنائع ج۵ص۱۴۷

وروسته د وجود د تصرف څخه شته ، نو شو انعقاد دعقد په د وخت اذن قائم کې مفید نو ځکه منعقد کيږي، او که مجيز ونلري نو په دې صورت کې فی الحال اذن متصور نه دی او په مستقبل کې امکان لري چې اذن موجود شي او يا موجود نه شي ، نو که اذن موجود شي نو انعقاد د عقد مفيد شو ، او که اذن موجود نه شي نو عقد بيا مفيد نه دی ، نو نه منعقد کيږي سره د شک نه په حصول د فائدې کې بناء په اصل معهود چې: مالم يكن ثابت بيقين لايثبت مع الشك.[1]

۳ـ د شرائطو د صحت د عقد څخه يو شرط دادی ؛ چې عقد بايد خاليوي د احتمال د ربا څخه ، نو جائز نه دی د مجازفې(تخميني) عقد په ربوي اموالو کې ، دا ځکه لکه څنګه چې حقيقت د ربا مفسد د عقد دی همدارنګه احتمال د ربا هم مفسد دعقد دی ، او قاعده په دې کې دا ده : هر هغه څيز چې د مفاضلې عقد په کې جائز وي نو د مجازفې عقد هم په کې جائز دی او کوم څيز کې چې مفاضله جائزه نه وي نو مجازفه هم جائزه نه ده ، دا ځکه چې تماثل او خاليوالی د ربا څخه شرط د صحت د عقد دی په هغه څيزونو کې چې ربا په کې جاري کيږي ، نو نه معلوميږي تحقق د مماثلت د مجازفې په عقد کې ، نو واقع شو شک په وجود د شرط د صحت د عقد کې نو ثابت نه شو صحت د عقد ، بنا په دې معهود اصل باندې : چې کله يو حکم معلق وي په يو شرط باندې نو دا حکم نه ثابتيږي کله چې واقع شي شک په وجود د شرط کې ځکه چې غيرالثابت بيقين لا يثبت بالشك.[2]

۴ـ د شرائطو د مسلم فيه څخه يو شرط دادی : چې مسلم فيه بايد معلوم القدر وي په داسې کيل، وزن ، او يا گز (گز) سره چې چې په امن وي د فقدان د هغې ( کيل، وزن، گز) څخه د لاسونو د خلكو نه ، او كه په امن نه وي د فقدان د هغه څخه نو بيا عقد د سلم فاسد دی لکه دا چې معلوم کړي قدر د ( مسلم فيه) په دا سې كيل چې نه پيژندل كيږي مقدار د هغې مثلا داسې ووايي: په دغه لوښي او دا معلومه نه وي چې هغه لوښي کې څومره د ( مسلم فيه) له جنس څخه ځاييږي ، او يا ووايي: په د غه تيګه او معلوم نه وي چې څومره دی وزن د تيګې ، او يا په دغه لرګي سره چې وزن يې معلوم نه وي ، ځکه چې قدرت په تسليم د مبيع شرط د انعقاد او صحت د عقد دی ، او قدرت په تسليمې باندې مفقود دی په باب د عقد د سلم کې ځکه چې دا بيع د مفلسانو ده ، او په ثبوت د قدرت کې په وخت د را رسيدو د نيټې کې شک دی ، ممکن دی چې په وخت د حلول د نيټې کې قدرت ثابت او ممکن دی چې ثابت نه شي ځکه که دا مکيال ، او دا تيګه، او دا لرګی باقي پاتې شي نو قدرت په تسليم د مبيع ثابت دی او که باقي پاتې نه شي نو قدرت نه ثابتيږي ، نو واقع شو شک په ثبوت د قدرت کې او دا په شک سره نه بنا په معهود اصل چې غيرالثابت بيقين اذا وقع الشك في ثبوته انه لايثبت.[3]

**شپږم مطلب : د ( الثابت باليقين لا يزول بالشك)[4] قاعدې زده کړه.**

څه چې په يقين سره ثابت وي په شک سره لمنځه نه ځي.

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص۱۴۹

[2]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۹۳

[3]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۲۰۸

[4]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۴۷

**د قاعدې نور الفاظ :**

۱ـ الثابت بيقين لايزول الا بقين مثله .[1]

۲ـ الأصل المعهود ان الثابت يقينا لايزال بالشك. [2]

۳ـ الشك لا يرفع اليقين.[3]

۴: اليقين لا يزول بالشك. [4]

**د مفرداتو څېړنه:**

(الثابت، اليقين، الشك) د دې درېواړو كلماتو مخكې څېړنه شوې ده.[5]

**د قاعدې معنې**:

يعني كوم شی چې په يقين سره ثابت وي د شک په واسطه له منځه نه ځي ځکه چې يقين قوي دی او شک ضعيف او دا معقوله نه ده چې قوي شی دې د ضعيف په واسطه له منځه لاړ شي ، بلکې قوي به په ورته قوي شي له منځه ځي په دې معنا چې قوي شئ د قوي او يا د اقوی شي په ذريعه له منځه ځي ، برابره خبره ده چې مخکينی يقين مقتضي د حظر ( منع) وي او که مقتضي د اباحت ، په دواړو حالاتو کې اعتماد په يقين کيږي او التفات نه کيږي شک ته د اول قسم مثال:

که يو انسان ورک او يا غايب شوی وي په داسې غيبوبت سره چې د مرګ او ژوند معلومات يې نکيده په داسې حالت کې اعتبار مخکيني يقين (حيات) لره دی تر دې چې موت يې په بينه و او يا په موت د همځولو معلوم شي ، اګر که احتمال د مرګ د ده په هرحال کې شته پس جائز نه دی تقسيم د مال د ده مخکې د ثبوت د مرګ د هغه څخه او که امانت(وديعت) يې له سره ايخودی وي په هغه حفاظت د هغې امانت لازم دی ، او که ورثه و ته يې ورته ورکړو نو دی به ضامن وي ، او د دويم حالت مثال لکه: يو شخص پوهيده چې فلانی څيز د جاويد ملک وو ، بيا نزاع وکړه د جاويد سره يو کس چې دا څيز زما ملک دی نو جائز دی دې شخص ته چې شهادت ورکړي د جاويد په حق کې اګرکه د دې احتمال شته چې جاويد دا څيز په منازِع کس پلورلی وي.[6]

**فائده:** د يقين ډولونه:

يقين په دوه ډوله دی يو هغه يقين دی چې محل يې معين او مشخص وي ، او بل هغه يقين دی چې محل يې مشخص او معين نه وي ، نو کوم يقين چې محل يې معين او مشخص وي دا په شک سره لمنځه نه ځي او په قاعده کې همدا يقين مراد دی، او کوم يقين چې محل يې مشخص او معين نه وي هغه يقين په

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۳ ص ۲۱۲
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۲ ص ۱۸۸
[3]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۱ ص ۸۱
[4]: اين نجيم، الاشباه والنظائر ص۴۷
[5]: د همدې رسالې صفحه ص ۸۰
[6]: الزرقا، شرح القواعد الفقهيه ص۸۲

شک سره لمنځه ځي ابن نجيم رحمه الله په ضمن د تفريعاتو د دې قاعدې کې فرمائي: (پاکول د نجاست واجب دي په قدر د امکان او که چيرته قادر نه وي په لرې کولو د نجاست له وجې د خفاء د محل مصاب سره د علم نه په تنجيس د لباس نو ويل شوي: واجب دی وينځل د يو طرف د لباس ، نو که وه وينځي په تحري او يا بغير له تحري څخه لباس پاک کيږي، او ذکر د علت بيانوي چې تحري لره اثر نشته هغه دا چې وه وينځي يو طرف د لباس سره له دې چې اصل په لباس کې طهارت دی ، واقع شو شک په قيام د نجاست کې ځکه چې احتمال لري چې محل مغسول محل د نجاست وي نو نه کيږي فيصله په نجاست باندې په شک سره ... همدارنګه که مونږه فتح کړو يو حصن(قلعه) او په هغوې کې يو ذمي هم وي چې نه پيژندل کيږي نو جائز نه دی قتل د دوې ، لپاره د قيام د يقيني مانع (چې ذمي دی) نو که قتل کړی شول ځيني له دوې څخه او يا اخراج کړی شول نو جائز دی قتل د باقي کفارو لپاره د وقوع د شک په د محرِّم کې ...او نظير د دې مسألو دا قول د فقهاو دی: چې تقسيم په مثلياتو کې د مطهِّراتو له جملې څخه دی ، يعني که ځيني غنم نجس شي او بيا تقسيم کړی شي نو پاکيږي لپاره د دې چې واقع شو شک په هر جزء کې چې دا په نجس وي او که نه).[1]

**د قاعدې دليل:**

د مخکينی قاعدې د اثبات دلائل ايت او حديث د دې قاعدې د اثبات دلائل هم دي.[2]

**اجماع:** علامه قرافي رحمه الله فرمائي: (دا يوه مجمع عليها قاعده ده ، هغه دا چې هر مشکوک فيه په شان د هغه معدوم ګڼل کيږي چې جزم وي په عدم د هغه. )[3]

**معقول:** يقين قوي دی له شک څخه ځکه چې يقين يو قطعي او جازم حکم دی چې نه منهدم کيږي په شک سره .[4]

**تطبيقي بيلګې:**

۱- بايع مشتري ته وه وايي : چې يو د دغه دوه وو جامو څخه ، او يا يو د دغه دوه وو غلامانو څخه ، او يا يو د دغه دوه وو څاروو څخه ، او يا د نورو څيزونو څخه په تا په دې شرط پلورم چې کوم يو ته خوښ کړې ، او مشتري يې قبول کړي نو دا بيع لازموي ثبوت د ملک مشتري لره په يو د دغه دوه وو کې او خيار تعين هم ده لره دی او هغه بل به په طور د امانت وي ده سره او مشتري نه شي کولی چې دواړه واخلي ځکه چې مبيع يو د دې دواړو څخه دی اوس که چيرته هلاک شي يو د دې دواړو مخکې له قبض څخه بيع نه باطليږي ځکه چې احتمال شته چې هلاک شوی شئ مبيع وي بيا بيع باطليږي په هلاکت د هغه سره ، او دا هم احتمال شته چې هلاک شوی شئ مبيع نه وي نو بيع بيا نه باطليږي او بيع خو يقينا صحيح ده او واقع شو شک په بطلان د بيع کې نو نه باطليږي په شک سره، لکن مشتري اختيار

---

[1]: ابن نجيم، الاشباه والنظائر ص ۵۶-۵۷

[2]: د همدې رسالې صفحه ص ۸۳

[3]: القرافي، الفروق ج۱ ص ۲۰۱

[4]: الباحسين، دکتور يعقوب، قاعدة اليقين لازول بالشک، خپروونکی، مکتبة الرشيد، رياض، لومړی چاپ کال ۱۴۲۱ه ص۲۱۵

لري چي واخلي باقي په خپل قيمت سره او يا يې ترک کړي ځکه چې مبيع کې تغير راغی قبل القبض په تعين سره .[1]

۲- که چا د دريو جوړو څخه يوه جوړه واخيستله ، بيا يوه هلاکه شوه او دوه جوړې پاتې شوې بيع نه باطليږي لکن مشتري اختيار لري چي په پاتي دوه جوړو کې يوه واخلي ځکه چې مالک کله مبيع معينه نکړي نو يوه د دوه وو پاتې شوې وو څخه مبيع ده نو کولی شي يوه واخلي او يا يې ترک کړي ، او که چيرته هلاک شي درې واړه جوړې مخکې له قبض څخه نو بيع باطليږي څخه چې مبيع يقينا هلاکه شوه نو بيع هم باطله شوه.[2]

۳- د مفقود حال معلوم نه وي امکان لري چې ژوندی وي او يا مړ وي نو ښځه يې نه جدا کيږي ځکه چې د نکاح عقد يې په يقين سره ثابت دی او وفات يې يو محتمل امر دی نو ثبتيږي بينونت په شک سره. [3]

۴- کله چې مستأجره کور منهدم شي نو ايا اجاره فسخ کيږي او کنه؟ امام کاساني رحمه الله فرمائي : په دې کې روايات مختلف دي ، او په ځينو رواياتو کې ذکر دي چې اجاره نه فسخه کيږي ، لکن ثابتيږي حق د فسخې ؛ ځکه چې کور وروسته له انهدام څخه فی الجمله منتفع بها دی په دې ډول چې خيمه په کې ودروي نو معقود عليها په کلي توگه له منځه نه دی تلی نو عقد نه فسخ کيږي بنا په دې باندې ؛ که معقود عليها په کلي تو گه په داسې ډول فوت شي چې واپسي يې متصور وي ؛ نو دا کفايت کوي لپاره د بقاء دعقد ، او اصل په دې کې دادی چې عقد منعقد دی په يقين سره او هر هغه څيز چې ثابت وي په يقين سره نه لرې کيږي په شک سره .[4]

۵- کله چې وي مدت د حيض په نزد د معتدې د طلاق کم د لسو ورځو څخه مثلا او قطع شي دم د هغې په دغه موده کې پس باقي پاتې ده په عدت کې ؛ ځکه چې دا متيقنه نه ده په طهر باندې لپاره د احتمال د بيا راتک د دم په ورځو د حيض کې نو احتمال د بيا رتک قائم دی او دم عائد به حيض وي تر لسو ورځو پورې نو موجود نه شو انقطاع د دم د حيض په يقين سره نو نه ثابت نه شو طهر په يقين سره نو باقي پاتې شو عدت ځکه چې عدت ثابت وو په يقين سره او ثابت په يقين سره نلری کيږي په شک سره.[5]

۶- يو حوض دی چې له هغې څخه ماشومان او غلامان لوښي ډکوي په خيرنو لاسونو ، اوس له دې حوض څخه او دس جائز دی تر څو چې نجسوالی بې معلوم نه شي.[6]

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۲۶۱
[2]: پورتنی مصدر
[3]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۷۹
[4]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۹۶
[5]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۷۹
[6]: ابن نجيم الاشباه والنظائر ص۵۵

**څلورم مبحث: فقهي قواعد په فصل د شرائطو د نفاذ د بيع کې :**
په دې مبحث کې هغه قواعد ځای په ځای شوي چې په فصل د شرائطو د نفاذ د بيع کې ذکر شوي دي، په ديکې پينځه مطلبه دي:

**لومړی مطلب: (الأصل ان تصرفات الفضولي التي لها مجيز حالة العقد منعقدة على اجازة المجيز وما لا فلا)[1]**

اصل دادی چې د فضولي هغه تصرفات چې مجيز په حالت د عقد کې ولري منعقد کيږي موقوف تر اجازې د مجيز پورې او که مجيز ونلري نه منعقد کيږي.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ كل عقد له مجيز حال وقوعه توقف على الإجازة.[2]

۲ـ الإجازة للمنعقد.[3]

۳ـ كل عقد لا مجيز له حال صدوره فهو باطلا لا يتوقف.[4]

**د مفرداتو څېړنه:**

**الفضولي**: فضولي په لغت کې هغه چا ته ويل کيږي چې بيهوده کارونه کوي، او يا داسې کار کې دخالت کوي چې دې پورې اړه نلري.[5]

**په اصطلاح کې**:۱ـ ( من لم يكن وليا ولا اصيلا ولا وكيلا فى العقد) [6] ژباړه: فضولي هغه څوک دی چې نه ولي ، نه اصيل، او نه وکيل وي په عقد کې. او با عبارت سره فضولي:

**۲ـ** (من يتصرف فى حق الغيره بغير اذن شرعى)[7] ژباړه: فضولي عبارت له هغه چا څخه دی چې تصرف کوي په حق د غير کې بغير د اذن شرعي څخه.

**المجيز:** مجيز په لغت کې په مختلفو معناګانو راځي لکه: مجيز په معنا د ولي سرپرست ، قيم د يتيم ، وصي ، او هغه غلام چې هغې ته مالک اذن د تجارت کړی وي،[8]

**په اصطلاح کې: (** من يتم العقد باجازته وليا كان او وكيلا او مالكا)[9] ژباړه: مجيز عبارت د : هغه شخص څخه دی چې عقد د هغه په اجازه تماميږي برابره خبره ده چې هغه ولي وي ، که وکيل ، او يا مالک .

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۴۸
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۴۹
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۴۰
[4]: ابن نجيم زين الدين بن ابراهيم ، بحرالرائق شرح كنز الدقائق، خپروونکی،دارالمعرفة بيروت لبنان، لومړی چاپ کال۱۴۲۳ه ج۶ص۹۷۰
[5]: معجم الوسيط ج۲ ص۶۹۳ باب الفاء . تاج العروس من جواهرالقاموس ج۳ ص۱۷۸ ماده فضل
[6]: الجرجانی، علي بن محمدبن على، التعريفات، خپروونکی، دارالكتب العلمية بيروت لومړی چاپ کال ۱۴۰۵ه ج۱ص۲۱۵ بابالفاء
[7]: الشامي، ابن عابدين، ردالمحتار على در المختار، ج۹ ص ۳۴۹
[8]: ابن منظور، لسان العرب، ج۵ ص ۳۲۶
[9]: السرخسی ، شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل ، المبسوط ، خپروونکی، دارالفكرللطباعة بيروت لومړی چاپ کال ۱۴۲۱ه ج۱۹ص۵

**العقد:** په لغت کې په معنا د الضمان، العهد، او ( نقيض الحل) يعنې ربط (تړل، غوټه کول) په مينځ د اطرافو د دوو ځيزونو، نو برابره خبره ده چې دا ربط حسي وي او که معنوي وي د يو جانب نه وي او که د دوو جوانبو نه وي .[1]

**په اصطلاح کې:** ( تعلق کلام احد العاقدين بالآخر شرعا على وجه يظهر اثره فى العمل)[2] ژباړه: تړاو د خبر د يو د عاقدينو د بل سره په داسې ډول چې ظاهر شي اثر يې په عمل کې.

**الموقوفة:** ابن فارس رحمه الله فرمائي : واو ، قاف، فا يو اصل دی چې دلالت کوي په تمکث په يو شي کې.[3] او الموقوفة صيغه د اسم مفعول ده د وَقَفَ يقِف وقفا څخه په معنا د سکون ، منع او حبس لکه عربان وايي: وقفتِ الدابة اى سکنت، و وقفتُها اى منعتها من السير، وقفتُ الدار اى حبستها فى سبيل الله.[4]

**په اصطلاح کې:** دوه معناوې لري: (١ـ يطلق على كل عين محبوسة فى سبيل البر والخير بشروط، ٢: ويطلق على العقد الموقوف وهو ما كان مشروعا باصله و وصفه و يفيد الملك على سبيل التوقف )[5] ژباړه: د موقوفة اطلاق کيږي په هر هغه عين چې محبوس وي په لاره د خير کې، او همدارنګه اطلاق يې کيږي په موقوف عقد باندې ، او دا هر هغه عقد دی چې اصلا او وصفا مشروع وي او افاده د ملک هم کوي لکن په طريقه د توقف ( په اجازه د مجيز ).

**الإجازة:** په لغت کې په معنا د اذن سره ده [6]

**په اصطلاح کې:** امام کاساني رحمه الله اجازه داسې تعريف کړې ده: ( واما الإجازة فهي تصرف بالتغيير وهوالإلزام لا بالإعدام)[7] ژباړه: اجازه عبارت دی له د تصرف کولونه په تغير سره چې دا تغير په الزام سره وي نه په اعدام سره.

**د قاعدې معنى:**

تصرفات د فضولي لکه بيع ، اجاره، نکاح وغيره چې د هغې لپاره په وخت د عقد کې مجيز موجود وي، منعقد کيږي موقوف په اجازې مجيز پورې ، او کوم تصرفات د فضولي چې په وخت د انشاء يا ايجاد د عقد کې مجيز ونلري هغه نه منعقد کيږي بلکې هغه تصرفات يې باطل دي او اجازه ورپورې نه ملحق کيږي.

**د قاعدې دليل:**

کتاب الله: استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې لپاره په عموم د هغه اياتونو چې د بيع په اړه باندې دي لکه دا اقوال د الله عز و جل: { وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ } [8] ژباړه: حال دا چې حلال کړی دی الله

---

[1]: ابن منظور، لسان العرب، ج۴ ص۳۰۳۱
[2]: الزحيلي، الفقه الاسلامى وادلته ج۴ص۴۳۲
[3]: ابن فارس، معجم مقاييس اللغة ج۶ص۱۳۵
[4]: الفيومي، مصباح المنير ج۲ ۶۶۹
[5]: هيئة كبار العلماء، موسوعة الفقهية الكويتية ج۳۹ص۳۲۴
[6]: الزبيدي، تاج العروس من جواهر القاموس ج۱۵ص۸۶
[7]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ص۲۷۱
[8]: د بقرې سورت ۲۷۵ ايت

تجارت او حرام کړی دی سود.  او دا قول د الله تعالی:{ يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عن تَرَاضٍ مِنْكُمْ } [1] ژباړه: ای هغه کسانو چې ایمان یی راوړی دی ( یعنی ای مومنانو! ) مه خورئ تاسي ! مالونه د یو او بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره مګر ( خورئ یی ) که وي دا ( مالونه چې خورئ یی اموال د ) تجارت ( چې صادروي ) په خوښې سره له تاسو نه .
او دا قول د الله تعالی: { فإذا قُضِيَتْ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا في الْأَرْضِ وَابْتَغُوا من فَضْلِ اللَّهِ }[2] ژباړه : نو هرکله چې ادا کړی شی لمونځ ( د جمعې ) پس خواره شې تاسي په ځمکه کې ( خپلو حوائجو ته که یی لرئ) او ولټوئ تاسي له فضله د الله .
**د استدلال وجه:** الله عز و جل بیع، شراء، تجارت، او طلب د رزق حلال یې مشروع ګرځولی ، بغیر دکوم توپیر نه په منځ د دې کې چې دا ( بیع ، شراء،او تجارت) د مالک له طرفه اصالتا موجود شي او او یا د وکیل له طرفه موجود شي په ابتداء کې ، او یا موجوده شي اجازه د مالک له طرفه په انتهاء کې ، او بغیر د کوم توپیر نه په منځ د دې کې چې رضاء په تجارت کې په حین د عقد کې وي او یا وروسته له عقد څخه ، نو لازم دی عمل په اطلاق د مطلقوالید ایاتونو.[3]
**سنت** : (عن عائشة قالت : جاءت فتاة إلى النبي ﷺ فقالت : يا رسول الله إن أبي ونعم الأب ، هو زوجني ابن أخيه ليرفع من خسيسته ، قالت : فجعل الأمر اليها فقالت : إني قد اخترت ما صنع أبي ، ولكني أردت أن تعلم النساء أن ليس إلى الأباء من الأمر شيء .)[4] ژباړه: عائشه رضی الله عنها فرمائي : چې یوه پیغله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله پس وې ویل : یارسول الله صلی الله علیه وسلم زما پلار چې ښه پلار دی زه په نکاح ورکړې یمه خپل وراره ته چې لرې کړی په دې سره د هغه سپکوالې یعنی ( ارزښت او حیثیت یی لوړ کړي)، بي بي عائشه رضی الله عنها وایي: پس ( رسول الله صلی الله علیه وسلم ) واک یې هغې ته وسپاره ، پس هغې( پیغلې) و ویل : ما انتخاب کړو هغه څه چې پلار مې کړي دي ، لکن ما اراده وکړه چې ښځې په دې پوهې شي چې پلارانو لره ( د دوې د نکاح په باب کې) څه اختیار نشته دی.

**د استدلال وجه:** دې پیغلې ته رسول الله صلی الله علیه وسلم  اختیار ور کړو چې دا نکاح قبلوي او که نه یې قبلوي ، اوس که دا نکاح د دې د اذن پورې موقوفه نه وی نو بیا اختیار ورکول څه معنا.[5]

**تطبیقي بیلګې:**

١ـ کله چې یو فضولي د یو بالغ ښځه طلاقه کړه ، یا ئې غلام ورته ازاد کړو یا ئې مال ورته صدقه کړو او یا ئې مال ورته هبه کړو د (فضولي دا عقد) منعقد کیږي خو موقوف په اجازې ، ځکه چې بالغ انسان په خپله د دې تصرفاتو مالک دی، نو موجود دی مجیز د عقد په حالت د وجود  دعقد کې ، پس موقوف شو په اجازې مالک پوري او که همداکار د یو نا بالغ باندې وشي، دا عقد نه منعقد کیږي ځکه چې ماشوم

---

[1]: د النساء سورت ۲۹ ایت
[2]: د جمعي سورت ۱۰ ایت
[3]: الکاسانی، بدائع الصنائع ج۵ ص۱۴۸
[4]: اخرجه النسائي فی سننه، کتاب النکاح باب البکر یزوجها ابوها وهي کارهة ، رقم الحدیث:۳۲۶۹، او علامه الباني رحمه الله ورته ضعیف او شاذ ویلي دي .
[5] : سبط ابن الجوزی، ایثار الانصاف فی اثارالخلاف، خپروونکی، دارالسلام ، قاهره لومړی چاپ کال ۱۴۰۸ه ج۱ص۳۰۶

اهل د دې تصرفاتو نه دی په دې دلیل که ماشوم په خپله دا عقدونه وکړي نه صحیح کیږي ، نو دې عقد لره مجیز په حین د انعقاد د عقد کې نشته نو منعقد کیږی هم نه.[1]

**۲ـ** همدارنګه که صبي محجورعلیه کله چې خپل مال خرڅ کړي او یا شئ و پلوري او یا نکاح وکړي ، او یاخپله وینځه په نکاح ورکړي ، او یا د خپل ځان په هکله داسي کارونه وکړي که همدا کارونه ولي د ده په کله وکړي جائز به وي نو دا (تصرفات د محجورعلیه) منعقد کیږي لکن موقوف په اجازې د ولي ترڅو چې صغیر وي ، او یا د ده د خپلي بعدالبلوغ اجازې پورې موقوف وي که د ولي اجازه په حالت د صغر کې موجود نه شي ، تر دې چې ماشوم بالغ شو مخکې د اجازې د ولي څخه او په خپله یې اجازه وکړه نو صحیح شو .[2]

**۳ـ** که صغیر وصیت وکړي وصیت یې نه صحیح کیږي ، ځکه دا داسې یو تصرف دی چې دې لپاره مجیز په حال د وجود کې نشته ته نه ګورې که دا تصرف ولي د صغیر وکړي هم نه صحیح کیږي .[3] نو د وصیت د انعقاد لپاره نه صغیر مجیز او نه هم ولي د هغې.

**دویم مطلب: ( تصرف العاقل محمول على وجه الأحسن ما امكن)**[4]

تصرف د عاقل باید حمل کړی شي په ښه وجې باندې تر کوم حده چې ممکن وي.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ تصرف العاقل واجب الإعتبار ما امكن.[5]

۲ـ الأصل في تصرف العاقل صيانته عن الإبطال ما امكن.[6]

۳ـ كلام العاقل يحمل على الصحة ما امكن.[7]

۴ـ تصرف العاقل تجب صيانته عن الإلغاء ما امكن.[8]

**د مفرداتو څیړنه:**

التصرف: دا مصدر دی د تصرّف يتصرّف تصرفا څخه په لغت کې په معنا د ( التقلب فى الامور والسعى في طلب الكسب)[9] ژباړه : اړول را اړول د امورو ، او کوشش کول په طلب د کسب کې .

---

[1]: الكاساني. بدائع الصنائع،ج۵ص۱۴۸
[2]: الكاساني. بدائع الصنائع،ج۵ص۱۴۸
[3]: الكاساني. بدائع الصنائع،ج۵ص۱۴۸
[4]: الكاساني. بدائع الصنائع،ج۵ص۱۴۹
[5]: الكاساني. بدائع الصنائع،ج۳ص۷۹
[6]: الكاساني. بدائع الصنائع،ج۷ص۳۷۹
[7]: الكاساني. بدائع الصنائع،ج۴ص۱۱۴
[8]: الكاساني. بدائع الصنائع،ج۷ص۱۷۷
[9]: موسوعة الفقهيه الكويتيه ج۱۲ ص۷۱ كلمة التصرف

**په اصطلاح کې**: تصرف عبارت دی د ( كل ما يصدر عن الشخص بإرادته ويرتب الشرع عليه نتائج حقوقية)[1] ژباړه: هر هغه څه چې صادريږي د يو شخص څخه په ارادې د هغې ، او شرع په هغې باندې حقو قي نتائج مرتب کړي.

**د تصرف ډولونه**: تصرف په دوه ډوله دی: ۱- فعلي تصرف ۲- او قولي تصرف.

**۱- فعلي تصرف**: فعلي تصرف عبارت د ( ماكان مصدره عملا فعليا غيراللسان بمعنى انه يحصل بالأفعال لا بالأقوال مثلا: احرازالمباحات، الغصب، الإتلاف، واستلام المبيع وغير ذلك)[2] ژباړه: هغه څه چې مصدر د هغې فعلي عمل وي بغير د ژبې څخه ، په دې معنی چې دا حاصليږي په افعالو نه په اقوالو مثلا: احراز (په ملکيت کې راوستل د مباحاتو) غصب، اتلاف، او تسليميدل د مبيع او داسې نور.

**۲- قولي تصرف**: قولي تصرف عبارت دی د ( هوالذي يكون منشأه اللفظ دون الفعل، ويدخل فيه الكتابة والإشارة مثلا: البيع، النكاح، الإجارة، الإعتاق، الطلاق، وغير ذلك،)[3] ژباړه: دا هغه تصرف دی چې سرچينه د هغې لفظ وي نه فعل ، او په دې کې کتابت او اشارت هم داخل دي لکه: بيع، نکاح، اجاره، ازادول ، طلاق، او داسې نور.

او تصرف سره د دواړو ډولونو خپلو شامليږي ټولو هغه څيزونوته چې صادريږي د عاقل څخه برابره خبره ده چې هغه عبادات وي که معاملات وي او که شخصي احوال وي ، ځکه چې دا څيزونه خارج نه دي د افعالو او اقوالو څخه او تصرف دې دواړو ته شامل دی.[4]

**العاقل**: صيغه د اسم فاعل ده جمع يې عقال او عقلاء راځي لغتًا په معنا د (المدرك، اللبيب، الذكي) درک کوونکی، اوښيار، او ذکي.[5]

**په اصطلاح کې**: عاقل عبارت دی د ( المدرك للامور المميز بين النافع والضار)[6] ژباړه: درک کوونکی د امورو او فرق کوونکی په منځ د نفعې او ضرر.

**د قاعدې معنی:**

قاعده دا افاده کوي چې تصرفات د عاقل هغه فعلي وي او که قولي بايد معتبر وګڼل شي او حمل شي په ښه محمل باندې تر کوم حده چې ممکن وي ، ځکه چې الغاء د تصرفاتو د عاقل سره د امکان د تصحيح او تحسين د هغه خلاف د عقل دی ، او لازمه ده چې تصرفات د عاقل وساتل شي د الغاء او ابطال څخه تر کوم حده چې ممکن وي ، ځکه چې عقل عموما عاقل لره منع کوي د فاسدو تصرفاتو څخه ، او خصوصا بيا مسلمان لره عقل او دين يې منع کوي د حرام او لغوه کارونو څخه.[7] نو ځکه امام کاساني

[1]: الزرقا، مصطفى احمد، المدخل الفقهي العام، خپزروونکی،دارالقلم، دمشق سوريه دويم چاپ كال ۱۴۲۵ه ج۱ ص۳۷۹
[2]: الزرقا، المدخل الفقهي العام، ج۱ ص۳۸۰
[3]: الزرقا، المدخل الفقهي العام، ج۱ ص ۳۸۰
[4]: الزرقا، المدخل الفقهي العام، ج۱ ص۳۸۱
[5]: الزيات، معجم الوسيط ج۲ص۶۱۷ باب العين ،الزبيدي، تاج العروس من جواهر القاموس ج ۵ص ۹۲ حرف العين
[6]: قلعه جي، دكتور محمد رواس، معجم لغة الفقهاء، خپروونکی، دارالنفائس بيروت لبنان لومړی چاپ كال ۱۴۰۵ه ج۱ص۳۵۸
[7]: البورنو، موسوعة القواعد الفقهية ج۴ ص ۳۱۲

رحمه الله فرمائي: الغاء د تصرف د عاقل سره د امکان د تصحيح د هغه خارج د عقل څخه دی يعني غير معقول کار دی، او همدا رنګه فرمائي: د عاقل قصد د تصرف څخه فائده وي نه لغوه ، لعب، اوعبث، او همدارنګه عاقل قصد نه کوی په تصرف خپل سره د محال شي.[1]

**د قاعدې دليل:** استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره په دې حديث باندې: **(عن حكيم بن حزام أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث معه بدينار يشتري له أضحية فاشتراها بدينار وباعها بدينارين فرجع فاشترى له أضحية بدينار وجاء بدينار إلى النبي صلى الله عليه وسلم فتصدق به النبي صلى الله عليه وسلم ودعا له أن يبارك له في تجارته .)**[2] ژباړه: د حکيم بن حزام رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته يې يو دينار ورکړو چې قرباني ورته واخلي ، پس هغه قرباني واخيستله په يو دينار او وپلورله په دوه دينارو ، پس واپس شو او وې پيرودله قرباني (رسول الله صلی الله عليه وسلم ) ته په يو دينار او راغی د يو دينار سره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ، پس صدقه کړو رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه يو دينار او ده ته يې برکت دعا وکړه.

**د استدلال وجه:** نبي عليه السلام د حکيم بن حزام رضی الله عنه د فعل تقرير وکړو ، او دعا د برکت يې ورته وکړه اګرکه هغه مامور په بيع د شاة نه وو ، نو دا دلالت کوي په انعقاد د تصرف د هغه په صحت د بيعې ، او که داسې نه وای نو انکار به کړی وو رسول الله صلی الله عليه وسلم ( لان الباطل ينکر) او حمل کړو رسول الله صلی الله عليه وسلم تصرف د هغه په احسنه وجې باندې چې هغه قصد د احسان او نيکي دی د رسول الله صلی الله عليه وسلم[3]

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ تصرفات د فضولي چې مجيز ولري په حين د عقد کې منعقد کيږي موقوف تر اجازې د مجيز ځکه چې ( دلته ممکن دی حمل د تصرف دفضولي په احسنه وجې باندې ، چې هغه قصد د احسان او نيکي دی خپل ملګري سره ځکه چې سړی ته کله په غالب ګمان سره معلومه شي چې زما ملګری دې تصرف ته محتاج دی او دې کې د هغې ګټه ده ، نو په نيت د احسان او نيکي د هغې سره او لپاره د بيان د ستاينې او تحمل د مئونت (تکليف) د مباشرت د هغه تصرف چې هغه ورته محتاج دی او په اميد د ثواب د الله تعالی څخه په سبب کومک او احسان دغه سره چې دا کار مطلوب دی شرعا[4] الله تعالی فرمايې:( **وَتَعَاوَنُوا على الْبِرِّ وَالتَّقْوَى**) [5] ژباړه: او مرسته (مدد) کوئ تاسي يو تر بله په نيک کار او تقوا (پرهيزګاري ) کې. هودارنګه الله تعالی فرمائي:( **وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ** )[6] ژباړه: او نيکي کوئ **!** ( له هر چا سره مخصوصا له غازيانو سره ) بې شکه چې الله دوستي کوي له نيکو کارانو سره ( چې ثواب ورکوي دوې ته ).

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۴ص۷۱ـج۶ص۴۴ـج۶ص۱۳۹
[2]: رواه ابوداود ، في سننه، کتاب البيوع ، باب في المضارب يخالف ج۳ ص ۲۶۵ شماره (۲۳۸۸) علامه الباني ورته ضعيف ويلي دي ، صحيح وضعيف ابي داود ج۲ ص۱۶۳
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۴۹
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۴۹
[5]: د المائده سورت ۲ ايت
[6]: د بقرى سورت ۱۹۵ ايت

۲ـ کله چې عقد د اعارې مقید وي نو لازم دی مراعات د قید تر کوم حده چې ممکن وي ، ځکه چې اصل اعتبارورکول دي تصرف د عاقل ته په هغه ډول چې تصرف یې کړی دی ، مګر دا چې ممکن نه وي مراعات د قید په سبب د دې چې قید مفید نه وي... او عدم مراعات د قید په معنا د ملغی ګرځول دي د تضرف د عاقل.[1]

۳ـ امام کاساني رحمه الله فرمائي: کله چې یو شخص قسم وکړي چې د فلاني په دغه دابې نه سپریږم ،او د فلاني دغه کور ته نه داخلیږم ، او یا د فلاني دغه غلام سره خبرې نه کوم ، او یا فلاني دغه لباس نه اغوندم ، یعنې کله چې جمع کړی شي اضافت د ملک سره د اشارې ، بیا محلوف د ملک د صاحب د هغه څخه خارج شي ، بیا حالف سور شي او یا داخل شي او یا خبرې وکړي ، پس په نزد د امام محمد رحمه الله حانث کیږي او په نزد شیخینو رحمهما الله نه حانث کیږي.

د شیخینو د قول وجه: کله چې حالف جمع کړي په منځ د اضافت او اشارې کې نو لازم دی اعتبار د دواړو تر کوم حده چې ممکن وي ، ځکه چې تصرف د عاقل واجب الإعتبار دی تر څو چې ممکن وي ؛ او په تحقیق سره ممکن دی اعتبار د اضافت سره د اشارې، پس ګویا چې ده ویلې دي: زه به په دغه دابې تر هغې نه سپریږم ترڅو چې د فلاني په ملکیت کې وي.[2]

۴ـ جائز دی خوړل د ذبیحې د کتابي کله چې حاضر شوی نه وي ذبحې د کتابي ته ، او یا دا چې حاضر شي او د هغه څخه څه وانه وري ، او یا تنها تسمیه واوري ، ځکه چې کله څه وانه وري دا حمل کیږي په تسمیې باندې او په مجرد نوم د الله تعالی باندې په اساس حسن ظن په هغه باندې لکه څنګه چې په مسلمان حسن ظن کوو.[3]

۵ـ د احکامو د لقیط څخه یو حکم دا دی : چې نسب د لقیط ثابتیږي د مدعي څخه ، په دې شرط چې شرعا احتمال د ثبوت ولري ؛ ځکه چې لقیط مجهول النسب وي ، نو که دعوه وکړي ملتقِط او او یا غیر د هغه څخه بل څوک چې دایې ځوې دی نو دعوه به یې اوریدل کیږي بغیر د بینه و څخه ، ځکه چې ده خبر ور کړی د یو امر چې محتمل الثبوت دی ، او هر څوک چې خبر ور کړی د یو محتمل الثبوت امر څخه ، نو واجب دی تصدیق دغه ، په اساس د حسن ظن په مخبِر باندې، او دا یو اصل دی، مګر داچې په تصدیق د مخبِر کې ضرر وی ، او دلته په تصدیق او اثبات د نسب کې خو فائده ده جانبینو ته ، په جانب د لقیط کې دا فائده ده چې رسیږي شرف د نسب ته او په جانب د مدعي کې استعانت حاصلول دي په ولد باندې په دنیوي او دیني امورو کې برابره خبره ده چې مدعي مسلمان وي او که ذمي او که عبد.[4]

**دریم مطلب : ( الأصل ان یکون تصرف الإنسان لنفسه لا لغیره)**[5]

اصل دا دی چې تصرف د انسان د ځان لپاره وي نه د غیر لپاره.

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۶ ص ۲۱۵
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۳ ص ۷۹
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۴۶
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۶ ص ۱۹۹
[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۵۰

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ الأصل ان يكون الإنسان متصرفا لنفسه لا لغيره.[1]

۲ـ الأصل ان عمل كل انسان لنفسه لا لغيره.[2]

۳ـ الأصل كون عمل الإنسان لنفسه لا لغيره.[3]

۴ـ الأصل ان يقع تصرف كل عامل لنفسه لا لغيره.[4]

**د مفرداتو څيړنه:**

الأصل : ابن فارس رحمه الله فرمائي: (الهمزة والصاد واللام، ثلاثة أصولٍ متباعدٍ بعضُها من بعض، أحدها: أساس الشيء، والثاني: الحيّة، والثالث: ما كان من النّهار بعد العشيّ)[5] ژباړه: همزه، صاد، لام ، دا درې اصله دي ۱ـ بيخ د يو شي ۲ـ مار ۳ـ د ورځې هغه برخه چې د ځاخت نه وروسته وی.

په (مصباح المنير) کتاب کې ذکر دي چې اصل په معنا د بيخ او بنست د يوشي، او هغه شی چې په بل څيز بناء کيږي.[6]

**په اصطلاح کې:** د اصل لپاره په نزد علماء د شريعت کې مختلف المعاني اطلاقات دي په لاندې ډول:

۱ـ اول اطلاق: اصل په معنا د دليل: لکه دا قول د فقهاء: (اصل هذه المسأله الکتاب والسنة) يعني دليل د دې مسألې کتاب او سنت دی.

۲ـ دويم اطلاق: اصل په معنا د راجح: لکه دا قول د فقهاء: ( الأصل فی الکلام الحقيقة) يعني راجح په کلام کې حقيقيت دی.

۳ـ دريم اطلاق: اصل په معنا قاعده : لکه دا قول نحويانو: ( الأصل کل فاعل مرفوع) يعني قاعده دا ده چې هر فاعل مرفوع وي.

۴ـ څلورم اطلاق: اصل په معنا د مقيس عليه: لکه دا قول د فقهاء : (الحنطة اصل يقاس عليه الأرز فی تحريم الربا) يعني غنم لپاره د وريجو مقيس عليه دي په باب تحريم د سود کې.

۵ـ پينځم اطلاق: اصل په معنا د مخرج د مسألې د علم ميرث په اصطلاح کې، او مخرج هغه عدد ته ويلکيږي چې د هغه څخه حصص مفروضه لاس ته راځي: علم الفرئض والا وايي: اصول د مسائلو دا دي: ۲ـ۳ـ۴ـ۶ـ۹ـ ۱۲ـ ۲۴.[1]

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۴۶
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۲۰۱
[3]: ابن الهمام کمال الدين محمد بن عبدالواحد، شرح فتح القدير، خپروونکی، دارالفکر بيروت لبنان، دويم چاپ کال ۱۴۱۷ه ج ۳ ص۱۴۲
[4]: ابن الهمام کمال الدين محمد بن عبدالواحد، شرح فتح القدير، ج۵ص ۲۲۸
[5]: ابن فارس، معجم مقاييس اللغة ج۱ص۱۹
[6]: الفيومي ، المصباح المنير، ج۱ص۱۶ کتاب الالف

۶ـ شپږم اطلاق: اصل په معنا د استصحاب لکه دا قول د فقهاء: ( الأصل فی اشیاء الإباحة) یعنې مستصب په اشیاء کې اباحت دی، لکن که مونږه تأمل وکړو نو د دې اطلاق رجع دویم اطلاق ته کیږی چې هغه اصل په معنا د راجح سره دی.[2]

التصرف: د دې کلیمې معنا مخکې څیړل شوې ده.[3]

**د قاعدې معنې:** پورتنی قاعده دا افاده کوي چې هر ډول تصرفات چې د یو مکلف څخه صادریږي چې هغې سره انشاء او یا ترتب د یو امر کیږي لکه : بیع ، اجاره، نکاح، اقرار، حدود ، جنایات ، نو قاعده په دې کې داده چې کوم احکام په نتیجه د دې تصرفاتو کې منځته راځي هغه به ده پورې لازم وي نه د بل چا پورې .

عز بن عبدالسلام[4] رحمه الله فرمائي: ( هر هغه څوک چې خپل ځان او د بل چا لپاره شراء کولی شي ، د ده دا شراء د خپل ځان لپاره واقع کیږي نه د بلچا لپاره ، مګر دا چې د شراء په وخت کې کې داسې نیت وکړي چې هغې سره واضحه شي دا شراء د بل چا لپاره ده نه د ځان لپاره ، همدارنګه که څوک د یو تصرف مالک شي په یو سبب د اسبابو مختلفه و څخه لکه: وکیل، وصي ، پس دا شخص مالک د شراء د خپل ځان او مؤکل ، او یا یتیم لپاره دی ، اوس که دا په مطلق ډول شراء وکړي نو دا شراء د ده د ځان لپاره ده ، ځکه چې غالب د افعالو د ده څخه همدا څرګندیږي چې شراء به یې د ځان لپاره کړې وي ، او نه را ګرځول کیږي مؤکل او یتیم ته مګر په نیت سره )[5]

**د قاعدې دلیل:** استدلال کړی امام کاساني رحمه د دې قاعدې لپاره په دې قول د الله تعالی: **(لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ** )[6] ژباړه: ( دی ) دې نفس لره ( ثواب د ) هغه ( عمل ) چی کړی ( یی ) دی او شته په د باندې (وبال) د هغه (عمل) چی کړی (یی) دی . او په دا قول د الله تعالی:( **وَأَنْ ليس لِلْإِنْسَانِ إِلَّا ما سَعَى)**[7] ژباړه: او بله دا چی نشته هیڅ انسان لره مګر ( جزا د هغه شي ) چی کړی یی دی .

**د استدلال وجه**: د فضولي شراء په حقیقت کې کسب د هغې دی پس اصل دا دی چې د خپل ځان لپاره یې وي مګر دا چې د بلچا لپاره یې وګرځوي.[8]

---

[1]: السلمي،دکتور،عیاض بن نامي، اصول الفقه الذي لایسع الفقیه جهله، خپروونکې ، دار ملک فهد الوطني، ریاض چاپ لومړی کال ۱۴۲۳ه ج۱ص۱۰

[2]: ابن نجار، محمد بن احمد بن عبدالعزیز، شرح الکوکب المنیر، خپروونکی، مکتبة العبیکان الریاض، کال ۱۴۱۸ه ج۱ص۴۰

[3]: د همدې رسالې صفحه

[4]: هو عزالدین عبدالعزیز بن عبدالسلام ابي القاسم بن الحسن په کال (۵۷۷ـ۶ه) په دمشق کې ځیګیدلی ،فقیه، شافعي، او مجتهد عالم وو ، د تصانیفو له جملې څخه یې : قواعد الاحکام في مصالح الانام، الفتاوی، او التفسیرالکبیر، او په کال (۶۶۰ه)په مصر کې وفات شوی دی، الاعلام للزرکلي ج۱ص۱۴۷

شیخ الاسلام، عزالدین بن عبدالعزیزبن عبدالسلام ، قواعد الاحکام فی مصالح الانام ، ځبروونکی، دارالقلم بیروت لومړی چاپ کال ۱۴۲۱ه : :

[5]:ج۳ص۱۲۳

[6]: د بقری سورت ۲۸۶ایت

[7]: د نجم سورت ۳۹ ایت

[8]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۵۰

او علامه جصاص رحمه الله د دې ایت (**لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ**) په تفسیر کې فرمائي:( په دې ایت کې دلالت دی په دې خبره چې احکام د افعالو د مکلفینو متعلق وي تر همدوې پورې نه د بلچا پورې)[1]

**تطبیقي بیلګې**:۱ـ امام کاساني رحمه الله په بیان د حکم د شراء د فضولي کې فرمائي: ( کله چې فضولي یو شی د غیر لپاره واخلي نو دا به خالینه یا به یې اضافت د عقد ځان ته کړی وي او یا به یې اضافت مشترَی له ته کړی وي ، که اضافت د عقد یې ځان ته کړی وو نو اخیستل شوی شی د ده شو برابره خبره چې د مشترَی له ورته اجازه وکړي او که ونکړي ، ځکه کله چې قابل نفاذ وي په عاقد باندې نو نافذ کیږي په ده باندې او نه موقوف کیږي ځکه چې اصل دادی چې تصرف د انسان د ځان لپاره وي نه د غیر لپاره.)[2]

۲ـ کله چې یو سړی وکیل وي په اخیستلو د یو غیر معین شي ، نو دا به مشترِي لنفسه وي مګر دا چې په اخیستلو سره نیت د مؤکل لپاره وکړي ځکه چې اصل دادی چې تصرف د انسان ځان لپاره وي نه د غیر لپاره.[3]

۳ـ او که دا وکیل په وخت د شراء کې هیڅ نیت ونکړي .. په نزد د امام ابویوسف رحمه الله ثمن به حَکم وي یعنې که په خپلو دراهمو یې شراء کړې وه نو دا شراء به د ده لپاره ګڼل کیږي ؛ او که د مؤکل په دراهمو کړې وه نو مبیع د مؤکل شوه او امام محمد رحمه الله فرمائي چې شراء لپاره د وکیل واقع کیږي وکړي ځکه چې اصل دادی چې تصرف د انسان ځان لپاره وي نه د غیر لپاره.[4]

۴ـ د لقطې لپاره وروسته د اخیستلو څخه دوه حالته دي یو حال د امانت دی او بل حالت د ضمان دی، که ملتقِط د اخیستلو وخت کې نیت د رد کولو د لقطې صاحب د هغې ته وکړي هغه داسې چې د اخیستلو په وخت کې شاهدان قائم کړي چې دا څیز زه صاحب ته یې ورکوم، نو د ملتقِط ید یدامان دی او ملتقَط به ده سره امانت ګڼل کیږي که هلاک شي ضمان ورباندې نشته ، او که شاهدان قائم نکړي نو دا اخیستل د لقطې د ځان لپاره دي ځکه چې اصل دادی چې عمل د انسان ځان لپاره وي نه د غیر لپاره ، او اخذ د مال د غیر بغیر د اجازې د هغه څخه سبب د وجوب ضمان دی نو د ملتقِط لاس ید ضمان دی که دا ملتقَط هلاک شي نو په ده تاوان وي [5]

## څلورم مطلب :( الإجازة الاحقة بمنزلة الوكالة السابقة)[6]

وروستې اجازه په منزله د مخکیني وکالت دی.

---

1: الجصاص، احكام القرآن، ج۲ص۲۷۹
2: الكاساني ، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۵۰
3: الكاساني ، بدائع الصنائع ج۶ ص ۳۱
4: الكاساني، بدائع الصنائع ج۶ص۳۱
5: الكاساني، بدائع الصنائع ج۶ص۲۰۱
6: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ص۱۵۱

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ الإجازة الاحقة كالوكالة السابقة.[1]

۲ـ الإجازة الاحقة كالإذن السابق.[2]

۳ـ الإجازة فی الانتهاء بمنزلة الإذن فی الإبتداء.[3]

**د مفرداتو څېړنه:**

**الوكالة:** وكالت په لغت كې اسم مصدر دی په معنا د (التوكيل) يعنې وكيل ګرځول، يا ( تفويض الأمر الى الغير) يعني سپارل د يو كار بلچا ته .[4] او په معنا د حفظ او اعتماد هم راځي امام كاساني رحمه الله فرمائي: ( هو تفويض التصرف والحفظ الى الوكيل)[5] ژباړه: وكالت عبارت دی ، د سپارلو د تصرف او ساتنې وكيل ته.

**په اصطلاح كې:** ( اقامة الإنسان غيره مقام نفسه في تصرف معلوم)[6] ژباړه: درول د غير د خپل نفس په ځای په يومعلوم تصرف كې.

د دې كليمې معنا مخكې څېړل شوې ده[7] **الاجازه:**

**د قاعدې معنی:** وروستی اجازه په منزله دمخكيني وكالت ده، دا قاعده مونږ ته د فضولي د تصرفاتو او عقودو حكم بيان وي هغه دا چې هر هغه عقد چې بغير د مالک او يا قائم مقام د مالک چې ( وصي، قيم ، ولي) دی صادر شي دا تصرفات موقوف دي تر اجازې د مجيز پورې ، پس كه مجيز اجازه وكړه عقد نافذ كيږي او دا وروستی اجازه په منزله د مخكيني وكالت ده، او كه اجازه ونكړي بيا عقد نه نافذ كيږي يعني عقد باطل دی.[8]

فائده: امام كاساني رحمه الله فرمائي:( د عقد موقوفه سره چې كله اجازه ملحق شي ، نو نسبت د اجازې حين د عقد ته كيږي، او كله چې اسناد د اجازې وخت د عقد ته وشي نو ګويا چې عقد د ده په اذن سره سرته رسيدلی دی.)[9] (يعني دې اجازې لپاره رجعي تاثير دی ، نوپس له اجازې څخه عاقد مستفيد كيږي د ثمراتو د عقد څخه د وخت د انعقاد د عقد نه)[10]

او لپاره د ملحق كيدو د اجازې د تصرفاتو د فضولي سره امام كاساني رحمه الله څلور شرطونه بيان كړي دي په لاندې ډول:

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ص۲۰۸
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۲ص۲۳۷
[3]: السرخسي. المبسوط ج۵ ص ۱۵
[4]: قلعه جی، معجم لغة الفقهاءج۲ص۲۳ . المناوي، التوقيف على مهمات التعاريف، ج۱ص۷۳۲ فصل الكاف
[5]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۶ص۱۹
[6]: ابن نجيم زين الدين بن ابراهيم ، البحرالرائق شرح كنزالدقائق، خپرونكی، دارالمعرفة بيروت كال ۱۴۱۳ه ج۷ص۱۳۹
[7]: د دې رسالې صفحه
[8]: البورنو، موسوعة القواعد الفقهيه، ج۱ ص۴۱۴
[9]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۲ص۲۳۷
[10]: الزرقا، المخل الفقهي العام،ج۱ص۵۰۶

۱ـ وجود د مجيز: يعنې په وخت د انشاء د تصرفاتو د فضولي کې بايد مجيز لپاره د عقد موجود وي که مجيز نه وي بيا اجازه نه ملحق کيږي.[1]

۲ـ وجود د بايع او مشتري يعنې وجود عاقدينو: که يو د عاقدينو څخه ( چې فضولي او طرف آخر دی) مخکې له اجازې څخه وفات شي بيا اجازه نه ملحق کيږي .[2]

۳ـ وجود د مالک : يعنې که مالک مخکې له اجازه کولو هلاک شي په اجازې د ورثه و سره نه صحيح کيږي.[3]

۴ـ و جود د مبيع: يعنې که مبيع مخکې له اجازې د مالک څخه هلاک شي ، نو بيا نه جائز کيږي په اجازې د مالک سره ، لکن دومره خبره ده که مبيع د مالک په لاس کې هلاک شوې وه نو بيا د هيڅ شي اختيار نه لري او که هلاک شوې وه وروسته تسليمي څخه مشتري ته نو بيا مالک اختيار لري چې بايع نه تاوان اخلي او که د مشتري څخه ، لپاره د وجود د سبب ضمان په دواړو کې چې هغه تسليمي له طرفه د بايع او قبض له طرفه د مشتري، تسليمول او قبض کول د مال د غير بغير د اذن د مالک نه دواړه سبب د ضمان دي.[4]

او دليل د شرط کيدو د دغه شرائطو دا دی: چې اجازه ملحق کيږي د قائم عقد پورې، او قيام دعقد په دې څلورو شرطونو دی ، ځکه چې اجازه من وجهٍ حکم د انشاء لري او نه متحقق کيږي انشاء بيدون د عاقدينو، او معقود عليه نو همدې لپاره قيام د عقد شرط شو لپاره لحوق د اجازې.[5]

**د قاعدې دليل:**

۱ـ کتاب الله: استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې لپاره په عموم د هغه اياتونو چې د بيع په اړه باندې لکه دا اقول د الله عز و جل: { وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ } [6] ژباړه: حال دا چې حلال کړی دی الله تجارت او حرام کړی دی سود. او دا قول د الله تعالی:{ يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عن تَرَاضٍ مِنْكُمْ } [7] ژباړه: ای هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی ( يعنی ای مومنانو! ) مه خورئ تاسي ! مالونه د يو او بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره مګر ( خورئ يې ) که وي دا ( مالونه چې خورئ يې اموال د ) تجارت ( چې صادرو وي ) په خوښې سره له تاسو نه . او دا قول د الله تعالی: { فإذا قُضِيَتْ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا في الْأَرْضِ وَابْتَغُوا من فَضْلِ اللَّهِ }[8] ژباړه : نو هرکله چې ادا کړی شی لمونځ ( د جمعې ) پس خواره شې تاسي په ځمکه کې ( خپلو حوائجو ته که يې لرئ) او ولټوئ تاسي له فضله د الله .

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۴۸
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۵۱
[3]: مخکينی مصدر
[4]: مخکينی مصدر
[5]: مخکينی مصدر
[6]: د بقرې سورت ۲۷۵ ايت
[7]: د بقرې سورت ۲۸۲ ايت
[8]: د جمعې سورت ۱۰ ايت

**د استدلال وجه:** الله عز و جل بيع، شراء، تجارت، او طلب د رزق حلال يې مشروع ګرځولی ، بغير دکوم توپير نه په منځ د دې کې چې دا ( بيع ، شراء،او تجارت) د مالک له طرفه اصالتا موجود شي او او يا د وکيل له طرفه موجود شي په ابتداء کې ، او يا موجوده شي اجازه د مالک له طرفه په انتهاء کې ، او بغير د کوم توپير نه په منځ د دې کې چې رضاء په تجارت کې په حين د عقد کې وي او يا وروسته له عقد څخه ، نو لازم دی عمل په اطلاق د مطلقواليد اياتونو.[1]

۲ـ همدارنګه استدلال کړی په عموم دهغه اياتونو چې هغې کې( امر د احسان او تعاون دی په تقوی او بِر) کې لکه دا اقول د الله عز و جل:( وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ)[2] ژباړه: او نيکي کوئ ! ( له هر چا سره مخصوصا له غازيانو سره ) بی شکه چی الله دوستي کوي له نيکو کارانو سره ( چی ثواب ورکوي دوی ته ). او دا قول د الله عز و جل: (وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى) [3]ژباړه: او مرسته (مدد) کوئ تاسي يو تر بله په نيک کار او تقوا (پرهيزګاري ) کې.

**د استدلال وجه:** کله غالب ګمان دا وي چې فضولي اقدام د دې تصرف نه دی کړی مګر لپاره د فائدې د خپل دوست او ملګري ، او لپاره د احسان د هغه سره ، او لپاره د دې چې حاصله کړي ستاينه د خپل دوست له طرفه، په سبب د تحمل د مباشرت د هغه تصرف چې دوست يې ورته محتاج دی ، او لپاره د حصول د ثواب د الله عز و جل څخه په سبب تعاون په تقوی او بِر کې. [4]

**سنت: ۱ـ** استدلال کړی امام کاساني رحمه الله په حديث د حکيم بن حزام رضی الله عنه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته يو دينار ورکړو او ورته يې امر وکړو چې يوه اضحيه واخلي ، نو هغه دوه ګډان واخيستل او يو ګډ يې په يو دينار وپلورلو ، يو دينار او يو ګډ يې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راوړو ، پس رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته دعا د برکت وکړه او وې فرمايل: ( بارک الله في صفقة يمينک)[5]

**د استدلال وجه:** د نبي عليه السلام دعا د برکت کول حکيم بن حزام رضی الله عنه ته او عدم انکار د نبي عليه السلام د هغه په فعل باندې، دلالت کوی په صحت د تصرف او انعقاد د بيع ، اګرکه د اول نه حکيم بن حزام رضی الله عنه مأذون په دې کار نه وو[6]

۲ـ ( ما روی ان النجاشي زوج رسول الله صلی الله عليه وسلم أم حبيبة رضی الله عنها)[7]ژباړه: رويت شوی دی چې په نکاح کړه نجاشي رحمه الله ام حبيبه رضی الله عنها لره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته.

---

[1]: الکاساني بدائع الصنائع ج۵ص۱۵۱
[2]: د بقرې سورت ۱۹۵ ايت
[3]: د مائدې سورت ۲ ايت
[4]: الکاساني بدائع الصنائع ج۵ص۱۴۹
[5]: د دې تخريج د همدې رسالې په صفحه کې ذکر شوی
[6]: الکاساني بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۴۹
[7]: اخرجه ابو داود فی سننه، کتاب النکاح باب الولي، ج۲ص۲۲۹رقم الحديث (۲۰۸۶)علامه الباني ورته صحيح ويلي دي ،صحيح ابو داود للالباني ج۶ص ۳۲۲ واخرجه الحاکم في المستدرک ، کتاب النکاح ج۲ص۱۸۱ رقم الحديث(۲۷۴۱) او ويلي يې دي: صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه

**د استدلال وجه:** دا کار د نجاشي رحمه الله یابه په امر د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کړی وي او یابه بغیر د امر د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یې کړی وي، که په امر د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کړی وي نو دا وکیل شو د رسول الله صلی الله علیه وسلم او که بغیر د امر رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یې کړی وي ، پس رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې د عقد اجازه وکړه او وروستی اجازه لکه مخکیني وکالت غوندې ده .[1]

**تطبیقي بیلګې:**

۱ـ که فضولي د چا مال وپلورلو ، نو داعقد منعقد دی خو موقوف په اجازې د مالک ، که د مالک له طرفه اجازه وشوه نو عقد نافذ کیږي او بایع په منزله د وکیل شو ځکه چې وروستی اجازه په منزله د مخکیني وکالت ده، او ثمن به د مالک وي که موجود وي ځکه چې دا بدل د ملک د هغه دی ، او که ثمن په لاس د بایع کې هلاک شي نو هلاک کیږي په طور د امانت لکه څنګه چې د ابتداء نه وکیل وي او ثمن هلاک شي .[2]

۲ـ که طلاق کړي فضولي ښځه د بالغ سړي، یا یې غلام ازاد کړي، او یا یې مال هبه او یا صدقه کړي ، نو دا عقد منعقد کیږي خو موقوف په اجازې، او که دا کار د صبي په حق کې وکړي نو عقد نه منعقد کیږي ځکه چې صبي د دې تصرفاتو لپاره اهل نه دی.[3]

۳ـ کله چې فضولي یو شئ په اجاره ورکړي ، او مالک اجازه وکړي ، نو که اجازه دمالک مخکې له استیفاء د منفعت څخه وه نو اجازه صحیح ده او اجوره د مالک کیږی، ځکه چط معقود علیه فوت شوې نه ده، او که اجازه وروسته له استیفاء د منفعت څخه نو دا اجازه بیا صحیح نه ده ،ته نه ګورې که دا فضولي د اول نه د مالک په امر عقد وکړی نو جائز به وي، پس کله چې دا معقودعلیه محل دی لپاره د انشاء د عقد نو همدارنګه محل دی لپاره د اجازې د عقد ځکه چې اجازه یې لاحقه په منزله د وکالت سابقه ده، او که اجازه وکړي وروسته د استیفاء د منفعت څخه نو نه صحیح کیږي اجازه د مالک ، او اجوره لپاره د عاقد ده ځکه چې منفع د معقودعلیه منعدم شوې دي.[4]

۴ـ کله چې وه وایي فضولي بایع ته : و پلوره دا غلام دې په فلاني باندې په دومره پیسو او وه وایی بایع: وه مې پلورلو په فلاني باندې په دومره پیسو او قبول کړی فضولي لپاره د فلانی او یا وه وایی بایع: دا غلام مې په فلانی باندې وه پلورلو او قبول کړي مشتري شراء لپاره د فلاني ، نو دا عقد موقوف دی په اجازې د مشترَی له ځکه چې په اصل کې تصرف د انسان خو د ځان لپاره وي لکن کوی شي چې په سبب د وکالت و غیره د بلچا لپاره یې وګرځوي ، نو دلته یې د بلچا لپاره ګرځولی نو موقوف دی په اجازې د هغه پورې.[5]

---

[1]: الکاساني بدائع الصنائع ج۲ ص۲۳۱
[2]: الکاساني بدائع الصنائع ج۵ ص۱۵۱
[3]: الکاساني بدائع الصنائع ج۲ ص۲۳۱
[4]: الکاساني بدائع الصنائع ج۴ص۱۷۷
[5]: الکاساني بدائع الصنائع ج۵ص۱۵۰

۵: که په عقد سلم کې ـ رأس المال په استحقاق یوړل شي او ( عاقدین) جدا شوي وي وروسته له قبض څخه ، او اجازه وکړي مستحِق نو عقد سلم صحیح دی ځکه چې مستحِق کله وکړه ، نو ښکاره شوه چې عقد د وخت د وجود نه صحیح واقع شوی دی او همدارنګه قبض هم، ځکه وروستی اجازه په منزله د مخکیني وکالت ده.[1]

**پینځم مطلب: ( لا ضرر ولا إضرار فی الاسلام)[2] قاعدې زده کړه**

نشته ضرر رسول په اسلام کې نه ابتداءً او نه جزاءً

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ التحرز من الضرر واجب عقلا وشرعا.[3]

۲ـ الأصل فی الضرر الا یکون.[4]

**د مفرداتو څېړنه:**

الضرر: ضرر او ضرار د الضرة څخه اخیستل شوی ، او ضرر په لغت کې په معنا د نقصان، ضیق، سختي او بدحالیویل کیږي:" دخل علیه ضرر في ماله ای نقص" ژباړه: داخل شو په مال د هغه کې ضرر یعني نقصان، او ویل کیږي:" مکان ذو ضرر اي ضیق"ژباړه: ځای دی خاوند د ضرر یعني تنګ، او الله عز و جل فرمائي:( وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ )[5] ژباړه: او کله چې ورسیږي تاسی ته سختی په بحر کې ( او وویریږي له غرقه ) ورک شي ( له فکره ) هغه کسان چی یی بولې ( او عبادت یی کوئ)

د دې دریواړو معناګانو رجع ( ضد النفع)[6] ته کیږي.

**د ضرراو ضرارپه منځ کې فرق:** د ضرر او ضرار په اړه د اهل لغتو دوه قوله دي:

اول قول: ضرر او ضرار دواړه مترادف الفاظ دي او تکرار لپاره د تأکید دی.[7]

دویم قول: په منځ د ضرر او ضرار کې فرق دی ځکه چې " التاسیس اولي من التاکید"، بیا دا قول والا اختلاف کړی په فرق کې په څو اقوالو:

---

[1]: الکاساني بدائع الصنائع ج۵ص۲۰۱

۲: الکاساني بدائع الصنائع ج۵ص۱۵۳ امام کاساني رحمه الله دا قاعده چې د نبوي حدیث نص دی په دې کتاب بدائع کې شپږ ځایه:( ۳۲۳/۲ـ۲۲۰/۳ـ۱۵۳/۵ـ۱۱۸/۶ـ ۲۶۵/۶ـ۱۶۵/۷) په لفظ د (إضرار) همزه سره ذکر کړې، اوپه لفظ د (لاضرر ولإضرار) یې بلکل نه دی ذکر کړی، ما د دې لفظ څېړنه وکړه په سنن دار قطني ج۴ص ۲۲۸ شمیره د حدیث(۸۵) کې مې پیدا کړو، په دې اړه ابن دقیق العید رحمه الله په خپل کتاب : (شرح الاربعین نوویه) کې فرمائي: دا حدیث په ژبه د اکثرو فقهاء او محدثینو په( لاضرر ولا إضرار) په همزه مکسوره مخکې له ضاد څخه دا صحت نه لري. شرح الاربعین النوویه لابن دقیق العیدج۱ص ۸۲

[3]: الکاساني بدائع الصنائع ج۵ص۵۸

[4]: الکاساني بدائع الصنائع ج۲ص۲۹۴

[5]: د الاسراء سورت ۶۷ایت

[6]: ابن منظور، لسان العرب،ج۴ص۴۸۲ماده ضرر

[7]: ابن منظور، لسان العرب ج۴ص۴۸۲ ، ابن اثیر، النهایه فی غریب الحدیث والاثر ص۵۴۲

1ـ الضرر اسم دی او الضرار فعل دی او د دې دواړو معنا ده: لاضرر : چا ته به ضرر نه رسوي چې ده ته يې ضرر نه وي رسولی، او لإضرار معنا يو بل ته به ضرر نه رسوي يعنې ضرر فعل د واحد دی او ضرار فعل د اثنينو دی.

۲ـ لاضرر معنا ده:ضرر به نه رسوي خپل مسلمان وروړته چې د هغه د حق څخه څه کم کړي او لإضرار معنا ده: د هغه ضرر مقابل کې به ضرر نه رسوي.

۳ـ الضرر: ابتداءً چا ته ضرر رسول او الضرار جزاءً چاته ضرر رسول.

۴ـ الضرر: بلچا ته داسې ضرر رسول چې ته ورڅخه ګټه واخلې ، او الضرار: بلچا ته داسې ضرر رسول چې تاته په کې ګټه نه وي .[1]

الضرر په اصطلاح کې: ( الإخلال بمصلحة مشروعة للنفس او الغير تعديا او تعسفا او اهمالا)[2]ژباړه: خلل واقع کول په هغه مصلحت کې چې مشروع شوی وي د نفس او يا غير لپاره په تعدي، يا تعسف، او يا په اهمال سره.

الضرار په اصطلاح کې: ( ايقاع الضرر بالنفس او بالغير)[3]ژباړه: واقع کول د ضرر په نفس او يا په غير باندې.

**د قاعدې معنی:**

لفظ د قاعدې نص د نبوي حديث دی[4] ، چې دا خبره دې قاعدې ته قوت ور کوي ، او ګرځوي دې لره يو شرعي دليل لپاره د بناء د احکامو په دې باندې ، قاعده دا افاده کوي چې ضرر په اصل کې مطلقا منفي او حرام دی ، دا ضرر ابتداءً وی او که د ضرر په مقابل کې وي ، عام وي او که خاص وي ، په نفس وي او که په غير وي ، دا قاعده يو اصل دی د اصولو د اسلام څخه او د شريعت د ارکانو څخه يو رکن دی .[5] لفظ د قاعدې شامليږي اکثرو دنيوي امورو ته ، او دا خليږي په ډيرو فقهي ابوابو کې ، ځکه چې دې قاعدې ته د نيم او يا ډيرو فقهي ابوابو او مسائلو رجعه کيږي.[6]

**تنبيه:** ظاهرا د عموم د قاعدې څخه دا معلوميږي چې ضرر په مطلق ډول منع دی هغه په حقه وي او که په ناحقه ، لکن حقثقت دا دی چې له ضرر څخه ناحقه ضرر مراد دی او همدا منفي دی ، او هر هغه ضرر چې په حقه وي هغې ته لفظ د قاعدې شامل نه دی .

په دې اړه ابن رجب رحمه الله فرمائي: ( په هر حال نبي عليه السلام ناحقه ضرر او ضرار يې منفي کړی دی لکن ضرر رسول بلچا ته په حقه سره ، لکه دا چې د الله تعالی د حدودو څخه يې تيری کړی

---

[1]: وکتل شي: ابن منظور، لسان العرب ج۴ص۴۸۲ ، ابن اثير، النهايه فی غريب الحديث والاثر ص۵۴۲ ، معجم الوسيط ج۱ص۵۳۸باب الضاد موافي، الدکتور احمد ، الضرر فی الفقه الاسلامي ، خپروونکې، دار ابن قيم، ، رياض، سعودي، د چاپ کال ۱۴۲۹ د چاپ ګڼه، ۲ ج۱ ص ۹۷

[3]: وکتل شي: هيئة کبار العلماء،الموسوعة الفقهية الکويتية ج۱ص۲۱۶
[4]: د دې حديث تخريج په لفظ د (لاضرر ولا ضرار) په صفحه کې ذکر شوی.
[5]: الزرقا، المدخل الفقهي العام ج۲ ص۹۹۰
[6]: النووي، المجموع شرح المهذب ج۲ص۳۸۲

وي او ورته سزاء ورکړی شي په قدر د جرم د هغه او یا ظالم وي او مظلوم مطالبه د عدل وکړي د ده په مقابل کې پس دا ضرر په حدیث کې مراد نه دی)[1]

**د قاعدې دلیل**: دا قاعده په خپله د حدیث نص دی او حدیث دویم مصدر او حجت دی لپاره د اثبات د شرعی احکامو ، لکن د کتاب الله څخه هم لپاره د اثبات د دې قاعدې موجود دي موجود دی :

۱ـ کتاب الله : لکه دا قول د الله عز و جل :( وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِتَعْتَدُوا )[2] ژباړه: مه ساتې ! تاسو دا ښځې (په رجعت سره) لپاره د ضرر رسولو له جهته د دې چې ( پر دوی باندی تیرې وکړئ)

**د استدلال وجه**: ځیني میرونه په ساتلو د ښځې خپله نکاح کې ، ښځې ته ضرر رسوی ، ځکه چې ښځه یې خوښه نه وي ، لکن په امساک سره یې قصد ووږدول د عدت او داسې نور ناروا اهداف وي چې سبب ضرر وي ښځې ته ، نو د داسې ډول ضرر رسولو څخه په ایت کې منع شوې ده . [3]

۲ـ او دا قول د الله تعالی چې فرمائي: (أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ)[4] ژباړه: و اوسوئ دا ( ښځی طلاقې کړای شوی ) په هغه ځای کې چې پکې اوسیږې تاسي (سم) له طاقت د تاسي ( چی توانیږې) او مکوئ اراده د ضرر تاسي د دغو (مطلقاتو) لره چی تنګوې به (ځایونه او نفقې ) په دوی باندې .

**د استدلال وجه**: مراد د تضییق څخه په دې قول د الله تعالی کې:( لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ) تنګي په مسکن کې ده ، هغه مسکن چې مطلقه په کې عدت تیروي، او حال دا چې په کور کې ځاي فراخه وي ، او ستاسو مطلب تضییق وي په هغوې باندې، نو په ایت کې نهي راغلې د ضرر رسولو څخه مطلقې ته تردې چې خپل عدت پوري کړي.[5]او دا هغه خبره ده چې قاعده ور باندې دلالت کوي.

**تطبیقي بیلګې**: د ولایت شرطونه مختلف ډولونه لري چې ځیني یې ولي( لکه پلار، نیکه، وصي) ته راجع کیږي، او ځیني یې مُوَلی علیه (لکه صغیر) ته راجع کیږي او ځیني یې مُوَلی فیه ( تصرفاتو د ولي) ته راجع کیږي ، د شرائطو د مُوَلی فیه څخه یو شرط دا دی چې مُوَلی فیه باید د ضرر رسوونکو تصرفاتو څخه نه وي لکه هبه کول د مال د یتیم بغیر د عوض څخه ځکه چې چې په دې کې ضرر محض دی یتیم ته او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي:( لاضرر ولا إضرار فی الاسلام )[6]

۲ـ که یو شخص وغواړي چې کوڅې ته پیک(جناح) یا ناوه وباسي، نو مونږ وایو دا به د احد الوجهَین نه خالینه وی یا به دا کوسه نافذه وي او یا به غیر نافذه که چیرته نافذه وه بیا ګورو چې لارویانو ته ضرر

---

[1]: ابن رجب ، جامع العلوم والحکم ج۱ص۳۰۴
[2]: د بقرې سورت ۲۳۱ ایت
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۳ص۱۸۰ . وکتل شي: القرطبي، الجامع لاحکام القرآن ج۳ص۱۲۳
[4]: د طلاق د سورت ۶ ایت
[5]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۴ص۱۵ . الطبري، محمد بن جریر، جامع البیان في تأویل القرآن. خپرونکی مؤسسة الرسالة بیروت لومړی چاپ کال ۱۴۲۰ه ج ۲۳ص ۴۵۷
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ص۱۵۳.

دی او که نه که ضرر وو بیا دیته حلال نه دی چې دا کار وکړي ځکه چې او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي:( لاضرر ولا إضرار فی الاسلام )[1]

۳ـ اتلاف سبب د وجوب د ضمان دی... ځکه چې اتلاف ويل کيږي د منځه وړلو د يو شي ته په داسې ډول چې عادتًا قابل د نفع اخيستلو نه وي ، او دا بيا تجاوز او ضرر دی ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي:( لاضرر ولا إضرار فی الاسلام).[2]

۴ـ که چا خپل میرمن ته په مرض الموت کې بائن طلاق یا درې طلاقه بغير د رضايت د هغې ښځه ورکړل ، دا ښځه خپل خاوند څخه ميراث وړي، امام کاساني رحمه الله وايي: د دې خبرې عقلي دليل دادی چې نکاح په حال د مرض الموت کې وسيله د ارث ده ، او وسيله د حق د انسان هم حق د انسان دی ، ځکه چې انسان د وسيلې څخه استفاده کوي ، بائن طلاق يا درې طلاقه دا حق باطلوي نو دې سره ابطال د حق د ښځې راځي او دا ضرر دی په حق ښځې کې ، نو طلاق مردود دی په خاوند باندې او ملحق بالعدم دی په حق د ارث کې لپاره د عمل په دې قول د نبي عليه السلام :( لاضرر ولا إضرار فی الاسلام)[3] ژباړه: نشته ضرر رسول په اسلام کې نه ابتداء او نه جزاء.

۵ـ کله چې خاوند نامرد(عنين) وي هغه ته به يو کال وخت ورکړی شي ، پس که په يو کال خپلې ښځې ته ورسيدو نو ډيرښه او که و نه رسيدو، نو جداوالی دې وکړی شي د دوې په منځ کې ، په دليل د اجماع د صحابه و په دې خبره ، ځکه چې په صورت د الزام د عقد کې په وخت د ثبوت د عجز د وصول نه په يوکال کې ، فوت کيدل د مستحَق د ښځې دی او دا ضرر او ظلم دی د ښځې په حق کې ، په تحقيق سره نبي عليه السلام فرمائلي دي: :( لاضرر ولا إضرار فی الاسلام)[4]

**پينځم مبحث: ( فقهي قواعد په فصل د الربا او جريان الربا کې)[5]**

په دې مبحث کې هغه قواعد را جمع کړی شوط دي چې په فصلونو د الربا او جريان الربا کې ذکر شوې دی او دا مبحث مشتمل دی په پنځه مطلبونو:

**لومړی مطلب : ( الجهالة المفضية الی المنازعة تفسد العقد) قاعدې زده کړه.**

هغه جهالت چې سبب ګرځي د شخړې فاسدوي عقد لره.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ الجهالة المفضية الی المنازعة تمنع صحة العقد.[6]

۲ـ الجهالة لا تمنع صحة العقد لعينها بل لافضائها الی المنازعة.[7]

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۶ص۲۶۵
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۷ص۱۶۵
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۳ص۲۲۰
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۲ص ۳۲۳
[5]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۵۶
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۸۰
[7]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۹۴

٣ـ الجهالة المفضية إلى المنازعة مانعة .[1]

**د مفرداتو څېړنه:**

**الجهالة** : په لغت کې په معنا د ناپوهي ، يا ناپوهي په يو خاص مورد کې ،او کول د يو کار په نا پوهی سره ، او جهل نقيض د علم دی.[2]

**په اصطلاح کې**: فقهاء کرام غالبا لفظ د (الجهل) په هغه حالت کې استعمالوي چې کله انسان موصوف په جهالت وي په خپل عقيده ، يا قول ، او يا هم فعل کې، لکن کله چې جهالت متعلق وي په يو خارجي شي لکه مبيع، اجاره، اعاره او داسې نور، او يا متعلق وي شرائطو او ارکانو د دغه عقودو پورې ، نو فقهاء په دې حالت کې خارجي جانب يې غالب ګرځولی، چې هغه مجهول شی دی، نو هغه يې موصوف کړی په جهالت باندې.[3]

**المفضية**: صيغه د اسم فاعل ده د افضی يفضی افضاء څخه په لغت کې په معنا فراخ والی، لمس، جماع کول، او وصول الی الشئ يعني رسيدل يو څيز ته .[4]همدا معنا په قاعده کې مراد ده.

**المنازعة**: النزاع او المنازعة په لغت کې په معنا د دښمني، خصومت، کشمکش.[5]

او مراد د نزاع څخه دلته هغه مشکل دی چې حل يې متعذر وي، او دا هغه نزاع ده چې د دواړو طرفونو لپاره حجت په کې مساوي وي په استناد د همدې جهالت ، يعني کله چې عقد کې داسې جهالت موجود وي چې طرفين په هغې تمسک کولی شي د هغه څه لپاره چې دی يې غواړي.[6]

**الفساد:** په لغت کې ډيرې معناګانې لري لکه نقيض د صلاح ، تلف ، هلاکت ، ضرر رسول، اضطراب، خلل ، قحط ، وتل د يو د څيز د اعتدال څخه.[7]

**په اصطلاح کې**:١ـ په نزد د جمهورو فقهاء فساد عبارت دی (مخالفة الفعلِ الشرعَ بحيث لا تترتب عليه الآثار، ولا تسقط القضاء فی العبادات)[8] ژباړه: مخالف اوسيدل د فعل د شريعت څخه په داسې ډول چې آثار وربانذې نه مرتب کيږي ، او نه قضاء ساقطوي په عباداتو کې.

٢ـ په نزد د احنافو فساد عبارت دی د ( ماشرع باصله دون وصفه)[9] ژباړه: هغه څيز چې مشروع وي اصلا نه وصفا.

---

[1]: ابن عابدين، ردالمحتار على درالمختار ج ٨ ص ٢۶۶
[2]: ابن منظور، لسان العرب، ج ٣ ص ٢٢٨ ماده جهل
[3]: الموسوعة الفقهية الكويتية ج١۶ ص ١۶٧
[4]: وکتل شي: الموسوعة الفقهية الكويتية ج۵ ص ٢٩۶
[5]: الزيات، معجم الوسيط ، ج ٢ ص ٩١۴. الزبيدي، تاج العروس ، ج٢٢ ص ٢۴٨
[6]: وکتل شي: الزرقا، المدخل الفقهي العام، ج٢ ص٧۴۴
[7]: ابن منظور، لسان العرب، ج ٣ ص ٣٣۵ماده فسد. الزيات، معجم الوسيط ، ج٢ ص۶٨٨ باب الفاء
[8]: الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٣٢ ص١٣٧
[9]: ابن نجيم، الاشباه والنظائر، ص٣٣٧

او د لته د فساد څخه مراد اختلال د يو صفت د صفاتو د عقد دی چې شرعا مطلوب وي، عارضي وي نه جوهري.[1]

**د قاعدې معنی:** معلومه خبره ده چې عقودو څخه مقصد د عاقدَینو ، انتفاع د هغه څه څخه وي چې دوی ورباندې عقد کوي ، او قاعده دا افاده کوي چې معقود علیه باید طرفَینو د عقد ته معلوم وي ، ځکه هر جهالت په عقد کې ، برابره خبره ده چې دا جهالت په مبیع کې وي، که په ثمن کې، او یا په هغه څه کې چې متعلق وي یو د دې دواړو سره ، منع کوي صحت د عقد او واجبوي فساد د هغې ، کله چې دا جهالت متفاحش وي چې خبره په کې نزاع او خصومت ته رسیگي.

له دې څخه ښکاره کیږی یو مقصد د مقاصدو د اسلامي شریعت چې هغه حرص او تأکید دی په له منځه وړلو د خصومت او اختلافاتو ، چې سبب اخلال د روابطو گرځي په منځ د مسلمانانو کې .

او دا هم معلومه شوه چې ، که جهالت مفضي نزاع ته نه وي لکه دا چې جهالت لګ وي او یا په عقودو غیرالمعاوضات کې وي لکه تبرعات، وصیت، کفاله نو په داسې عقودو کې علم شرط نه دی.

**۱ـ فائده: د جهالت جهتونه:**

هغه جهتونه چې هغې ته رجع د جهالت کیږي یعني جهالت په کې راځي او سبب د فساد د عقد گرځي په لاندې ډول دي:

۱ـ جهالت په معقود علیه (محل د عقد) کې ، لکه جهالت د مبیع د بیعي په عقد کې او جهالت اجورې یا د ماجور په عقد اجاره کې .

۲ـ جهالت د عوض په عقودالمعاوضات کې ، لکه جهالت د ثمنو په بیع کې یا جهالت د مصالح علیه په د صلحې په عقد کې.

۳ـ جهالت د اجل (نیتې) په هغه عقودو کې چې اجل په کې ضروري وي ، لکه جهالت د اجل د اجارې په عقد کې.

۴ـ جهالت د (وسائل التوثیق) چې مشروط وي په عقد کې ، لکه دا چې په عقد کې شرط کړی شي په مشتري باندې تقدیم د کفیل او یا رهن په مقابل ثمن مؤجل کې ، نو لازم دی چې کفیل او مرهونه دواړه معین وي او کنه بیع فاسده ده.[2]

**۲ـ فائده: فرق په منځ د غرر او جهالت کې:**

علامه قرافي رحمه الله فرمائي: چې غرر په اصل کې هغه شی دی چې حصول یې مشکوک وي چې حاصل به شي او که حاصل په نه شي، لکه بیع د الوتونکو په هوا کې، او هر هغه څیز چې حصول یې

[1]: الزحیلي، الفقه الاسلامي وادلته، ج۴ ص۳۵۵
[2]: الزرقا، المدخل الفقهي العام ج۲ ص ۷۴۳

يقيني وي لکن صفت کې يې جهالت وي هغې ته مجهول وايي لکه بيع د هغه څيز چې په لستونې کې دی، چې حصول يې قطعي دی لکن معلوم نه دی چې څه شی دی.[1]

**د قاعدې دليل:**

**سنت:**

د دې قاعدې د اثبات لپاره مونږ استدلال کولی شو په هغه احاديثو چې دلالت کوي په بطلان او فساد د هغه عقود المعاوضات چې مشتمل وي په غرر او جهالت باندې، او په اجماع او معقول باندې.

۱- ( عن جابر رضی الله عنه قال: نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن بیع الحصاة و بیع الغرر)[2] ژباړه: منع کړې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بيع حصات[3] او بيع غرر څخه.

**د استدلال وجه:** پيغمبر عليه السلام منع کړې د بيع غرر څخه همدارنګه يې منع کړې د تعامل نه په داسې بيوع چې په هغې کې جهالت وي.

۲- ( عن ابي هريرة رضی الله عنه نهی عن الملامسة والمنابذة)[4] ژباړه: منع کړې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ملامسې[5] او منابذې بيع څخه.

**د استدلال وجه:** په تحقيق سره رسول الله صلی الله عليه وسلم واضحه کړه چې دا دواړه معاملې باطلې دي ، لپاره د وجود جهالت او غرر او ابطال د خيار مجلس په دې دواړو معاملو کې ، ځکه چې انعقاد او وجوب د بيع راځي په مجرد لمس او نبذ بغير د نظر او تأمل او اړول را اړول د مبيع څخه ، او دا يو نوع غرر او مخاطره ده .[6]

**اجماع:** علامه قرافي رحمه الله فرمائي: بيع د مجهول او هغه ثمن چې په هغې کې غرر وي ناجائز دي اجماعا.[7]

**معقول:** ځکه کله چې جهالت مفضي منازعې ته وي دا منع راولي د تسليم او تسلم څخه ، نو بيا نه حاصليږي مقصود د عقد ، نو عقد عبث ګرځي له وجې خاليواليد هغې عاقبت حميده ، او کله چې مفضي منازعې ته نه وي نو موجوديږي تسليم او تسلم ، پس حاصليږي مقصود.[8]

---

[1]: القرافي، الفروق، ج۳ ص ۴۳۲

[2]: اخرجه المسلم، فی کتاب البیوع ، باب بطلان بیع الحصاة فی بیع الذی فیه الغرر، ج۳ ص۱۳۵۳ رقم الحديث(۱۵۱۳)

3: بيع الحصاة ديته وايي چې بايع يا مشتري و وايي : کله مې چې تاته ګټکی واچوله بيع لازمه شوه ، يا و وايي: خرڅوم په تا هغه سلعه چې ستا ګټکی ورباندې وغرځيده يا خرسوم د زمکې څخه تر هغه ځايه چې ستا ګټکی ورته ورسيده. ابن منظور، لسان العرب ج۴ص۱۴۵

[4]: اخرجه البخاري، كتاب البيوع باب بيع المنابذة ج۳ ص۹۲ رقم الحديث(۲۱۴۶)

[5]: الملامسة في البيع أن يلمس الرجل ثوب الاخر بيده بالليل أو النهار ولا يقلبه المنابذة أن ينبذ أحدهما إلى الاخر ثوبا ويتبايعانه من غير نظر اليه ولا تقليب. الحميدي محمد بن أبي نصر فتوح بن عبد الله ، تفسير غريب ما فی الصحيحين البخاری ومسلم . خپروونکی.مکتبة السنة قاهره لومړی چاپ کال ۱۴۱۵ه ج۱ص۹۴

[۵]: القرافي. الفروق ج۳ ص۴۶۵

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ کله چې يو شخص بل ته و وايي تا باندې مې د دغه رمې له ګډانو څخه يو ګډ وپلورلو يا يو جوړه لباس د لباسونو له دغه ډيرۍ څخه ، نو دا بيع فاسده ده ځکه چې يو ګډ له رمې څخه او يا يوه جوړه له ډيرۍ څخه مجهوله ده په داسې جهالت چې سبب د منازعې ګرځي ، ځکه چې ګډ تر ګډ او جوړه تر جوړه فرق لري .[1]ځکه چې بايع به وايي زما دا ګډ يا جوړه مراد وه او مشتري به وايي ځه دا بل ګډ يا دا بله جوړه اخلم .

۲ـ همدا رنګه که يو شخص بل شخص ته و وايي: تا باندې مې يوه جوړه د دغه څلورو جوړو څخه وپلورله او چپ شي د خيار نه ( يعنې ورته ونه وايي چې اختيار تالره دی چې هر يوه اخلې) نو بيع فاسده ده ځکه چې مبيع مجهوله ده.[2]

۳ـ که يو کس بل ته و وايي: تا ته مې په کرايه درکړو يو د دغه دوو کورونو څخه يا يو د دغه دوو غلامانو څخه ، عقد صحيح نه دی ځکه چې معقود عليه مجهول دی له وجې د جهالت د محل د هغه په داسې جهالت سره چې مفضي نزاع ته ګرځي.[3]

۴ـ همدارنګه که دوه نفره د اجارې عقد وکړي او اجوره مجهوله وي او يا د مزارعت عقد وکړي بغير د بيان د حصې د هر يو له عاقدينو له حاصلاتو څخه او هلته يو مشخص عرف هم نه وي ، يا عقد د شرکت وکړي بغير د بيان د کيفيت د تقسيم ګټې، نو دا عقد فاسد دی. [4]

۵ـ که يو انسان و پلوري هر هغه څه چې په دې صندوف کې دي او يا هر هغه څه چې په دې کور کې دي ، عقد صحيح دی اګرکه مبيع مجهوله ده ځکه چې دا مفضي منازعې ته نه ده.[5]

۶ـ که وه ويل شي : آيا داسې نه ده که په اجاره واخيستل شي يوه غير معينه دابه نو دا جائز ده اګرکه په دې عقد کې معقود عليه مجهوله ده له وجې د جهالت د محل د هغې، نو جواب دا دی: دا جهالت مفضي نزاع ته نه دی له وجې د حاجت او ضرورت د خلکو اعتبار د جهالت ساقط شوی ځکه چې مسافر که يوه معينه دابه په اجاره واخلي ، نوډير کله دا دابه په لاره کې هلاکه شي ، نو بيا اجاره په مرګ د دابې سره باطليږي ، او دې لپاره ممکنه نه ده مطالبه د بلې دابې نوپاتيږي په لاره کې بې له دابې او دا ده ته ضرر دی، نو ضرورت داعي شو د سقوط د اعتبار د جهالت له وجې د حالاتو د خلکو ، نو نه ګرځي جهالت مفضي منازعې ته لکه جهالت د مدت او اندازه د هغه اوبو چې استعماليږي په حمام کې.[6]

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۵۶
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۵۷
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۴ ص ۱۸۱
[4]: الزرقا، المدخل الفقهي العام، ج۲ ص ۷۴۲
[5]: الزرقا، المدخل الفقهي العام، ج۲ص۷۴۳
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۸۱

**دويم مطلب: ( مطلق الإسم ينصرف الى المتعارف) [1]قاعدې زده کړه.**

مطلق نوم را اړول کيږي متعارف ته.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ المطلق ينصرف الى المتعارف.[2]

۲ـ مطلق الكلام ينصرف الى المتعارف والمعتاد.[3]

۳ـ المطلق تعتبر فيه العادة.[4]

۴ـ المطلق محمول على العادة.[5]

**د مفرداتو څيرنه:**

**المطلق**: صيغه د اسم مفعول ده د اطلق يطلق اطلاقا څخه. [6] او د طلق څخه مشتق دی ابن فارس رحمه الله فرمائي: الطاء والام والقاف يو صحيح اصل دی چې دلالت کوي په تخليه او ارسال باندې [7]

او مطلق هغه شي چې مقيد په يو قيد او کوم شرط نه وي، او غير معين وي ، او په احکامو کې هغه حکم ته وايي چې استثناء په کې نه وي.[8]

**په اصطلاح کې**:( المطلق ما يدل على واحد غير معين)[9] ژباړه: مطلق هغه لفظ دی چې دلالت کوي په واحد غير معين باندې.

**د قاعدې معنی:**

دا قاعده تعلق لري د قولي عرف سره ، د قاعدې مطلب دادی چې هر هغه لفظ چې مطلق ذکر شي مدلول په يې مقيد وي په متعارف بين الناس ، او د لفظ د معناګانوڅخه په هغه معنا مراد وي چې پيژندل شوې وي د خلکو په منځ کې (پس د هرمتکلم کلام په حمل کيږي د هغې لغت او عرف باندې، پس ګرځول کيږي کلام دهغه هغه معنا ته چې مقصود وي عرفا په وخت د تکلم کې ؛ اګرکه دا معنا د معنا موضوع له نه مخالف وي)[10] او معنا د تقييد د مطلق په قولي عرف باندې دا ده ،که لفظ د (الدابة) وارد شي په

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۵۸
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۵۷
[3]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۶ ص ۲۷
[4]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۳ ص ۴۴۵
[5]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۸۳
[6]: قلعه جي، معجم لغة الفقهاء ج۲ص۳۲
[7]: ابن فارس، معجم مقاييس اللغة ج۳ ص ۴۲۰
[8]: الزيات، معجم الوسيط ج ۲ ص ۵۶۴حرف الطاء
[9]: الجرجانی، التعريفات، ج۱ص۲۸۰
[10]: الزرقا، المخل الفقهي العام، ج۲ ص ۸۸۰

شرعي نص کې نو دا لفظ به په معنا لغوي به حمل کيږي چې هغه( کل ما يدب على الأرض)ده، او که په ( ذوات قوائم الأربعة) چې عرف او عادت ورباندې جاري؟[1] نو صحيح خبره داده چې په هغه معنا په حمل کيږي چې عادت ورباندې جاري وي.[2]

**د قاعدې دليل:**

د دې قاعدې د اثبات لپاره استدلال کړی امام کاساني رحمه الله په لاندې اياتونو ، حديث، او قاعدې باندې:

١ـ دا قول د الله تعالى:( وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ)[3] ژباړه: او که طلاق کړئ تاسي دوې (يعنی ښځی ) په خوا د مس کولو د دوی ( يعنی د ښځو ) او په تحقيق سره ټاکلي (مقرر) ؤ لپاره د دوې مهرونو (لازم) دي (په تاسي باندی) نيمايی د هغه څه چی ټاکلي شويدی .

د استدلال وجه: امام کاساني رحمه الله فرمائي: په نص کې مراد د مهرمفروضه څخه مفروض عند العقد دی ځکه چې همدا متعارف دی ، پس مطلق ګرځول کيږي متعارف ته.[4]

٢ـ الله عز و جل فرمائي: (يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ... فلم تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا) [5]ژباړه: ای هغه کسانو چی ايمان يی راوړی دی ( ای مومنانو **!**) کله چی پاڅيږې تاسي لمانځه ته ( او بی اودسه يې) نو ووينځې تاسي مخونه خپل او لاسونه خپل تر څنګلو پوری ( سره له څنګلو)........ ( او که نه مومئ تاسي اوبه نو قصد وکړئ تاسي د خاورې پاکې .

د استدلال وجه: په ايت کې حکم د ( فاغسلوا) مطلق ذکر شوی، امام کاساني رحمه الله فرمائي: چې دلته مراد غَسل بالماء دی ځکه چې په اخر د ايت کې حکم نقل شوی (تراب) ته په وخت د نشته واليد اوبو کې ، نو معلومه شوه چې منقول منه غَسل بالماء دی او همدارنګه مطلق غَسل ګرځول کيږي غسل معتاد ته چې هغه په اوبو دی.[6]

٣ـ **سنت:** روي عن النبي صلى الله عليه وسلم(الْمُسْتَحَاضَةُ تَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلاَةٍ ) [7] ژباړه: مستحاضه دې هر لمانځه لپاره اودس وکړي.

**د استدلال وجه:** په ايت کې لفظ د (الصلوة) مطلق ذکر شوی،او امام کاساني رحمه الله فرمائي: صلوة مطلق ګرځول کيږي صلوة معهود ته ځکه چې مطلق ګرځول کيږي معهود متعارف ته ، او صلوة معهود صلوات خمسه دي په شپه او ورځ کې نو ګويا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي وي:(

---

1: السيوطي، المجموع ج١ ص١٥٧
2: مسلم الثبوت ج١ص٣٤٥
3: د بقرې د سورت د٢٣٧ايت
4: الكاساني، بدائع الصنائع،ج٢ص٢٩٩
5: د مائدې سورت ٦ايت
6: الكاساني، بدائع الصنائع ج١ص١٥
7: اخرجه ابو داود ، كتاب الطهارة باب من قال تغسل من طهر الى طهرج١ص٢٨رقم الحديث(٢٢٧) وصححه الباني،صحيح ابي داود ج٢ص٧١

المستحاضة تتوضأ فى اليوم والليلة خمس مرات)[1] ژباړه : مستحاضه ښځه دې په شپه او ورځ کې پنځه ځله اودس وکړي.

۴ـ **قاعده:** قولي عرف مقدم دی په لغوي مقصد باندې ، ځکه چې قولي عرف په منزله د ناسخ دی لپاره لغوي مقصد او ناسخ مقدم وي په منسوخ باندې.[2]

**تطبيقي بيلگې:**

۱ـ که چا يو شی خرڅ کړو په لسو درهمو او يا په لسو دينارو او په ښار کې مختلف نقود رائج وو ، نو دا به گرځول کيږي نقد غالب ته لان مطلق الإسم ينصرف الى المتعارف.[3]

۲ـ که چا يو کور په اجاره واخيست ،ايا دی کولی شي چې په هغې کې اوښان، گډان، او نور دواب وتړي؟ جواب مختلف کيږي په اختلاف د عرف او عادت ، که کوم ځای کې عرف وو نو تړلی شي او که عرف نه و وبيا نه شي تړلی لان مطلق العقد ينصرف الى المعتاد.[4]

۳ـ که چا خپله ( دابه) کوم انسان ته په اعاره ورکړه ، او زمان ، مکان، ، رکوب، ، حمل نوم يې ورته وانه خيست ؛ نو دا مستعير کولی شي چې دا (دابه) استعمال کړي په هر زمان او مکان او خوښه يې چې سوريږي ور باندې او که بار درباندې وړي، ځکه چې اصل په مطلق کې دادی چې جاري شي په خپل اطلاق باندې مگر په دابې به داسې بار نه باروي چې هغه يې طاقت نه لري او نه به استعمالوي شپه او ورځ هغه دابه چې په مثل د هغې شپه او ورځ خلک نه استعمالوي ، او که دا کار يې وکړو او دابه هلاکه شوه نو درباندې ضمان لازميږي، ځکه چې عقد اګرکه مطلق دی لکن مطلق مقيد کيږي په عرف او عادت دلالتًا لکه څنګه چې مقيد کيږي نصًا.[5]

۴ـ امام کاساني رحمه الله د جمعې د خطبې په اړه فرمائي: په نزد د امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله د جمعې په خطبه کې شرط دی چې په داسې کلام راتک وکړي چې عرف کې ورته خطبه و ويل شي او امام شافعي رحمه الله فرمائي: چې دوه خطبې او په منځ کې جلسه ضروري ده ځکه چې الله تعالی فرمايلي دي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ)[6] ژباړه : ای هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی ( يعنی ای مومنانو ! ) کله چې (اول) اذان وويلی شي دپاره د لمانځه په ورځ د جمعې کې نو ځغلی منډې ووهئ طرف د ذکر د الله ته. دا ذکر مجمل وو رسول الله صلی الله عليه وسلم په عمل سره تفسير کړو نو معلومه شوه چې الله تعالی په دوه خطبو امر کړی دی ، او صاحبين

---

[1]: دا حديث امام کاسانی نقل کړی او ما په دا الفاظو د احاديثو په کتابونو کې پيدا نکړای شو البته په نورو ګڼو الفاظو وارد شوی دی او سند يې صحيح دی ـ الکاساني، بدائع الصنائع ج۱ص۲۸ [1]
[2]: الدسوقي. محمد عرفه،حاشية الدسوقي على الشرح الکبير ،خپروونکی، دارالفکر بيروت،لومړی چاپ کال ۱۴۲۰ه ج۲ص۱۴۰
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص۱۵۸
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۴ص۱۸۳
[5]: الکاساني. بدائع الصنائع.ج۶ص۲۱۵
[6]: د جمعې د سورت ۹ايت

وايي: چې مشروط مطلق خطبه ده او خطبه په عرف کې مشتمله ده تحميد، تسبيح، صلوة على النبي صلى الله عليه وسلم، دعاء مسلمانانو ته، او وعظ او نصيحت ته نو ګرځول کيږي مطلق متعارف متعارف ته.[1]

۵ـ او که چا قسم وکړو چې ( لايصلي) ، او لفظ د (الصلوة) د دوی په عرف کې اطلاق يې په لغوي معنا کيده نو په دعا کولو سره په حانث کيږي ځکه چې همدا په لغت کې صلوة دی.[2]

**دريم مطلب: (الثمن يقابل الأصل لا الصفة)[3] قاعدې زده کړه**

ثمن د اصل مقابل کې وي نه د صفت په مقابل کې.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ الاوصاف لاحصة لها من الثمن الا اذا ورد عليها القبض او الجناية لانها تصير مقصودا.[4]

۲ـ الصفات المحضة لايقابلها الثمن.[5]

۳ـ الاوصاف لاتقابل بالثمن.[6]

۴ـ الثمن يقابل الأصل دون الوصف.[7]

**د مفرداتو څيرنه:**

**الثمن**: الثمن جمع يې اثمان راځي لکه سبب او اسباب په لغت کې په معنا د عوض .[8] او ثمن هغه عوض ته ويل کيږي چې اخيستل کيږی په رضايت سره په مقابل د مبيعه کې.[9] امام کاساني رحمه الله فرمائي: ثمن نوم دی د هغه څيز چې په ذمه لازميږي همدارنګه نقل شوي د فراء[10] رحمه الله نه او هغه امام دی په لغت کې.[11]

**په اصطلاح کې**: امام کاساني رحمه الله فرمائي: (اسْمٌ لِمَا أَزَالَ الْمُشْتَرِي مِلْكَهُ وَيَدَهُ عنه بِمُقَابَلَةِ مَالٍ أَزَالَ الْبَائِعُ مِلْكَهُ وَيَدَهُ عنه)[12] ژباړه: ثمن نوم دی د هغه څيز چې مشتري خپل ملکيت او لاس د هغې څخه لرې کړي په مقابل د هغه مال کې چې بايع خپل ملکيت او لاس له هغه څخه لرې کوي.

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج١ص٢٦١
[2]: الدسوقي. ،حاشية الدسوقي على الشرح الكبير، ج٢ص١۴٠
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص١۶٠
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص٢۴٠
[5]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص١۶١
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص٢۴٩
[7]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص١۶٠
[8]: الفيومي. المصباح المنير، ج١ص٨۴
[9]: الزيات، معجم الوسيط،ج١ص١٠١
[10]: أبو زكريا يحيى بن زياد بن عبد الله بن منظور الأسلمي، المعروف بالفراء (١۴۴هـ په کوفه کې ځيګيدلی او په کال ٢٠٧ه وفات شوی)اديب، لغوي. او نحوي عالم وو ،او د امام محمد رحمه الله دخاله ځوې وو، د تصانيفو له جملې څخه يې ( المعاني) او (المصادر فی القرآن) او الجمع والتثنية فی القرآن) او (اللغات) دي. ابن خلكان أبو العباس شمس الدين أحمد بن محمد بن أبي بكر، وفيات الأعيان، خپروونکی،دار صادر بيروت لومړی چاپ کال ١٩٠٠م ج۶ ص١٨١
[11]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج۵ ص٢٣٣
[12]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج۵ ص٢۵٩

**الأصل**: د دې کليمې څيرنه مخکې تيره شوې.[1]

**الصفة**: صفت په لغت کې په معنا د ( الامارة الازمة للشى) [2] ژباړه: لازمي نښه د يو شي. يعني د يو شي ځانګړې نښه چې په سره پيژندل کيږي.

**په اصطلاح کې**: ( كلما يدخل فى البيع بغير ذكر كالاشجار والبناء فى الارض والاطراف فى الحيوان والجودة فى الكيل والوزن.)[3] ژباړه: هر هغه څيز چې بغير د ذکر نه داليږي په بيع کې لکه ونې او ابادي په بيع د ځمکې کې، او اطراف يا اندامونه په بيع د حيوان کې، او ښه والى په بيع د کيلي او وزني حيزونو.

**د قاعدې معنى**: هغه اوصاف چې داخليږي په عقد کې بغير د ذکر نه په وخت د عقد کې لکه اشجار او بناء په بيع د ځمکې کې ، او اطراف د حيوان په بيع د حيوان کې ، د دې اوصافو په مقابل کې ثمن نه واقع کيږي ، مګر په هغه صورت کې په مقابل کې يې ثمن واقع کيږي چې مقصود وګرځي په قبض او يا په اتلاف سره ، او که چيرته تلف شي بعض مبيع په سماوي افت سره او پيداء شي د دې تلف څخه نقصان په وصف کې ، پس مشتري اختيارمند دى چې بيع فسخه کوي او رجوع په ثمن سره کوي او يا بيع قبلوي ناقصا او هيڅ شى دې لره نشته، ځکه چې دى قادر دى په فسخې ، او که چيرته پيداء شي د تلف څخه نقصان په قدر کې لکه دا چې مبيع کيلي او يا وزني وي ، او يا عددي وي ، پس عقد فسخ کيږي په اندازه د هالک او ساقطيږي حصه د هغې له ثمن څخه او مشتري اختيارمند دى په منځ د اخذ او فسخ کې لپاره د تفريق د صفقې په ده باندې او که چيرته هلاک شي بعض مبيع قبل القبض په فعل د فاعل سره ، پس د هغه مقابل کې چې څومره ثمن واقع کيږي هغه ساقطيږي برابره خبره ده چې نقصان په قدر وي او که په وصف کې ځکه چې اوصافو لپاره له ثمن څخه حصه وي کله چې جنايت ورباندې واقع شي ، ځکه چې اصل ګرځي په فعل سره نو مقابل کې يې ثمن واقع کيږي او مشتري اختيارمند دى په باقي مبيع کې په منځ اخذ بحصته من الثمن او په منځ ترک کې لپاره د تفريق د صفقې په ده باندې[4]. او امام محمد رحمه الله د دې مسألې لپاره يوه کلي ضابطه وضع کړې ده هغه فرمائي:" هر هغه شى چې تنها پلورل يې جائز نه وي او د غير سره پلورل يې جائز وي، نو که په استحقاق يوړل شو دغه شى مخکې له قبض څخه ، نومشتري اختيارمند دى: په منځ د اخذ په جميع الثمن او ترک کې، او هر هغه شى چې على حده يې خرڅول جائز وي ، پس کله يې چې ته خرڅ کړې دغير سره او بيا په استحقاق يوړل شي ، نو دې لپاره حصه د ثمن څخه شته "[5]

نو دې نه معلومه شوه چې صفت بايد غير مقصود وي په بيع کې ، او که چيرته مقصود وي په بيع کې نو بيا هغې خامخا د ثمن څخه حصه شته لکه څنګه چې امام کاسانى رحمه فرمايلي دى: ( الاوصاف

---

[1]: د همدې رسالې صفحه٩۶

[2]: ابن فارس، معجم مقييس اللغة ج۶ص١١۵

[3]: على حيدر، درر الحكام شرح مجلة الاحكام، ج١ص٢٣۵

[4]: الكاساني، بدائع الصنائع،ج۵ ص٢٣٩ـ٢۴٠

[5] :برهان الدين مازه محمود بن أحمد بن الصدر الشهيد النجاري , المحيط البرهاني, خپروونکى، داراحياءالتراث العربي، بيروت لومړى چاپ کال ١۴٢٠ه ج٧ص۶٩

[5]: الكاساني ، بدائع الصنائع، ج ۵ ص١۶١

لاحصة لها من الثمن الا اذا ورد عليها القبض او الجناية لانها تصير مقصودة بالقبض والجناية)[1]ژباړه: د اوصافو نشته حصه د ثمن څخه مګر دا چي وارد شي په هغې باندې قبض او يا جنايت ، ځکه چي دا ګرځي مقصود په قبض او جنايت . او فرمائي : ( لان القدر فى المكيل والموزون معقود عليه له حصة من الثمن والاطراف جارية مجرى الاوصاف ، فلا يقابلها الثمن، الا اذا صارت مقصودة بالقبض او بالجناية .)[2] ژباړه: ځکه چي قدر په مکيل او موزون کې معقود عليه دى نو دې لپاره شته حصه له ثمن څخه ، او اطراف لکه اوصاف دي نو مقابل کې يې ثمن نه واقع کيږي، مګر دا چي وګرځي مقصود په قبض او يا جنايت سره.

**د قاعدې دليل:**

استدلال کړى امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره په اجماع او فقهي قاعدې باندې:

١ـ **اجماع**: امام کاساني رحمه الله فرمائي: (لوهلک الزيادة بافة سماوية لايسقط شئ من الثمن بالاجماع)[3] ژباړه: که هلاک شو زيادت(د مبيع) په سماوي افت سره ، نو نه ساقطيږي په مقابل د هغې هيڅ شى له ثمن څخه په اجماع سره.

٢ـ صفت تابع د عقد وي او قائم وي په عقد پورې او داخليږي به عقد کې بغير له ذکره او ( التابع لايفرد بالحکم)[4]

**تطبيقي بيلګي:**

١ـ که چا و ويل چي دا لس ګزه جامه مي په تا خرڅه کړه په لسو درهمو ، پس بيع جائز ده ځکه چي مبيع او ثمن دواړه معلوم دي ، بيا که دا جامه په مثل د مسمى وه نو جامه په ده باندې لازمه شوه په لسو درهمو او ده لره هيڅ اختيار نشته ، او که جامه يې و مونده يوولس ګزه زيادت به هم مشتري تسليم شي او که جامه کمه وه د مسمى نه نو نه به طرحه کوي له وجې د نقصان نه هيڅ شى له ثمن څخه او مشتري د اخذ او ترک اختيار لري ؛ که خوښه يې وه په ټولو ثمنو دې واخلي او که يې خوښه وه ترک دې کړي ځکه زيادت او نقصان په مذروعاتو کې په منزله د صفت دى لکه صفت جودت، کتابت، خياطي، او ثمن په مقابل د اصل کې وي نه صفت، خو ګز په مذروعاتو کې په مثل د صفت دى على الاطلاق ، کله چي د هر ګز لپاره ثمن ذکر شوي نه وي او که د هر ګز لپاره ځانته ثمن ذکر شوي وي بيا ـ لاتجري مجرى الوصف.[5] يعنى ګز په منزله د صفت نه وي

٢ـ که خرڅ يې کړه فضه په فکر چي وزن يې سل دى په لسو دينارو او تعيين نه کړي لپاره د هر لس وزنه علاحده ثمن لکه دا چي و وايي : په لسو دينارو ، او و نه وايي چي هر لس وزنه يې په يو دينار؛ او وروسته له تقابض نه سره جدا شي ، نو که يې و مونده فضه په مثل د مسمى نو بيع لازمه شوه او

---

[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۲۴۹
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع، ج ۵ ص۲۵۶
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع، ج ۴ ص۵۰۵
[5]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۶۰

مشتري اختيار نه لري او كه يې و مونده فضه ډيره له مسمى څخه لكه دا چې د فضې وزن دوه سوه درهمو وو ، نو ټوله فضه په عوض د لسو دينارو كې د مشتري ده او نه به زياتوي په ثمنو كې څه شى ځكه چې زيادت په دې كې په منزله د صفت دى او د صفات محضه په مقابل كې ثمن نه واقع كيږي.[1]

۳ـ كه ځيني مبيع په افت سماوي سره مخكې له قبضه هلاكه شي نو كتل كيږي به كه دا نقصان ؛ نقصان د قدر وو لكه داچې مبيع كيلي ، وزني ، او يا عددي وي نو فسخ كيږي بيع په قدر د هلاک شوې مبيع او ساقطيږي حصه د هغې له ثمن څخه ځكه چې قدر په مقدّراتو كې معقودعليه وي ، نو مقابل كې يې ثمن واقع كيږي، او كه چيرته نقصان، نقصان د وصف وي ( او وصف هر هغه شى دى چې داخليږي په بيع كې بغير د تسمي يې نه لكه اشجار او بناء په ځمكه كې او اطراف په حيوان كې او جودت په مكيل او موزون كې) نو بيع اصلا نه فسخ كيږي او نه ساقطيږي له مشتري نه څه شى له ثمن څخه، لان الاوصاف لا حصة لها من الثمن)[2]

۴ـ كه چا واخيست يو غلام په دې نامه چې دا خباز،كاتب، اويا صحيح العينين دى او وې مونده په خلاف د دې اوصافو ، او يا يې واخيستله يوه وينځه چې دا باكره ده او هغه ثيبه وه ، نو نه به كموي څه شى له ثمن څخه.[3] نو كه خوښه يې په ټولو ثمنو دې واخلي او كه خوښه يې وه ترک دې كړي ، ځكه چې دا مرغوبه صفتونه دي او فوات د دې صفاتو لازموي تخيير لره.[4]

۵ـ كه چا غلام واخيست، او چا يې سترګه و ويسته او ده ورنه تاوان(ارش) واخيست او بيا قصد وكړو چې دا غلام مربحتًا خرڅ كړي ، نو طرحه كوى به د سر پيسو څخه هغه اندازه ثمن چې په مقابل د سترګه كې واقع كيږي ځكه چې دا صفت مقصود وګرځيدو په تناول سره.[5]

**څلورم مطلب: ( المعروف بالعرف كالمشروط بالشرط)[6] قاعدې زده كړه**

پيژندل شوى په عرف سره داسې دى لكه چې شرط شوى وي په شرط كولو سره.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ المعتاد كالمشرط[7]

۲ـ المعروف بالعرف كالمشروط باللفظ.[8]

۳ـ المعروف كالمشروط.[1]

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۶۲
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۲۴۰
[3]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۶۰
[4]: ابن نجيم، البحرالرائق شرح كنزالدقائق، ج۶ ص۲۵
[5]: البابرتي، العنايه شرح الهدايه ج۸ ص ۳۷
[6]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۶۷
7 : الكاسانى، بدائع الصنائع، ج۴ ص ۲۱۳
[8] : علي حيدر، دررالحكام شرح مجلة الاحكام، ج۱ ص ۴۶

۴ـ المعهود كالمشروط.[2]

۵ـ المتعارف كالمشروط.[3]

**د مفرداتو څيړنه:**

**المعروف:** په لغت کې په معنا د پيژندل شوی څيز ، مشهور، نامدار، په خلاف د نا اشنا.[4]

په اصطلاح کې: ( اسم لكل ما يعرف حسنه بالعقل او الشرع اوالعرف)[5] ژباړه: هر هغه څيز چې پيزندل شوی وي ښه والی د هغې په عقل يا په شرعه او په عرف سره.

**المشروط:** د شرط څخه اخيستل شوی ، او د شرط معنا مخکې څيړل شوي.[6]

فائده: شروط جمع د شرْط ده په سكون د راء او اشراط جمع د شرَط ده په فتح د راء سره، او دا دواړه په معنا د علامه(نښه) دي او مستعمل په ژبه د فقهاء الشروط دی نه اشراط. [7]

**د قاعدې معنی:**

دا قاعده فرع ده ( العادة محكمة) قاعدې ، او دا تعلق لري د عملي عرف سره او دا عملی عرف په منزله د نطق صريح دی ترڅو چې د نص مخالف نه د وي.[8]پس هغه څه چې متعارف او معتاد وي په معاملاتو کې د خلكو په منځ کې ، نو ضرورت نشته ذكر صريح د هغې ته په عقد کې ، همدا تعارف او اعتياد قائمقام د شرط کيدو ګرځي په التزام کې ، نو لكه څنګه چې په خلاف د صريح شرط دعوی نه اوريدل کيږي همدارنګه په خلاف د هغه څه هم دعوی نه اوريدل کيږي چط هغه متعارف او معتاد وي اګر که صراحتا شرط شوی نه وي .[9] يعني ثابت په عرف سره لكه منصوص په عقد کې وي ، لكه انتفاع په اعيانو مستأجره او مستعاره وو چې په وخت د عقد کې كيفيت د انتفاع بيان شوی نه وي پس په عرف سره تعينيږي.[10]

**د قاعدې دليل:** د دې قاعدې د اثبات لپاره په لاندې احاديثو استدلال كولی شو:

۱ـ (عَنْ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ إِنَّ بَنِي هِشَامِ بْنِ الْمُغِيرَةِ اسْتَأْذَنُوا فِي أَنْ يُنْكِحُوا ابْنَتَهُمْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَلَا آذَنُ ثُمَّ لَا آذَنُ ثُمَّ لَا آذَنُ إِلَّا أَنْ يُرِيدَ ابْنُ أَبِي طَالِبٍ أَنْ يُطَلِّقَ ابْنَتِي وَيَنْكِحَ ابْنَتَهُمْ فَإِنَّمَا هِيَ بَضْعَةٌ مِنِّي يُرِيبُنِي مَا أَرَابَهَا وَيُؤْذِينِي مَا آذَاهَا )[11] ژباړه :

---

[1] : الكاساني، بدائع الصنائع، ج ۶ ص ۷۲

[2]: النووي، المجموع شرح المهذب، ج۱۱ ص ۴۱۵

[3]: النووی، المجموع شرح المهذب،ج۱۳ ص ۱۷۱

[4]: الزيات، معجم الوسيط ، ج۲ ص ۵۹۵

[5]: ابن فارس، معجم مقاييس اللغة، ج۲ ص ۸۳۶

[6]: د همدې رسالې صفحه

[7]: الكفومي، ابی البقاء ايوب بن موسی، الكليات، خپروونکی، مؤسسة الرسالة بيروت کال ۱۴۱۹ه ج۱ص۸۳۴ فصل الشين

[8]: الزرقا، المدخل الفقهي العام، ج۲ ص ۱۰۹

[9]: الزرقا، شرح القواعد الفقهيه ص۲۳۷

[10]: ابن عابدين، مجموعة الرسائل، ج ۲ ص۱۱۵

[11]: رواه البخاري، فی كتاب النكاح باب ذب الرجل عن ابنته فی الغيرة والانصاف ج۷ ص ۳۷ رقم الحديث(۵۲۳۰)

مسور ابن مخرمه فرمایی : چی ما واوریدل د رسول الله صل الله علیه و سلم نه او حال دا چی هغه په منبر باندی ناست وو چی ویل یی : ( بی شکه بنی هشام بن مغیره په اړه د نکاح ورکولو د خپلي لور حضرت علی رضی الله تعالی عنه ته پس زه اجازه نه ورکوم ، پس زه اجازه نه ورکوم ، مګر دا چی وغواړي ابن ابی طالب طلاق کول د لور زما او نکاح د لور د هغوي پس بی شکه دا ( فاطمه رضی الله تعالی عنها ) زما د بدن یوه ټوټه ده ، په تکلیف کوي ما لره هغه څه چی په تکلیف کوي هغي لره او په اذیت کوي مالره هغه څه چی په اذیت کوي هغي لره.

**د استدلال وجه:** ابن قیم رحمه الله د دې حديث په شرح کې فرمائي: (له دې حديث څخه دا خبره ثابتيږي چې ـ المشروط عرفا كالمشروط لفظاـ دی او عدم د مشروط عرفا اختيار د فسخې ورکوي مشترِط ته...که چیرته فرض کړی شي چې يوه ښځه د داسې کورنۍ ځینې وي چې خلک د هغې کورنۍ په ښځو بَن(ضرة) نه راولي او د ښځې کورنۍ دا اجازه نه ورکوي او دا عادت مستمره د هغوې وي، دا لکه مشروط لفظًا دی بناء په همدې پس سيد نساءالعالمين او لور سيد ولد آدم صلى الله عيه وسلم ډيره حقداره ده په داسې شرطونو، او که علي رضی الله عنه دا خبره ( چې ځه به په بي بي فاطمې رضی الله عنها بن نه راولم) په صلب د عقد کې شرط کړی وی دا به تأکید وو نه تاسيس )[1]

۲ـ ـ (قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لاَ تُصَرُّوا الإِبِلَ وَالغَنَمَ، فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدُ فَإِنَّهُ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا: إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا وَصَاعَ تَمْرٍ ")[2] ژباړه:

**د استدلا وجه:** پيغمبرصلى الله عليه وسلم مشتري ته اختيار ورکړی چې بيع سرته رسوي او يا يې رد کړي کله چې معلومه شي چې دا مصراة ده (پس سلامتيا د مبيع د عيوبو څخه مطلوب د مشتري وي عادة ، ځکه غرض د هغه انتفاع وي په مبيع او نه تکميليږي انتفاع مګر په قيد دسلامتيا ، پس سلامتيا مشروط شوه په عقد کې عادة).[3]

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ که چا ونه (شجرة) و پلورله آيا ځمکه د ونې ، بيخ يعنېيې، او ريښې يې په بيع کې شامل دي او کنه، خبره داده چې دا به يو د درې وجوهونه خالينه وي يابه يې اخيستې وي بغير د ځمکې څخه لپاره د را ويستلو، يابه يې اخيستې وي د ځمکې سره لپاره د پريخودلو، يا به يې اخيستې وي بغير د ذکر څه شي نه که يې اخيستې وه بغير د ځمکي لپاره د ويستلو نو اصل يا بيښ يې په بيع کې شامل دی نو جبر د وکړی شي په مشتري چې ونه دبيښه وباسي لکن په متعارف او معتاد ويستلو سره او ده لره جائز نه دي چې تر هغه ځايه ځمکه وکني (حفر) کړي چې تر کوم ځايه ريښې د ونې رسيدلي دي ځکه چې المعروف کالمشروط بالشرط دی.[4]

---

[1]: ابن قيم، محمد بن أبي بكر بن أيوب زاد المعاد في هدي خير العباد، خپروونکی،مؤسسة الرسالة بيروت ۲۷چاپ کال ۱۴۱۵ه ج۶ ص ۱۱۸

[2]: رواه البخاري، فی کتاب البيوع باب النهي للبايع ان لايحفل الابل والبقر والغنم ج۳ص۷۰ رقم الحديث(۲۱۴۸)

[3]: الكاساني، بدائع الصنلئع، ج۵ ۲۷۴

[4]: الكاساني.، بدائع الصنائع. ج۵ ص ۱۶۷

۲ـ که چا یو غلام په اجاره واخیست لپاره د خدمت ، نو ښکاره شوه چې هغه غل(سارق) دی نو ده لره اختیار د فسخې شته دی، ځکه سلامتیا د معقود علیه د عیبونو څخه مشروط دی په عقد کې دلالتا نو دا داسې ده مشروط وی نصا.[1]

۳ـ که سفر وکړي یو د شریکانو نه د مال سره او هغه ته اذن د سفر شوی وي او یا ورته ویل شوي وي ( اعمل برأیک) خپل په زړه کار کوه او یا دا چې شرکت مطلق وي بناء په ( صحیح روایت د امام ابو حنیفه او امام محمد رحمهما الله) نه پس ده لره جایز چې مصرف کړي د مشترک رأس المال څخه به خپل ځان په کرایه کې، نفقه کې، خوراک کې، ترکاري( ادام) کې استحسانا، او د قیاس تقاضا دا ده چې دا جائز نه دی ځکه چې په مال د غیر کې بغیر د اذن صریح نه جائز نه دی، او وجه د ( استحسان العرف والعادة) دادې چې عادت د تجارانو په دې جاري دی چې انفاق د مشترک مال څخه کوي او المعروف کالمشروط.[2]

۴ـ که پلار لور ته د ودیدو په وخت کې څه ورکړل ، او بیا پلار دعوه وکړه چې دا مې عاریتًا ور کړې وو او شاهدان یې نه درلودل نو دې کې اختلاف دی او فتوی دا ده چې : که عرف مستمر په دې وو چې پلار خپلې لور ته و واده په وخت کې ملګًا یو څه ورکویورکوي نه عاریتًا ، نو په دې صورت کې قول د پلار نه قبلیږي او که عرف مشترک وو بیا قول د پلار معتبر دی.[3]

۵ـ که تاجر په بازار کې یو څیز و پلورلو په ثمن باندې او دواړو(بایع او مشتري) تصریح ونه کړه چې ثمن به معجل وي او که مؤجل ، او د تجارانو په منځ کې متعارف دا وو چې بایع به هره جمعه یو اندازه معینې پیسې به اخلي ، نو دا عقد ګرځول کیږي همدې عرف ته ځکه چې المعروف کالمشروط.[4]

**پینځم مطلب: ( الجهالة لا تمنع صحة الإسقاطات)**[5]

جهالت نه منع کوي صحت د اسقاطاتو لره .

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ الجهالة إنما تمنع الصحة في التمليكات لا في الإسقاطات.[6]

**د مفرداتو څیرنه:**

**الصحة:** په لغت کې په معنا د ضد د مرض،له منځه تلل د مرض، عافیت، برائت له هرقسم عیب او ریب څخه.[7]

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۴ ص ۱۹۵
[2]: الکاساني.، بدائع الصنائع. ج۶ ص۱۷
[3]: ابن نجیم، الاشباه والنظائر، ج۱ص۱۲۳
[4]: ابن نجیم، الاشباه والنظائر، ج۱ص۱۱۷
[5]: الکاساني.، بدائع الصنائع. ج۵ ص۱۷۳
[6]: السرخسي، المبسوط ، ج۱۹ ص۱۸۲
[7]: ابن منظور، لسان العرب ج۲ص۵۰۷ ماده صحح، ابن فارس معجم مقاییس اللغلة ج۳ص۲۸۱

**په اصطلاح کې:** ( کون الفعل مسقطا للقضاء فی العبادات او سببا لترتب ثمرته المطلوبه منه شرعا فی المعاملات )[1] ژباړه: کیدل د فعل ساقطوونکی د قضاء په عباداتو کې ، او سبب لپاره د مرتب کیدو د هغه آثارو چې مطلوب دي د دې فعل څخه شرعا .

**الإسقاطات:** الإسقاطات جمع د الإسقاط ده او الإسقاط مصدر دی د سقط نه اخیستل شوی ، ابن فارس رحمه الله وايي: السين والقاف والطاء ، يو اصل دی چې دلالت کوي په وقوع باندې.[2] او په مصباح المنير کتاب کې دي سقط سقوطا ای وقع من الاعلی الی الاسفل يعني د بره نه لاندې وغرځيدو.[3]

نو الإسقاط په معنا د ( الإيقاع )واقع کول او( الإلقاء) غورځول؟[4]

**په اصطلاح کې:** ( هو إزالة الملك او الحق لا الى مالك ولا الى مستحق، لان الساقط ينتهي ويتلاشى ولا ينتقل.)[5] ژباړه: لرې کول د ملکيت او يا لرې کول د حق نه مالک ته او نه مستحق ته، ځکه چې ساقط ختميږي او له منځه ځي او نه نقل کيږي. لکه طلاق،عتاق، عفوه، ابراء.

**د قاعدې معنی:** قاعده دا افاده کوي چې جهالت په ساقطولو د حقوقو کې د صحت مانع نه ګرځي يعني سره د جهالته اسقاط د حقوقو صحيح کيږي ځکه چې جهالت په اسقاطاتو کې سبب د نزاع نه ګرځي ، او جهالت په تمليکاتو کې مانع د صحت دی ځکه چې اکثره سبب د نزاع ګرځي.

**د قاعدې دليل:** استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره په لاندې حديث او اجماع باندې:

١ـ **حديث:**( لما روی ان رجلين اختصما الى النبي صلى الله عليه وسلم في ميراث قد درست فقال لهما عليه الصلاة والسلام استهما واوجبا الحق وليحلل كل واحد منكما صاحبه)[6] ژباړه: ځکه چې روايت شوی چې دوه نفرو دوسيه وړاندې کړه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ميراث په مسأله کې چې وخت وربانده تير شوی وو، پس رسول الله صلى الله عليه وسلم دوې ته وه ويل: خسنی واچوی او حق معلوم کړی ، او حلال دې کړي (يعني يو بل ته د بخشش وکړي) هريو له ستاسو څخه خپل صاحب لره.

**د استدلال وجه:** په دې حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم دواړه خصمَينو ته د (تحليل )حکم وکړو ، يعني كه ستاسو يوبل باندې څه حق پاتي شي هغه يو بل ته حلال يعني بخشش کړې، او همدا اسقاط د مجهوله حقوقو دی، نو ثابته شوه چې جهالت مانع د صحت د اسقاطاتو نه ګرځي .

---

1: قلعه جي، معجم لغة الفقهاء ج١ص٣٢۴
2: ابن فارس، معجم مقاييس اللغة ج١ ص۴٩٣
3: الفيومي، المصباح المنيرج٢ص١۴۶
4: ابن منظور، لسان العرب ج۵ص٢٠٧
5: الموسوعه الفقهيه الكويتيه ج۴ص٢٢۶
6: اخرجه ابو داود في سننه، كتاب الاقضية باب في قضاء القاضي اذا اخطاءج٣ص٣٠١ رقم الحديث(٣۵٨۴) او الباني رحمه الله ورته حسن ويلي دي، ارواء الغليل ج۵ص٢۵٢ رقم الحديث(١۴٢٣)

۲ـ **اجماع**: امام کاساني رحمه الله فرمايي: چې بناء په دې حديث اجماع کړې ده مسلمانانو په استحلال د معاملاتو خپلو په اخر د عمرونو خپلو کې بغير د کوم انکار څخه .[1]

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ جايزه ده بيع په شرط د برائت د عيب څخه برابره خبره ده چې دا برائت د ټولو عيبونو څخه وي لکه دا چې و وايي : دا څيز مې په تا باندې په دې شرط خرڅ کړو چې ځه به بري يمه د ټولو عيبونو څخه.

او يا دا چې نوم واخلي د يو جنس د عيبونو ، او امام شافعي رحمه الله فرمائي: که يوخاص قسم عيب ياد کړي برائت صحيح دی او که برائت يې عام کړو بيا صحيح نه دی ځکه برائت د ټولو عيبونو څخه ابراء عن الحجهول ده او ابراء اسقاط دی خو په دې کې معنا د تمليک پرته ده او تمليک د مجهول صحيح نه دی نو ابراء عن المجهول هم صحيح نه ده ، مونږ وايو: اګرکه په ابراء په معنا د تمليک ده لکن جهالت بذاتها مانع دصحت د تمليک نه دی بلکې په سبب د مفضي کيدو منازعې ته مانع دی او په دې صورت کې جهالت نه مفضي کيږي منازعې ته ځکه وينا د بايع چې (کل عيب) ده شامليږي ټولو عيبونو ته او که د خاص جنس د عيبونو نوم واخلي بيا خو جهالت اصلا نشته او ابراء کې تمليک ثابتيږي ضمنًا او تبعًا ځکه لفظ د (ابراء) دلالت کوي په اسقاط باندې نه په تمليک باندې نو دا تصرف ( برائت من کل عيب) اسقاط ګڼل کيږي نه تمليک او جهالت نه منع کوي صحت د اسقاطاتو لره.[2]

۲ـ که څوک د چا غيبت وکړي نو بايد استغفار دې و وايي او (استحلال ) دې وکړي يعنې د چا يې چې غيبت کړی د هغه څخه دې بخشش واخلي او په ده لازم دي تفصيل ور کړي ( چې ما ستا داسې غيبت کړی) مګر دا چې تفصيل مضر لکه يادول د داسې عيبونو چې هغه يې پټوي ، نو په دې صورت کې طلب د بخشش وکړي مبهمًا يعنې داسې و وايي: ما ستا غيبت کړی ما ته يې بخشش کړه ځکه چې برائت د مجهوله حقوقونه صحيح دی زمونږ په نزد، او مستحب دی صاحب د غيبت ته چې برائت ورکړي.[3]

۳ـ که يو سړی دعوی د حق وکړي په يو کور کې او مدعی عليه انکار وکړي ، او بيا مدعی عليه صلح وکړي د مدعي سره په سلو درهمو چې مدعي به يې اخلي نو دا صلح صحيح ده زمونږ په نزد ځکه چې صلح د مجهوله حقوقو څخه صحيح ده زمونږ په نزذ.[4]

۴ـ کله چې مشکل شي معرفت د مقدار د موجودې ترکې ، او مصالحه وکړه ځيني وارثانو د خپل ميراث څخه د دې ترکې نه نو دا صلح صحيح ده لپاره د له منځه وړلو د نزاع.[5]

**شپږم مبحث : فقهي قواعد په فصل د (الربا) او ( جريان الربا) کې .**

په دې مبحث کې هغه مهم قواعد را نغاړل شوې دي چې په فصلونو د ربا او جريان الربا کې ذکر شوي دي ، او دا مبحث مشتمل دی په ۷ مبحثونو.

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص ۱۶۹
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص ۱۷۲
[3]: ابن عابدين، ردالمحتار علی در المختار ج۶ ص ۴۱۱
[4]: برهان الدين مازه، المحيط البرهاني، ج۷ ص ۸۵
[5]: البهوتي. منصور بن يونس بن ادريس، کشاف القناع، خپروونکی دالفکر بيروت لبنان لومړی چاپ کال ۱۴۰۲ه ج۳ ص ۳۹۶

**لومړی مطلب : ( الدراهم والدنانير لا يحتملان التعين شرعا في عقود المعاوضات)[1] قاعدې زده کړه.**

دراهم او دنانير شرعا احتمال د تعيين نه لري په معاوضاتي عقودو کې.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ الدراهم والدنانير لا تتعين بالتعيين وانما تتعين بالقبض.[2]

۲ـ الدراهم لا تتعين بالتعيين في عقود المعاوضات.[3]

۳ـ الدراهم والدنانير على اصل اصحابنا آثمان لا تتعين في عقود المعاوضات .[4]

۴ـ الدراهم والدنانير لا يتعينان في المعاوضات و يتعينان في الشركات.[5]

**د مفرداتو څېړنه:**

**التعيين:** التعين په لغت کې د عيَّن يعيَّن تعيينًا څخه اخيستل شوی په معنا د مشخص کول ، او خاص کول عربان وايی: (عيَّن الشئ) مشخص او معين يې کړو يو شی. او وايي: (عيَّن الشئ لفلان) خاص يې کړو يوشی د فلاني لپاره ، او هغه شی چې په هغې سره امتياز يو شي د بل شي څخه کيږي.[6]

**په اصطلاح کې:** ( تعليق حق بعين الشی)[7] ژباړه: معلق کول د حق په ذات د يو شي پورې.

**الدراهم** : دراهم جمع د درهم ده او درهم عبارت دی د يو نوع نقودو څخه چې د سپينو زرو څخه جوړيږي په حيث د وسيلې د تعامل ، چې مختلف انواع او اوزان لري.[8] او په نوې اصطلاح کې هر نوع نقودو ته دراهم ويلکيږي.[9]

**الدنانير:** جمع د دينار ده او دينار ويلکيږي ( نوع من النقود الذهبية)[10]

**عقود المعاوضات:** هغه عقود دي چې په هغې کې انشاء د حقوقو او التزاماتو متقابله و په منځ د طرفينو کې وي ، او هر يو د عاقدينو په داسې عقودو کې يو څه اخلي او يو څه ورکوي يعنې په دې کې مبادله وي لکه بيع.[11]

**د قاعدې معنی:** د نقدو پيسو لکه دراهم ، دنانير، او بانک نوټونه پورې هيڅ حق تعلق نه نيسي اګر که تعين شي په عقودو معاوضاتو (لکه بيع، اجاره،سلم، صلحه وغيره) کې مثلا: که يو شخص دوکاندار ته

[1] الکاسانی، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۸۶
[2] الکاسانی، بدائع الصنائع، ج۵ ص۲۱۹
[3] الکاسانی، بدائع الصنائع، ج۴ ص ۱۴۰
[4] الکاسانی، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۲۳۳
[5] الکاساني، بدائع الصنائع. ج۶ ص ۷۸
[6] المناوي، التوقيف على مهمات التعاريف ج۱ ص ۱۹۰
[7] قلعه جي، معجم لغة الفقهاء، ج۱ ص۱۳۷
[8] الزيلت، معجم الوسيط ج۱ص۲۸۲ ، الفيومي، المصباح المنير، ج۱ص۱۹۳
[9] لويس مالوف، المنجد عربي به فارسي ج۱ص۴۶۲
[10] قلعه جي، معجم لغة الفقهاء، ج۱ ص۲۵۵، الزيات، معجم الوسيط، ج۱ص ۲۹۸
[11] الزرقا، المدخل الفقهي العام، ج۱ص۱۳۷

وه وايي چې په دغه زرګون نوټ ماته غوړي راکړه ، نو دغه زرګون نوټ پوري هيڅ حق د بايع نه متعلق کيږي دا مشتري کولی شي چې د دغه نوټ په ځای بل نوټ ورکړي .

ابن نجيم رحمه الله په دې اړه فرمايي: که يو شخص و وايي: دغه جامې مې په دغه دراهمو او يا دغه دنانيرو په تا وپلورل، نو مشتري کولی شي چې مشاراليه دراهم او يا دنانير ځان سره وساتي او په بدل کې يې نور دراهم او يا دنانير ورکړي او بايع حق نه لري چې د مشاراليه دراهمو او يا دنانيرو مطالبه وکړي ، لکن جنس ، نوع، قدر، او صفت د دراهمو او دنانيرو په اتفاق سره تعيين قبلوي .[1]

او امام کاساني رحمه الله فرمائي: علم په ثمنو نه حاصليږي مګر په تسمييې سره ( يعني چې نوم يې واخلي) او اشاره ثمنو ته زمونږ په نزد مجاز دی د تسمييې د جنس د مشاراليه ، قدر، نوع، او صفت د هغې څخه.[2] يعني خپله نقود تعيين نه قبلوي لکن د جنس، نوع، قدر، او صفت تعيين ضروري دی.[3]

**د قاعدې دليل:** استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې لپاره په لاندې خبرو:

۱ـ ثمن په لغت کې اسم دی لپاره د (لما فی الذمة) دا رنګه ويلي دي فراء رحمه الله او هغه امام دی په لغت کې ،او هر هغه څيز چې ( ما فی الذمة) وي نه تعينيږي په تعين سره لکن د هغه تعين کنايه وي د جنس ، نوع، قدر، او وصف د هغه څيز څخه.[4]

او همدا رنګه ثابت فی الذمه نه منحصر کيږي په خپل بعضو خارجي افرادو کې. [5]

۲ـ دراهم او دنانير ځکه په تعين سره نه تعيينيږي، ځکه چې تعين مفيد نه دی يعني تعين څه فائده نه لري ځکه چې هر هغه عوض چې مطالبه يې کيږي د معَيَّن څخه په عقودو معاوضاتو کې ممکن دی استيفاء د هغه د هغه د مثل څخه، نو نه شو تعين مفيد په حق د استحقاق د عين کې ، نو تعين لغوه شو په حق د استحقاق د عين کې ، او معتبر دی په حق د جنس، نوع، قدر، او وصف کې ، ځکه چې تعين په حق د دې څيزونو کې مفيد دی.[6]

۳ـ او امکان لري چې د دې قاعدې د اثبات لپاره د دې حديث نه هم استدلال وکړو(عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنْتُ أَبِيعُ الإِبِلَ بِالْبَقِيعِ فَأَبِيعُ بِالدَّنَانِيرِ وَآخُذُ الدَّرَاهِمَ وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ وَآخُذُ الدَّنَانِيرَ آخُذُ هَذِهِ مِنْ هَذِهِ وَأُعْطِى هَذِهِ مِنْ هَذِهِ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَهُوَ فِى بَيْتِ حَفْصَةَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ رُوَيْدَكَ أَسْأَلُكَ إِنِّى أَبِيعُ الإِبِلَ بِالْبَقِيعِ فَأَبِيعُ بِالدَّنَانِيرِ وَآخُذُ الدَّرَاهِمَ وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ وَآخُذُ الدَّنَانِيرَ آخُذُ هَذِهِ مِنْ هَذِهِ وَأُعْطِى هَذِهِ مِنْ هَذِهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ بَأْسَ أَنْ تَأْخُذَهَا بِسَعْرِ يَوْمِهَا مَا لَمْ تَفْتَرِقَا وَبَيْنَكُمَا شَىْءٌ »)[7] ژباړه: عبد الله بن عمر رضی تعالی الله فرمائي: چې ما به په بقيع کې اوښان خرڅول ، او خرڅول به مې

---

[1]: ابن نجيم، الاشباه والنظائر، ص۳۴۹
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص۱۶۴
[3]: الزحيلي، الفقه الاسلامي وادلته، ج۵ص۶۱
[4]: لکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص۲۳۳
[5]: الزحيلي، الفقه الاسلامي وادلته، ج۵ص۶۱
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۲۳۳
[7]: خرجه ابوداود في سننه، في کتاب البيوع باب اقتضاء الذهب من الورق ج۳ص۲۵۵ رقم الحديث(۳۳۵۶). واخرجه الحاکم في المستدرک ج۲ص۵۰ وقال صحيح على شرط المسلم ووافقه الذهبي او الباني رحمه الله ورته ضعييف ويلي دي ، ارواء الغليل ج۵ص۱۷۴.

په دنانیرو او اخیستل به مې دراهم ، او یا خرڅول په مې په دراهمو او اخیستل به مې دنانیر، دراهم او دنانیر به مې یو د بل په عوض ور کول ، نو راغلم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او هغه د حفصې رضی الله عنها په کوټه کې وو وه مې ویل یارسول الله صلی الله علیه وسلم ودریګه له تانه پوښتنه کوم؟

ځه اوښان خرڅوم په بقیع کې خرڅوم په دنانیرو او اخلم دراهم ، او خرڅوم په دراهمو او اخلم دراهم ، دا د دې په عوض کې اخلم او دا د دې په عوض کې اخلم ، پس رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل:ّبڅ پروا نشته چې واخلې په روز نرخ باندې تر دې چې جدا شوي نه وسې او ستاسو منځ کې یو شی وي.

**د استدلال وجه:** نبي علیه السلام اجازه وکړه د داسې عقد اګر که مشتمل وو په داسې تصرف( چې په عوض د دراهمو کې دنانیر او عکس یې اخیستل کیدله) نو که دراهم او یا دنانیر په تعین سره تعین شوی وی ، نو جائز به نه وو استبدال د دوې د یوبل په عوض ، ځکه دې سره فوت کیږي هغه قبض چې مستحق بالعقد دی پس دا لازموي فسخ د عقد لکه څنګه چې مبیع هلاکه شي.[1]

### تطبیقي بیلګې:

۱ـ که چیرته ثمن د سلم او مسلم فیه دواړه د هغه ځیزونو څخه وو چې په تعین سره نه تعینیدله لکه دراهم په دنانیرو او یا برعکس یې، او یا تنها مسلم فیه هغه ځیز وي چې تعین نه قبلوي لکه حدید په دراهمو ، دا سلم جائز نه دی ځکه چې مسلم فیه مبیع وي، او مبیع باید هغه څه د جملې څخه باید وي چې تعین قبول کړي ، دراهم او دنانیر نه تعینیګي په تعین سره په عقودو معاوضاتو کې .[2]

۲ـ که څوک و وایي چې دا جامې مې په دغه دراهمو او یا دنانیرو وپلورلې ، مشتري کولی شي چې مشارالیه دراهم او یا دنانیر ځان سره وساتي او د هغې مثل ورکړي ... او که مشارالیه دراهم هلاک شي عقد نه باطلیږي.[3]

۳ـ ایا قیام د ثمن په ید دبایع کې شرط دی لپاره د صحت د اجازې او کنه: دا امر به خالینه وي له دینه چې دا ثمن به یا دین وي لکه دراهم او یا هم دنانیر یا عین، که چیرته دین وي پس قیام د ثمن په لاس د بایع کې شرط نه دی لپاره د لحوق د اجازې ځکه چې دین نه تعینیږي په تعین سره نو قیام د ده په قیام د ذمې سره وي.[4]

۴ـ کله چې اقاله په سلم کې جایزه شوه او رأس المال په سلم کې د هغه څه له جملې څخه وي چې لا یتعین بالتعین ، په ده لازمه رد د مثل برابره خبره ده چې رأس المال قائم وي او که هلاک شوی وي.[5]

۵ـ که هلاک شي (فلوس) قبل القبض بیعه نه باطلیږي ، ځکه چې دا فلوس اګرکه په حقیقت کې ثمن نه دي لکن د خلکو په اصطلاح کې ثمن ګرځیدلي دي او شان د ثمنو دا دی چې لا یتعین بالتعین.[1]

---

[1]: أبو شجاع محمد بن علي بن شعیب' تقویم النظر في مسائل خلافیة ذائعة ، خپروونکی، دارالرشد، ریاض لومړی چاپ کال ۱۴۲۲ه ج۲ص۲۵۰
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۸۶
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ص۲۳۳
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ص۱۵۲
[5]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ص۱۵۲

**دويم مطلب: ( اختلاف الأصل يوجب اختلاف الفرع )[2] قاعدې زده کړه**

اختلاف د اصل لازموي اختلاف د فرعې لره.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ فروع الأجناس اجناس وإن اتفقت أسماؤها.[3]

۲ـ فروع الأجناس تعتبر أجناساً بحسب أصولها.[4]

۳ـ وکل شيئين جمعهما اسم خاص فهما جنس واحد, إلا أن يكونا من أصلين مختلفين.[5]

۴ـ اختلاف الأصل يوجب اختلاف الفرع ضرورةً.[6]

۵ـ الأصل ان يوجب اختلاف الاصول اختلاف الأجزاء.[7]

**د مفرداتو څیړنه:**

**الإختلاف:** په لغت کې په معنا د فرق، تفاوت، تباين،[8] او په معنا د ضد د اتفاق په لسان العرب کې راغلي:( اختلف الأمران لم يتفقا).[9] او په اصطلاح د فقهاو کې هم اختلاف په لغوي معنا کې استعماليږي.[10]

**الأصل:** دا کليمه مخکې څیړل شوې ده.[11]

**الفرع:** فرع په لغت کې ( من كل شئ اعلاه وهو ما يتفرع من اصله والجمع الفروع) د هر شي بره طرف او دا هغه څیز دی چې د خپل اصل څخه استخراج کیږي او جمع يې فروع ده ويل کيږي: فرعتُ من هذا الأصل مسائل فتفرعتْ اى استخرجتُ فتخرجتْ.[12]

**په اصطلاح کې:** فقهاء لفظ د (الفرع) په درې معنا ګانو کې استعمال کړی:

۱ـ فرع په معنا د ولد چې مقابل کې يې ( الأصل) دی چې په معنا د والد سره دی

۲ـ فرع په معنا د مقِيس چې مقابل کې يې ( الأصل ) چې په معنا د مقيس عليه سره دی

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ص۲۳۶
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ص۱۸۹
[3]: ابن قدامة أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد ، عمدة الفقه، خپروونکی،المکتبة العصريه رياض، دريم چاپ کال ۱۴۲۵ه ج۱ص۵۴
[4]: العثيمين محمد بن صالح بن محمد ، الشرح الممتع على زاد المستقنع،خپروونکی، دارابن جوزي رياض، لوړی چاپ کال ۱۴۲۸ه ج۸ص۴۰۷
[5]: المقدسي، عبدالرحمن بن ابراهيم، بن احمد، العدة شرح العمدة، خپروونکی، دارالکتب العلميه بيروت دويم چاپ کال ۱۴۲۶ه ج۱ص۲۱۱
[6]: العنايه شرح الهدايه ج۹ ص۳۳۶
[7]: العنايه شرح الهدايه ج۹ ص ۳۳۷
[8]: زناتي، انور محمد، معجم مصطلحات الاسلاميه، ج۱ص۱۴۳
[9]: ابن منظور، لسان العرب، ج۹ص۸۲
[10]: الموسوعه الفقهيه الکويتيه ج۲ص۲۹۱
[11]: د همدې رسالې صفحه
[12]: الفيومي، المصباح المنيرج۲ ص ۴۶۹

۳ـ فرع په معنا د فقهي مسألې چې د یو جامع اصل څخه استخراج شوې وي.[1]

په قاعده کې د ( الفرع) څخه اوله معنا مراد ده

**د قاعدې معنی**: اختلاف د اصل لازموي اختلاف د فرعې یعنې کله چې اصول د کومو څیزونو مختلف الجنس وي نو فروع یې هم مختلف الجنس حسابیږي ، دا ځکه چې فرع تابع د اصل وي ، نو په اصل چې کوم حکم جاریږي همغه حکم په فرع کې هم جاري کیږي .

**فائده**: په بیان د پیژندلو د اختلاف د جنس کې:

احناف رحمهم الله وايي : چې اختلاف د جنس پیژندل کیږي په یو د امورو ثلاثه ؤ: اول: اختلاف د اصل : لکه غوښه د غوایي او ګډ دا دواړه مختلف جنسونه دي ځکه چې اصول یې مختلف دي اګر که هر یو یې غوښه ده.[2]

دویم: اختلاف د غرض، منفعت او مقصود: لکه وړۍ (صوف) د ګډانو او ویښته (شعر) د سیرلیانو د هر یو نه غرض او مقصود جدا دی نو دا مختلف جنسونه حسابیږي ، [3] نو ځکه امام کاساني رحمه الله فرمائي: (وَصُوفُ الشَّاةِ مع شَعْرِ الْمَعْزِ جِنْسَانِ مُخْتَلِفَانِ لِاخْتِلَافِ الِاسْمِ وَالْمَنْفَعَةِ )[4]لکه وازده (شحم) او غوښه د ګډ ؛ د وازدې څخه غرض او مقصود جدا دی او د غوښې څخه جدا دی نو ځکه ابن نجیم رحمه الله فرمائي: (اختلاف الجنس یعرف باختلاف الإسم والمقصود)[5]

دریم: په زیادت د کاریګري( زیادة الصنع): لکه ډوډۍ(خبز) او غنم(حنطه) دا دواړه مختلف جنسونه دي لپاره تبدیلیدو د صفت د دوډۍ په هغه صفت چې پیدا شوی دی په عمل د خبز کې.[6]

او دا قاعده د اول امر له جملې څخه ده.

**د قاعدې دلیل**: د دې قاعدې د اثبات لپاره په حدیث او فقهي قاعدې استدلال کولی شو:

۱ـ سنت: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (ذَكَاةُ الْجَنِينِ ذَكَاةُ أُمِّهِ)[7] ژباړه: حلاله د جنین حلاله د مور دهغه ده.

**د استدلال وجه**: دې حدیث شریف کې رسول الله صلی الله علیه وسلم جنین ته چې فرع ده حکم د اصل ورکړی چې هغه مور ده، کوم حکم چې په اصل جاري شوی همغه حکم په فرع کې هم جاري دی.

---

[1] الموسوعه الفقهیه الکویتیه ج ۳۲ ص ۹۸

[2] الجزیري، کتاب الفقه علی مذاهب الاربعه ج ۲ ص ۱۷۸

[3] الجزیري، کتاب الفقه علی مذاهب الاربعه ج۲ ص۱۷۸

[4] الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ ص ۱۸۹

[5] ابن نجیم، البحرالرائق شرح کنزالدقائق، ج ۳ ص۱۷۹

[6] الجزیري، کتاب الفقه علی مذاهب الاربعه ج۲ ص۱۷۸

[7] اخرجه ابو داود فی سننه، کتاب الضحایا باب ما جاء فی ذکاة الجنین ج۳ ص ۶۲ رقم الحدیث (۲۸۳۰) او امام ترمذي ورته حسن او صحیح ویلي دي.

۲ـ فقهي قاعده: ( الفرع يتبع الأصل)[1] ژباړه: فرع تابع کيږي د اصل . کله چې فرع تابع د اصل وي، کوم حکم چې په اصل کې وي همغه حکم فرعې ته متعدي کيږي ، نو کله چې اصول مختلف الجنس وي دغه اختلاف سرايت کوي فروعو ته نو فروع هم مختلف الجنس ګڼل کيږي.

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ امام کاساني رحمه الله فرمائي: غوښې ( لحوم) معتبر دي په اعتبار د اصولو ، که اصول هم جنس وي نو ِغوښې هم همجنس حسابيږي او که اصول مختلف الجنس وي نو غوښې هم مختلف الجنس حسابيږي ، نو بيا جائزه بيع د غوښو متساويًا او متفاضلا په شرط د دې چې لاس په لاس وي او نسيه په کې نه وي لپاره د وجود يو علت د ربالفضل چې وزن دی، نو مونږ وايو د اوښانو غوښې ټول يو جنس دی هغه که هر ډول او ښان وي ځکه چې او ښان ټول يو جنس دي همدارنګه غوښې د غويانو او ميخو ټول يو جنس دی ، او غوښې د ګډانو(غنم) لکه ( ضأن، معز، نعجه، تيس ، دا ټول جنس واحدي په اعتبار اصولو د هغې ، نو جائز دی پلورل د غوښو غويانو په مقابل د غوښو ؛ګډانو کې متفاضلا او متساويا ځکه چې دا غوښې د مختلفو اصولو دي اصولو دي او اختلاف د اصل لازموي اختلاف د فرعې.[2]

۲ـ همدارنګه سرکه د منو سره د سرکې د انګورو مختلف الجنس دي په اعتبار د اصولو د هغوې[3] نو جائز دی خرڅول يې متساويا او متفاضلا خو لاس په لاس.

۳ـ حيوان د غوښې سره که چيرته اصول يې مختلف وو نو دوي مختلف الجنس حسابيږي لکه ژوندی کډ د اوښ او يا د غويي د غوښې سره نو جائز دی بيع د بعض د دوی په بعضو نورو مجازفتا(تخميني) نقدًا او نسيئةً ځکه چې نه وزن شته او نه جنس نو اصلاً ربا نه متحقق کيږي.[4]

۴ـ همدارنګه غوړي د زيتون ، د کنجتو ، د جوارو مختلف الجنس حسابيږي ځکه چې اصول يې مختلف دي نو جائز دی خرڅول د دې غوړو په تفاضل سره. [5]

**دريم مطلب : ( الأصل کل ما جاز فيه المفاضلة جاز فيه المجازفة وما لا فلا)[6] قاعدې زده کړه**

هر هغه څيز چې په کې مفاضله( بيع په زيادت سره) جائز وي نو مجازفه (بيع په تخمين سره) هم جائز دی.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ ما يجوز البيع فيه متفاضلا يجوز فيه البيع مجازفةً وما لا فلا.[7]

۲ـ جهالة المماثلة کحقيقة المفاضلة.[1]

---

[1]: علي حيدر، دررالحکام شرح مجلة الاحکام ج۱ ص ۶۵۲
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۸۹
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۸۹
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۸۹
[5]: الحمد، الشسخ حمد بن عبدالله، شرح زاد المستنقع ج۱۳ ص ۱۲۶ ، مکتبة الشامله.
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۹۳
[7]: علاءالدين، ابوبکر محمدبن احمد بن ابی احمد، تحفة الفقهاء، خپروونکی دارالکتب العلميه بيروت لومړی چاپ کال ۱۴۰۵هج۳ص۳۱

**د مفرداتو څېړنه:**

**المجازفة** : المجازفة مصدر دی د جازف یجازف مجازفةً څخه په لغت کې په معنا د اخیستل او یا خرڅول د یو شي بغیر د کیل او وزن څخه.[2] او د ( الجزاف) معنا ده ( مالم یعلم قدره على التفصیل) [3] هر هغه څیز چې اندازه یې په تفصیل سره معلومه نه وي.

په اصطلاح کې : ( بیع شئ بلا کیل ولا وزن ولاعدد)[4] خرڅول د یو شي بغیر د کیل وزن او عدد څخه.

**المفاضلة** : خرڅول د یو شي په تفاضل یعنې زیادت سره.

**د قاعدې معنی:** هر هغه اموال او اجناس چې هغې کې بیع متفاضلا جائز وي نو هغې کې بیع مجازفتا یعنې په تخمین سره هم جائز ده لکه خرڅول د مختلفو اجناسو د یو بل په مقابل کې.

**د قاعدې دلیل:** استدلال کړی فقهاء د دې قاعدې د اثبات لپاره په دې حدیث باندې[5]:

**سنت:** نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ بَيْعِ الصُّبْرَةِ مِنَ التَّمْرِ لاَ يُعْلَمُ مَكِيلُهَا بِالْكَيْلِ الْمُسَمَّى مِنَ التَّمْرِ [6] ژباړه: منع کړې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خرڅولو د ډیرې د خرماؤ چې کیل یې معلوم نه وي په خرماؤ چې کیل یې معلوم وي.

**د استدلال وجه:** دا حدیث دلالت کوي په دې باندې چې جائز ده بیع د خرماؤ مجازفةً ( په تخمین) سره کله چې ثمن بل جنس وي غیر د خرما نه ، نو که چیرته ثمن خرما وي بیا بیع حرام ده ځکه چې دا بیع مشتمله ده په ربالفضل باندې ، ځکه خرڅول د یو شي په خپل جنس باندې او یو د هغوې څخه مجهول المقدار وي حرام دی، او شک نشته چې جهل په احد العوضَین او یا په دواړو کې مظنة د زیادت او نقصان دی ، او مظنة د حرام واجب الاجتناب دی، او معلومه ده چې خرما د ربوي اموالو څخه ده[7] .

**معقول:** ځکه چې تماثل او خالیوالی د ربا څخه په هغه اموالو کې چې په هغې کې ربا جاري کیږي( یعنې ربوي اموال) شرط د صحت د عقد دی ، نو نه معلومیږي تحقق د مماثلت په بیع مجازفتًا کې نو واقع شو شک په وجود د شرط د صحت د عقد کې ( چې هغه تماثل او خلو عن الرباده) بنا په هغه اصل معهود : چې هر حکم چې معلق بالشرط وي ، کله چې واقع شي شک په وجود د شرط کې نو نه ثابتیږي هغه حکم ځکه چې غیر الثابت بالیقین لا یثبت بالشك.[8]

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۳۶
[2]: الفیومي، المصباح المنیر، ج۱ص۱۲۱. ابن منظور، لسان العرب، ج۹ ص۲۷
[3]: الشوکاني، محمد بن علی بن محمد ، نیل الاوطارمن احادیث سید الاخیار، خپروونکی دارالطباعة المنیریة دمشق لومړی چاپ کال ۱۴۲۳ه ج۵ص۲۲۲
[4]: الزحیلي، الفقه الاسلامي وادلته ج۵ ص۲۶۷۵
[5]: الزحیلي، الفقه الاسلامي وادلته ج۵ ص۲۶۷۵
[6]: اخرجه المسلم فی صحیحه، فی کتاب البیوع باب تحریم بیع الصبرة من التمر المجهولة ج۳ص۱۱۶۲ رقم الحدیث(۱۵۳۰)
[7]: الزحیلي، الفقه الاسلامي وادلته، ج۵ ص ۳۳۳
[8]: الکاساني ، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۹۳

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ جايز نه ده مجازفه په ربوي اموالو کې ځکه، لکه څنګه چې حقيقت د ربا ( تفاضل دی) فاسدوونکې د عقد دی همدارنګه احتمال د ربا هم فاسدوونکی د عقد دی ، نو که خرڅ کړل غنم په غنمو مجازفتا ، نو که دوې دواړه پوه نه شول په قدر بدلَينو يا يو له دوې څخه پوه نه شو په قدر د بدلَينو او يا دواړه پوه شول په قدر د احدالبدلَينو نو بيع جائز نه ده لما قلنا .[1] هغه دا چې لپاره د صحت د عقد په ربوي اموالو کې شرط دی خاليوالی د عقد د حقيقت د ربا او احتمال د ربا څخه او دا شرط مفقود دی په دې صورت کې.

۲ـ همدارنګه که غنم د دوو اشخاصو په منځ کې شريک وي او مجازفتا يې تقسيم کړي ، دا تقسيم جائز نه دی ځکه چې په تقسيم کې معنا د مبادلې پرته ده ، نو مشابه شو د بيع سره او بيع دغنمو په غنمو خو مجازفتا جائز نه دی .[2] نو دا تقسيم هم جائز نه دی.[3]

۳ـ بناء پر دې قاعدې جائز نه دی بيع مزابنه او بيع محاقله ، ځکه چې مزابنه عبارت دی د خرڅولو د خرما نه په ونه کې تخمينا په مقابل د هغه خرما چې اندازه يې معلومه وي ، ځکه چې نه معلوميږي چې د کوم يو وزن زياد دی ، او محاقله عبارت دی د خرڅولو د غنمو نه په وګې کې په د صفا غنمو چې وزن يې معلوم وي ، ځکه چې نه معلوميږي چې د کوم يو وزن زياد دی، نو دا بيع د اموال ربوي شوه مجازفتا ځکه په دې کې مساوات نه معلوميږي .[4]

۴ـ همدارنګه بيع د ذهبو په مقابل د ذهبو کې او يافضه په مقابل د فضه کې مجازفتا .[5] جائز نه دی ځکه چې په دې کې تفاضل جائز نه دی نو په تخمين سره هم جائز نه دی.

۵ـ او که څوک وپلوري غنم په وربشو او ذهب په په فضه مجازفتا دا جائز دی ځکه چې مماثلت په بيع د يو جنس په خلاف الجنس باندې شرط نه دی نو تفاضل په کې جائز ، نو مجازفه خو په کې په طريق اولی سره جائز ده.[6]

**څلورم مطلب: د (اعتبار الغالب والحاق المغلوب بالعدم هوالأصل في الشرع)[7] قاعدې زده کړه**

اعتبار ورکول غالب ته او الحاق د مغلوب د عدم سره دا يو اصل دی په شرع کې.

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۹۳
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۹۷
[3] : الکاساني ، بدائع الصنائع، ج۵ ص۷ ۱۹
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۹۴
[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۹۴
[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۹۵
[7]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۹۶

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ العبرة للغلبة.[1]

۲ـ المغلوب ملحق بالعدم في احكام الشرع.[2]

۳ـ العبرة للغالب.[3]

۴ـ الإعتبار للغاب الشائع دون النادر.[4]

**د مفرداتو څیړنه:**

الإعتبار: دا کلیمه مخکې څیړل شوې ده.[5]

الغالب او المغلوب: دا صیغې د اسم فاعل او اسم مفعول دي ، غلَب یغلِب غلْبا ضرب یضرب ضربا څخه[6] چې د الغلبه څخه اخیستل شوي ابن فارس رحمه الله فرمائي: الغین والام والباء دا یو صحیح اصل دی چې دلالت کوي په قوت ، قهر، شدت [7] الله تعالی فرمائي: (وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ)[8]ژباړه: او الله غالب دی په کارونو خپلو (چې هیڅوک ئ نشي رد کولی) ولیکن خلق نه پو هیږي(په دې)

او الغالب په معنا د اکثر سره هم راځي لکه دا چې عربان وايي:( هذا ما يحدث غالبا)[9] ژباړه: اکثره داسې پیښې کې.

او المغلوب په معنا د المقهور [10] الله عز و جل فرمائي: (فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ)[11] ژباړه: پس دعا سؤال وکړ(نوح) له ربه خپله( داسې چه) بیشکه زه مغلوب عاجز شوی یم نو بدل مې واخله( له کفارو)

**په اصطلاح کې**: د غالب او مغلوب اصطلاحي تعریفونه د ( التغلیب) اصطلاحي تعریف څخه معلومیږي:

**د التغلیب تعریف:** (اعطاء الشئ حکم غیره)[12] ژباړه: ورکول یو څیز ته حکم د غیر. نو غالب عبارت دی د هغه څیز څخه چې د هغې حکم بل څیز ته ورکړی شي، او مغلوب عبارت دی د هغه څیز څخه چې هغې ته د بل څیز حکم ورکړی شي.

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۹۶
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۱ ص۷۱
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۱ص۷۱
[4]: العنايه شرح الهدايه ج۵ ص ۳۶۶
[5]: د دې رسالې صفحه
[6]: الفیومي، المصباح المیر، ۲ص۴۵۰ باب الغين
[7]: ابن فارس، معجم مقاييس اللغة ج۴ ص ۳۱۲
[8]: د یوسف سورت۲۱ ایت
[9]: لويس مالوف، المنجد عربي به فارسي، ج۲ ص۱۲۵۵
[10]: الراغب الأصفهاني الحسين بن محمد بن المفضل ، مفردات الفاظ القرآن،خپروونکی دارالقلم دمشق لومړی چاپ کال ۱۴۱۳ه
[11]: د القمر سورت ۱۰ ایت
[12]: الزرکشي بدر الدين محمد بن عبد الله بن بهادر، البرهان فی علوم القرآن،خپروونکی، دار إحياء الكتب العربية بيروت لومړی چاپ کال۱۳۷۶ه ج۳ص۳۰۲

العدم: عدم ضد د وجود دی.[1]

**فائده**: د معدوم ډولونه:

معدوم په دوه ډوله دی ، یو حقیقي معدوم بل حکمي معدوم ، حقیقي معدوم هغه دی چې د هغې لپاره په خارج کې وجود نه وي (لکه وصیت کول د یو چا لمسي ته او حال دا چې هغه تر اوسه واده نه وي کړی) ، او حکمي معدوم هغه دی چې دهغې لپاره په خارج کې وجود وي لکن شریعت د هغې په عدم حکم کړی وي.[2] لکه مغلوب یاندر شی.

**د قاعدې معنی**: قاعده دا افاده کوي چې کوم څیز غالب وي همغه د اعتبار وړ دی او حکم وربانده مرتب کیږي په نسبت سره مغلوب ته ، او مغلوب لکه معدوم کڼل کیږي او حکم وربانده نه مرتب کیږي.

**د قاعدې دلیل**:

١ـ **کتاب الله**: دا قول د الله تعالی (يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا )[3] ژباړه: پو ښتنه کوي له تانه (ای محمده)( له حکمه د ښڼلو) دشرابو او (له کولو د) قمارنه، و وایه ( ای محمده دوی ته)په دې دواړو کې ګناه لویه ده او ګټې دي لپاره د خلقو او ګناه د دې دواړو ډیره لویه ده له ګټې د دې دواړو نه.

**د استدلال وجه**: په خمر او میسر کې اثم او نفعه دواړه شته لکن غالب په کې اثم دی ، نو اعتبار ورکړی شو اثم او اعتبار ورنه کړی شو منافعو ته بلکې کالعدم وګڼل شو (نو حاصل شو حراموالی د خمرو او قمار نصا)[4]

٢ـ **سنت**: (ما رُوِيَ عن رسول اللَّهِ أَنَّهُ قال من اشْتَرَى شَاةً مُحَفَّلَةً فَوَجَدَهَا مُصَرَّاةً فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ...)[5] ژباړه: که چا واخیستله ګډه محفله[6] او بیایې ومونده مصراة [7]نو دا اختیار لري تر درې ورځو پورې.

**د استدلال وجه**: امام کاساني رحمه الله فرمائي: ذکر د درې ورځو په حدیث کې لپاره د تو قیت نه دی ځکه چې دارنګه خیار مؤقت نه وي ، بلکې دا بناء د امر ده په غالب او معتاد باندې ځکه که مشترَی (مبیع) کې عیب وي نو مشترِی وربانده په دغه مده کې عادتًا خبریږي .[8]

[1]: قلعه جي، معجم لغة الفقهاء ج١ ص٣٦٦
[2]: قلعه جي، معجم لغة الفقهاء، ج٢ص٣٦
[3]: د بقرې سورت ٢١٩ ایت
[4]: ابن عبدالبر ،التمهید، ج١ ص ٢٤٧
[5]: اخرجه البخاري فی کتاب البیوع باب النهی للبائع الا یحفل الابل والبقر والغنم ج٣ ص٩٢ رقم الحدیث(٢١٤٨)
[6] : محفله او مصراة هغه غوا، ګډه، او اوښې ته ویل کیږي چې تیونه یې په تار وتړل شي ترڅو شوده یې په غُلانځه کې جمع شي لپاره د فریب د مشتري. البغوي ، شرح السنه ، ج ٨ ص ١٢٥
[7] :التعریفات الفقهیه، للبرکتي، ص٢٨٦
[8]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ٥ ص٢٧٤

۳ـ **معقول**: مغلوب لکه مستهلَک دی او مستهلک په منزله د معدوم دی.[1] علامه سرخسي رحمه الله فرمايي: حکم غالب لره دی ځکه چې مغلوب لکه مستهلَک دی په مقابله د غالب کې ، او مستهلَک په حکم د معدوم کې دی ، ته نه ګورې چې نوم لپاره د غالب وي ، پس تحقيق سره غنم خالينه وي د دانو د وربشو نه بيا هم په ټولو باندې اطلاق د غنمو کيږي.[2]

**تطبيقي بيلګې**:

۱ـ داراهم په درې قسمه دي يابه په کې فضه غالب وي يابه په کې غش غالب وي او يا به هم فضه او غش سره برابر وي ، که فضه غالبه وه نو دا په مثل د خالصې فضې جايز نه دی پلورل د هغې په خالصې فضې سواءً بسواءٍ، ځکه چې اعتبار غالب لره دی، او الحاق د مغلوب د عدم سره دا يو اصل په شرع کې .[3]

۲ـ د شروطو د سلم څخه يو شرط دادی چې رأس المال بايد په مجلس کې قبض شي امام کاساني رحمه الله فرمائي: رأس المال بايد مقبوض وي په مجلس د سلم کې ځکه چې مسلم فيه دَين دی او افتراق بغير د قبض رأس المال نه دا افتراق عن دَينٍ بدَينٍ دی او دا منعه دی ... برابره خبره ده چې دا رأس المال دَين وي او که عين په نزد علماء استحساناً ځکه قياس خو وايي: که رأس المال عين وي بيا قبض شرط نه دی

وجه د استحسان داده: رأس المال دسلم دين وي عادتًا او عين رأس المال نه وي مګر نادرًا او د نادر حکم، حکم د غالب وي نو ملحق کيږي د دين پورې.[4]

۳ـ د شروطو د سلم څخه يو شرط دا هم دی چې مسلم فيه بايد موجود وي د وخت د عقد نه تر اجل (نيټې) پورې امام کاساني رحمه الله فرمائي: مسلم فيه موجود وي د وخت د عقد څخه تر وخت د اجل پورې که داسې نه وي بيا سلم نه صحيح کيږي ، بناء په دې (شرط ) که چا عقدسلم وکړو په غنمو د يو خاص ځای د داسې ځايونو څخه چې توهم د انقطاع د طعام د هغه نه وي بيا سلم جاېز دی لکه دا چې عقد سلم وکړي په غنمو د خراسان، يا عراق، فرغانه ، ځکه دا هر يو نوم دی د هغه  د يو ولايت ، نو توهم د انقطاع د طعام د دې ځايونو نشته او نه ختميږي طعام د دغه بلادو مګر په سبيل د ندرت سره او نادر ملحق په عدم پورې.[5]

۴ـ که يو ځای جمع شي مړي د مسلمانانو او کافرانو بيا به کتل کيږي مسلمانانو کې کومه نښه شته چې وپيژندل شي ، لکه ختان، حلق العانه، وغيره او که علامه نه وي بيا به وکتل شي کثرت ته که مسلمانان زيات وو نو ټولو ته به غسل او کفن ورکړی شي او لمونځ  وربانډې وشي او د مسلمانانو په قبرستان

[1]: الکاسانی، بدائع الصنائع، ج۳ ص ۶۰
[2]: السرخسي، المبسوط، ج۱۰ ص ۳۴۰
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ ص۱۹۶
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ ص۲۰۳
[5]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ ص۱۸۱

کې دې دفن شي ، او په دعاء کې نيت د مسلمانانو وکړی شي او که کفار اکثريت وي نو غسل د ورکړی شي او د جنازې لمونځ دې ورباندې ونه شي ځکه چې حکم غالب لره دی.[1]

**پينځم مطلب: د ( الكثير لايكون تابعا للقليل )[2] قاعدې زده کړه.**

کثير د قليل تابع نه وي.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ الکثير لا يتبع القليل.[3]

۲ـ القليل يتبع الكثير لا عكسا، فيدخل القليل فى الكثير ولا يدخل الكثير فى القليل.[4]

۳ـ القليل لا يغلب الكثير.[5]

۴ـ الأقل يكون تبعا الأكثر.[6]

**د مفرداتو څيرنه:**

**الکثير**: کثير په لغت کې ضد د قليل دی د کثُر يکثُرُ فهو کثير څخه ابن فارس رحمه الله فرمائي: الكاف والثاء والراء يو صحيح اصل دی چې د لالت کوي په خلاف د قلت باندې .[7]

**القليل:** قليل په لغت کې خلاف د کثير.[8]

کثير او قليل د اسماء اضافيه(المتقابله) له جملې څخه دي په دې اړه امام کاساني رحمه الله فرمائي: (الْقَلِيلَ وَالْكَثِيرَ من أَسْمَاءِ الْمُقَابَلَةِ وَإِنَّمَا يُعْرَفُ ذلك بمقابلة فَإِنْ كان مُقَابِلُهُ قَلِيلًا فَهُوَ كَثِيرٌ وَإِنْ كان كَثِيرًا فَهُوَ قَلِيلٌ)[9] ژباړه: قليل او کثير د اسماء مقابله و څخه دي ، او دا (کثير او قليل) پيژندل کيږي د مقابل څخه که مقابل کې يې قليل وو نو دا کثير دی او که مقابل کې يې کثير وو نو دا قليل دی.

**د قاعدې معنى:**

قاعده دا افاده کوي چې کثير مدار د حکم دی ، او غالب دی په قليل باندې ، نو کثير نه وي تابع د قليل بلکې قليل تابع د کثير وي ، نو ځکه امام کاساني رحمه الله فرمائي: حکم متعلق وي د اکثر پورې ، او اقل تابع د اکثر وي نو نشته اعتبار اقل لره .[10]

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۱ ص ۳۰۳
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص ۱۹۷
[3]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۷ ص ۳۱۸
[4]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۷ ص ۳۱۸
[5]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۱۴
[6]: الكاساني. بدائع الصنائع، ج۳ ص۶۲
[7]: ابن فارس. معجم مقاييس اللغه ج۱ ص ۸۸۶ ماده كثر
[8]: قلعه جي،معجم لغة الفقهاء ج۲ ص ۱۷۲
[9]: الكاساني، بدائع الصنائع،ج ۲ ص۱۹۲
[10]: الكاساني، بدائع الصنائع،ج۳ ص۶۲

**د قاعدې دليل:**

استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره په دې حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم : (  عن علي أن النبي صلى الله عليه و سلم نهى أن يضحى بعضباء الإذن والقرن)[1] ژباړه: د علي رضى الله عنه روايت دی چې رسول الله صلى الله عيه وسلم منع کړې له دې څخه چې قرباني کړی شي ( هغه څاروی) چې اکثره حصه د غوږ  او يا ښکرېي پريک شوی وي.

**د استدلال وجه:**

امام کاساني رحمه الله فر مائي:( چې سعيد بن مسيب رحمه الله فرمائي( چې عضباء هغه دی چې اکثره حصه د غوږ يې له منځه تلې وي) نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اعتبار ورکړی اکثر ته)[2] نو ثابته شوه چې اعتبار کثير لره دی نه قليل لره او قليل تابع وي د کثير ، او همدا مراد دی له قاعدې څخه.

**تطبيقي بېلګې:**

۱ـ مغشوشه دراهم په درې ډوله دي:۱ـ هغه دراهم چې په هغې کې فضه غالبه وي په غش(صفرـ زيړو)باندې. ۲ـ چې غش غالب وی په فضه باندې. ۳ـ چې فضه اوغش په کې مساوي وي.

امام کاساني رحمه الله فرمائي: آيا جائز دی استقراض د دراهمو مغشوشه و عددًا؟ هر څه اول ډول مغشوشه دراهم چې فضه په کې غالب وي ، نو جائز نه دی استقراض د هغې مګر وزنًا ځکه کله چې په دراهمو کې غش(صفر) مغلوب وي نو په منزله د دراهمو زائفه و وي  او جائز نه دی بيع د دراهم زائفه و بعض د هغې په بعضې نورو عددًا ځکه چې دا وزنې دي نو معتبر نه دی عدد په ديکې ، نو شوه د دې بيع، بيع مجازفةً ( په صورت د استقراض عددًا کې) او دا خو جائز نه دي ، نو استقراض هم جائز نه دی ځکه چې مبادله ده حقيقتًا او يا په ديکې شبه د مبادلې ده نو لازم دی ساتل د هغې د ربا او شبهې ربا څخه.

همدارنګه دريم ډول مغشوشه دراهم ( چې فضه او غش دواړه مساوي وی) استقراض عددًا صحيح نه دی، ځکه که غلبه فضې لره وي په اعتبار د بقاء د فضې او له منځه تلو د صُفر(غش) په آينده کې بناء په قول د اهل صنعت(زرګذانو)نو دا دراهم هم ملحق دي د دراهمو زائفه و سره ، او د دراهم زائفه و استقراض خو عددًا جائز نه دی، او که نه غالبيږي يو له دوې په بل باندې او باقي پاتې کيږي په خپل حال باندې نو هر يو د دې دواړو نه يو اصل دی ، نو اعتبار ورکول کيږي هر يو ته په خپل حال ، نو (په دې صورت کې) شو استقراض د فضې او صُفر دواړه عددًا او دا جائز نه دی ، ځکه اعتبار صفر اګر که لازموي جواز ځکه چې فُلس عددي دي او اعتبار د فضې منع کوي جواز ځکه چې فضه وزني ده نو حکم په فساد په وخت د تعارض د جهتونو د فساد او جواز دا احوط دی ، او هر څه دويم ډول مغشوشه دراهم ( چې غش غالب وي او فضه مغلوبه وي) نو کتل کيږي به که د خلکو تعامل وزنًا وو نو

---

[1]: اخرجه ابى داود فى سسنه فى كتاب الاضاحي باب مايكره من الضحايا ج۳ص۵۵ رقم الحديث(۲۸۰۶) او علامه الباني ورته ضعيف ويلي دي. ضعيف ابى داود للالباني ج۲ص۳۸۰

[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ص۷۵

جائز نه دی استقراض عددًا ځکه چې عدد په موزوناتو کې باطل دی ، او که تعمل د خلکو عددًا وي نو بیا جائز دی استقراض عددًا ځکه ؛ کله چې خلکو تعامل وکړو عددًا نو په تحقیق سره دایي ملحق کړل د فلوسو سره او وې ګرځوله فضه په هغې کې تابع د صفر او دا ممکن ده ځکه چې فضه قلیل ده او وي په فلوسو کې فی الجمله لګه فضه نو ثابت شو تبعیت په دلالت تعامل سره او په مثل د دغه دلالت نشته په هغه صورت کې تعامل وزنًا وي نه عددًا نو وزنیت باقي پاتې شو نو جائز نه دی استقرض عددًا.

په اول او دریم ډول دراهمو کې اګر که د خلکو تعامل عددًا وي بیا هم استقراض عددًا صحیح نه دی، ځکه چې هلته ممکن نه دی ګرځول د فضي تابع د غش ځکه چې فضه اکثره د غش څخه او یا هم مساوی ده او کثیر تابع د قلیل نه وي ؛ او همدارنګه مثل د شي هم تابع نه وي.[1]

۲ـ کله چې خارج شي په اثناء د ولادت کې اقل حصه د ولد نه ګرځي په دې سره نفاسه حتی تر دې فقهاء ویلي دي: چې واجب دي په باندې چې لمونځ وکړي ، ځکه چې نفاس تعلق لري د ولادت سره او هغه موجود شوی نه دی ، ځکه چې قلیل ملحق کیږي د عدم سره په مقابل د کثیر کې .[2]

۳ـ کله چې محلوف علیه څیز ګډ شي بل جنس څیز سره نو معتبر دی په دیکې غلبه بغیر د کوم خلاف نه په منځ امام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله تعالی ، لکن امام ابویوسف رحمه الله اعتبار ورکړی غلبې ته په رنګ او طعم کې نه په اجزاؤ کې ؛ او امام محمد رحمه الله اعتبار ورکړی غلبې ته په اجزاؤ کې نو ویلي یې دي: کله چې وي اجزاء د محلوف علیه غالب نو بیا حانث کیږي او که مغلوب وی نو بیا نه حانث کیږی ، وجه د قول د امام محمد رحمه الله : حکم متعلق کیږي اکثر سره او اقل تابع وي د اکثر نو هغه ته اعنبار نشته.[3]

۴ـ که مغصوبه جاریه( وینځه) حامله شي د زنا نه په لاس د غاصب کې ، مولی به دا جاریه اخلي سره د ضمان د نقصان د حمل، اوس خبره په قدر د ضمان کې ده؛ ابو یوسف رحمه الله فرمائي: کتل کیږي به هغه نقصان ته چې د حمل له وجې منځ ته راغلی او ارش( تاوان) د عیب د زنا ته ، پس ضامن دې کړی شي په اکثر او داخلیږي اقل په اکثر کې دا د استحساناً له وجې ؛ وجه د استحسان: هغه دا چې جمع په منځ د ضمانَینو کې ممکن نه ده نو نشته خلاصی د ایجاب د یو له دوې څخه نو لازم کړو اکثر لره ځکه چې اکثر داخلیږي په اکثر کې او متصور نه دی دخول د اکثر په اقل کې.[4]

**شپږم مطلب: (اختلاف الملك بمنزلة الإختلاف العين)[5] قاعدې زده کړه.**

اختلاف د ملکیت د یو څیز په مثل د اختلاف د ذات دی.

**د قاعدې نور الفاظ:**

۱ـ اختلاف الملکین بمنزلة اختلاف العقدین.[1]

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج ه ص ۱۹۷
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۱ ص۴۳
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج ۳ ص ۶۲
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۷ ص ۱۵۶
[5] : الکاسانی بدایَع الصنایع ۱۹۹/۵

۲- اختلاف الملکین بمنزلة اختلاف العینین.[2]

۳- اختلاف السبب یو جب اختلاف الحکم.[3]

۴- العین تختلف باختلاف اسباب الملك حکماّ.[4]

**د مفرداتو څیړنه:**

المِلك: په لغت کې په معنی د مالک کیدل ،مسلط کیدل پرنورو، هغه څیز چی په تصرف د انسان کې وي ، دارایي مال.[5]

**په اصطلاح کې**:

( الاختصاص بالمملوك انتفاعاً و تصرفاّ)[6] ژباړه: اختصاص دمملوک پورې په انتفاع او تصرف کې. په قاعده کې هدف د ملک څخه سبب د ملك دی .

**العین:** دا یو مشترک لفظ دی چی ډیرې معنا ګاني لري لکه په معنی د سترګه، چینه ، لمر، نقدی پیسې، جاسوس،او یا ذات د یو څیز.[7]

**السبب**: جمع یی اسباب ده په لغت کی په معنی د وسیله ، بند، طناب[8] او په معنی د :هغه څیز چی د هغې په وسیله بل څیزته رسیدل کیږي. [9]

**په اصطلاح د شریعت کی:** (عبارة عما یکون طریقاّ للوصول الی الحکم غیر مؤثر فیه)[10] ژباړه: سبب عبارت دی له هغه څیز څخه چی هغه لاره وي د رسیدلو حکم ته لکن مؤثر نه وي په حکم کې .

**اختلاف**: په لغت کې په معنی د ضد د اتفاق، او هر هغه څیزونه چی سره برابر نه وي-اصطلاحي معنی یې د لغوی په شان ده.[11]

**دقاعدې معنی:** اختلاف او تغیر د سبب د ملک په یو څیز کې لکه تغیر او تبدیل د ذات دهغه څیز دی حکماّ پس ګویا چی هغه څیز تغیر شوی اګر چې حقیقتاّ تبدیل او تغیر شوی نه دی او مراد د اختلاف د اسبابو د ملک څخه، هبه، بیع، صدقه او ارث دی. [12]

[1]: الکاسانی بدایَع الصنایع ۳۰۱/۵
[2]: الکاسانی بدایَع الصنایع ۱۲۹/۶
[3]: الکاسانی بدایَع الصنایع ۲۷۶/۶
[4]: الکاسانی بدایَع الصنایع ۱۴۶/۴
[5]: ابن فارس، معجم مقاییس اللغة ۱۸۳۲/۲
[6]: الکاسانی بدایَع الصنایع ۳۹/۴
[7]: ابن منظور، لسان العرب، ج ۲ص۱۲۱۶-۱۲۱۷
[8]: ابن منظور، لسان العرب، ج ۱ ص ۶۹۹
[9]: الکاسانی بدایَع الصنایع ج ۳ ص ۲۰
[10]: البرکتی التعریفات الفقهیة ص۱۹۵
[11]: موسوعة الفقهیه الکوتیه-ج ۲ص۲۹۱
[12]: موسعة القواعد الفقهیه-للبورنو-ج۱ص۲۰۴

**د قاعدې دليل: ۱-** استدلال کړی امام کاساني رحمه الله ددې قاعدې د ثبوت لپاره په دا حديث شريف: (الأصل فيه ما روی ان بريرة رضی الله عنها كانت يتصدق عليها و كانت تهدي ذالک الی رسول الله صلی الله عليه وسلم و كان يأكل منه[1] و يقول:(هو لها صدقة و لنا هدية)[2] ژباړه: دليل په دې قاعده کی دادی چی بريرة رضی الله تعالی عنها باندی خلکوصدقه کوله او هغې بيا دا هديه کوله رسول الله صلی الله عليه وسلم ته او رسول الله صلی الله عليه وسلم به له هغې څخه خوراک کولو او ويل به يې :( دا د هغې لپاره صدقه ده او مونږلپاره هديه ده.

**د استدلال وجه:** د حديث شريف نه معلومه شوه چی نبی عليه السلام به هغه هدية هم قبلوله چی هغه به هديه کوونکي ته چا صدقه کې ورکړې وه ځکه چی صدقه کې په سبب د قبض د فقير تحول او تغير راځی او دهغه په ملکيت کې داخليږي نو فقير يا متصدَق عليه کولی شې چی هغې کې تصرف وکړي يعنی وه يې پلوري يا يې بل چا ته هديه کړي، او کله يې چی چاته هديه کړي نو هغی ته حکم د هديې ثابتيږی نو ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم به قبلوله.[3]

همدارنګه امام نووی رحمه الله فرمايې وينا د رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغه غوښه کې چی صدقه شوې وه په بريرې رضی الله عنها باندی :(هو لها صدقة و لنا هدية) دليل دی په دی خبره چی کله صفت تغير شي حکم هم تغيريږی ، نو جايز دی غنی لپاره شراء د صدقې او اکل يا خوراک د هغې که هديه کړی شي (دفقير) لخوا غنی ته همدارنګه هاشمي ته او غير له هغې څخه نورهغه کسان چی زکات ورته ابتداءً جايز نه دی.[4]

۲- په حديث کی روايت شوی چی (اتته امرآة فقالت :انی تصدقت علی امي بجارية و انها ماتت فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم وجب اجرك و ردها عليك الميراث)[5] ژباړه : نبی عليه السلام ته يوه ښځه راغله او وويل يې : ما خپلې مورته يوه وينځه صدقه کړې وه –او هغه (مورمی) مړه شوه- پس رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وه فرمايل ستا اجر واجب شو،او ردکړه(داوينځه ) تاته ميراث.

**د استدلال وجه:**

نبی عليه اسلام دې زنانه ته اجازه وکړه د اخيستلو د هغه څه چی دې خپلې مورته صدقه کړې وه سره ددې چی رجوع په صدقه کې منع ده ، دا لپاره د اختلاف د سبب د ملک. [6]

**تطبيقی بيلګې:** اصل مسئله داده چی که چا څه شیء په نقد يا په نسيه خرڅ کړو او مشتري هغه قبض کړو مخکی له اداء د ثمنو،نو په داسی حالت کی بايع ته جايز نه دي چی دا ځيز له مشتري څخه واخلی په کمو ثمنو له هغه ثمن څخه چی د بيعه کړی وه . ځکه چی دی کې شبه د رِبا ده لکن که مبيعه د

---

[1]: الکاسانی بدائع الصنائع ج۴ ص ۱۴۶

[2]: دا حديث بخاری شريف په کتاب الهبة و فضلها باب قبول الهدية ج۳ ص ۱۰۰ شماره ۲۷۷ او مسلم په کتاب الزکات باب اباحة الهدی للنبی صلی الله عليه وسلم ج۲ ص ۷۵۵ شماره ۱۰۷۴

[3]:وکتل شی :ابن بطال ابوالحسن علی بن خلف بن عبدالملك و شرح صحيح البخاری لابن بطال ،خپرونکی :مکتبةالرشد د چاپ ځای:رياض سعودی.د چاپ کال ۱۴۲۳ د چاپ ګڼه ۲ جلد ۳ ص ۵۴۵

[4]:وکتل شی :النووی ،شرح صحيح المسلم ج ۱۸۲/۷

[5]:صحيح المسلم کتاب الصيام –باب قضاء الصوم عن الميت ج ۲ ص ۸۰۵ شماره ۱۱۴۹

[6]:وکتل شی: القواعد و الضوابط المتضمنة للتيسير ج۱ ص ۷۵

مشتري له ملکيت نه خارج شوه او بايع د مالک ثانى ځخه په کم ثمنو واخيستله مخکې له ادا د ثمنو داعقد جايزدی لپاره د اختلاف دملک.[1]

۲- او که مشتري دا مبيعه په بل چا وپلوري او دوباره مبيعه دده ملکيت ته راشي بيا اولنى بايع په اقل ثمنو واخلى دهغه ثمنوڅخه چې ده پلورلې وه پس که دده ملکيت ته دوباره په ملک جديد لکه شراء.هبه،ارث، راغلې وه نو دا شراء جايز ده په اقل د هغه ثمنو څخه چې ده وربانديږ پلورلې وه ځکه چې اختلاف د ملک په منزلة د اختلاف د عين دی.[2]

۳- اخيستل شوی څيز په شراء فاسد سره که وپلوري مشتري او يا يې هبه کړی .او يايې صدقه کړی ،نو باطليږی حق د فسخی ،په مشتري قيمت يا مثل لازم دی، او که مشتري داڅيز دوباره واخيست ،اويا په يو نوي سبب ده ته واپس شوه خق د فسخی دوباره نه راګرځی ځکه چې شو اختلاف د ملکينو په مثل د اختلاف د عقدينو.[3]

**۴-** په هبه کې د رجوع نه د مانعه عوارضو له جملې څخه يو هم خروج د موهوبې دی د ملک د واهب څخه ، هغه په هر سبب چې وي لکه بيعه،هبه،موت، اودده به مثل ، ځکه چې ملکيت په دې څيزونو مختلف کيږی، او اختلاف د ملکينو لکه اختلاف د عينينو دی.[4]

**اوم مبحث: فقهی قواعد په فصل د( شرائط رکن البيع ) کې په ديکې پنځه مطلبه دي.**

**لمړی مطلب: د (المسلمين عند شروطهم )** قاعدې زده کړه[5]

مسلمنان بايد په خپل شرطونو تينګ ودريږي.

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاساني او نورو فقهاو رحمهم الله په لاندې الفاظو هم ذکر کړې ده :

**۱-** يلزم مراعاة الشرط بقدرالامکان.[6]

۲ـ الأصل فى الشروط اعتبارها.[7]

۳ـ الأصل فى الشروط اعتبارها مامکن.[8]

---

1: الکاسانى بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۹۸-۱۹۹
2: الکاسانى بدائع الصنائع ۱۹۹/۵
3: الکاسانى بدائع الصنائع ۳۰۱/۵
4: الکاسانى بدائع الصنائع ج ۶ ص ۲۲۹
5:الکاسانى بدائع الصنائع ج ۵ ص ۲۱۳
6:على حيدر ،مجلة الاحکام العدليه ۲۶/۱
7: الکاسانى بدائع الصنائع ۲۰۴/۴
8: الکاسانى بدائع الصنائع ۲۰۹/۹۸/۴

**دمفرداتو څیړنه:**

**الشرط:** د شرط معنی مخکی ذکر شوې ده.

**د شرط ډولونه:** شرط په اعتبار د مصدر د هغه په دوه ډوله دی یعنی شرط نظر شرط کوونکي ته په دوه ډوله دی.

**اول-** شرعي شرط: دا هغه شرط دی چی مصدر يې شريعت وي يعني د شارع لخوا شرط شوی وې لکه شرطونه د لمانځه يا د زکات يا شرط د اهليت د عقد په عقودو کي.

**دويم-جُعلی شرط:** دا هغه شرط دی چی مصدر يې خپله انسان يا عاقد وي يعنی دشارع لخوا شرط شوي نه وې بلکې انسان په خپله اراده او تصرف په ځان لازم کړی وي ،او خپل بعض عقود او التزامات د هغه پورې متعلق کوي په دا ډول که دا شرط متحقق نه شو نو داعقد يا التزام نه منعقد کيږی مثلآ: يونفر خپل کفالت معلق کړي د يو مناسب کار سره لکه دا چي ووايې: که ستا مدين(قرض دار) نن سفر وکړو نو ځه به کفيل ستا د قرض يم . نو که هغه سفر وکړو نو دی کفيل شو او که سفريي ونکړو د ا کفيل نه دی. دا نوع شرط مشابهت لري د سبب سره د لحاظ د ارتباط د مشروط د شرط سره وجوداً او عدماً[1] او قاعده کی همدا شرط مراد دی.

دا دويم ډول شرط بيا په دری ډوله دی.

**اول جايز شرط:** دا هغه شرط دی چی د شريعت سره موافق وي او موافق د مقتضی د عقد وي يعنی بدون د شرط کولو څخه لازم شي- لکه اشتراط د حبس د مبيع په مقابل د ثمن کی- او يا ملايْم او مناسب وي دعقد سره لکه دا چی راجع وي صفت د بدل ته لکه داچی دراهم معجل وي يا مؤجل يا راجع وي صفت مبدَل ته لکه داچی فرس بايد داډول وي يا داچی راجع وي توثيق دعقد ته يا دا چی نه دعقد د مقتضی موافق وي او نه ملايْم وي لکې عرف په هغې جاري وي لکه اخيستل د ځينی اجناسو چی د هغی نصبول يا لګول په بايع باندی وي و يا داچی دشريعت لخوا اجازه يی شوې وي لکه خيار شرط،خيارروئيت وغيره.[2]

**دويم: فاسد شرط:** داهغه شرط دې چی په خلاف د مخکينيو شرطونو وي يعنی نه د مقتضی د عقد سره موافق وی اونه ملايْم وي او نه عرفورباندې جاري وي او نه د شريعت لخوا اجازه ورکړی شوی وي ،او په دی کي احد العاقدين يا معقود عليه لپاره نفع شرط شوي وي په صلب دعقد کې لکه پلورل د دابې يا حيوان په شرط دي چې بايع به يو مياشت ورڅخه استفاده کوي.[3]

---

[1]: الزرقا-المدخل الفقهی العام ج ١ص ٣٩٤-٣٩

[2]: الزرقا ، شرح القواعد الفقهيه ج ١ ص ٢٥٨ على حيدر ،او وکتل شي: دررالحکام شرح مجله الاحکام ج ١ ص ٧۴

[3]: مخکينی مصدر

**دریم: لغوه شرط:** داهغه شرط دی چی په خلاف ددغه دوه ډوله شرطونووي یا داچی شرط کړی په اجنبي باندی داسی شرط که په یو دعاقدینو شرط کړی شی عقد فاسدوي ،او یا داچی شرط کړی شي نفع احد العاقدین لپاره لکن وروسته له عقد، نه په صلب عقد کي. [1]

**د قاعدې معنی :** دا قاعده دا افاده کوی چی وفا په شرط یا پوره کول د شرطونو واجب دي خو په دائره دحدودو د شریعت کې او په هغه اندازه چی د انسان په توانایی کي وي هغه شرطونه چی دشریعت مخالف وی او یا دتوانایی نه خارج وي په هغی وفا کول واجب نه دي .[2]

**دشرط ډولونه په معاملاتو کي د لحاظ د صحت او فساد.**

**اول:** صحیح شرط دا هغه شرط دی چی د شریعت موافق وي او دا په څلور ډوله دی .

١ – چی د عقد د تقاضا موافق وي لکه عقد په شرط د دې چي بایع په مبیع تسلیمه وي یا مشتري به ثمن تسلیموي ځکه چی تسلیم او تسلم د مقتضی د عقد څخه دی.

٢ – مناسب د مقتضی د عقد: لکه بیع په ثمن مؤجل په دی شرط چی مشتري به یا کفیل یا رهن وړاندی کوي ځکه چی رهن او کفیل دا توثیق د ثمنو دی نو مناسب دبیعی دی .

٣ – چی شریعت د هغه جواز ورکړی وي لکه خیار شرط، خیارعیب ، خیار رویْت او داسی نور خیارات .

۴ – چی موافق د عرف وي: لکه شراء د بعض اشیاء وچی نصب یی په بایع باندی وي. [3]

**دویم:** فاسد شرط- داهغه شرط دی چی دفوق الذکر څلور واړه شرطونو څخه خارج وي یعنی نه مطابق د مقتضی د عقد وی او نه ملائیم وی او نه شریعت د هغه اجازه ورکړي وی اونه متعارف وی او په هغی کې منفعت وي یو د عاقدینو لره: لکه بیع د دار په دی شرط چی بایع به په کی یو میاشت ژوند کوي.[4]

**دریم:** باطل او لغوه شرط: دا هغه شرط دی چی په هغې کې ضرر وی یو د عاقدینو ته لکه بیع په شرط ده دي چی مشتري به دانه خرڅ وي او یا چاته به نه هدیه کوي په د صورت کی بیعه جایز ده او شرط لغوه او باطل دی ځکه چی دی شرط کې منفعت احدالعاقدین ته نشته چی شبه د ربا راشي.[5]

**دقاعدې دلیل:**

دا قاعده خپله نص د حدیث شریف دی [6] او نور دلایل هم په دې دلالت کوی:

---

[1]: الزرقا-شرح القواعد الفقهية ج ١ص٢٥٨ درالحكام شرح مجلة الاحكام ج ١ ص ٧۴

[2]: البرکتی ، المجموعه للقواعد الفقهیه ص ١٠۶

[3]: الزحیلي ، الفقه الاسلامي وادلته ج۵ ص١۵٢

[4]: مخکینی مصدر

[5]: الزحیلي،الفقه الاسلامی وادلته ج ۵ ص ١۵٢

[6]: دا حدیث امام ترمذی په خپل سنن کتاب الاحکام باب ما ذکر فی الصلح بین الناس ۶٣۴/٣ شماره ١٣۵٢ او ویلی دی هذا حدیث حسن صحیح- او علامه البانی ورته هم صحیح ویلی دي ارواء الغلیل کتاب البیع باب بیع الاصول والثمار ج۵ ص ٢٠٧ شماره ١٣۶٠ تعلیق بخاری کتاب الاجاره باب احرالسمسرة ٧٩۴/٢

١ – **كتاب الله :(** يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ)[1] ژباړه: ای هغه کسانو چی ایمان يې راوړی دی (يعنی ای مؤمنانو) پوره کړئ تاسي ګرد عهدونه.

**د استدلال وجه:**

ابن قيم رحمه الله فرمائي: (جايز شرط په منزله د عقد دی ، بلکې خپله عقد او عهد دی )[2] او پوره کول د عهد يو قرآني حکم دی.

٢ – قول النبی صلی الله عليه وسلم :( الصلح جائز بين المسلمين الا صلحا حرم حلالا او أحل حرام، المسلمون علی شروطهم الا شرطا حرم حلالا او أحل حراماً)[3] ژباړه: سوله د مسلمانانو منځ کې جايز ده مګر هغه سوله چی حرام حلال کړي او يا حلال حرام کړي، او مسلمانان د خپلو شرطونو سره دي مګر هغه شرط چی حرام حلال او حلال حرام کړي.

**د استدلال وجه**:معنی د دې قول د نبی عليه السلام (عند شروطهم ) مسلمانان ټينګ ولاړوي په هغه شرطونو چې په خپل ځانونو يې لازم کړي، اوله هغی څخه تجاوز نه کوي او دهغی د محافظت او تنفيذ لپاره کار کوي[4] دا حديث دليل دی په دی خبره، چی لازم دي وفا کول په هغه شرطونو چی مسلمانانو په خپل ځان لازم کړې وي بغير دهغه شرطونو څخه چي حديث مستثنی کړي[5] امام کاسانی رحمه الله فرمائي :( ظاهر د حديث تقاضا کوی په لزوم د وفاء په هر شرط مګر هغه شرط چي خاص کړی شي په دليل سره[6]

**تطبيقي بيلګې:**

**١ـ** که چانه يی په استعاره ځمکه واخيستله لپاره د کښت د زراعت،او شرط کړو په ده باندې معِير ويستل د اشجارو په وخت د واپس کولو کې ، پس په مستعير باندی لازم دی چې په وخت د رد کې چه اشجار او فصل لرې کړي او تسليم يې کړي خاليمعير ته مګر داچی راضې شي معير سره د فصل يا اشجارو[7].

٢ – که چا يو څه ويلورل په شرط د دې چې ثمن به معجل وي پس په مشتری لازم دی اداء د ثمنو په وخت د تسليمي د مبيعې يا سلعې کې، او که شرط کړي مشتري تاجيل په ثمنو کی تر يو وخت معين پورې ، نو نشته بايع لره چی مطالبه د اداء د ثمنو وکړي مخکې له وخت څخه.[8]

٣ – که شرط کړي رب السلم تسليمي( د مسلم فيه) په يو ښار يا قريه معينه کې ، پس په همدې ښار يا قريې کې ورته تسليم کړي نو صحيح دی،اورب السلم حق نه لري چي په داخل د ښار يا قريې کې يو

---

[1]: د مايْدی سورت ١ آيات.
[2]: ابن القيم ، اعلام المؤقعين ج٣ ص ٣٩٠
[3]: مخکی تخريج بيان شو
[4]: البورنو ، موسوعةالقواعد الفقهية ج ٩ ص ٦١٠
[5]: الصنعاني، محمد بی اسماعيل الامير اليمنی ، سبل السلام ، محقق فراز احمد خپرونکی ذرالويان دچاپ ځایْ قاهره د چاپ ګڼه ۴ دچاپ کال ١۴٠٧ ج ٣ ص ١٢١
[6]: الکاساني ، بدائع الصنايئع ج ۵ ص ٢۵٩
[7] : البورنو ، موسوعة القواعد الفقهيه، ج ٩ ص ٦١١
[8] : مخکينې مصدر ج ٩ ص ٦١١

ځای مشخص کړي ، ځکه چی مشروط په عقد کې تسلیمی په دی ښار او قریه کې ده ، هغه چې په هره ساحه کې وي ، او شرط خو موجود شوی، او که په غیر مشروط محل کې ورته تسلیم کړي نو رب السلم حق د انکار لري ، په دلیل د قول دنبی علیه السلام – المسلمون عند شروطهم [1].

۴ – دمضاربت مقیده حکم د مضارب مطلقه په شان دی مګر په مقدار د قید کې ، او اصل دادی که قید مفید وي نو لازمیږي، ځکه چې اصل په شروطو کې اعتبار د هغه دی تر کوم حده چی ممکن وي، نو کله چي مفید وي ممکن الإعتبار هم وي نو ځکه ورته اعتبار ورکول کیږي لقول النبی صلی الله علیه وسلم : المسلمون عند شروطهم. [2]

۵ – لازم دی په مودَع ( چاسره چی امانت کیخودل شوی) ساتنه د ودیعي (هغه مال چی په طور د امانت ورکړی شوی دی) لپاره د مالک دهغې ، ځکه چی ایداع(په امانت چاته څه ورکول) له طرفه د مالک په معنی د طلب د حفاظت ده او له طرفه د مودَع په معنی د التزام د حفاظت ده او دا مودَع اهل د التزام دی نبی علیه السلام فرمائیی: المسلمون عند شروطهم [3].

۶ – په نذر کوونکي باندی وفا په نذر واجب ده ځکه چی نذر کوونکي شرط کړی دی په خپل ځان وفا په خپل نذر نو لازم دی وربادی مراعات د خپل شرط او په دی اجماع د امت ده په دلیل د قول د نبی علیه السلام- المسلمون عند شروطهم [4].

۷ – که دیوال د دوه نفرو په منځ کې شریک وو ، او دیو شریک تیران(جذوع) وو په دیوال باندی ، د تقسیم په وخت کی شرط کړو دوي لرې کول د تیرانو، نو لازم دې په صاحب د تیرانو قطعه یا لرې کول دهغې لقول النبی علیه السلام المسلمون عند شروطهم[5].

**دویم مطلب: (البقاء اسهل من الإبتداء)** [6] **قاعدې زده کړه**.

بقاء له ابتداء نه آسانه ده.

**دقاعدې نور الفاظ:**

۱ -البقاء اسهل [7].

۲- البقاء اسهل من حکم الإبتداء [8].

۳- حال البقاء لایقاس علی حال الإبتداء[9].

---

[1] : الکاساني ، بدایئع الصنایئع ۲۱۳/۵
[2] : الکاساني بدایٔع الصنایٔع ۹۸/۵
[3]: الکاساني بدایٔع الصنایٔع ۲۰۷/۶
[4]: الکاساني بدایٔع الصنایٔع۹۰/۵۶
[5]: الکاساني بدایٔع الصنایٔع ج ۷ ص ۲۹
[6]: الکاساني بدایٔع الصنایٔع ج ۲۱۷/۵
[7]: الکاساني بدایٔع الصنایٔع ج ۱۵۷/۳
[8]: الکاساني بدایٔع الصنایٔع ج ۱۳۸/۶
[9]: الکاساني بدایٔع الصنایٔع ج ۱۳۸/۶

**د مفرداتو څيړنه:**

**البقاء-** مصدر دی له بقی یبقی بقاءٌ څخه په معنی د دوام پیداء کول ، په خپل ځاېي پاتيکيدل ، باقی پاتې کيدل.[1]

**په اصطلاح کې:** (بقاء الشی علی حالة الاولی)[2] باقی پاتيکيدل ديو څيز په خپل اول حالت باندې.

الإبتداء: په لغت کې په معنی د الافتتاح( پيل)[3]

**په اصطلاح کې:** ( الذی لم یتقدمه شئ)[4] ژباړه:عبارت له هغه څيز څخه دی چې که هغی څخه کوم څيز مخکې نه وي .

**دقاعدی معنی:** دوام او بقاء ديوڅيز په اولني حالت باندې اسانه دی له احداث او ایجاد دهغه څخه (ځکه چې ابتداء ديو څيز کې ضرورت وي هغه څيز ونو ته چې په بقاء کې ورته ضرورت نه وي ،[5] دا له وجی د قوت د دوام ، اوله وجی د ثبوت او استقرار د حکم د دوام)نو معلوميږي د ( اسانواليد بقاء له ابتداء) څخه دا چې ، هر هغه څيز چې مانع دبقاء وی نو هغه به په طريق اولی مانع د ابتداء وي ، او هر هغه څيز چې مانع د ابتداء نه وي نو په طريق اولی مانع د بقاء به هم نه وي.

دي قاعدې څخه ښکاره کيږی اسانی د شريعت اسلامی ، او دفعه د حرج د مکلفينو نه ، دی لپاره چې فرق کړی شريعت په منځ د حکم طارئ او مقارن په ډيرو شرعي احکامو کی لپاره د اسانتيا او تخفيف[6] نو ځکه امام کاسانی رحمه الله فرمائی ( بقاء اسانه ده له ابتداء څخه ) نو په همدی اساس شريعت فرق کړي په منځ طارئ او مقارن په ډيرو احکاموکې)[7].

**دقاعدی دليل:**

استدلال کړی امام کاسانی رحمه الله د دی قاعدې لپاره په لاندې حديث شريف باندی: ( قالت عائشه رضی الله عنها : کانی انظر الی وبيص الطيب فی مفارق رسول الله صلی الله عليه وسلم و هو محرم) ژباړه: وويل بی بی عائشی رضی الله عنها: (ګويا چې ځه ګورم هغه جلاء يا پرقاء د خوش بويي ته په تندی د رسول الله صلی الله عليه وسلم او حال دا چه هغه په احرام کې وو[8].

---

[1]: ابن منظور، لسان العرب ج ۱ ص ۹۰
[2]: المناوي التعاريف ج۱ص۱۳۹
[3] التهانوي ، کشاف اصطلاحآ ت الفنون ۸۱/۱
[4]: البرکتی التعريفات الفقهيه ص ۱۰۱
[5]: ابن القيم ، علام الموقعين ج ۲ ص ۳۴۳
[6]: وکتل شی الذدوي ، جمهرة القواعد الفقهيه فی المعاملات الماليه ج ۱ ص ۵۲۹
[7]: الکاساني بدائع الصنائع ج۳ ص ۱۲۳
[8]: روايت کړي امام مسلم په خپل صحيح کتاب الحج باب الطيب للمحرم عندالاحرام ج ۸۴۷/۲ شماره ۱۱۹۰

**د استدلال وجه**: خوشبويي يا عطر استعمالول په حالت د احرام کې ابتداء حرام دي ، لکن باقی پاتی کیدل د خوشبويي سره د عين د هغه وروسته د احرام عفوه دي په دليل د فعل د رسول الله صلى الله عليه وسلم .[1]

**تطبيقي بيلګې :**

١ – که چا وپلورله جاريه (وينځه ) د سپينو زرو طوق سره چې په غاړه کې يی وو ، په مقابل د خالصو سپينو زرو او سپين زر زياد وو (د هغه سپينو زرو طوق څخه چې په غاړه د وينځه کې دی ) دی لپاره چی بيع جايزه شي سپين زر په مقابل د سپين زرو کې بيع صرف شوه نو د بيع صرف شرايط به پکې مراعت کيږي او په باقي سپينو زرو کې چې د وينځې جنس يی مخالف دی بيع مطلق شوه نو دی کې شرط نه دي هغه څه چې په بيع صرف کې شرط دي ، نو که تقابض د جانبينو موجود شو مخکې له جدايی څخه ، نو دواړه بيعې ( صرف او مطلق ) جايز شوې او که له جانبينو تقابض موجود نشو او يا له يو جانبه تقابض موجود شو او له بل جانبه موجود نه شو نو بيع صرف باطله شوه ځکه چی قبل القبض افتراق راغی ، نوآيا بيع مطلق باطليږی او کنه ، نو ودی کتل شی دا چی سپين زر چې د بل څيز سره جمع شوې دي ، جداءکيږی بغير له ضرر نه او کنه که جداءکيدله بغير له ضرره لکه جاريه سره د طوق ، نو بيع مطلق جايز ده ، او فساد بيع صرف بيع مطلق ته سرايت نه کوي ، ځکه کله چی ممکن وي تخلص او جدائِی له يو بل څخه نو دا دوه جدا جدا څيزونه حسابيږی- نو له همدی لپاره جائِز ده بيعه د يو د دوی څخه تنها يا يواځی ابتداء نو په طريق اولی سره جائِز ده انتهاء يا بقاء ځکه چی بقاء اسانه ده له ابتداء څخه.[2]

٢ – که اقاله وکړه عاقدينو او دواړه اجناس قايم وو بيا هلاک شو يو له ددی دواړو جنسينو څخه مخکې له رد څخه ، نو اقاله نه باطليږی ، ځکه چې هلاکت د يو له جنسينو څخه مخکې له اقالی څخه مانع د صحت د اقالی نه دی، نو هلاکيدل د دی وروسته له اقالی څخه ، خو په طريق اولی سره مانع د صحت د بقاء د اقالی نه دی ځکه چی بقاء اسانه ده له ابتداء څخه.[3]

٣ – مناسب نه دی اعتکاف کوونکي لره چی وروسته د جمعی لمانځه څخه په مسجد جامع کې پاتی شي مګر په مقدارد د څلور يا شپږ رکعته لمونځ ، او که پاتې شو په مقدار يو ورځ او شپه نو اعتکاف يي نه ماتيږی، لکن دا کار ورته مکروه دی او د اعتکاف د نه ماتيدو وجه داده چی مسجد جامع صلاحيت د اعتکاف ابتداء لری نو د بقاء د اعتکاف سره خو په طريق اولی سره لري ځکه چی بقاء اسانه ده له ابتداء څخه.[4]

٤ – امام ابو يوسف رحمه الله فرمايی : طارئ شيوع( هغه شيوع چی وروسته له عقد څخه منځ ته راشی) په عقد باندی نه منع کوي بقا د عقد په صحت باندی – صورت د مسئلې دا دی که چا په رهن ورکړو يو څيز او بيا يی مرتهن مسلط کړو په پلورلو د هغه څيز په مجموعي يا متفرقه توګه نو ( مرتهن

1: الكاسانی بدائِع الصنائِع ج ٢ ص ١۴۴
2: الكاسانی بدائِع الصنائِع ٢١٧/٥
3: الكاسانی بدائِع الصنائِع ٣٠٩/٥
4: الكاسانی بدائِع الصنائِع ٢٠/٥

) وپلورلو نیم خو شایع او یا څه شایع برخه یی په استحقاق پوړل شوه دا ځکه مانع د بقا د عقد په صحت باندی نده ځکه چی حال د بقا نه قیاس کیږي په ابتداء باندی دې لپاره چی بقا اسانه ده له ابتداء څخه.[1]

۵ – داسی نه ده چي هر څه شرط وي په ابتداء د عقد کې هغه په شرط وي لپاره د بقاء دعقد لکه خالی والي دعدت څخه پس عدت مانع د انشاء دنکاح دی ، لکن کله چي طارئ شي عدت په نکاح باندی بیا نه باطلوي نکاح لره[2] ځکه چي بقاء اسانه ده له ابتداء څخه.

۶ – که چا وپلورله یوه مشاع برخه دخپل کور ، نو ده لره حق دشفعی شته په سبب د مابقیه کور ځکه چی مابقیه ابتدآء صلاحیت د استحقاق دشفعی لري نو بقاء خو په طریق اولی سره لري ځکه چي بقاء اسانه ده له ابتداء څخه[3].

**دریم مطلب:د(امورالمسلمین محمولة علی الصحة والسداد ما امکن)**[4]

**د قاعدې زده کړه.** دمسلمانانو امورمحمول دي په صحت او درست والیباندی تر څو چی ممکن وي.

**دقاعدې نور الفاظ** :

1 - حمل امور المسلمين على الصلاح والسداد واجب ما امكن.[5]
2 - حمل امور المسلمين على الصحة واجب. [6]
3 - امور المسلمين محمولة على الصحة اذا امكن. [7].

**دمفرداتو څیرنه:** امور جمع د امر ده په معنی د شان، کار ، مطلب یا مهم کار[8] ابن فارس رحمه الله وایي:( همزه- میم –راء- پنځه اصل دی) ۱- یو امر له امورو څخه ۲- امر ضدالنهی ۳- نماء او برکت ۴- نښه ۵- تعجب[9] امور چه په معنی د ضد النهی وي بیا جمع یې اوامر راځي او که په معنی د شان او حال وي بیا جمع امور راځي[10] امور جمع ده امر په معنی د فعل او حال ویل کیږی اموره مستقیمة ای احواله مستقیمة او امر په معنی د طلب د فعل او قول هم راځي او لفظ د امور شامل دی ټولو قولي او فعلي تصرفاتو ته .[11]

---

[1]: الكاساني بدائع الصنائع ج ۶ ص ۱۳۸
[2]: الكاساني بدائع الصنائع ۱۸۸/۴
[3]: الكاساني بدائع الصنائع ۲۰/۵
[4]: الكاساني بدائع الصنائع ۲۱۷/۵
[5]: الكاساني بدائع الصنائع ۲۱۲/۳
[6]: ابن نجيم ، بحر الرائق ۲۴۹/۷
[7]: الزبيدي أبو بكر بن علي بن محمد الحداد جوهرة النيرة ، خپرونكي ، موسسه الرساله بيروت لمړی چاپ كال ۱۴۰۲ هجری ۳۵۲/۲
[8]: ابن فارس ، معجم مقايس اللغه ۱ /۳۴
[9] : الزيات ، معجم الوسيط ۲۶/۱
[10]: الفيومي ، تاج العروس۶۹/۱۰
[11]: على حيدر دررالحكام شرح جملة الاحكام۱۷/۱

الصلاح: ابن فارس رحمه الله فرمایی (الصاد لام او حاء اصل واحد دی په معنی د خلاف د فساد[1] په اصطلاح کې: (استقامة الحال علی مایدعو الیه العقل)[2] ژباړه : برابر والی د حال او شان په هغه کیفیت چی عقل یې غواړي.

**الصحة-** په لغت کې په معنی د مقابل د مرض، ثبوت او مطابقت د یوشیز د واقعت سره[3] .

**په اصطلاح کې:** (کون الفعل مسقطا للقضاء فی العبادات، او سببا لترتب ثمراته المطلوبة منه شرعآ فی المعاملات)[4] ژباړه: اوسیدل دفعل په داسې حال کې چې ساقطوونکې وي د قضاء په عباداتوکې او سبب دمرتب کیدو د ثمراتو مطلوبه له فعل څخه وي په معاملاتوکې.

**السداد** – په لغت کی له (سد) څخه اخیستل شوی – ابن فارس وایې – السین –او –الدال- اصل واحد دی په معنی: بندول او ترمیمول دیوشیز او ویل کیږی (سدت الثلمة) بند می کړو درز یا چود او هر هغه شیز چی حاجز یا مانع وي په منځ ده دوو شیزونو کی هغه ته سد ویل کیږي زوالسداد-ای الاستقامة – په معنی د درست اوصحیح چی هیڅ درز پکې نه وي[5] السداد مصدر دی په معنی- صحیح قول او فعل او رسیدل حق ته.[6]

**په اصطلاح کې:** (الإصابة فی النطق والتدبیر والرأی)[7] ژباړه: حق ته رسیدل په نطق، تدبیر او رأی کې.

**دقاعدې معنی:** قاعده دا افاده کوي ، چی ټول هغه تصرفات چی دمسلمان څخه د هغه په اراده صادریږی ، هغه قولي تصرفات وي او که فعلی لکه عقود، معاملات، لازم دی حمل دهغه په ښه او صحیح محمل باندي ، ځکه چی مسلمان په سبب دایمان او اسلام تصرف نه کوي مګر صحیح او ښه تصرف چی د شریعت موافق وي، نو بغیر د دلیل او حجت څخه په غیر صحیح محمل حمل کول جائز نه دي، ځکه چی مونږته امر شوی دښه ګمان کولو په اهل قبله باندی[8]

او فتوی د ورنکړې شي په کفر د مسلمان که ممکن وي .حمل د فعل او کلام د هغه په صحیح محمل باندي[9]

**دقاعدې دلیل:** ١ – کتاب الله : الله تعالی فرمائی(مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ)[10]

ژباړه: هر څوک چی کافر شو پر الله وروسته له ایمان راوړلو دده، مګر چی زور پری وکړای شي(اومجبورآ د کفر کلمه یې وویله ) حال داچی زړه دده آرام نیوونکې وي په ایمان سره.

[1]: ابن فارس معجم مقایس الغة ٢٣٦/٣
[2]: التهانوي کشاف اصطلاحات الفنون ١٠٩٢/٢
[3]: التهانوي کشاف اصطلاحات الفنون ١٠٦٢/٢
[4]: البرکتی: التعریفات القهیه ص ٢١١
[5]: ابن فارس ، معجم مقایس الغة ج ٣ ص ٦٦ مارسد
[6]: الفواهیدی-اب عبدالرحمن الخلیل بن احمد –کتاب العین ١٨٣/٧ خپروونکی مکتبة الهلال-بدون مکان و زمان .
[7]: ابی عبید القاسم بن سلام الهروی غریب الحدیث تحقیق محمد عبدالمعید دارالکتب العربی بیروت چاپ اول د چاپ کال١٣١٩
[8]: البورنو ، موسعة القواعد الفقهیه ج١ ص ٤٤٨
[9]: ابن عابدین ردالمختار علی درالمختار ج ٦ ص ٣١٠
[10]: دنحل سورت ١٠٦ آیت

**د استدلال وجه:** ابن کثیر رحمه الله فرمايي[1] دا ايت د عمار بن یاسر رضی الله عنه په حقله نازل شوی کله چه کفارو هغه په عذاب کړو لپاره ددی چی کافرشي، او هغه هم دهغوی سره موافقت وکړو په سبب د اکراه او راغلو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عذر کوونکې، نو الله پاک دا ايت نازل کړو[2] د الله تعالی له دی قول( الا من اکره و قلبه مطمْن بالايمان) څخه معلومیږي چی امور دمسلمانانو محمول دي په صحت باندې: ځکه چی الله تعالی دا ايت نازل کړو لپاره د حمل د قول عماربن یاسر رضی الله عنه په صحت باندې[3].

۲ ــ الله تبارک وتعالی فرمايې: (لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ) سورة نور ايت ۱۲ ژباړه: ولې نه په هغه وخت کې چې واوريده تاسې داخبره ګمان کاوه ایماندارو سړو او ایماندارو ښځو په نفسونو خپلو(پخپلو منځوکې) دخیر( خبرې) او ویلې وای ( دوی ټولو داسې) داخبره دروغ ده ښکاره.

**داستدلال وجه:** علامه جصاص رحمه الله ددې ايت په تفسير کې فرمايي دا ايت دلالت کوي په دی که څوک په ظاهره عادل وي باید په هغه ښه او دخیر ګمان وکړې شي نه دشر ګمان، دا ايت لازموي چی امور دمسلمانانو لکه، عقود، افعال او ټول تصرفات محمول دي په جواز او صحت باندې او جایز نه دی حمل د تصرفاتو د مسلمانانو په فساد او عدم جواز باندي ، په ګمان او تخمين سره او دا ايت دلالت کوي په صحت د قول د امام ابو حنيفه رحمه الله چی فرمایی : مسلمانان ټول عادلان دي تر څو چی ښکاره نه شی له هغه څه غلطی.[4]

**۳ ــ سنت:** ( عن عائشة رضی الله عنها انها قالت: قالوا یارسول الله ان ها هنا اقواماً حدیث عهد بشرك، یا تونا بلحمان لاندري يذكر اسم الله علیها او لا. قال صلی الله علیه وسلم اذکرو انتم اسم الله علیه و کلوا.)[5]

ژباړه: دعائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې هغې وه فرمايل : چی صحابه اکرامو( وویل ای دالله رسوله دلته څو قومونه دي چی نوي مسلمانان شوي، مونږ ته غوښې راوړي ،مونږ نه پوهیږو چی په دې ( غوښو) بسم الله ویل شوی او کنه ــ نبی علیه السلام وفرمایل تاسو د الله تعالی نوم یادکړې په هغې باندې او خورې یې.

**داستدلال وجه:** داقول د نبی علیه السلام ( کلوا) په دی کې اشاره دې خبرې ته ده چی ، لازم نه دی پلټنه د هغه څیزونو چی مسلمانان یې د مسلمانانو ښارونو ته راوړي، او همدارنګه هغه ذبحه شوی حیوان چی ذبحه کړې وي بانده چیانو ، چي آیا دوې بسم الله ویلې ده او کنه ، ځکه چی هغوې په بسم الله پوهیږی او

---

[1]: عمادالدین ابوالفداء اسماعیل بن عمروالبصری بیا د مشقی په کال ۷۰۰ هجری په بصره کی ځیګیدلی دی او بیا په کال ۷۰۵ کی د خپل وروررسره دمشق ته تلی او وروسته دخپل پلار د وفات څخه دمشق د علماء خصوصاً علامه ابن تیمه او علامه آمدي څخه زدکړې کړې، دخپل وخت مفسر ، محدث او مؤرخ وو ډیر تالیفات لري چی مشهور یی تفسیر القرآن العظیم مشهور په تفسیر ابن کثیر ، او البدایه والنهایه په تاریخ کې ، بل آخره په کال ۷۷۴ هجری کی وفات شوی ــ الاعلام للزرکلی ج ۱ ص ۳۲۰

[2]: الدمشقی ابولفداء اسماعیل بن عمرو بن کثیر ــ تفسیر القرآن العظیم ــ خپروونکی: دارالطبیه ــ مدینه منوره سعودي د چاپ ګڼه ۲ د چاپ کال : ۱۴۲۰ ج ۵ ص ۶۰۵

[3]: الفوری السمستی. محمد سعید النور المظاهری- دروس الفقه الحنفی و دلائِل اصول الکرخی- خپروونکی ــ دارالکف العلمیة بدون زمان و مکان طبعه ۳۷

[4]: الجصاص ــ احکام القرآن ۱۶۱/۵

[3]: صحيح البخارى کتاب التوحید باب السؤال باسم الله تعالی والاستعاذة ج ۲ /۱۱۹ شماهر ۷۳۹۸

حکم نه يې خبردي او مسلمان باندې باید ګمان د خير و کړای شي نه ګمان د شر تر دی چې خلاف يې ثابت شي[1]

امام جصاص رحمه الله فرمایی : که چيرته بسم الله ويل په ذبح کې شرط نه وای نو نبی عليه السلام به فرمايلي وو( ما عليکم من ترک التسمية) لکن رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:(کلوا) ځکه چې امور د مسلمانانو محمول دي په جواز او صحت باندې نو حمل دې نکړې شي په فساد او عدم جواز باندی بغير د دليل څخه[2].

**تطبيقي بيلګې:** که چا وپيرودله محلا توره(داهغه توره ده چې هغی کې زر کارول شوی وي) په سلو درهمو او دهغي حليه (ګاڼه) د پنځوسو درهمو وه، او مشتري پنځوس درهمه نقدي ورکړې او مشتری هيڅ ياد نکړي نو دا د بيع صرف څخه حسابيږي ، ځکه چې امور د مسلمانانو محمول دي په صحت او استقامت باندې ترڅو چې ممکن وي [3].

۲ – وکيل په شراء ديو غير معين څيز ، کله چې واخلي يا وپلوري يو څيز لره، او نيت يي نه وي چې دځان لپاره يې اخلم يا د مؤکل لپاره او دواړو اتفاق وکړو په دی خبره ، نو دلته حَکَم به ثمن وي يعنی که ثمن يي د خپل شخصي دراهمو څخه اداء کړي وو نو اخيستل شوی څيز دده شو ، او که ثمن يي د مؤکل له دراهمو اداء کړې وو نو پيرودل شوی څيز د مؤکل شو داپه نزد د امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله ، وجه: په تحقيق سره امور د مسلمانانو محمول دي په صلاح او استقامت باندي تر کوم حده چي ممکن وي او امکان د اعتبار موجود دی په تحکيم د ثمنو.[4]

۳ – که چا دعوه وکړه د زرو درهمو او سل دينارو په بل چا باندې ، او بيا دوې صلحه وکړه په سلو درهمو تر يو مياشت پورې دا جايز دی ، (دجواز وجه) داده چې د صلحي حط (کمول)وګڼل شي نه معاوضه ځکه که معاوضه وګڼل شي نو دسلو درهمو څخه بعض په مقابل درهمو کې او بعض په مقابل دنانيرو کې حسابيږي ، نو دا شو پلورونکي د نه سوه درهمو په مقابل پنځوسو درهمو ، دا خو رباء ده او امور د مسلمانانو محمول وي په صلاح او سداد باندی ترڅو چې ممکن وي ، او ممکن دی چې دنانير مکمل حط يا ساقط وګڼل شي او بعض دراهم چې هغه نه سوه درهمه دي هم حط وګڼل شي او باقی سل درهمو کی تاجيل تر يو مياشت پورې[5].

۴ – که يوه ښځه په عدت د طلاق باين کې وه او دا د ذوات اقراء ( حيض والا) له جملې څخه وه ، او دخپل د عدت د پوره کيدو اقرار يې هم نه وي کړی نوولادت يې وکړو تر دوه کاله پورې د طلاق څخه ( لزمه ) يعنی لازم دی نسب ددغه ماشوم د طلاق ورکوونکي زوج څخه  ځکه چې احتمال دعلوق د وطئ حادث نه وروسته له طلاق څخه ، او احتمال د علوق په وخت د قيام د نکاح کی هم شته- او وي دا حامله په وخت د طلاق کې  او دا ډير ښکاره احتمال دی ، ځکه چې ظاهرآ د حال د مسلماني ښځې څخه دادی

[1]: الصنعاني، محمد اسماعيل الامير(ت ۱۱۸۲) سبل السلام – خپروونکی- مکتبة المصطفی- د چاپ ګڼه ۴ د چاپ کال ۱۳۷۹ ج ۸/۴
[2]: الجصاص – احکام الفرآن ج ۴ ص ۱۷۳
[3]: بدائع الصنائع ج ۵ ص ۲۱۷
[4]: الکاسانی بدائع الصنائع ج ۶ ص ۳۱
[5]: الکاسانی بدائع الصنائع ج ۳ص ۲۰۱

چی نکاح ونکړي په حال د عدت کې او حمل د امور د مسلمانانو په صلاح او سداد واجب دی تر کوم حده چې ممکن وي ، پس حمل کيږی په دي باندې.[1]

**څلورم مطلب: (الأصل اعتبار الحقيقة)**[2] قاعدې زده کړه

اعتبار ورکول حقيقت ته يو اصل دی

**دقاعدې نورالفاظ:**

١- الأصل فی الحقائق اعتبارها. [3]

٢- اعتبار الحقائق هو الأصل. [4]

٣- الأصل فی الكلام الحقيقة . [5]

۴- الحقيقة هی الأصل. [6]

۵- الحقيقة هی المعتبرة. [7]

**دمفرداتو څیرنه:** مخکې په تفصيل سره بيان شوی چی اصل څلور معناګانې لري ١- دليل – ٢- قاعده – ٣- مقيس عليه – ۴- راجح( په قاعده کې اصل په معنی د راجح سره دی)[8] .

**الحقيقة:** په لغت کې په وزن د فعيلة چی مشتق دی له ( الحق) څخه ، يو د معناګانو د الحق څخه(الثبوت) دی، او حق ويل کيږی: هغه ثابت څيز ته چی انکار ترې جايز نه وي [9] .

**په اصطلاح کې:** ( استعمال اللفظ فی معنی الذی وضعه الواضع)[10] ژباړه : حقيقت عبارت دی له کارولو د لفظ څخه په هغه معنی کی چی له واضع له طرف ورته وضع شوی دی.

**دحقيقت ډولونه:** حقيقت په سبب د اختلاف دوضع کوونکو په ٣ ډوله دی.

**اول: لغوي حقيقت**: هغه حقيقت دی چی واضع يې اهل لغت وي يعنی کارول د لفظ په هغه معنی کی چی د اهل لغت له طرفه ورته وضع شوې وي. لکه کارول د لفظ د (اسد) لپاره د حيوان مفترس.

**دويم : عرفی حقيقت :** داهغه لفظ دی چی واضع يې عرف وي يعنی استعمال د لفظ په هغه معنی کی چی عرفاً په هغې کې کارول کيږی- لکه استعمال د لفظ ده ( دابة) لپاره د چارپايانو.

---

[1] : الكاسانی بدائع الصنائع ج ٣ص٢١٢
[2]: الكاسانی بدائع الصنائع ٢٢١/٥
[3]: الكاسانی بدائع الصنائع ٢٩۴/٥
[4]: الكاسانی بدائع الصنائع ٢٠/٥
[5]: ابن نُجيم الاشباه والنظائر ص ٩
[6]: الكاسانی بدائع الصنائع ١٩۴/٣
[7]: ابن الهمام ، فتح القدير ٢۶٠/١۶
[8]: علی حيدر درر الحكام شرح مجلة الاحكام ج ١ ص ٢۶
[9]: الجرجانی التعريفات ج ١ ص ١٢٠
[10]: علی حيدر درر الحكام شرح مجلة الاحكام ج ١ ص ٢٨

**دريم : شرعی حقيقت:** داهغه حقيقت دی چی واضع يې شارع وي يعنی کارول د لفظ په هغه معنی کی چی د شريعت له طرف ورته وضع شوې وي [1] .

**الإعتبار:** په لغت کې په معنی ( التدبر و النظر)[2] .

**په اصطلاح :** ( الإعتداد بالشی فی ترتب الحکم) [3] ژباړه : اعتماد کول په يو څيز په ترتيب د حکم کې.

المجاز- ( استعمال اللفظ فی غير ماوضع له)[4] ژباړه: کارول د لفظ په معنی کې چی له هغې لپاره وضع شوی نه وي.

**دقاعدې معنی**: قاعده افاده کوي چی ( حقيقی معنی راجح ده، پس کله چی ممکن وي حمل د لفظ په حقيقي معنی باندی، نو عدول به نه کيږي مجازي معنی ته، ځکه چی حقيقی اصل ده او مجازي معنی بدل ده او بدل د اصل سره معارضه نشي کولی[5] يعنی کله چی يو لفظ دائر شي په منځ د معنی حقيقی او معنی مجازي ، نو دابه حمل کيږی په معنی حقيقی باندې که ممکن وي ، او قرينه په معنی مجازي نه وي او که قرينه وه نو بيابه حمل کيږی په معنی مجازي باندې [6].

**دقاعدې دليل:** امام فخرالدين رازي رحمه الله [7] د دې قاعدې په استدلال کې فرمائی:

١ – ده ټولو اجماع ده چی اصل په کلام کې حقيقت دی.

٢ – که حقيقت اصل نه وي نو بيا به مجاز اصل وي دا خو باطل دی په اجماع سره ، يا داچی يو هم اصل نه وي يعنی نه حقيقت او نه مجاز نو په دی وخت کې ګرځي ټول کلام د شارع متردد په منځ د امرينو کی چی هغه حقيقت او مجاز دی پس ګرځي ټول کلام مجمل او دا باطل دی په اجماع سره او همدارنګه لازميږي چی په عرف کې خلک په څه چی تکلم کوي هغه به مجمل وي به وجې د تردد ددغې الفاظو په مينځ د حقيقت او مجاز کې اوس که ټول کلام مجمل شي، نو مونږ به پوه نشو په مراد د دغه الفاظو مګر وروسته له استفسار او طلب د تعين د مراد او دا خو باطل دی نو ثابته شوه اصل په کلام کې حقيقت دی.

٣- مجاز نه متحقق کيږی مګر په وخت د نقليدلو د لفظ ديو څيز نه بل څيز ته له وجې د علاقې يا مناسبت نه چی په منځ د دغه دوه څيزونو کې وجود لري او دا کار درې اموره غواړي : يو وضع د لفظ

[1]: وکتل شی: الفروق للقراضی ج ١ ٣١٣
[2]: تاج العروس من جواهر القاموس ج ١٢ ص ٥١١
[3]: مصباح المنير ٣٩/٢ تاج العروس ٥٠۴/١٢
[4]: علی حيدر درر الحکام شرح مجلة الاحکام ج ١ ص ٢٨
[5]: مخکيني مصدر ج ١ ص ٢٨
[6]: علاءالدين عبدالعزيز بن احمد بن محمد: کشف الاسرار عن اصول فخر الاسلام-خپروونکی. دارالکتب العلمية د چاپ ځايْ:بيروت د چاپ ګڼه : لومړی.دچاپ کال ١۴١٨هجری ج ۴ ص ٥٠٢
[7]: ابو عبدالله-فخرالدين-محمد بن عمربن الحسين په کال ٥۴۴ هجری کې پيدا شوی- لوی مفسر او متکلم عالم وو په عقلی علومو کې د خپل وخت امام وو ډير تصنيفات لرې چی دهغی له جملی څخه- مفاتيح الغيب په تفسير کی البرهان فی قراءت القرآن او المحصول په اصول الفقه کی ، او په کال ٦٠٦ په هرات کی وفات شوی دی-وفيات الاعيان-مؤلف: ابوالعباس شمس الدين احمد بن محمد بن ابی بکر-خپروونکی : دار صادر بيروت د چاپ کال ١٩٩۴ م د چاپ ګڼه ٢ ج۴ ص ٢۴٨- معجم المؤلفين – تاليف: عمر رضاء الکحاله- خپروونکی مکتبة المثنی-بيروت کال ١۴٢٠ ج ٢ ص ١۴۴ صبقات الشافعيه تاليف: ابوبکر بن احمد بن محمد دار عالم الکتاب بيروت کال ١۴١٧ طبعه اول ج ٦٥/٢

لپاره د اصلي معنی. دویم نقل د لفظ فرعي معنی ته . او دریم علاقه یا مناسبت په منځ د اصلی او فرعي معنی کې . او حقیقت یو امر ته ضرورت لري چې هغه وضع د لفظ اصلي معنی لپاره ، او معلومه خبر ده چې کوم څيز یو امر ته ضرورت لري دهغې وجود اغلب وي له هغه څخه چې دې امر او دوه نورو امورو ته ضروت لري.[1]

**تطبیقي بیلګې:** دشرائطو د بیع مرابحې څخه یو شرط دادی چې ثمن اول باید معلوم وي، که ثمن اول مجهول وو بیا بیع مرابحه نه صحیح کيږي.

۱ – که دوه کسانو یوڅيز چی مثل نه لري جملةً و پیریدو یا واخیست، اوبیایې تقسیم کړو، جائز نه دی لپاره د هر یو له دوی څخه چی وپلوري خپله برخه مرابحتاً،ځکه چی د مبادلې معنی په دې ډول تقسیم کی معتبره ده ځکه چی اصل اعتبار د حقیقت دی ، نو شوه حصه د هر یو ددې دواړو نیم یې خپل ملک او نیمائی یې بدل د ملک ګویا چی په دې سره یې پیرودلې دی ، نو جائز نه دی بیع مرابحتاً لکه څنګه چی واخلي یو عرض(سامان) په مقابل د عرض کې والله اعلم[2].

۲ – که چا ته خبر ورکړې شو چی (کور) په زر درهمو پلورل شوی ، او دی له شفع تیر شو، بیا خبر شو چی په سل دینارو پلورل شوی ، اوس که چیرته قیمت د سل دینارو برابر وو د زرو درهمو سره او یا زیاد وو نو ده لره شفع نشته او که قیمت د دینارو د زرو درهمو څخه کم وو نو بیا شفع شته دا په نزد د ائمه ثلاثه رحمهم الله او په نزد امام زفر رحمه الله په دواړو صورتونو کې حق دشفعې لري ځکه چی دراهم او دنانیر دواړه مختلف جنسونه دي حقیقتاً او اصل اعتبار د حقائق دی، او غرض مختلف کيږی په اختلاف د جنسونو سره ځکه چی کله دیو شخص یو جنس ته لاسرسې او یو جنس ته نه وي [3].

۳ – که چا قسم وکړو چی له فرات یا د دجلې څخه به او به نه څښم، امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی نه حانث کيږي تر هغی چې په ( کرع) یې نه وي څښلی او کرع داده چی خپله خوله د فرات په سیند کیدي او اوبه وڅښی ، او که اوبه یې په لاس اوچتې کړې او ویی څښلی نه حانث کيږې ، ځکه چی مطلق کلام محمول دی په حقیقت باندې او حقیقتاً شراب له فرات څخه همغه کرع ده [4].

۴- کله چي څوک وپلوري عددیات متقاربة لکه غزان ، او هګې ، نو بعض یې ولیدل ، ده سره خیار شته ، ځکه چی عددیات متقاربة حقیقتاً متفاوت وي په غټ والیاو ورکوټیوالیکې او اصل په حقایقو کې اعتبار دهغه دی[5].

---

[1] : الرازی – محمد بن عمر بن الحسين – المحصول فی علم الاصول – خپروونکی – جامعة الامام محمد بن سعود – د چاپ ځائې ریاض- سعودی د چاپ ګڼه : لومړی – د چاپ کال ۱۴۰۰ ج ۱ ص ۴۷۴

[2]: الکاسانی بدائع الصنائع ج ۲۲۱/۵

[3]: الکاسانی بدائع الصنائع ج ۵ /۲۰

[4]: الکاسانی بدائع الصنائع ۶۶/۳

[5]: الکاسانی بدائع الصنائع ۲۹۴/۵

**پنځم مطلب: ( عرف المسلمين وعادتهم حجة مطلقة )** [1] قاعدې زده کړه

عرف او عادت د مسلمانانو مطلقآ حجت دي.

**دقاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده نورو فقهاؤ په لاندې الفاظو سره ذکر کړيده :

١- العادة محكمة. [2]

٢ – و تعامل الناس من غير نكير اصل من اصول كبيرٍ.[3]

٣ – الثابت بالعرف كالثابت بالنص [4].

**دمفرداتو څېړنه:**

**العرف:** دعرف لغوی او اصطلاحی معنی په ضمن د ( العرف قاض على الوضع) قاعدې کی بيان شوې ده.

**العادة:** العادة د ( العود يا المعاودة) څخه اخيستل شوی په معنی د تکرار ، او تکراري امور بغير د عقلي علاقې څخه [5].العادة جمع يې عادات او عوائد ده . هغه کارونه چی خلګ يې هميشه اجراء کوي بغير د تکليف نه . [6]

**په اصطلاح کې :** ( عبارة عما يستقر فی النفوس من الامور المتكررة المقبولة عند الطبائع السليمة) [7]

ژباړه : عادت عبارت د هغه تکرارې امورو څخه دی چی ځای يی نيولې وي په زړونو کې ، او قبول يا خوښ وي د سالم طبيعت خاوندانو ته.

**د عادت ډولونه:** عادت په درې ډوله دی ١- العرفية العامه ٢- العرفية الخاصة ٣- العرفية الشرعية [8].

**العرفية العامة:** عبارت له هغه عرف او عادت څخه دی چې مخصوص د خاص طبقی سره نه وی او واضع يې هم غير معين وي، او زمونږ په نزد عام عرف هغه عرف ته ويل ګيږی چی له عصر د صحابه رضی الله عنهم نه جاري وي تر دې عصره پورې ، او مجتهدينو قبول کړی او عمل يې ورباندې کړی وي ، مثلآ :که چا قسم وکړو چی د فلان شخص کورکې به قدم نه ږدم ، نو حانث کيږی په دخول سره برابره خبره ده چی پياده داخل شی او که په سورلی باندې ، ځکه چي د قدم کيخودو معنی په عرف کې دخول ده.

---

[1]: الكاسانى بدائع الصنائع ٢٢٣/٥
[2]: على حيدر ، مجلة الاحكام العدلية ٢٠/١
[3]: السرخسى ، مبسوط ٢٤٢/١٢
[4]: السرخسى ، المبسوط ٧٣/١٩
[5]: الفيومي ، مصباح المنير ج ٢ ص ٤٣٦ باب العين
[6]: قلعه جى ، معجم لغة الفقهاؤ ج ١ ص ٣٥٦ ماءه عود
[7]: التهانوي ، كشاف اصطلاحات الفنون ج ١١٥٦/٢ خوف العين – مجموعة رسائل ابن عابدين ١١٤/٢
[8]: ابن عابدين ، مجموعه رسائل رسلة نشر العرف ١١٤/٢

**العرفية الخاصة:** عبارت دی له اصطلاح د يوې مخصوصې طائفې په يوځيز باندې لكه استعمال د نحويانو( الرفع) لره.

**العرفية الشرعية:** عبارت دی له اصطلاحات د شريعيت نه كله لفظ د صلاة ، زكاة ، حج چی په سبب د استعمال ددې الفاظو په شرعي معنى كې لغوي معنى يې مهمل شوې دي.[1]

**دقاعدې معنی:** عادت عام وي او كه خاص دا به حَكَم گرځول كيږي لپاره د اثبات د شرعي حكم ، شرط دادی چی دهغه حكم په اړه چې زمونږ مراد اثبات دهغی وي نص موجود نه وي ، او كه نص موجود وو بيابه عمل په موجب د نص كيږی او جائز نه دی ترک د نص د عادت له وجې ځكه چی بندگان دنص د تغير حق نه لري، او نص قوي دی له عرف او عادت څخه ، ځكه چی عرف كله مستند او مبنی په باطل وي او شرعی نص هيڅ كله مبنی په باطل نه وي ، نو نه پريخودل كيږي قوې له وجې د عمل په ضعيف لكن امام ابو يسف رحمه الله فرمائی : كله چې تعارض واقع شي په مينځ دعرف او نص كې نو كتل كيږي به چی نص مبني په عرف او عادت دی او كه نه ، او كه په عرف او عادت مبني وي بيا به عرف ته ترجيح وركول كيږی به نص باندې او كه نص په عرف بناء نه وو بيا به عمل كيږی په نص باندی او اعتبار نشته عرف او عادت لره[2] ابن نجيم رحمه الله فرمائی ( عرف او عادت ته رجوع كيږی په ډيرو فقهی مسائلو كې ، تر دی چی دايې يو اصل شرعې گرځولی)[3]د هغه د مهمو مسائلو څخه چی هغی كې بايد عرف او عادت ته ډير پام وشي هغه مسائل د افتاء دي لازم كړي فقهاء په مفتی باندی چی د خلكو د عرف او عادت نه خبروي او له مستفتی څخه دې دهغوی د عاداتو او عرفو نو په اړه پلټنه وكړي مخكې له افتاء څخه.

ابن قيم رحمه الله فرمائی (كه تاته څوک راغی د بل ځای څخه چی له تا څخه يې استفتاء كوله نو د خپل ښار د عرف او عادت مطابق هغه ته ځواب مه وركوه بلكې له هغه څخه د هغه د بلد د عرف او عادت څيرنه وكړه او دهغی مطابق ورته ځواب وركړه نه د خپل بلد د عرف او عادت مطابق او نه دهغه څه چی كتابونو كې ذكر شوي دي- كه چا فتوی وركړه د هغه مسايلو په اساس چی په كتابونو كی ذكر شوی دي، سره د اختلاف عرف او عادت ، اختلاف د زمان او مكان ، او اختلاف د احوالو او قرائنو ، نو داسړی گمراه شو او نور يی هم گمراه كړل، دده جنايت په دين باندې لوی دی له جنايت د هغه طبيب څخه چی د خلكو علاج كوي صرف د هغه خبرو په اساس چی كتابو كي نقل شوي سره د اختلاف د ښارونو ، زمانو ، او طبيعتونو نو دا طبيب جاهل دی او دا مفتی جاهل ، او ضرر رسوونكي دی د خلكو اديانو او ابدانو ته.[4]

**په عرف او عادت باندی د عمل شرائط:** په عرف او عادت باندی د عمل لپاره علماء څلور شرطونه ذكركړی دي. .

---

[1]: علی حيدر ، دررالحكام شرح محليه الاحكام ۴۰/۱
[2]: مخكينی مصدر ۴۰/۱
[3]: ابن نجيم ، الاشباه والنظائر ص ۷۹
[4]: ابن القيم ، اعلام الموْقعين ۷۸/۳

**اول شرط:** عرف او عادت باید عام او غالب وي، فقهاء له دې شرط څخه داسی تعبیر کړې(انما تعتبر العادة اذا طردت او غلبت)[1] ژباړه: عادت هغه وخت معتبر دی چی عام او غالب وي.

**دویم شرط:** هغه عرف چی د هغه تحکیم مراد وي هغه باید په وخت د انشاء د تصرف کي قائم وي، فقهاؤ له دی شرط څخه داسی تعبیر کړی(العرف الذی تحمل علیه الالفاظ انما هو المقارن السابق دون المتاخر لذا قالوا لاعبرة بالعرف الطاري)[2] ژباړه: کوم عرف چی الفاظ و رباندي حمل کیږي هغه عبارت له هغه عرف څخه دی په وخت د انشاء د تصرف کي له مخکي نه قائم وي ، نو ځکه فقهاء فرمایلی : اعتبار نشته عرف طارئ ته یعنی هغه عرف چی وروسته منځ ته راشي.

**دریم شرط:** عرف او عادت هغه وخت حجت دی چی د تصریح او یا د شرط د یو د عاقدینو سره مخالف نه وي[3]

**څلورم شرط:** عرف او عادت هغه وخت حجت دی چی د نص شرعي مخالف نه وي ابن عابدین رحمه الله فرمایي( اما اذا ورد فاما ان یکون نصآ فی مخالفتها فلا کلام فی اعتباره دونها مطلقآ عامة کان او خاصة لان النص اقوی من العرف)[4] ژباړه:که نص وارد وو او دا نص مخالف د عادت وو ، نو بیا هیڅ خبره نشته په اعتبار د نص کی په مقابل د عادت کی دا عادت عام وي او که خاص ځکه چی نص قوي دی له عرف څخه ، نو دی وخت کی عمل کول په عادت دا عبارت دی له ترک او رد د نص له وجی د عادت او دا جائز نه دی[5] .

**د قاعدې دلیل:** فقهاؤ ددی قاعدی د اثبات لپاره استدلال کړی دی په کتاب الله او سنت رسول الله صل الله علیه و سلم باندی :

١- کتاب الله –( خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ)[6] ژباړه: ونیسه ( ای محمد صلی الله علیه وسلم ! عادت) د عفوې کولو، او امر (حکم) وکړه په معروف سره .

**وجه د استدلال:**

الله تعالی لازم کړی عمل په عرف: او دا هر هغه څیز دی چی خلک یی پیژني د هغه څیزونو له جملی څخه چی شریعت رد کړي نه وي – نو دا حکم د الله تعالی دلالت کوي په اعتبار د عرف باندی.[7]

**٢- سنت:** استدلال کړی امام کاسانی رحمه الله ددی قاعدې لپاره په دی حدیث باندې ( قال النبی صلی الله علیه وسلم: ما رآه المسلمون حسنا فهو عندالله حسن)[1] ژباړه: هر هغه څه چی مسلمانان یې ښه وګڼي هغه د الله تعالی په نزد هم ښه دی.

---

[1]: ابن نجیم ،الاشباه و النظائر ص ١١١
[2]: مخکینی مصدر ص ٨۶
[3]: علی حیدر ، دررالحکام شرح مجلیة لاحکام ٤١/١
[4]: ابن عابدین ، رد المحتار علی در المختار ٢٢٠/١٠
[5]: الزرقاء ، شرح القواعد الفقهیه ٢٢٠/١
[6]: د اعراف سورت ١٩٩ ایت
[7]: الاندلسی: ابو محمد عبدالحق بن غالب بن عطیة المحرر الوجیز فی تفسیر الکتاب العزیز. خپروونکی . دارالکتب العلمیة – د چاپ ځایْ – بیروت لبنان – د چاپ ګڼه لومړی ، دچاپ کال ١٤١٣ ج ٢ ص ٥٦٣

**د استدلال وجه:** عرف یو فرد دی د افرادو د هغه څیزو نو څخه چی مسلمانانو ښه ګڼلي دی . نو شو معتبر په نزد د الله تعالی . ځکه نشته معنی ښه والید هغه  په نزد د الله تعالی مګر دا چی معتبر وي په نزد د الله تعالی. (مراد د مسلمانانو څخه علماء دی چی په کتاب الله او سنت باندی پوهیږی او هغه متقیان چی د حرامو او شبهاتو څخه ځان ساتي).[2]

**تطبیقی بیلګې:** کوم څیزونه درأس المال سره یوځای کیږی او کوم نه یوځای کیږي.

۱ – ملحق کیږي د رأس المال سره ، اجوره ،رنګمال، دوبي ، خیاط . دلال، سایْق دګډانو ، کرایه ، نفقه د غلام لکه طعام ، لباس ، ګیا دڅاروو ،په معروفه طریقی سره ، نو بیع مرابحه او تولیه به کوي په ټولو ( یعنی په رأس المال او مصارفو) په اعتبار د عرف سره ، ځکه چی عادت د تاجرانو الحاق ددې مصارفو دی د رأس المال سره او دا مصارف د راس المال څخه شمیري او عرف او عادت د مسلمانانو حجت دی. [3]

۲ – د اجاری د شرطونو څخه یو شرط دادی چی اجوره باید معلومه وي ، او که چا په اجاره ونیوله دایه او اجوره کې ورته خوراک او لباس وټاکی ، په نزد د امام ابویوسف او امام محمد رحمهم الله دا عقد جایْز نه دی لپاره د جهالت د اجورې چی هغه لباس او خوراک دی. لکن په نزد د امام ابو حنیفه رحمه الله دا عقد جایْز دی ځکه چی جهالت په خپله ذاتاً مانع د عقد نه دی بلکې په سبب د مفضی کیدلو د منازعی ته مانع د صحت د عقد دی، او جهالت د اجورې په دې موضوع کې مفضی منازعی ته نه دی ځکه چی عادتآ خلک د دایو سره مسامحه او پراخي څخه کار اخلی لپاره د شفقت په خپل اولاد[4] نو ځکه اعتبارعادت ته ورکړی شو .

۳ – که چا به اجاره ونیوه یو شخص لپاره د خښتو وهلو ، نو زنبیل او قالب د خښتو په صاحب د خښتو دی او مبنی دی په عادت د خلکو. [5]

۴ – د جامو ګنډلو په مسْله کی ( تارونه په خیاط باندې دي ځکه چی عادت په دې باندی جارې دی.[6]

---

[1]: ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل – مسند امام احمد بن حنبل – خپروونکی- مؤسسة الرسالة – د چاپ ځایْ بیروت د چاب ګڼه دویمه د چاپ کال ۱۴۲۰ هجری ج ۶ ص ۸۴ شماره ۳۶۰۰  علامه ابن نجیم رحمه الله فرمایْی چی علایْی رحمه الله ویلی وروسته له ډیر تحقیق ، کشف – او پوښتنو څخه د احدیث ما مرفوع پیداء نکړو حتی په ضعیف سند سره هم لکن دا قول د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه دی موقوف په هغه باندی چی امام احمد رحمه الله په خپل مسند کی روایت کړی دی – الاشباه والنظایْر لابن نجیم ص ۷۹ علامه سخاوی رحمه الله فرمایْی: دا موقوف  او حسن حدیث دی  المقاصد الحسنة-مؤلف: شمس الدین احمد بن عبدالرحمن السخاوی خپروونکی : دارالکتاب العربی – بیروت – دچاپ کال ۱۴۱۲ هجری ج ۱ ص ۵۸۱ شماره ۹۵۹  علامه زرقاء رحمه الله فرمایْی: داحدیث موقوف دی په حکم د مرفوع کی ځکه چی دیکی رایْی لره دخل نشته شرح القواعد الفقهیه ج ۱ ص ۲۱۹

[2]: القاري نورالدین علی بن سلطان محمد – مرقاة المفاتیح-خپروونکی :مکتبة الصحابة-جده-کال ۱۴۲۲ ج ۵ ص ۶۳

[3]: الکاسانی بدایْع الصنایْع ۲۲۳/۵

[4]: الکاسانی  بدایْع الصنایْع ۱۹۳/۴

[5]: الکاسانی بدایْع الصنایْع ۲۰۹/۴

[6]: الکاسانی  بدایْع الصنایْع ۲۰۹/۴

## دریم فصل

**دې فصل کی هغه فقهي قواعد راټول شوي چی په فصل د حکم البیع او په فصل د ما یرفع به حکم البیع کی ذکر شوي دي او دا فصل مشتمل دی په څلورو مبحثونو.**

**لومړی مبحث:** فقهی قواعد په بحث د ( الحکم الأصلی للبیع) کی په دې کې پنځه مطلبه دي.

**دویم مبحث:** فقهی قواعد په بحث د هغه احکامو ی تابع د حکم اصلی د بیعې دي په دې کې څلور مطلبه دي.

**دریم مبحث:** فقهی قواعد په بحث د خیاراتو کي په دې کې لس مطلبه دي.

**څلورم مبحث:** فقهی قواعد په بحث د ( ما یمنع الرجوع بنقصان العیب و ما لا یمنع) په دې کې شپږ مطلبه دي.

**لومړی مبحث: فقهی قواعد په بحث د ( الحکم الأصلی للبیع) په دې مبحث کی پنځه مطلبه دي**

**لومړی مطلب: د ( اختلاف الأسامیدلیل اختلاف المعانی هو الأصل) قاعدې زده کړه** [1]

اختلاف د نومونو دلیل د اختلاف د معانیو دی .

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاسانی او نورو فقهاؤ رحمهم الله په نورو مختلفو الفاظو او عباراتو ذکر کړې ده لکه :

۱ – تغایر الأسامی دلیل تغایر المعانی. [2]

۲ – حقایق الأسامی تتبع حصول المسمیات بذواتها. [3]

۳ – اختلاف الأسماء تدل علی اختلاف المسمیات. [4]

۴ – اختلاف الأسماء موضوع لاختلاف المسمی. [5]

۵ – اختلاف الأسامی یوجب اختلاف المعانی. [6]

**دمفرداتو څیړنه:** الأسامی: دا جمع الجمع د الإسم ده او جمع یی الأسماء ده په معنی د : هغه وضع کړی شوی لفظ د یوڅیز لپاره چی د هغې په واسطه د بل څیز څخه یې فرق کیږي.[7]

**اسم په لغت کی** :هغه لفظ چی دلالت کوي په یو څیز د څیزونو څخه همدارنګه دلالت وکړي په یو معنی د معنا ګانو ځینی چی هغه جوهر وي او که عرض د دی معنی په اساس اسم شاملیږی فعل او حرف ته هم – الله تعالی فرمایْ (وَعَلَّمَ آدَمَ الأسماء كُلَّهَا)[8] ژباړه: او وښودل ( الله ج ) آدم علیه السلام ته نومونه ټول- ای( اسماء الجواهر و الاعراض ) نومونه د جواهر او اعراضو ). [9]

**اسم په اصطلاح کی:** ( ما دل علی معنی فی نفسه غیر مقترن باحد الازمنة الثلاثة).[10]

ژباړه: اسم هغه لفظ دی چی دلالت کوی په معنی په خپل نفس کې غیر اقتران د یو د دریو زمانو څخه .

---

[1]: الکاسانی ، بدایْع الصنایْع ۲۳۳/۵

[2]: الکاسانی ، بدایْع الصنایْع ۱۰/۶

[3]: الکاسانی ، بدایْع الصنایْع ۲۲/۳

[4]: النووی – ابو ذکریا محی الدین یحیی بن شرف – المجموع شرح المهذب- خپروونکی- دارالفکر-بیروت- کال ۱۳۹۷ ج ۱۵ ص ۴۸۱

[5]: الماوردی – ابو الحسن علی بن محمد بن محمد- احکام السلطانیة – خپروونکی – مؤسسة الرسالة – د چاپ ځایْی بیروت لبنان کال ۱۴۱۵ هجری ۱ ص ۳۲۷

[6]: الماوردی – ابو الحسن علی بن محمد بن محمد( الحاوی فی فقه الشافعی) خپروونکی: دارالکتب العلمیه بیروت لومړی چاپ- کال ۱۴۱۴ هجری ج ۳۴۹/۶

[7] : ابی البقاء ، الکلیات ج ۱ ص ۱۰۷

[8] : د بقری سورت ۳۱ ایت

[9] : المناوی – التوقیف علی مهمات التعاریف ج ۱ ص ۶۳ فصل السین

[10] : ابی البقاء ، الکلیات ج ۱ ص ۱۰۹

المعانی: د دی کلمې معنی لغتآ او اصطلاحآ مخکې په قاعده ( العبرة للمعنی لا للصورة) کی په تفصیل سره بیان شوی ده او الأصل څخه مراد قاعده مستمره ده .

**دقاعدې معنی:** مستمره قاعده داده کله چی مختلف وي هغه الفاظ چی معین شوي وي لپاره د لالت په معنی باندې ، نو دا اختلاف د الفاظو دلیل ګڼل کیږی په اختلاف د معناګانو، ځکه چی هر لفظ دلالت کوي په معنی مستقل باندی ، لکن دا خبره عمومی نه ده نو ځکه بعضی فقهاء وایی( اختلاف الأسماء یوجب اختلاف المسمی الا ما خص بدلیل.[1]

ژباړه : اختلاف د نومونو لازموي اختلاف د مسمی مګر هغه چی خاص کړای شي په دلیل سره .

**دقاعدې دلیل:** امام کاسانی رحمه الله د دی قاعدی لپاره کوم دلیل نه دی ذکر کړی لکن ممکن دی چی دی قاعدې لپاره استدلال وکړو په یو دلیل د لغت څخه ، ځکه چی امام کاسانی رحمه الله فرمائي( والمرجع فی معرفة الأسامی الی اهل اللغة).[2]

**ژباړه:** مرجع په پیژندلو د نومونو کې اهل لغت دي. هغه داچی عربانو وضع کړی الفاظ د یو معین معنا لپاره ، چی په وخت د اطلاق کی ذهن ورته ګرځي ، نو لازم دی چی حمل کړی شی هر اسم په خپل مسمی باندې ، او دا تقاضا کوي د دي خبری چی کله اسم مختلف وي نو معنی هم مختلف وي.[3]

علامه سمعانی رحمه الله [4] فرمائي : عربانو د امر لپاره ځانته نوم وضع کړی او د نهی لپاره ځانته ، همدارنګه د عموم او خصوص لپاره ځانته ځانته نومونه وضع کړي دي ، لکه څنګه یي چی وضع کړي اسامی منفرده ، لپاره د معانیو معلومه و او و ضع کړي دي حروف چی ادوات دي لپاره د معانیو معلومه و ، کله چی دا خبره ثابته شوه نو لازم ده چی هر یو له دوې څخه حمل شي په هغه څه چی د هغی لپاره علامه او دلیل ګرځولی شوي دي چی معلوم شي د ظاهر د هغه څخه هغه څه چی صورت یي تقاضا کوي ، که څوک کوږ شي لدې طریقې څخه نو هغه جاهل دی په ژبه د عربو او پوه شوی نه دی په فائدی د وضع د ژبې باندې[5]

که چیرته اختلاف د نومونو دلیل د اختلاف د معناګانو نه وي نو بیا اختلاف د اسامیو څه معنی؟.[6]

**تطبیقی بیلګې:** ۱ – امام کاسانی رحمه الله فرمائي( مبیع او ثمن بناء په اصولو د اصحابو زمونږ اسماء متباین دي ( نه مترادف) ځکه چي ثمن نوم دی د هغه څه لپاره چی لازم (فی الذمة) وي او دې لپاره چی

---

[1] : الماوردی – الحاوی فی فقه الشافعی ج ۵ ص ۱۲۷
[2] : الکاسانی ، بدائع الصنائع ج ۳ ص ۲۲
[3] : الندوي ، جمهرة القواعد الفقهیه ج ۱ ص ۳۷۹
[4]: السمعانی – ابوالمظفر منصور بن محمد بن عبدالجبار په کال ۴۲۴ هجری پیدا شوی اول حنفی وو بیا شافعی شو مفتی- د خراسان محدث، او دشوافعو مشایخو څخه دی ډیر تالیفات لري چی مشهور دی – قواطع الادله به اصول فقه کی منهاج اهل السنة ، په حدیثو کی ، البرهان په اختلافی مسائِلو کی په کال ۴۸۹ هجری په مروه کی وفات شوی په طبقات الشافعیه الکبری ج ۳۲۵/۵
[5]: السمعانی – ابولمظفر منصور بن محمد بن عبدالجبار – قواطع الادلة – خپروونکی- دارالکتب العلمیة –بیروت لبنان د چاپ کال ۱۴۱۸ هجری د چاپ ګڼه لومړی ج ۱ ص ۵۰
[6]: الماوردی ، الحاوی فی فقه الشافعی ج ۶ ص ۳۹۲

یو ته ثمن ویل ګیږی او بل ته مبیع په عرف د لغت او شرع کی اختلاف د اسامی دلیل د اختلاف د معانیو دی په اصل کې[1]

۲ ــ د کفالت څخه برأت د اصیل نه لازمیږي ، امام کاسانی رحمه الله فرمائي ( ځکه چې کفالت کې ضم د ذمې دی د بلې ذمې سره په حق د مطالبه کې دهغه څه په اړه چې په اصیل باندې لازم دي ، او برأت منافي د ضم دی ، اوس که کفالت برأت ورکوونکی د اصیل وي نو دا خو حواله شوه ، او دا دواړه خو مغایر د یو بل دي ، ځکه چې تغیر د اسامیو دلیل د تغیر د معانیو دی په اصل کی. [2]

۳ ــ امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائي : چې لواط زنا نه ده ، ځکه چې زنا اسم دی د وطئ په قُبل د ښځی کې ، ته نه ګوری صحیح دی چې وویل شي زنا یی کړی لواطت یې نه دی کړی یا لواطت یې کړی زنا یې نه ده کړی ، یا فلانې زاني دی او فلانې لوطي دی همدارنګه نومونونه یې هم مختلف دي او اختلاف د نومونو دلیل د اختلاف د معناګانو دی [3]

۴ ــ امام کاسانی رحمه الله د استصناع په اړه فرمائي : استصناع عقد دی په هغه مبیع چې لازم فی الذمة دی او ځینو ویلي ، دا عقد دی په هغه مبیع چې لازم فی الذمة ده او عمل پکی شرط شوی دی ، دا وروستی قول صحیح دی ، ځکه چې استصناع په معنی د طلب د صنع ، نو هغه عقد چې په هغې کې عمل شرط شوې نه وي هغه استصناع نه ده ، نو شو ماخذ د اسم ( چې صنع دی ) دلیل د عقد استصناع ، او عقد په مبیع فی الذمة هغه ته سَلَم ویل کیږي ، او دی عقد ته استصناع ، او اختلاف د نومونو دلیل د اختلاف د معنی دی. [4]

**دویم مطلب: د (مبني المعاوضة علي المساواة) [5] قاعدې زده کړه.**

بناء د (عقد) د معاوضې په برابروالیدی.

**دقاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاسانی رحمه الله په لاندې الفاظو او عباراتو هم ذکر کړې ده :

١- المعاوضات مبناها علي المساواة عادة وحقيقة. [6]

٢- المساواة في المعاوضات مطلوبة عادة . [7]

٣- المساواة مبناها علي المعادلة . [8]

[1]: الكاسانی ، بدائع الصنائع ٣۴/٧
[2]: الكاسانی ، بدائع الصنائع ١٠/۶
[3]: الكاسانی ، بدائع الصنائع ٣۴/٧
[4]: الكاسانی ، بدائع الصنائع ج
[5]: الكاسانی ، بدائع الصنائع ۵/ ٢٣٨
[6]: الكاسانی ، بدائع الصنائع ۵ / ٢۴٩
[7]: الكاسانی ، بدائع الصنائع ۵ /٢٣٧
[8]: الكاسانی ، بدائع الصنائع ۴ /٢۴۶

**دمفرداتوڅیړنه:**

**المعاوضه:** د (اعتاض ) څخه اخستل شوی په معنی د اخیستل د عوض. اوعوض په وزن د عِنب په معنی د بدل نو المعاوضه په معنی د المبادلة.[1] او مبادله په معنی د اخیستل د یو ځیزپه مقابل د بل ځیز کې، یا ورکول د یو ځیز په مقابل د بل ځیز کې [2].

**عقد معاوضه په اصطلاح کې:**

**(**عقد يعطي كل طرف فيه نفس المقدار من المنفعته التي يعطيها الطرف الأخر).[3]

ژباړه: دا یوعقد دی چې ورکوي هر یو د طرفینو څخه نفس هغه مقدار منفعت چې هغه بل طرف يي ورکوي.

**دویم تعریف:**

عقد محتوعلي عوض من الجانبين ( البايع والمشتري ).[4]

ژباړه: دایو عقد دی چې په عوض باندی مشتمل دی په عوض باندی د جانبینو له طرفه (یعني د بایع او مشتري له طرفه).

**المساواة:** مصدر دی د ساوی یساوي مساواة څخه په معنی د مثل ، او برابر کیدل د یو ځیز بل ځیز سره ویل کیږي : (هذا يساوي درهماً ) دا ځیز معادل یا برابر د درهم دی یعنی قیمت یی د در هم سره مساوي دی. او مساوات په منځ د مختلف الجنس او متفق الجنس ځیزونو کې کیدای شي [5] یعني په دواړو کې مساوات راتلې شي.

ابن فارس رحمه الله وايي: (السين والواو والياء ) یو اصل دی په معنی د استقامت او تعادل په منځ د دوه ځیزونو کې ویل کیږي (هذا لا يساوي كذا اى لا يعادله ) [6] او اصطلاحي معنی یی په مثل د لغوي معني ده.

**د قاعدې معنی:**

عقود د معاوضاتو چې د عاقدینو په متقابلو غوښتنو ولاړ عقود دي هر یو له دوی څخه یو څه اخلي او مقابل کې يي یو څه ورکوي، داسې عقودو کې څه نا څه بخل او تنګې موجوده وي.[7] نوضرورر ده چې بناء وي په عدل او مساوات باندی د جانبینو له طرفه چې دا یو لوی مقصد دی په عقودو معاوضاتو کې.

امام کاساني رحمه الله فرمائي: مساوات په عقودو معاوضاتو کې غوښتنه د دواړو عوض ورکونکو ده عادتا [8] او ابن تیمیه رحمه الله فرمایی: ( اصل په معاوضات او مقابلاتو کې تعادل یا برابر والې دی په منځ د جانبینو کې ) .9

**د عقدونو ډولونه:**

عقدونه د لحاظ د وجود عوض او عدم عوض په دوه ډوله دي:

---

[1]: مصبح المنير ٢ /٤٣٨ ، معجم الوسيط ٦٣٧/٢ ، مارته معجم لغته الفقهاء ٣٤/٢

[2]: الكاسانى ، بدائع الصنائع ١٣٤/٥

[3]: قلعه جى ، معجم لغته الفقها ء ٢/ ٣٤

[4]: الجزيري – عبدالرحمن بن محمد عوض (ت ١٢٢٩٩ هـ وفات ١٣٦٠ هـ ) كتاب الفقه علي مذاهب الا ربعه . خپرونکي : دارالدعوته دچاپ ځاي : استانبول – ترکیه . دچاپ کال : ١٤٠٤ هـ دچاپ ګڼه : لمړي – ج ٢ صــ١١٢

[5]: تاج العروس ٣٨/ ٣٢٩

[6]: ابن فارس ، معجم المقاييس اللغته ٣/ ١١٢ ماده (سوي) .

[7]: ابن نجيم ، الا شباه والنظائر صــ ٤٥٦

[8]: الكاسانى ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٣٧

[9]: ابن تيميه : مجموع الفتاوي ٢٩/ ١٠٧

۱- عقود معاوضات.
۲- عقود تبرعات:
د عقود معاوضات تعريف مخکې ذکر شو مثال يی لکه: بيع، اجاره، سَلَم، استصناع، صلح، نکاح، خلع،مزارعت ، مضاربت، مساقات، شرکت.[1]
عقود تبرع:
هغه عقودو ته ويل کيږي چې په هغې کې عوض موجود نه وي لکه: هبه، عاريه، وديعه، وکالت، کفالت بغير د امر د مدين نه، رهن، وصيت. [2]
دعقود معاوضه ډولونه:
عقود معاوضه بيا په دوه ډوله دي.
۱- معاوضه محضه
۲- معاوضه غير محضه
معاوضه محضه تعريف:
هغه عقود دي چې هغې کې مال مقصود د جانبينو وي لکه: بيع سره د ټولو اقسامو، اجاره او نور.
معاوضه غير محضه تعريف:
هغه عقود دي چې مال يکی له يو جانب څخه مقصود وي لکه: خلع، هبه [3]
هدف په قاعده کې د عقودو معاوضه و څخه معاوضه محضه دي نه غير محضه ځکه چې په غير محضه کې خلک د اسانی او تسامح څخه کار اخلي. امام کاساني رحمه الله فرمائي:لا زمه نه ده په تقسيم کې شفعه اګر که په دې کې معني دمعاوضې پرته ده ځکه چې دامعاوضه محضه نده.[4]
**دعوض ډولونه:**
عوض په درې ډوله دي:
۱- عين
۲- دَين
۳- منفعت
امام کاساني رحمه الله فرمايي:عوض په معاوضاتو مطلقوکي کله عين وي، کله دين وي اوکله منفعت وي، لکن شرط دی قبض د بعض عوضونو په ځني حالاتو کې اوځني عوضونو قبض شرط نه دي.[5]
**د قاعدې دليل**: ددې قاعدې د اثبات لپاره فقهاؤ استدلال کړی په لاندې احاديثو باندې :
۱- سنت: عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما: «ان رسول الله صلي الله عليه وسلم، نهي عن بيع الثمار حتي يبدُوَ صلاحها، نهي البايع والمبتاع. [6]

---

[1]: موسوعته الفقهيه الكويتيه ۳۰/ ۲۳۴
[2]: موسوعته الفقهيه الكويتيه ۳۰/ ۲۳۴
[3]: الشوكاني ، المنثور في القواعد ۲/ ۴۰۳
[4]: الكاسانى ، بدائع الصنائع ۵/ ۱۱
[5]: الكاسانى ، بدائع الصنائع ۶ / ۴۲
[6]: صحيح البخاري – كتاب البيوع ، باب بيع الثمار قبل ان يبدو صلاحها ج ۳ صـ۷۷ رقم الحديث (۲۱۹۴)

ژباړه: عبدالله بن عمررضي الله عنهما فرمايي:چې رسول الله صلي الله عليه وسلم منع کړې د پلورلو د ميوو څخه تردې چې ښکاره شي صلاح د هغې ، منع کړی يی دی بايع او مشتري.

**داستدلا ل وجه:**

شيخ الا سلام ابن تيميه رحمه الله فرمايي:(اصل په معاوضاتو اومقابلاتوکي تعادل په منځ دجانبينو کې دي که مشتمل شو يو جانب په غرر او رِبا نو داخل شو په عقد کي ظلم او ظلم الله تعاليپه خپل ځان حرام کړې نوهمدارنګه په خپلوبنده ګانو يې هم حرام کړی، کله چې يو د متبايعينو څخه مالک د ثمن شي او بل جانب دخطر لاندې باقي پاتې شي، نو داسي عقد جايز نه دی نو ځکه رسول الله صلي الله عليه وسلم منع کړې د پلورلو د ثمارو څخه مخکې له ښکاره کيدو د صلاح [1] ځکه چې په دې کې مساواة نشته.

**٢- سنت:**

دعباده بن صامت رضي الله عنه روايت دي چې وايي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل:(الذهب بالذهب، والفضته بالفضته، والبر بالبر والشعير بالشعير،والتمربالتمر،والملح بالملح، مثل بمثل، سواء بسواء، يدا بيدا، فاذا اختلفت هذه الأصناف فبيعوا کيف شئتم اذاکان يدا بيد)[2]

ژباړه: سره زر په مقابل دسروزرو، سپين زر په مقابل دسپينو زروکي، غنم په مقابل دغنمو کي، وربشي په مقابل دوربشوکي، کجوري په مقابل دکجوروکي، مالګه په مقابل دمالګي کي، يودبل مثل وي، برابر په برابر وي، لاس په لاس وي پس کله چې مختلف شول دا اصناف بيايي وپلورئ څنګه موچې خوښه وي کله چې لاس په لاس وي.

**وجه د استد لال:**

نبي عليه الصلاة والسلام لا زم کړی مساوات په منځ دبدلينو کې.

**تطبيقي بيلګې:**

١-بايع حق د حبس د مبيع لري تردې چې ثمن قبض کړي، کله چې ثمن حالا وي (يعني مؤجل نه وي) او مشتري حق دامتناع دتسليم دثمنو بايع ته نه لري تردې چې مبيع قبض کړي کله چې مبيع حاضر وي ځکه چې بيع عقد معاوضه ده او مساوات په معاوضاتو کي مطلوب دعاقدينو وي عادتاً،اوحق د مشتري په مبيع کي تعين شوي دی په حين دعقد کې ځکه چې ثمن لا زم في الذمه وي او تعين سره نه تعينيږي مګر په قبض سره نو اول په مشتري لا زم دي چې ثمن تسليم کړي تردې چې دبايع حق تعين شي په قبض سره اومساوات متحقق شي. [3]

٢- که مبيع غايب وي: (يعني په مجلس دعقد کې حاضر نه وي ) نوبيا مشتري حق د امتناع د تسليم د ثمن لري تر دی چې مبيع حاضر کړي، ځکه تقديم د تسليم دثمنو لپاره د تحقق د مساوات دی، نوکله چې مبيع غائب وي نو په تقديم دثمنو سره مساوات نه متحقق کيږي، بلکې حق دبايع مقدم کيږي په حق دمشتري باندي ځکه چې ثمن په قبض سره يو عين مشاراليه ګرځي اومبيع عين مشاراليه نه وي، نوامکان لري چې مبيع هلا ک شوی وي اوثمن ساقط شوی وي له مشتري نه نو ځکه مشتري ته امر د تسليم د ثمنو نه کيږي مګر وروسته له احضار د مبيع څخه.[4]

---

[1]: ابن تيميه مجموع الفتاوي ج ٢٩ / صـ ١٠٧

[2]: اخرجه المسلم فی صحيحه: کتاب البيوع ،باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقداً .چ٣ ص ١٢١١ رقم الحديث(١٥٨٧)

[3]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ٥/ ٢٣٧

[4]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ٥/ ٢٣٧

۳- که (عاقدینو ) وپلورل یو بل باندي عین په مقابل دعین کي نو یو ځاي به یوبل ته تسلیموي، ځکه چي مساوات په عقد معاوضه کي مطلوب د دواړو عوض ورکونکو وي عادتاً، اوتحقق دمساوات په دې صورت کي په یو ځای تسلیمي سره رازي، ځکه چي تسلیمول د مبیع دا لازم دی،او نه دی یو د دغه (عینینو )ځیني غوره په تسلیمولو کې له بل څخه، ځکه چي دواړه مبیع دي، نو تسلیم دې کړي یوبل ته (معاً) یعني یوځای. [1]

۴- همدارنګه که وپلورل په یو بل باندي دین په مقابل د دین کې، نوتسلیموي به یوبل ته یوځای لپاره د تحقق د مساوات چي مقتضی دعقد ده.[2]

۵- ښځه مخکي له دخول د خاوند نه په ده باندې حق لري چي منع کړي خاوند خپل له دخول څخه تردې چي مهر ورته تسلیم کړي اوبیا خپل نفس تسلیم کړي خاوند ته، اوکه مهر یې ورته ورکړی وو لکن یو درهم پاتې وو بیا هم حق د منع د دخول څخه لري، ځکه چي دا (نکاح )عقد معاوضه ده تقاضا د مساوات کوي، اوښځي معین کړی حق دخاوند، نولا زم دی په خاوند باندې تعین دحق د ښځي، اوتعین په تسلیم سره راځي.[3]

۶- سالم والید مبیع دعیب څخه د مقتضیاتو دعقد څخه دی، ځکه چي بیع عقد معاوضه ده، د معاوضاتو بناء په مساوات ده د عادت او حقیقت له نظره، او تحقق د مساوات داسي راځي چي بدل په مقابل د مبدل کې وي او سلامتیا په مقابل د سلامتیا کې وي.[4]

**دریم مطلب:(فعل العجماء جبار )[5] قاعدی پوهه.**

کارد څاروي هدر دی.

**دقاعدې نور الفاظ:**

امام کاسانی او نورو فقهاؤ دا قاعده په لاندی الفاظو هم ذکر کړې ده :

۱- جنایت العجماء جبار. [6]

۲- جرح العجماء جبار. [7]

۳- العجماء جبار. [8]

۴- العجماء جرحها جبار. [9]

**دمفرداتوڅیړنه:**

۱- العجماء: دامؤنث د(اَعجَمُ )دی اعجم معنی هغه سړی چي په فصاحت سره خبرې نه شي کولی. العجماء هغه ښځه چي په ژبه کې یې لکونت وي. اوماشوم چي خبرې نه شي کولای هغه ته (صبي اعجم ) وائي اوعربان وائي: صلاة النهارعجماء: ځکه چي په هغې کې قرائت په جهر نه ویل کیږي، اوالعجماء

---

1: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۳۸

2: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۳۸

3: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۲ /۲۸۸

4: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۷۴

5: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۵/ ۲۴۰

6: مجلته الا حکام العدلیه ۱/ ۲۷

7: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۶ / ۱۷۰

8: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۷ ۲۷۳

9:علی حیدر، دررالحکام شرح شرح المجلته الا حکام ۲/ ۵۶۵

څاروي ته هم ويل کيږي، ځکه چې څاروی خبرې نشي کولی، اوهرهغه څوک چې خبرې نه شي کولی هغه ته ( اعجم اومستعجم ) ويل کيږي. [1]
اوپه قاعده کې مراد له (العجماء ) څخه څاروی يا حيوان دی. امام کاساني رحمه الله فرمائي (العجماء البهيمته ) [2] ژباړه: العجماء نه مراد څاروي دي.
الجُبار: په ضمه دجيم سره د ( جُبر)څخه اخستل شوي ابن فارس رحمه الله وائي : (الجيم والباء والراء) يو اصل دي په معني عظمت، علو، استقامت، پس الجبّاَر هغه چې اوږد شي او لاس ورته ونه رسيږي ويل کيږي. فرس جبار ونخلة جبارة. [3] امام کاساني رحمه الله فرمائي: جبار په معني د هدر باطل.
**په اصطلاح کې:**
هغه فعل چې په هغې کې قصاص، ديت، اوضمان نه وي.[4] ياهغه فعل چې په هغې کې مؤاخذه اوضمان نه وي.[5]
**الجنايته:**
په لغت کې په معنی د جرم اوګناه. [6]
**په اصطلاح کې:**
(کل فعل محظوريتضمن ضررا علي النفس وغيرها).[7]
ژباړه: هر هغه ممنوع فعل چې په هغې کې ضرر په نفس اويا بغير د نفس په بل څيز باندې وي.اوکله د(الجنايته ) لفظ ذکر کيږي مراد ور څخه هغه ضرر وي چې دڅارويو په سبب منځ ته راځي هغې ته بيا (جنايتة البهيمة ) ويل کيږي.[8]

**د قا عدې معنې:**
که حيوان يو څه له منځه يوسي او يا په سبب دحيوان کوم انسان ته خساره ورسيږي دا جنايت دحيوان هدر يا باطل دی، او صاحب دحيوان ته ئي نسبت نه کيږي. يعني په صاحب دحيوان ضمان يا تاوان نشته په دې شرط سره چې د صاحب د حيوان له طرفه کومه تعدي يا تجاوز اوتقصير نه وي شوی اوبرابره خبره ده چې دا جنايت د ورځې له طرفه وي، که د شپې له طرفه.[9]
اومضف رحمه الله دعدم ضمان لپاره يو څو شرطونو ته اشاره کړې ده.
**اول شرط:** دا جنايت د حيوان نتيجه د فعل د انسان نه وي. اوکه په نتيجه د فعل د انسان کې منځ ته راغلی وي بيا ضامن دی.لکه داچې راکب وي، يا قائد وي يا سائق وي اويا رديف وي.[10] لکن مصنف رحمه الله له ده نه مستثني کړی هغه ضرر چې په سبب د لتې اولکۍ سره منځ ته راشي.

---
[1]: ابن الفارس ، معجم مقاييس اللغته ۴ / ۲۴۰ لسان العرب ۴/ ۲۸۲۷ معجم لغته الفقها ء ۱ /۸۷
[2]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۶/ ۱۷۰
[3]:ابن فارس، معجم مقاييس اللغته ۴/ ۲۴۰ ، لسان العرب ۴ / ۲۸۲۷ ، معجم لغته الفقهاء ۱/ ۸۷
[4]: الزيات ،المعجم الوسيط ج ا / ۱۰۵ باب العجيم
[5]:الزرقا ، المد خل الفقهي العام ۲/ ۱۰۴۸
[6]: الزبيدي، تاج العروس ۳۷ /۳۷۴ ماده جني
[7]: البرکتی ، التعريفات الفقهيه ۱۵۹
[8]: موسوعته الفقهيه الکويتيه ج ۱۶ صـ ۵۹
[9]: علی حيدر ، درالحکام شرح مجله الا حکام ۲/ ۵۶۵ فتح القدير ۸/ ۴۹۶
[10]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۷/ ۲۸۰

امام کاساني رحمه الله وائي: که وواهه ښاروي لتي سره اويا په لکۍ سره او دا په رفتارکي وه پس په راکب يا سايق باندي ضمان نه شته ځکه چې له دې څخه ځان ساتل مشکل دی همدارنګه د بول، روث، او لعاب څخه ځان ساتل مشکل دی. نو اعتبار ئي ساقط اوملحق با العدم دي.[1]

**دويم شرط:** ښاروي چې د چا په حيازت ياتصرف کې وي دهغه له طرفه کوم تفريط يا تقصير واقع نه شي برابره خبره ده چې دا مالک وي او که وکيل دمالک، يا اجيروي، مستاجر، يا مودع، اويا غاصب. که له دوي له طرفه تقصير واقع شو بيا ضمان ورباندي لا زم دي.

امام کاساني رحمه الله فرمائي: که ښاروی له چا خوشي شو اوچاته ئي ضرر ورساوه نو ده باندې ضمان نشته ځکه دحيوان په خوشي کيدوکي دده څه دخل نشته، اوده ته ممکن نه دي احتراز د فعل دحيوان څخه نو څه چې دهغه دفعل څخه منځ ته راځي په ده ضمان نشته .[2]

**د قاعدې دليل:**

استدلا ل کړی مصنف رحمه الله د دي قاعدې د اثبات لپاره په لاندی احاديثو درسول الله صلي الله عليه وسلم او اجماع باندی.

**۱- سنت:**

(عن ابي هريره رضي الله عنه ان رسول الله صلي الله عليه وسلم قال:جرح العجماء جبار) الحديث [3]

ژباړه : زخمي کول د ښاروي ( يو کس لره ) هدردی يعنی (تاوان نه لري ).

**د استدلال وجه:**

دحديث شريف نه په وضاحت سره معلوميږي چې جنايت دښاروي هدر يا باطل اوپه صاحب دهغه ضمان نه شته.

**۲- سنت:**

(عن ابي هريره رضي الله عنه عن رسول الله صلي الله عليه وسلم قال: « الرجل جُبار»)[4]

ژباړه: دښاروي لته هدر ده. يعني که ښاروي په لته باندې څه تلف کړل هغه باطل دي.

**وجه د استد لال:**

دې حديث نه په وضاحت سره معلوميږي که ښاروی په لته څه تلف کړي دهغې ضمان نشته، له دې څخه معلوميږي که بغير د لتي څخه نور باطل نه دي، داحمل دی په هغه صورت چې دابې يا ښاروي سره راکب، ياسائق او يا قائد وي. امام سرخسي رحمه الله وائي: (الرجل جباراي هدر) که ښاروي په لته څه تلف کړي هغه هدر دي، مراد دادی چې په حالت د رفتار کې څه هلاک کړي هغه هدر دي ځکه له دې نه ځان ساتل مشکل دی ځکه چې مخ د راکب د دابې مخکې طرف ته وي نه شا طرف ته [5]

---

[1]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ٧ / ٢٧٢

[2]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ٧ / ٢٧٣

[3]: رواه النسائي في سننه الکبرئ ، کتاب الزکات باب زکات الرکاز ج ٣ / ٣٥ شماره عـــ٢٢٨٨ . محقق شعيب الا رناووط ، خپروونکي موسته الرساله ، بيروت لبنان ، چاپ ګڼه لمړي کال ١٤٢١ هـ . شعيب الارناووط ورته صحيح باسناد حسن ويلي دي ، اوعلامه الباني رحمه الله ورته صحيح ويلي دي ، ضعيف دصحيح سنن النسائي ج ۶ صـ ١٤١ شماره عـ ٢٤٩٧

[4]: رواه ابوداود في سننه کتاب الديات باب الدابه ،تفضح يرجلها ،ج ٤ / ٣٢٢ شماره : ٤٥٩٤ ، رواه النسائي في سننه الکبرا کتاب العاريه باب الدابه بصيب يرجلها ج ٥ / ٣٣٥ ،شماره : ٥٧٥۶ او علامه الباني ورته ضعيف ويلي دي ، ارواء الغليل ج ٥ صـ ٣٦١ شماره ١٥٢۶ .

[5]: السرخسي المبسوط ٢۶ / ٣٤٥

**۳- اجماع:**

اجماع کړي علماء په دې باندې چې که څاروي جنايت وکړ په ورځ کې اويا څوک يې زخمي کړو اوهيڅ څوک د دې کارسبب نه وي داجنايت هدر دی په دې کې ديت يا تاوان نشته، اودشپې په جنايت کې اختلاف دی.[1]

**تطبيقي بيلګې:**

۱-که چا دوه څاروي ياحيوانات بغير دانسان څخه وپيرودل، پس يوحيوان بل ئې مخکې له قبض څخه قتل کړو، نو ساقطيږي حصه د ثمن د هغه مقتول، پس مشتري اختيارلري چې باقي په حصه دهغې دثمن څخه اخلي ياترک کوي ځکه چې فعل دعجماء هدر دی.[2]

۲- امام کاساني رحمه الله فرمائي: ( جنايت دڅاروي په خپل جنس باندې دا هدر دی ځکه روايت شوي درسول الله صلي الله عليه وسلم څخه « جرح العجماء جبار» )[3] اوبياوائي جنايت دڅاروي په خلاف جنس باندې هم هدر دي لپاره عموم دحديث.[4]

۳- که په سبب درفتار دڅاروي ګرد غبار پورته شو او څه متاع ئې فاسد کړل ضمان نه شته دی.[5]

۴- که چا خوشي کړمارغه اوهغه بلفور څه شې يې خراب کړپه اجماع سره د ده ضمان نشته، ځکه چې مارغه دا کار په خپل اختيار سره کوي اوکار دهغه باطل دي.[6]

۵- که چا حمار او شعير وپيرودل، بيا حمار شعير ئې وخوړل، قبل القبض نومشتري اختيارلري چې باقي اخلي په حصې دهغې د ثمنو څخه اوکه ترک کوي ځکه چې کارد څاروي باطل دی. ګوياچې په آسماني آفت سره هلاک شوی دی.[7]

**څلورم مطلب (الظاهر بقاء ماکان علي ما کان )[8] قاعدې زده کړه.**

ښکاره خبره داده چې کوم شی په کوم حالت کې وي په هماغه حالت باقي پاتې کيږي.

**دقاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده نورو فقهاؤ په لاندی الفاظو او عباراتو ذکر کړی ده :

1 - الا صل بقاء ما کان علي ما کان.[9]
2 - بقاء ما کان علي ما عليه ما کان.[10]

---

1: ابن عبدالبر، التمهيد ج ۷ صـ ۲۱
2: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۵/ ۲۴۰
3: تخريج ئې مخکې بيان شوي
4: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۵/ ۱۷۰
5: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۷/ ۲۷۲
6: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۷/ ۲۷۳
7: الفتاوي الهنديه ۳ ۲۷
8: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۴۲
9: مجلته الا حکام العدليه ۱ / ۱۶
10: الحصکفي ، ردالمختار ۴/ ۴۷۶

3 - الأصل بقاء ما كان علي ماكان مالم يقم الدليل علي خلافه. [1]

**دمفرداتو څیرنه:**

**الظاهر**:په لغت کې دظهر څخه اخستل شوی په معني د«ښکاره » [2]

الظاهر: خلاف دباطن الله تعالي(ج) فرمائي:( وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ) [3] ای لا تقربوا ماحرم الله جهرا وسرا.[4] ژباړه: مه نږدې کیږئ هغه څه ته چې الله (ج)حرام کړي په ښکاره توګه اوپه پټه توګه

ابن فارس رحمه الله فرمائي: (الظاء، والهاء، والراء ) یواصل دی په معنی د قوت اوښکاره والی [5].

**په اصطلاح کې:**

(اسم لکلام ظهر المراد منه للسامع بنفس الصیغه ویکون محتملا للتاویل والتخصیص )[6]

ژباړه: دا اسم یا نوم دی دهغه کلام لپاره چې مراد یې اوریدونکي ته په نفس صیغې سره ظاهر وي او احتمال د تاویل اوتخصیص ولري.

**البقاء**: بقاء په لغت کې په معني د دوام اوثبات ضد د فناء.[7]

**په اصطلاح کې**:

(ثبات الشي علي حاله الاولي )[8] ژباړه: ثابت پاتې کیدل دیوڅیز په خپل اولني حالت باندې.

**د قاعدې معنی:**

هغه څه چې دهغې نفي یا ثبوت په ماضي زمانه کې په کوم حال ثابت شوی وي، په هماغه حال پاتې کیږي اوتر هغې پورې تغیر نه مومي ترڅو د هغې په تغیر یو دلیل پیدا شوی نه وي یعنې یو شی په یو وخت کې په یو حالت وي، تر هغې چې د هماغه ثابت پخواني حالت پر تغیر باندې کوم دلیل راغلی نه وي،هماغه ماضي حالت استمرار یا دوام پیدا کوي اوهماغه ته اعتبار ورکول کیږي. [9] علامه زرقاء رحمه الله فرمائي: ددې قاعدې معني داده چې، کله په وخت خصومت کې د یو شي حال مجهول شي او کوم دلیل هم نه وي چې دهغې په مقتضي حکم وکړي، اما دغه شي یومعلوم سابقه حالت ولري، نواصل یا ظاهر په دې هکله دادې چې همدې سابقه معلوم حالت په بقاء او استمرار ترهغې پورې حکم کیږي چې یو دلیل د دې په خلاف راپیداشي، بیا نو د همدې دلیل؛ دلالت اعتبار لري، نه سابقه حالت. اودا دلیل یو د څلورو څیزونو څخه کیدای شي.

۱- بینه یا شاهدان.

۲-اقرار .

۳- نکول ( دقسم څخه انکار کول ).

---

1: علی حیدر، دررالحکام شرح مجله الاحکام

2: الزيات، المعجم الوسيط ۲/ ۵۷۸

3: دالا نعام سورت ۱۲۰ آیت

4: الفيومي، تاج العروس ۱۲/ ۴۸۴ ماده ظهر

5: ابن فارس ، معجم مقييس اللغته ۳ / ۴۷۱

6: الجرجاني، التعريفات ، ۱/ ۱۸۶ باب الظاء

7: الزيات،معجم الوسيط ۱/ ۶۶ لسان العرب ۱۴ / ۷۹

8: الزبيدي، تاج العروس ۳۷ /۱۹۰

9: اتاسي ، محمد خالد ، شرح مجله الا حکام ، خپروونکي : المکتبه الجيبيه ، کانسي روډ کویته پاکستان ج ۱صــ ۲۰

۴- اماره ظاهره ( ښکاره علامه) . او اماره ظاهره څخه مراد (تحکيم الحال دی ) چې د استصحاب دويم ډول دی. [1] اوهمدې قاعدې ته اصوليين استصحاب وايي.

**د استصحاب تعريف:**

استصحاب په لغت کې په معني دملازمت او عدم مفارقت ته ويل کيږي. يعني طلب دمصاحبت اودهغې ادامه ورکولو ته ، استصحاب ويل کيږي. [2]

اوپه اصطلاح کې:

(هوالحکم بتحقق وثبوت شئ بناء علي تحقق ذالك الشئ في وقت من الاوقات )

ژباړه: ديوشي په ثبوت اوتحقق حکم کول په اساس دثبوت دهغه څيز په وخت کي دوختونو څيني.اواستصحاب حجيت دافعه دی نه حجيت مثبته. [3]

داستصحاب ډولونه:

استصحاب په دوه ډوله دي:

۱- مستقيم استصحاب ( استصحاب الماضي بالحال)

۲- معکوس يا مقلوب استصحاب (استصحاب الحال بالماضي)

دمستقيم استصحاب تعريف:

د يوشي في الحال پريښودل په هغه حالت باندی چې په ماضي کې وو ، ترهغې پورې چې يو دليل دهغې په خلاف پيداشي، په دې معني چې د يوشي په ثبوت يا نفي في الحال حکم وشي، ددې په خاطر چې په ماضي کې ثبوت يا نفي ثابته شوې وه.

دمعکوس يا مقلوب استصحاب تعريف:

دماضي حالت لپاره دحاضر حال دليل نيولو ته وايي، يعني په ماضي کې ديوشي په ثبوت يا نفي حکم کول په دي دليل چې حاضر حال کې يي ثبوت يا نفي ثابته شوې وي، په لنډه توګه د تيرې زمانې حکم ورکول حال زماني ته. دا اول ډول دي او دحال زماني حکم ورکول تيري زماني ته دا دويم ډول دي. [4]

پورتنئ قاعده اول ډول استصحاب دي.

**دقاعدې دليل:**

دا قاعده په اصل کې فرعه ده، دلويي قاعدې چې ( اليقين لايزول بالشك ) ده دهغې چې کوم دلايل دي هغه ددې قاعدې دلائل هم دي، همدارنګه په دې ايت هم استدلا ل کولای شو.:( **قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ اليمُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ**).[5]

ژباړه: ووايه (اي محمده !صلی الله عليه وسلم) دوې ته چې نه مومم زه په هغه شي کې چې وحي کړی شوې ده ماته (تراوسه )پورې (يوشی ) حرام کړی شوی پرکوم خوړونکي چې خوري هغه، مګر که وي

[1]: الزرقاء ، شرح القواعد الفقهيه ١ /٣٧
[2]: اتاسي، شرح المجله ١/ ٢٠
[3]: على حيدر ، دررالحکام شرح المجلته الاحکام ١ / ٢٠
[4]: على حيدر ، دررالحکام شرح مجلته الاحکام ١ /٢
[5]: د الا نعام سورت ١۴۵ آيت

داشی مرداره یا وینه بهیدونکي یا غوښه دخنزیر، نو بیشکه دغه خنزیر پلیت دې یاناجایزه ذبیحه وي چې غېر کړی شوی وي بې دنامه دالله په (په وخت د ذبح ) دهغي کې، بیا که څوک (له لوږې ) بې اختیاره شي، په دغه حال چې نه وي ظالم (پر بل کوم مضطر باندې )، اونه تیریدونکې (په خوراک کې د ضرورت له قدره ) نوبیشکه رب ستا بخونکی نهایت مهربانه دی.

**د استدلال وجه:**

الله تعالیپه دې ایت کې محرمات ذکر کړي دي دټولونه په قوي صیغې د حصر چې هغه استثناء وروسته له نفي ده، چې دا دلا لت کوي په بقاء د ماعدا په اصل حالت باندې چې هغه اباحت دی، هغه اباحت چې له استثناء څخه معلوم شوی دی. اودا دلا لت کوي په دې چې اصل عدم تحریم دی نو نشته تحریم مګر په دلیل سره.[1]

**۲- سنت:**

دعبدالله بن زید رضي الله عنه څخه روایت دی چې فرمائي ( شکی الی النبي صلي الله علیه وسلم الرجل الذي یخیل الیه انه یجد الشئ في الصلاة قال: لا ینصرف حتي یسمع صوتا اویجد ریحاً ).[2]

ژباړه: رسول الله صلي الله علیه وسلم ته شکایت وکړی شو دهغه سړي په هکله چې خیال اوګمان کې یې ګرځي چې لمانځه کې دیوشي احساس کوي (د اودس د ماتیدو ګمان کوي ) هغه صلي الله علیه وسلم وفرمایل: لمونځ دې نه قطع کوي ترهغې چې آواز واوري اویا دبوي احساس وکړي.

**د استدلال وجه:**

امام نووي رحمه الله د حدیث په شرح کې وایي: داحدیث داسلام له اصولو څخه یو اصل دی اود فقهي قواعدو څخه یوه لویه قاعده ده اوهغه دا چې حکم کیږي دشیانو په پرېښودلوپه خپلو اصولو باندې ترهغه چې دهغې خلاف په یقن سره ثابت شي.[3] همدارنګه رسول الله صلي الله علیه وسلم حکم کړی په دوام د اودس په وخت د اشتباه کې او دا عین استصحاب دی.[4]

**اجماع:**

اجماع کړې علماء په دې چې کله چې یقین په اودس وو بیایې شک پیدا شو په بې اودسی کې ، جائز دی ده لپاره ادا د لمونځ او اودس وربانديې واجب نه دی، اوکه یقین یې دبې اودسی وو بیا یې شک پیداشو په اودس کې، نو دا بې اودسه دی همدارنګه که یقین یې دنکاح وو اوبیا یې شک پیداشو په طلاق کې نو نکاح باقي ده دا ټول استصحاب دي.[5]

**معقول:**

کله چې یو حکم په دلیل سره ثابت شي او دې دلیل لپاره کوم معارض یقیناً او ظناً ثابت نه شي داحکم با قي پاتې کیږي، په همدې دلیل سره.[6]

---

[1]: القواعد والضوابط الفقهیته المتضمنته للتیسیر ج ۱ / ۱۶۱

[2]: رواه البخاري في صحیحه ،کتاب الوضوء باب لا یتوضامن شک حتي یستیقن ج ۱ صـ ۳۹ شماره ۱۳۷۰ ، صحیح مسلم کتاب الحیض باب الدلیل علي ان من تیقن الطهارت ثم شک فله ان یصلي بطهارته تلک ج ۱ /۲۷۶ شماره ۹۸

[3]: المنهاج شرح صحیح المسلم ج ۴ /۴۹- ۵۰

[4]: البخاری کشف الا سرار عن اصول البزدوي ج ۳ / ۵۴۸

[5]: البخاری کشف الا سرار عن اصول البزدوي ج ۳ /۵۴۸

[6]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۷ /۱۴ کشف الا سرار ۳ /۵۴۸

**تطبيقي بيلګې:**

۱-که اختلاف وکړو بايع او مشتري په هلاکت د مبيع کې، بايع وايي چې بعد القبض هلاک شوی او زما په تا پيسې دي، اومشتري وايي قبل القبض هلاک شوی ستا په ما پيسې نشته په دې صورت کې قول د مشتري معتبر دی ځکه چې بايع په ده دعوا د قبض او د ثمن کوي او دې منکر دی، او ظاهر هم شاهد دی لپاره د مشتري ځکه چې مبيع خو په لاس د بايع کې وو، اوظاهر بقاء د ماکان على ماکان دی. [1]

۲- مفقود په حق دخپل نفس کې ژوندی شمارل کيږي په ظاهر د حال سره ، چې هغه استصحاب د ژوند د هغه دی، چې يقيناً مخکې ژوندی وو، اود نورو په حق کې مړ کڼل کيږي، يعني په ده باندی احکام د ژونديو جاري کيږي، په هغه حقوقو کې چې ده لپاره دي، لکه داچې ده نه ميراث نه وړل کيږي، اوښځه يې نه جداکيږي، اوده باندي احکام د مړي جاري کيږي په هغه حقوقو کې چې غير لپاره وي نوميراث نه وړي دنورو څخه ګويا چې دا مړ دی حقيقتاً ځکه چې ثابت په استصحاب الحال سره صلاحيت د بقاء د ماکان على ماکان لري. اوصلاحيت د اثبات دهغه څه نه لري چې مخکې نه ثابت نه وي. [2]

۳- که چا په خيار سره دوه غلامان وپيرل، اودواړه يې عيبجن وموندل بيا يې يو قبض کړو خيار يې نه ساقطيږي ، ځکه چې د خو بعض معقود عليه قبض کړې نو صفقه يا معامله په ده سره نه تماميږي، ځکه چې صفقه يا معامله په قبض د ټول معقود عليه تماميږي ځکه چې که ده باندی عقد لازم شي په مقبوض معقود عليه کې نه په بل کې، دا خو تفريق دصفقې شو په بايع باندې مخکې له اتمام څخه او تفريق د صفقې مخکې له اتمام څخه جايز نه دی اوممکن نه دی ساقطول دحق د مشتري د غير د مقبوض څخه ځکه چې هغه په ده راضي نه دی. نوباقې پاتي ده لره خيار لپاره د بقاء د ماکان علي ماکان.[3]

۴- که چا خوراک وکړ په اخره حصه د شپې کې اوشک يې وکړ په طلوع د فجر کې نو روژه يې صحيح ده ځکه چې اصل بقاء د شپې ده.[4]

۵- که چا شک وکړ په وجود نجاست کې نو اصل بقاء د طهارت دی، نو ځکه امام محمد رحمه الله فرمائي: کوم حوض نه چې ماشومان اوغلامان په خيرنو لاسونو او ډولچو باندې اوبه را وباسي دهغه حوض څخه اودس کول جائز دي ترڅو چې نجس والي يی معلوم نه شي.[5]

۶-که دعوه وکړه يوي ښځې دعدم د وصول د نفقې او لباس نو قول د ښځې معتبر دی ځکه چې اصل بقاء د نفقې او لباس دی. [6]

**پنځم مطلب: (وماشرعت البينات الا لإثبات خلاف الظاهر ) [7] قاعدې زده کړه.**

نه دي مشروع شوي بينات (دلائل ) مګر لپاره داثبات دخلاف دښکاره حال.

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاساني او نورو فقهاؤ په لاندی الفاظو هم ذکر کړی ده :

---

[1]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۵ /۱۴۲

[2]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۶ / ۱۹۶

[3]: الشماري عبدالله بن سعيد محمد عبادي ، ايضاح القواعد الفقهيه – خپرونکي : دارالعلم مکه مکرمه – کال ۱۴۲۲ هـ ج ۱ / ۲۸

[4]: ابن نجيم ،الا شباه والنظائر، صـ ۷۶

[5]: ابن نجيم ،الا شباه والنظائر، صـ ۷۶

[6]: ابن نجيم ،الا شباه والنظائر، صـ ۷۶

[7]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۴۲

۱-البينه لا ثبات خلاف الظاهر واليمين لبقاء الا صل.[1]
۲-الا صل من ساعده الظاهر فالقول قوله والبينة علي من يدعي خلاف الظاهر.[2]
۳-البينات تقام لإثبات خلاف الظاهر.[3]

**د مفرداتو څيرنه:**

**البينات،** جمع د(البينة) ده په وزن د فعيلة ماخوذ ده د البيان او البين څخه عربان وايي:بان الشئ بيان، اذا ظهر، يعني ښكاره شو، نوالبينه په معني د ښكاره، دليل، برهان.[4] واضح حجت.[5]

**په اصطلاح کې:**

(اسم لكل ما يبين الحق ويظهره ) [6] ژباړه: دا نوم دی دهر هغه څه لپاره چې حق بيانوي اوښكاره كوي يې. اوپه اصطلاح د فقهاؤ کې د بينه اطلاق په شاهدانو يا ګواهانو کيږي.[7]

**الإثبات:**

الإثبات مصدر دی د اثبت يثبت اثباتاً څخه اسم مصدر يې الثبات راځي عربان وايي: ثبت الأمر، اي صح. [8] ثابت شو كار يعني صحيح شو، ابن فارس رحمه الله وايي: الثاء والباء والتاء، يو اصل دي په معني د دوام د يو څيز. [9]

**په اصطلاح کې:**

(الإثبات الحكم بثبوت شيء آخر ) [10] ژباړه: ديوبل شي په ثبوت حكم كول.

**الظاهر**: ددي كليمي معنی مخکې تيره شوې ده.

**د قاعدې معنی:**

د دې معنی دا ده چې بينة (دليل، يا ګواهان ) دې لپاره مشروع شوي چې د ظاهر خلاف خبره (چې د مدعي ادعا ده ) ثابته، او قسم دې لپاره تجويز شوې چې اصل باقي (ځای پر ځای ) پاتې شي، كوم اصل چې مدعي په هغه دعوي كوي.

**د قاعدې دليل:**

امام كاساني رحمه الله د دې قاعدې لپاره كوم دليل نه دی ذكر كړې لكن امكان لري چې په دې حديث شريف استدلال وكړو.

**سنت:**

نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائي ( البينة علي المدعي واليمين علي المدعی عليه ) [11]
ژباړه: بينه په مدعي دي اوقسم په مدعي عليه دي.

---

[1]: الكاساني ، بدائع الصنائع ج ۶ ص ۲۰۳
[2]: البزدوي – علي بن محمد الحنفي – اصول البزدوي – خپرونكي – مطبعه جاويد – كراچي پاكستان – ج ۱ صـ ۳۶۷
[3]: الزرقا ،شرح قواعد الفقهيه، ۱ / ۵۶
[4]: معجم مقاييس اللغته
[5]: معجم الوسيط ۱ / ۸۰
[6]: ابن قيم – ابوعبدالله محمد بن ابي بكر ايوب . الطرق الحكميته . خپرونكي : مطبعه المدني ،قاهره . كال ۱۴۱۱هـ ج ۱ / ۱۶
[7]:ابن القيم، اعلام الموتين ۱ / ۹۰
[8]: الزبيدي،المصباح المنير صـ ۴۶ لسان العرب ۲ / ۱۹۸ ماده ثبت
[9]:ابن فارس، معجم مقاييس اللغته ۱ / ۱۷۵ ماده ثبت
[10]: الجرجاني التعريفات ۱ / ۲۳
[11]: داحديث امام ترمذي په خپل سنن كتاب الا حكام باب ان البينه علي المدعي واليمين علي المدعي عليه ج ۳ / ۶۲۶ شماره ۱۳۴۱ كي روايت اوويلې دي : في اسناده مقال ، اوعلامه الباني رحمه الله ورته صحيح ويلي دي . ارواء الغليل ج ۶/ ۳۵۷ صحيح وضعيف سنن الترمذي ۳۴۱/۳ .

**داستدلال وجه:**

د حديث شريف نه په صراحت سره معلوميږي چې بينه په مدعي او قسم په مدعي عليه دی او علامه قرافي رحمه الله فرمايی : (مدعي هرهغه څوک دی چې قول د هغه خلاف د اصل اوعرف وي او مدعي عليه هر هغه څوک دي چې قول يې موافق د اصل يا عرف وي).[1]

اوحديث کې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي چې بينه په مدعي دي، اود مدعي قول خو خلاف د ظاهر وي نو ثابته شوه چې بينه لپاره د اثبات د خلاف ظاهر وي.

**معقول:**

د اصل تائيد خو ظاهر الحال کوي نو محتاج نه دی بل تائيد کوونکې ته، اوهغه خبره چې د ظاهر خلاف وي هغه دائره وي په منځ د صدق او کذب کې نو محتاج ده مرجح ته چې يو جانب لره ترجيح ورکړي په بل جانب نو هغه مرجح بينه دي.[2] علامه زرقاء رحمه الله فرمائي: د مدعي اړخ ضعيف دي ځکه چې هغه د ظاهر خلاف دعوی کوي نو هغه باندې لازم دې چې قوي حجت وړاندي کړي چې خپل ضعيف جانب قوي کړي اوقوي جهت بينه دي، اوجانب د مدعي عليه قوي دی ځکه چې اصل عدم د مدعی به دی، نو د دې جانب کې اکتفاء وکړی شوه په ضعيف حجت چې هغه قسم دی.[3]

**تطبيقي بيلګې:**

۱- که اختلاف وکړو بايع اومشتري په هلاکت د مبيع کې بايع ويل چې بعدالقبض هلاک شوې اومشتري ويل چې قبل القبض هلاک شوې اودواړو بينه وړاندې کړل نو فيصله به د بايع په بينه ووکيږي ځکه چې دبايع بينه د ظاهر خلاف ثابته وي او نه دي مشروع شوي بينه مګر لپاره د اثبات د خلاف د ظاهر. [4]

۲- که يو نفر دعوی وکړي چې ما فلانکي مال په فلانکي شخص په ماشومتوب کې پلورلی وو اواوس يې رد غواړم، اومدعی عليه جواب ورکړي چې تا په ما باندې د بلوغ په حالت کې پلورلی دی، نو صغر اوعدم بلوغ اصل دی نو قول د مدعي سره د قسم معتبر دی او بلوغ عارض او خلاف د ظاهر دی نو مطالبه به کيږي د مدعي د بلوغ څخه د بينه وو.[5] ځکه چې بينه مشروع شوي لپاره د اثبات د خلاف د ظاهر.

۳- که دعوی وکړه يو دعاقدينو د بيع وفاء اوبل د بيع بات، نو ظاهر اواصل بيع بات ده، نوقول د هغه چا معتبردی چې دعوی د بيع بات کوي اوبيع وفاء خلاف د ظاهر ده نو مطالبه د بينه به کيږي دهغه چا څخه چې دعوی د بيع وفاء کوي.[6]

۴- دا راز که يو کس وفات شي او له هغه يو ورور اويوه ښځه پاتې شي او زوي يې هم وفات شوی وي، د متوفی کس ورور ادعا وکړي چې ورور مي د خپل زوې د وفات نه وروسته وفات شو او د متوفي ښځه ووايي چې ورور يې د خپل زوې نه مخکې وفات شوی، نو په دی صورت کې د ښځې قول معتبر دی او په مدعي د دليل يا بينه اقامې ته ضرورت دی، ځکه چې هغه د خلاف ظاهر ادعا کړي چې د

---

[1]: القرافي ، الفروق ۳ /۲۷۵
[2]: على حيد ر، دررالحکام شرح مجلته الاحکام ۱/ ۶۷
[3]: الزرقاء ، شرح القواعد الفقهيه ۱ / ۲۱۸
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۴۲
[5]: على حيدر ، دررالحکام شرح مجلته الاحکام ۱ / ۶۷
[6]: على حيدر ، دررالحکام شرح مجلته الا حکام ۱ / ۶۷

وورور وفات د زوي له وفات نه د مخه دی او په ښځه يوازې قسم دی د دي لپاره چې خاوند د مخه وفات شوی او دا اصل دی. [1]

۵- که بايع او مشتري اختلاف وکړو، يو وويل: چې مونږ بيع فسخ کړی ده، اوبل وويل: چې مونږ اجازه کړې د بيع، او وو اختلاف وروسته دتيريدو د مدت د خيار څخه، اودواړو بينه قائم کړل، نوبينه د مدعي د فسخ معتبر دي، ځکه چې هغوې ثابته وي د ظاهرخلاف امراو بينات مشروع شوي دي دهمدې لپاره.[2]

**دويم مبحث:**

**فقهي قواعد په بحث د هغه احکامو کې چې تابع دي د حکم اصلي د بيع او په دې کې څلور مطلبه دي.**

**لومړی مطلب: ( المضمونات تملك باختيارالضمان )** [3]

تاوان کړې شوي څيزونه په اختيار د تاوان يا په ورکولو د تاوان سره په ملکيت کې داخليږي

**دقاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاساني رحمه الله په نورو مختلفو الفاظو هم ذکر کړی ده :

١- المضمونات تملك بالضمان [4]

٢- المضمونات تملك عند اداء الضمان [5]

٣- الضمان سبب لملك المضمون [6]

۴- التضمين يقتضي تملك المضمون [7]

۵- تقرر الضمان يوجب ملك المضمون [8]

**دمفرداتو څيرنه:**

المضمونات: جمع د مضمونة ده، اومضمون دا اسم دی لپاره د محتوی [9] مضمون الکتاب، هغه څه چې په کتاب کې دي، مضمون الکلام، هغه څه چې د کلام څخه معلوميږي [10]

**په اصطلاح کې:**

(کل حق تصح النيابته فيه وذالك في الأموال وما يؤل اليها فلا يصح الضمان في الحدود ولا فی القصاص لأنها لا تصح النيابة فيها ) [11]. ژباړه: مضمون عبارت د هر هغه حق څخه دی چې نيابت په هغه کې صحيح کيږي، او دا په مالونو کې او هغه څه چې د هغه رجع اموالو ته کيږي، او نه صحيح کيږي ضمان په حدود اوقصاص کې ځکه چې په دې کې نيابت نه صحيح کيږي.

---

[1]- اتاسي شرح المجلته صـ ٢١٨

[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ٢٧١

[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۴٨

[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ /۴

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ١۶٧

[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٢ / ٢٠٩

[7]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۴ / ٩٠

[8]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۴ / ١١

[9]: قلعه جي، معجم لغته الفقها ء ٢ /٢٩

[10]: الزيات ،معجم الوسيط ١ / ۵۴۵

[11]: ابن جزي الکلبي ، ابو القاسم محمد بن احمد بن محمد بن عبدالله،القوانين الفقهيه،خپرونکې:دارالکتب العلميه - بيروت لبنان – دويم چاپ کال : ١۴٢٧ هـ ٣ صـ ٢٣

**تملك:**

د ملک څخه اخستل شوی ابن فارس رحمه الله وايي:الميم واللام والكاف دا يو اصل صحيح دی چې دلالت کوي په قوت په يو شي کې او صحت باندې ويل کيږي ( اَمْلَکَ عجينه ) قوي او سخت يې کړل اوړه خپل، او مُلک ته ځکه مُلک ويل کيږي ځکه چې د انسان لاس په هغې کې قوي او صحيح وي.[1]

**په اصطلاح کې:**

(هو الإختصاص بالمحل في حق التصرف) [2] ژباړه: ملک عبارت دی د اختصاص نه په محل باندی په حق دتصرف کې.

**د قاعدې معني:**

د قاعدې مطلب دا دی، کله چې د چا په فعل مرتب شي اتلاف د مال دغير، بغير د اذن د مالک او يا نائب د مالک څخه، نولازميږي په دي کس باندې ضمان د تلف شوي څيز، نو تاوان کې به قيمت ورکوي که تلف شوی څيز قيمي وي اويا به مثل ورکوي که چيرته مثلي وي، نو ضمان ورکونکي به د مضمون مالک گرځي، اود دې ملکيت به مستند وي وقت د سبب د ضمان ته. يعني د وخت د سبب د ضمان څخه دا مالک حسابيږي. امام کاساني رحمه الله فرمايي: ( مضمونات په ملکيت کې داخليږي په اختيارد ضمان سره او دا ملکيت به مستند وي وقت دسبب د ضمان ته ) [3] اوفرمايي ضمان يا تاوان په غصب کې د وخت د غصب څخه لازميږي، ځکه چې همدا سبب موجب د ضمان دی نوثابتيږي ملکيت غاصب لره په مغصوب کې د همدغه وخت نه. [4] امام کاساني رحمه الله فرمايي:چې مستثنی دی له دې قاعدې څخه ضمان د جنايت په بني ادم باندې، ځکه چې ضمان د غصب يا ضمان د اتلاف په غير د بني آدم کې دا ضمان معاوضه دی ځکه چې دا داسې ضمان دی چې په عوض کې د مضمون مالک گرځي په خلاف د ضمان د جنايت په بني آدم باندی، ځکه چې په دې سره د مضمون مالک نه گرځي، او په دي کې هيڅ معنی د معاوضې نشته دی.[5] مثلاً: که چا يوه اصيله يا حره ښځه غصب کړه اوهغې سره يې زنا وکړه، اوهغه ښځه مړه شوه نو لازميږي په غاصب باندی حد او ديت دواړه، ځکه چې مُلک د ضمان په حره کې نه لازموي ملک د مضمون، ځکه چې محل احتمال د تمليک نه لري، نو نه منع کوي وجوب د حد.[6]

**دقاعدې دليل:**

امام کاساني رحمه الله مستقيماً ددې قاعدې لپاره کوم دليل نه دی ذکر کړی لکن بعض مسائل يې د دليل سره ذکر کړي چې هغه دلائل ددې قاعدې لپاره هم دليل کيداي شي.

١- په بحث د مسئلې د ملک د غاصب په مضمون باندې په سبب د اختيار د ضمان وائي: الله تبارک و تعاليفرمايلي دي:( فمن اعتدی عليکم فاعتدوا عليه بمثل ما اعتدي عليکم ) [7]

ژباړه: پس هر چاچې تيری وکړو پرتاسي باندې نو تاسي هم تيری کوئ په هغوې باندې په شان دهغه چې تيري چې کړی وو پر تاسي باندې.

---

[1]: ابن فارس ، معجم مقاييس اللغته ١ / ٩٦٠ ماده ملک
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٧ /١٢٨
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٤٨
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۴ / ٩١
[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ٧٣
[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٧ / ۶٢
[7]: دبقرې سورت ١٩۴ آيت

**د استدلال وجه:**

په سبب د ضمان لري کيږي ملک د مغصوب منه د مضمون څخه او که زوال د ملک د مغصوب منه د مضمون څخه را نه شي نو اعتدی بالمثل نه کيږي.[1]

۲-امام کاساني رحمه الله فرمايي: چې روايت شوی دی چې (نبي عليه سلام لره يو قوم د انصارو ځني ميلمه کړو، پس وړاندی کړو دوې نبي عليه السلام ته يو ګډ نوشروع شو نبي عليه السلام چې ژووله يې او نه يې تيروله (له ستونې ) نو وفرمايل نبي عليه السلام: (ان هذه الشاة لتخبرني انها ذبحت بغير حق ) ژباړه: دا ګډ ماته خبر راکوي چې دا په ناحقه ذبحه شوې ده نو هغوي وويل چې دا ګډ زمونږ د همسايه دی، مونږ ذبح کړو مونږ به خامخا هغه راضي کړو په ثمنو د دغې ګډ.نو نبي عليه السلام وفرمايل: ( اطعموها الاسارى ) ژباړه: دا بنديانو ته ورکړی. [2]

**داستدلال وجه:**

نبي عليه السلام امر وکړو په صدقه کولو د دغه ګډ او صدقه کول د بل چا د ملک بغير د اذن د هغه څخه کله چې مالک معلوم وي جائز نه دی.نو دا دلالت کوي په زوال د ملک د مالک، او دا چې غاصب مالک شوی دی نو دې حق لري چې هر نوع تصرف په کې وکړي.[3]

۳- کله چې لرې شو ملک د غاصب د ضمان څخه، او دا خو بدل د مغصوب دی ځکه چې دا اندازه کيږي په اساس د قيمت د مغصوب، اومالک شو مغصوب منه د بدل د غصب په کامله توګه، اوس که ملک د مغصوب منه د مغصوب نه لرې نه شي، نو جمع کيږي بدل او مبدل په ملک د مغصوب منه کې او دا جائز نه ده.[4]

**تطبيقي بيلګې:**

۱- کله چې مبيع مصوغ په سپينوزرو وي، اوپه يو دينار يې واخلي او هلاک کړو مبيع لره اجنبي مخکې له قبض څخه، اوغوره کړو مشتري اخستل د ضمان د جاني څخه او بايع ته يې يو دينار نقد ورکړو، او جداء شول مخکې د قبض د ضمان د مستهلک، نونه باطليږي بيع صرف په نزد د امام ابويوسف رحمه الله ځکه چې اختيارد مشتري اتباع د جاني لره لپاره د ضمان اخستلو تمليک د مضمون دی، ځکه چې مضمونات په ملکيت کې داخليږي په سبب د اختيار د ضمان، نو ګويا چې جنايت حاصل شوی په امر د مشتري نو دې ګرځي قابض د مبيع، ځکه چې فعل د اجنبي په امر د مشتري په منزله د فعل د مشتري دی.[5]

۲- که يو کس د بل چا ګډ غصب کړو او هغه يې قرباني کړو د خپل ځان له طرفه، پس دا نه صحيح کيږي ځکه چې ملکيت نشته، اود صاحب د ګډ لخوا هم قرباني نه صحيح کيږي ځکه چې د هغه اذن نه شته، اوس که (مغصوب منه ) د غاصب نه ضمان د ژوندي ګډ واخيست نو دا قرباني بيا د ذابح له طرفه

---

[1]: وکتل شي –بدائع الصنائع ۷ / ۱۵۲

[2]: رواه ابوداود في سننه ، کتاب البيوع ،باب اجتناب الشبهات ج ۳ صـ ۲۴۸ شماره عـ ۳۳۳۴ امام بهيقي په سنن الکبراي کتاب البيوع باب لايملک احد بالجناية شيئا حتي عليه الا ان يشاء هو الملك ج ۶ صـ ۱۶۱ شماره عـ۱۱۵۲۸ شيخ الباني رحمه الله ورته صحيح ويلي صحيح وضعيف سنن ابي داود ۳۳۲/۷ شماره ۳۳۳۲ اوشعيب الارناووط ويلي اسناده قوي ر جاله رجال الصحيح .

[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۵۳

[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۷ / ۱۵۳

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۴۶

اداء کيږي، ځکه چې دې مالک شو د هغې مغصوب په سبب د ضمان، نو دې وګرځيدو ذبح کونکي د هغه څه چې د دې خپل ملکيت دی لکن ګنهګاريږي ځکه چې ابتداء د فعل د ده په ممنوع طريقې سره وه، نوده باندې لازم دی توبه او استغفار.[1]
۳- که چا په اجاره واخستله يوه دابه چې بار کړي په هغې باندې لس مخاتيم شعير يا وربشې اوهغه ورباندې بار کړل لس مخاتيم غنم، او دابه هلاکه شوه نو دې ضامن دی د قيمت د هغې، ځکه چې غنم ډير درانده دي له وربشو څخه او اجوره وربانديې نشته، ځکه چې مضمونات په ملکيت کې داخليږي په سبب د اختيار د ضمان، او دا منع کوي وجوب د اجورې .[2]
۴- که چا اوسپنه يا حديد اهنګر ته ورکړه چې يو معلوم دار لوخې ورڅخه جوړ کړي او يا يو پوستکي يې ورکړو موزه جوړونکي ته چې يوه جوړه معلومداره موزې جوړې کړي په معلوم اجورې سره نو که د فرمايش مطابق کار يې وکړلو نو مستحق د اجورې دی اوکه خراب يې کړو، نو دې کولای شي چې د هغه څخه د خپل اوسپنې په مثل تاوان کې اوسپنه واخلي او څه يې چې جوړ کړي هغه د صانع شول ځکه چې مضمونات په ملکيت کې داخليږي په سبب د اختيار د ضمان.[3]
۵- کله چې غصب شي مغصوب له غاصب څخه، نو امام کاساني رحمه الله وائي: مالک اختيار لري چې د هر يو څخه تاوان واخلي نو صحيح دی، لکن که اختيار يې کړو تضمين د يو له دوی څخه نو بيا اختيار نه لري تضمين د بل ځکه چې مضمونات په ملکيت کې داخليږي په سبب د اختيار د ضمان، نو کله چې اختيار کړو تضمين د يو له دوې څخه ګويا چې مضمون هلاک شو نو اختيار د رجوع نه لري.[4]

**دويم مطلب: (البينة المثبتة اولي ) قاعدې زده کړه** [5]

بينه داثبات غوره دي

**د قاعدې نورالفاظ:**

دا قاعده امام کاساني رحمه الله په نورو الفاظو او عباراتو هم ذکر کړی ده لکه:

۱-البينة المثبتة للزيادة اولی. [6]

۲- الصحيح تقديم المثبت علي النافي. [7]

۳- البينة المثبتة اولی من النافيه. [8]

**د مفرداتو څيرنه:**

البينة – د دې لغوي او اصطلاحي معنا همدارنګه د المثبتة چې د الإثبات څخه اخستل شوی لغوي او اصطلاحي معنا مخکي په ضمن د قاعدې ( وما شرعت البينات الا لإثبات خلاف الظاهر ) په ضمن کې بيان شوې ده.

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۷۵
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۴ / ۲۱۴
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۴
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۴۴
[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۴۹
[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ /۱۰۹
[7]: الزرکشي ، بدرالدين محمد بن بهارابن عبدالله ، البحر المحيط في اصول الفقه ،خپرونکي : دارالکتب العلميه بيروت لبنان دويم چاپ ، دچاپ کال ۱۴۲۱هـ ج ۴ صـ ۱۴۹
[8]: الزيلعي ، تبيين الحقائق ۵ / ۲۰۱

**د قاعدې معنی:**

پورتنی قاعده دا افاده کوي چي کله بینه یا شاهدان د خصمینو سره مساوي وي په عدالت، عدد او تاریخ کي یعني په قوت کې سره مساوي وي اویو بل سره معارض او مقابل واقع شي، په داسې ډول چي د یو جانب بینه یو شی ثابته وي او بل جانب یې نفي کوي، پس بینه د اثبات ډیر غوره دي د لحاظ د قبول نه د هغه بل څخه چي منفي کونکي دي. ځکه چي مثبته بینه ثابت وي د ظاهر خلاف یو کار، او نه دي مشروع شوي بینه مګر لپاره د اثبات د خلاف ظاهر.[1] همدارنګه که یو د بینه وڅخه یو څه ثابت کړي او بل جانب یې ثابت نه کړي پس بینه د اثبات د زیادت دا مقدم دي په غیر باندی [2]

**د قاعدې دلیل:**

استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره په بله قاعده باندې هغه فرمائي:( بینة مثبته ځکه غوره دي چي دا ثابتوي د ظاهر خلاف امر، وما شرعت البینات الا لهذ) [3]

نوځکه نه ویل کیږي چي بینة نافیه مقدم دي په مثبته باندې ځکه چي هغه متمسک وي په اصل باندې او بینه د دې لپاره نه دي مشروع شوي.همدارنګه امام کاساني رحمه الله فرمائي: بینة د زیادت غوره دي ځکه چي دهغه سره معارض نشته په قدر د زیادت کې، نو واجب دی عمل په ده باندې په قدر د زیادت کې لپاره د خالیوالید هغه د معارض څخه په زیادت کې او امکان نه لري عمل کول په دغه مقدار کې بغیر د عمل څخه په باقي باندې نو واجب دی عمل په سبب بینة مثبتة په باقي کې د وجې د ضرورت د وجوب د عمل په سبب د دې بینه و په زیادت کې.[4]

۲- امام کاساني رحمه الله فرمائي: ( هغه بینه چي ظاهرونکي د زیادت دي هغه مثبته دي اوپه مقابل کې یې نافیه دي، او مثبت غوره او راجح دی په نافي باندې ) [5]

اوعلامه امدي[6] رحمه الله فرمائي: او تقدیم د شهادت مثبته په نافیه باندې سره د دې چي نافیه سره قاعده د (الا صل براء ة الذمة ) کومک کونکي ده، پس دا لپاره د اطلاع د مثبت په هغه سبب باندې چي موجب د مخالفت د برائت د ذمه دی او د وجې د عدم د اطلاع د نافي په دې سبب باندې.[7]

۳- اتفاق کړی علماؤ په تقدیم د روایت مثبته په نافیه باندې لکه تقدیم د روایت د بلال رضي الله عنه، چي نبي علیه السلام ( صلی فی الکعبة ) [8] په حدیث د فضل رضي الله عنه باندې چي نبي علیه السلام (لم یصلی فیها ) [9] نوعمل وکړو خلکو په شهادت د بلال رضي الله عنه ځکه چي هغه مثبته وو او ترک کړي

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۱۴۹

[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ۱۰۹

[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۴۲

[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ /۳۱

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵/ ۳۱

[6]: داعلي بن ابي علي بن محمد التغلبي الآمدي عـــ۵۵۰ هـ په آمد کي زیګیدلي چي دالري ښاردي په خوا دبلاد روم کې بیا بغداد ته اودهغه ځاي څخه مصر ته تللي لوي لاس یې په منطق ، حکمت ،کلام ، اوعلم اصول کي درلود اوحنبلي وو بیا شافي شو ،دهغه دتالیفاتو څخه الاحکام في اصول الاحکام ، غایة المراد في الکلام ،غایة الامل في علم الجدل ، اوپه کال ۶۲۱ هـ وفات شوي طبقات الشافعیة الکبري ج ۸ / ۳۰۶ شدرات الذهب ۵ /۱۴۴ الا عدام للذرکلي ۴ / ۳۳۲

[7]: ال آمدي ابوالحسن علي بن محمد، الا حکام في اصول الا حکام ، خپروونکي دارالکتب العربي –بیروت لبنان – لومړي چاپ کال ۱۴۰۴ هـ ج ۴ / ۱۴۱

[8]: حدیث دبلال دضي الله عنه امام بخاري په خپل صحیح کي کتاب الحج باب الصلواة في الکعبه ج ۲ صـ ۱۸۴ شماره ۱۵۹۹

[9]: داحدیث امام بخاري په خپل صحیح کي کتاب الشهادت باب اذا شهد شاهد اومشهود بشئ فقال الا خرون ماعلمنا بذالک یحکم بقول من شهد ج۳ صـ۲۲۱ تعلیقا روایت کړي او امام ترمذي په خپل سنن کي باب ماجاء غب الصلاة في الکعبه ج ۳ صـ ۲۲۳ شماره ۸۷۴ اوعلامه الباني ورته صحیح ویلي دي .

شو قول د فضل رضي الله عنه. ابن حجر [1]رحمه الله فرمائي: مثبت مقدم دی په نافي باندې او په دې د اهل علم اتفاق دی. [2]

**تطبيقي بيلګې:**

۱- که مبيع کيلي او يا وزني وه او څه حصه يې له منځه لاړه، نو مشتري بايع ته وويل چې تا خوړلې ده او بايع ووايي مشتري ته تا خوړلي ده، د يوه خبره هم نه منل کيږي، دا به داسې وګڼل شي چې په آسماني آفت سره له منځه تللې ده. لکن مشتري اختيار لري چې باقي اخلي او که نه اخلي له وجه د تفريق د صفقې نه په ده باندې، لکن که کوم يو له دوی څخه بينه قايم کړل نو بينه به يې قبول کړی شي، ځکه چې دا اقامه د بينه و دی په يو ممکن الوجود امر باندی او که دواړو بينه قايم کړل نو بينه د بايع معتبر دي ځکه چې هغه بينه مثبته دي، دی لپاره چې د دی بينه داخلوي سلع يا مبيع لره په ضمان د مشتري کې او واجبوي تقرر د ثمن په مشتري باندې او بينه د مشتري نافيه دي، نومثبته غو ره دي له نافيه څخه. [3]

۲- که اختلاف وکړو عاقدينو په عقد اجاره کې، نو که اختلاف وکړو په مقدار د بدل يا مبدل کې او اجاره صحيح وه، نو بيا به کتل کيږي که چيرته اختلاف مخکې له استيفاء د منفعت څخه وو، او دواړو بينه قائم کړل، نو که وو اختلاف په بدل کې بيا بينه د اجاره ورکوونکي غوره دي، ځکه چې هغه ثابتوونکې د زياتواليد اجورې دی، او که اختلاف په مبدل کې وو نو بيا بينه د اجاره اخستونکي غوره دي ځکه چې هغوي ثابتونکي د زيادت د منفعت دي.[4]

۳- که تقسيم کړو دواړو (مضارب او رب المال ) ربح لره او بيا يې اختلاف وکړو مضارب وويل: چې راس المال مې مخکې له تقسيم نه تاته تسليم کړی وو، او رب المال وويل چې ما چې ما راس المال مخکې له تقسيم څخه قبض کړی نه دی، او دواړو بينه قائم کړل، نو بينه به د مضارب غوره وي ځکه چې هغوي تسليم د راس المال ثابتوي. [5]

۴- که اختلاف وکړو عاقدينو په اجازه او فسخ د عقد کې وروسته له تيريدو د مدت د خيار، نو قول دهغه چا معتبر دی چې دعوه د اجازی بيع کوي ځکه چې وخت، وخت د اجازی دی اوهغه وروسته له تيريدو د مدت د خيار څخه نو د ده جانب راجح وګڼل شو په شهادة د دلالة الحال او که دواړو بينه قائم کړل نو بينه د هغه چا معتبره او يا غوره دي چې دعوی د فسخ کوي، ځکه چې دا بينه د ظاهر خلاف امر ثابتوي، اوبينه نه ده مشروع شوي مګر لپاره د اثبات د خلاف ظاهر.[6]

۵- که رب المال وويل: چې ما نيمه ګټه تاته شرط کړی وه، او مضارب ووايي چې تا ماته سل درهمه شرط کړي وو اويا هيڅ دې شرط کړي نه وو اوما لپاره اجر مثل دی، او دواړو بينه قائم کړل رب المال

[1]: دشهاب الدين ابوالفضل احمد بن علي بن محمد په اصل کي دفلسطين دعسقلان څخه دي اوپه کال ۷۷۳ هـ په قاهره کي زيږيدلي دي ، عالم محدث او اديب وو ، اولپاره دسماع دحديثو يمن حجاز اونورو ځايو نو ته يې سفر کړي له جملي دتاليفاتوڅخه يې : فتح الباري شرح صحيح البخاري ، بلوغ المرام من ادلة الاحكام ، الا صاية في تميز اسماء اصحابة او په کال ۸۵۲ هـ په قاهره کي وفات شوي . تذکرة الحفاظ ۵ / ۶۹ .

[2]: العسقلاني احمد بن علي بن حجر ، فتح الباري ، خپروونکي دارالمعرفة – بيروت – دويم چاپ کال ۱۳۷۹ ج ۵ / ۲۵۱

[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۴۹

[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۴ /۲۱۸

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۷۱

[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ /۲۷۱

په نيمه ګټه، او مضارب بينه قائم کړل په دې چې هيڅ شی دې شرط کړی نه وو، نو بينه د رب المال معتبر دي ځکه چې هغه ثابتوونکي د شرط دي او بينه د مضارب نافيه دي نو مثبته اولی دي [1]

**دريم مطلب (لا دلا لة مع النص بخلا فها )** [2] **د قاعدې زده کړه.**

نشته اعتبار دلا لت لره، سره دتصريح نه په خلاف دهغه

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاساني او نورو فقهاؤ رحمهم الله په مختلفو الفاظو ذکر کړی ده لکه :

١- لا عبرة للدلالة في مقابلة التصريح. [3]

٢- الدلالة لا تُعمل مع النص بخلافها. [4]

٣- الدلالة انما تعتبر عند عدم النص بخلافها. [5]

٤- ولا معتبر بالدلالة مع التصريح بخلا فها. [6]

٥- الدلالة يسقط اعتبارها عندالتصريح بخلا فها. [7]

**د مفرداتو څيرنه:**

الدلالة: مصدر دی د (دل يدل دلالة) څخه ابن فارس رحمه الله وائي: الدال و اللام دوه اصله دي،

١- ښکاره کيدل د يوشي په هغه نښي سره چې ته پيژني.

٢- ګډوډيدل په يوشي کې [8] په قاعده کې اول اصل مراد دی. او الدلالة په معنی دالاشاره [9] يعني لا رښونه کول.

**په اصطلاح کې:**

امام کاساني رحمه الله وايي: (اما الدلالة هي ان يفعل او يقول ما يدل علي البيان )[10]

ژباړه: دلالت عبارت دی د کولو او يا ويلو د يو څه څخه چې دلالت وکړي په بيان باندې.

**دويم تعريف:**

(کون الشئ بحالة يلزم من العلم به العلم بشئ آخر ) [11]. ژباړه: اوسيدل د يوشي په داسې حالت باندې چې لازميږي د پوهې د هغې څخه پوهه د بل شي باندې.

**النص:** نص په لغت کې په معنی د وچت والی (رفع ) ښکاره والی (الظهور) غايه اوانتهاء د يوشي ، ويل کيږي: نَصّ الحديث ای رفعه الی المحدث، نَصّ الشئ – انتها اوغايه د يو شي، نَصّ القرآن **والسنة – هغه** حکم د احکامو څخه چې دلالت کوي په هغې باندی ظاهر لفظ د قرآن او سنت.[12]

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ ۱۱۰
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۴۹
[3]: مجله الا حکام ۱ / ۱۷
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۲/ ۱۶۳
[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۲ /۲۱۳
[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۳ /۲۰۶
[7]: السرخسي ، المبسوط ۱۱ / ۴۰
[8]: ابن فارس ، معجم مقاييس اللغتة ۲ / ماده دل
[9]: الزيات ، معجم الوسيط ۱ / ۲۹۴ باب الدال
[10]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۳/ ۲۲۹
[11]: الجرجاني ، التعريفات ۱ / ۱۳۹
[12]: الزيات ، معجم الوسيط ۲ /۸۹۸ ماده نص – تاج العروس ۱۸ / ۱۷۸ ماده نص – النهايه لا بن اثير ۵ / ۱۴۴

ابن فارس رحمه الله  فرمائي: چې (نص ) النون والصاد يو صحيح اصل دی چې دلالت کوي په رفع ارتفاع، او انتهاء باندی.[1]

**په اصطلاح کې:**

(الكلام الذي لا يحتمل التأويل ) [2] ژباړه: هغه کلام چې احتمال د تاویل نه لري.

**التصريح:**

التصريح په لغت کې مشتق دی د (صرح ) څخه ابن فارس رحمه الله وايی: الصاد والراء والحاء يواصل دی چې دلالت کوي په ظهور او بروز د يو شي [3].

امام کاساني رحمه الله فرمائي: صريح په لغت کې اسم دی د هغه څه لپاره چې مراد يې ظاهر وي او معني يې ښکاره وي سامع ته د دې قول د عربو څخه اخستل شوی.(صرح فلان با لامر ) اي كشفه و اوضحه، او وچته مانۍ ته صرح ويل کيږي ځکه چې هغه په نورو مانۍ ګانو اوچته او ښکاره وي.[4]

**الصريح:** په معنی د خالص د هر شي ضد د کنايی[5]

**په اصطلاح کې:**

(اسم لكلام مكشوف المراد بسبب كثرة الإستعمال حقيقتا كان او مجازا)[6]

ژباړه: صريح نوم دی د هر هغه کلام لپاره چې مراد يې ښکاره وي په سبب د کثرت د استعمال حقيقت وي اوکه مجاز.

**د قاعدی معني:**

قاعده دا افاده کوي چې دلالت لره اعتبار نشته په مقابل د نص يا تصريح کې، په همدې بنسټ کله چې د دلالت او صراحت تر منځ ټکر راشي، نو صراحت ته اعتبار ورکول کيږي او دلالت له پامه غورزول کيږي، خو که چيرته په يوه مسئله کې صريح حکم نه وي، بيا په دلالت عمل کيږي، ځکه بيا هغه د صريح حکم لري، له همدې امله ځنې اصولي پوهانو داسې څرګندونه کړې ده چې (الثابت با الدلالة مثل الثابت بالنص ) يعني هغه څه چې په دلالت ثابت شي حکم يې داسې دی لکه په نص چې ثابت شي.[7]

(دائره د تطبيق د دې قاعدې هغه احکام دي چې د ارادې تعبير پورې تړاو لري لکه: ايجاب او قبول، اذن او منع، رضا او ترک او داسې نور )[8] او مراد له دلالت څخه دلته دلالت غير لفظي دی، لکه حال، عرف، اشاره او داسې نور. [9] تعبير د ارادي نه په قرائنو د حال سره او يا په عرف اويا په اشارې سره په وخت د عدم د تصريح کې قائم مقام د صريح کلام ګڼل کيږي، لکن که کله تصريح موجود وي او

---

[1]: ابن فارس ، معجم المقا ييس اللغة ٥ / ٣٥٦ ماده نص – تاج العروس ١٨ / ١٧٨ ماده نص النهايه لا بن اثير ٥/ ١٤٤

[2]: ابن فارس ،معجم المقاييس اللغتة ٥ / ٣٥٦ ماده نص

[3]: ابن فارس ، معجم المقاييس اللغتة ٢ /٧٨

[4]: الكاساني ، بدائع الصنايع ٣ / ١٠١

[5]: ابن منظور ، لسان العرب ٨ / ٢٢٠

[6]: البركتي – التعريفات الفقهيه صـ ٢١٢

[7]: زيدان – عبد الكريم – الوجير في اصول الفقه . خپروونکي : دارنشرالكتب الا سلاميه – پښور پاکستان بغير دتاريخ صـ ٢٤٧

[8]: الزرقاء ، المدخل الفقهيه العام ٢ / ٩٨٥

[9]: البورنو – الشيخ دكتور محمد صدقي بن احمد بن محمد – الوجير في ايضاح قواعد الفقهيه الكليه . خپروونکي : موء سسة الرسالة – بيروت – لبنان څلورم چاپ کال : ١٤١٦ هـ صـ ٢٠١

معارض واقع شي د دلالت سره، پس بیا اعتبار نشته دلالت لره ځکه چې دلالت دتصريح يقيني دی، او دلالت د حال او قرائنو محل د شک دی او يقين په شک سره له منځه نه ځي[1]

**تنبيه:** په وخت د تعارض د دلالت او تصريح کې هغه وخت تصريح مقدم وي چې په دلالت عمل يا حکم نه وي مرتب شوی لکن که صراحت وروسته له هغې منځ ته راغی چې دلالت خپل کار کړی وو يعنی په هغه عمل شوی وو نو بیا صراحت لره اعتبار نشته.[2]

**دلالت ډولونه:**

دلالت په لمړي قدم کې په دوه ډوله دي:

**۱- لفظي دلالت**

**۲- غيرلفظي دلالت**

بیا هر يو يې په خپل وار په دريو ډوله دي:

۱- لفظي وضعي

۲- لفظي عقلي

۳- لفظي طبعي

۱- غيرلفظي وضعي

۲- غيرلفظي عقلي

۳- غيرلفظي طبعي

لفظي وضعي: لکه دلالت دالفاظو په معنی موضوع له باندې.

لفظي عقلي: لکه دلالت لفظ په وجود د لافظ باندې.

لفظي طبعي: لکه دلالت د(اح ) په درد د سينې باندې او دلالت د(اخ ) په مطلق درد باندې.

غيرلفظي وضعي: لکه دُوال اربعه ( څلور دلالت کوونکي): (اشاره، خط، عقد او نصب).

غير لفظي عقلي: لکه دلالت د مصنوعاتو په وجود صانع باندې.

غير لفظي طبعي: لکه دلالت د حمرت (سوروالي) په خجالت والياو دلالت د زيړواليپه وارخطا يې باندې.

ظاهره داده چې په قاعده کې دلالت لفظي وضعي او دلالت عقلي هغه لفظي وي او که غير لفظي مراد نه دي ځکه چې دلالت لفظي وضعي خو تصريح ده او اعتبار نشته دلالت لره په مقابله د تصريح کې، پاتې شو دلالت عقلي هغه لفظي وي او که غير لفظي که د تصريح نه فوق نه وي خو د هغه څخه کم هم نه دي. نو پاتې شو درې قسمه نور دلالتونه چې قاعدې کې همدا مراد دي هغه دي: دلالت لفظي طبعي، دلالت غيرلفظي وضعي او دلالت غير لفظي طبعي.

دلالت لفظي طبعي مثال: لکه قبلول د مبارکي وروسته له تزويج د فضولي څخه نو دا اجازه شوه د ده لخوا د عقد لکن که صراحتاً رد موجود شو نو بیا عقد رد دی.

دلالت غير لفظي وضعي مثال: لکه دلالت د محاريب، نښو، پردو، هغه چې خلک يې دروي يا يې نصبوي په مقابل د ملک د غير کې لکه زمکه، باغ، دوکان وغيره چې دلالت په اذن په دخول او يا عدم دخول کوي نو دا معتبر دي تر دې چې په خلاف يې تصريح موجوده نه وي.

---

[1]: الزرقاء ، المدخل الفقهي العام ۲/ ۹۸۵

[2]:علی حيدر ، دررالحکام شرح مجلة الا حکام ۱/ ۱۳۴

دلالت غير لفظي طبعي مثال: لکه دلالت د خندا د يو شخص بغير د استهزاء څخه په وخت د رسيدو د خبر د تزويج له طرفه د ولي اجازه کڼل کيږي لکن که د دې نه مخکې او يا يوځای تصريح په رد موجود شوه بيا دا دلالت لغوه دی.[1]

**د قاعدې دليل:**

امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې لپاره کوم دليل نه دی ذکر کړی نورو فقهاؤ ددې لپاره عقلي دلائل ذکر کړي دي.

۱-امام نسفي [2] رحمه الله فرمائي: هغه دا چې اصل په کلام کې صراحت دی، ځکه چې کلام وضع شوی لپاره د افهام اواعلام، او صريح تام يا پوره دی په اعلام کې، اوعمل کيږي په دلالت باندې په وخت د حاجت اوضرورت کې چې تصريح موجوده نه وي. نو وګرځيده دلالت په منزله د ضرورت چې په وخت د حاجت کې ورته رجوع کيږي، نو که تصريح موجوده وي نو حاجت نشته دلالت ته، او مقدم کيږي صريح په دلالت باندی په وخت د تعارض کې. [3]

۲-علامه احمد الزرقاء رحمه الله فرمائي: دلالة الحال په مقابله د تصريح کې ضعيف دی، نو دا د تصريح مقابله نه شي کولی ځکه چې هغه قوي دی.[4]

**تطبيقي بيلګې:**

۱-که چا يوشی په ثمن مؤجل سره وپلورلو، اومشتري مبيع قبض نه کړو تر دې چې اجل (نيټه ) پوره شوه، نو آيا ده لره په مستقبل کې بله نيټه شته او کنه، نو کتل کيږي به که چيرته نيټه يې مطلق ذکر کړې وه لکه دا چې يو کال غير معين يې ذکرکړی وو، نو ده لره بله نيټه شته چې هغه يوکال بل وروسته د قبض د مبيع څخه، دا په نزد د امام اعظم رحمه الله او په نزد صاحبينو ثمن في الحال لا زميږي، اوبله نيټه نشته. اوکه يوه معينه نيټه يې ذکرکړې وه لکه دا چې وپلوري تررمضان پورې، اومشتري قبض نکړي تردې چې رمضان تيرشو نو په دې صورت کې اتفاقًا في الحال اداء د ثمنو لا زم دي. په اول صورت کې (چې اجل مطلق ذکر شي ) وجه دقول دامام اعظم رحمه الله داده:

چې اصلا مشروعيت دتأجيل په ثمنو کې نظر مشتري ته چې هغه د مبيع څخه استفاده وکړي سره تأخير په ثمنو کې اونه حاصليږي داغرض مګر په اعتبار داجل (نيټه ) د وخت د قبض د مبيع څخه، نوشو دا تاجيل د دغه وقت څخه دلا لتاً په خلاف دهغه صورت چې هغې کې تنصيص په اجل معينه وي، نوهلته بيا واجب دی اعتبار د منصوص عليه اجل ځکه چې نشته دلا لت لره اعتبار سره دتنصيص نه په خلاف د هغه.[5]

۲-که خوشې کړو مسلمان خپل سپی دښکارپسې اوبسم الله يې وويله پس هغه سپي لره مجوسي وکشکاره (بګې کړو) اوهغه وکشکارل شو نو ښکار يې خوړل کيږي يعني جايز دي. اوکه خوشې کړو مجوسي

[1]: الزرقاء ، شرح القواعد الفقهيه صــ ۱۴۱- ۱۴۲

[2]: دا : عبدالله بن احمد بن محمود – ابوالبرکات يې اسم کنيه ده نسف ته يې نسبت شوي چې دا يوځاي دي په منځ د جيحون اوسمرقند کې ، مفسر فقهيه حنفي عالم دي . له تاليفاتو له جملې څخه : مدارک التنزيل په تفسير کې ، کنزالد قائق په فقه کي ، المنار په اصول فقه کي ، اوکشف الا سرار شرح منار . په کال ۷۱۰ هـ داصفهان په ايزج ښارکي وفات شو ي ، الا علام للزرکلي ۴/ ۶۷ جواهر المضيه في طبقات الحنفيه تاليف – الفرشي ابومحمد عبدالقادر بن ابي الوفا محمد بن ابي الوفا ء . خپرووندکي : ميرمحمد کتب خانه – کراچي پاکستان – بدون له تاريخه - ج ۱ صـ ۲۷۰

[3]: النسفي – کشف الاسرار شرح منار – خپرونکي : دارالکتب العلميه – بيروت لبنان – دويم چاپ کال ۱۴۲۲هـ ج ۱ / ۳۷۶

[4]: الزرقاء ، شرح القواعد الفقهيه ص ۱۴۱ ـ ۱۴۲

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵/ ۲۴۹

خپل سپی اومسلمان وکشکاره نوښکاريي نه خوړل کيږي. همدا رنګه که مسلمان خپل سپي خوشي کړي اوقصداً بسم الله ترک کړي اوښکارپسي شو بيا يي سپی وکشکاره اوهغه وکشکارل شو نو نه به خوړل کيږي ښکاريي.
که هيڅا سپی دښکارپسي خوشي کړی نه وو بلکي سپی په خپله ښکارپسي لاړو اوبيا مسلمان وکشکاره اوبسم الله يي وويله اوسپی وکشکارل شو نو ښکار به يي خوړل کيږي اوکه ونه کشکارل شو نو بيابه نه خوړل کيږي، ځکه چې اصل ارسال دي نو معتبر دی وجود تسميې په وخت دارسال کې، اوزجر دا لکه دبدل دارسال دي اوبدل معتبر وي په وخت دعدم داصل کې نه په وخت د وجود اصل کې اوبل اصل د دې مسائلو لپاره چې زمونږ بعض مشائخو ذکر کړی دی، هغه داچې په وخت د وجود د تصريح کې دلا لت اعتبار نه لري، که تصريح وجود ونه لري بيا دلا لت معتبر دی، په دري اولنيو مسئلوکې موجود شوی صريح اطاعت دسپي له طرفه په سبب دارسال، ځکه چې حمله يې وکړه په ښکار باندې په ارسال د صاحب دخپل، اوکشکارل کيدل دهغه په اطاعت د کشکارل کوونکي دا په طريقي دلا لت دی اواعتبار نه لري دلا لت په مقابل تصريح کې او په څلورمه مسئله کې تصريح موجوده نه ده نو اعتبار دلا لت ته ورکړل شو.[1]
۳- د شروطو د صحت د بيع څخه يوشرط دادي چې بدل بايد منطوق وي (يعني وخت دعقد کې صراحتاً ذکر شي ) په يو د انواعو د مبادله کې چې هغه قولي مبادله ده، اوس که بدل مسکوت عنه وي نو بيع فاسده ده، لکن که نفي دثمنو وکړي په صراحت سره لکه داچې ووايي: داغلام مې دربانديې وپلورلو بغير دثمنو اومشتري ووايي چې ما واخيست، اختلاف کړی مشائخو په دې مسئله کې. ځينو ويلي چې نفي دثمنو اوسکوت له ثمنو دواړه بيع فاسده وي اوځينو ويلي چې په نفي دثمنو سره بيع باطله ده ځکه چې په صورت دسکوت له ثمنو ثمن دلا لتاً ذکروي، نوکله چې په صراحت سره دثمنو نفی وکړي نو دلا لت باطليږي نو اصلا دا بيع نه ده.[2]
۴-جائزنه دي خاوند لره چې خپلې مطلقې په طلاق رجعي سره، دعدت په حالت کې سفر وکړي مګر په دې شرط چې ګواهان ونيسي په رجوع کولو باندې داپه نزد ائمه ثلا ثه رحمه الله اوپه نزد امام زفر رحمه الله جايز دی سفر کول برابره خبره ده چې ګواهان په رجوع ونيسي اوکه ونه نيسي، ځکه چې نفس سفر کول دا رجوع ګڼل کيږي دلا لتاً لکه څنګه چې ښکلول اولمس رجوع ګڼل کيږي.
د ائمه ثلاثه دقول وجه : داده چې په ايت شريف کې (لا تخرجوهن من بيوتهن ولا يخرجن )[3] مطلقاً د خراج او خروج څخه منع راغلي ده نو سفر خو په طريقي اولی سره منع دی او بل دا چې اختلاف د هغه زوج سره په سفر کې دی چې ښکاره وايي چې زه رجوع نه کوم او نښته اعتبار دلالت لره په مقابل د صراحت کې.[4] د تقبيل، لمس، او د سفر په منځ کې فرق د حلال والياو حرام والبيه اساس دی هغه دا چې په عدت د طلاق رجعي کې تقبيل او لمس حلال دي نو ځکه رجوع ګڼل کيږي او مسافرت کول حرام دي نو ځکه رجوع نه ګڼل کيږي.[5]

[1]-: الکاساني ،بدائع الصنائع ۵/ ۵۵
[2]: الکاساني ،بدائع الصنائع ۵ / ۱۸۳
[3]- دطلاق سورت ۱ آيت
[4]: الکاساني ،بدائع الصنائع ۳ / ۲۰۶
[5]: ابن عابدين ، رد المختار علي درالمختار ۳/ ۴۰۹

۵- د معمول اوعادت له مخې وديع د وديعت له مال سره سفركولا ی شي، خوکه مودِع يې صراحتاً منع کړي، بيا وديعت له مال سره سفر کولوحق نه لري، ځکه چې صريح له دلا لت څخه ډير قوي دي.[1]
۶- که يو انسان د چا کورته ننوځي او وګوري چې په دسترخوان يوګيلاس ګې اوبه ايښي دي او نوموړي د دغو اوبو د څښلو په نيت ګيلاس را پورته کړی چې په همدې وخت کې ترې ګيلاس وغورځيدو اومات شو، نو د تاوان مسئوليت نه لري، ځکه نوموړي په دلالة الحال سره د اوبو څښلو اجازه لري او دا په خلاف د هغه حالت دی چې دکور خاوند په صراحت سره نوموړی د اوبو څښلو څخه منع کړي چې په دې صورت کې به يې تاوان ورکوي، ځکه چې تصريح د دلالة الحال حکم باطل وګرځاوه.[2]

**څلورم مطلب: د (الوارث خَلَفَ المورَث) [3] قاعدې زده کړه.**

وارث ځاي ناستي د مورَث دي

**د قاعدي نورالفاظ:**

دا قاعده امام کاساني رحمه الله او نورو فقهاؤ په نورو مختلفو الفاظو ذکر کړې ده لکه:

١ - الوارث يقوم مقام المورث . [4]
٢- الوارث قائم مقام المورث . [5]
٣- الوارث يخلف المورث . [6]
۴- الورثة قائمون مقام المورث [7]
۵- الوارث ينوب مناب المورث [8]
۶-الوارث يخلف المورث ملکاوتصرفاً [9]

**د مفرداتو څيرنه:**

**الوارث:** صيغه د اسم فاعل ده، د ورِث يرِث وراثة ورثا ورثة څخه[10] الورث په معني د الباقي [11] الورث په معني د الباقي بعد فناء الحق، باقي پاتې کيدونکي وروسته د فناء د مخلوقاتو څخه [12] او دا يو صفت د الله تعاليد صفاتوڅخه چې هغه باقي او دائم ذات دی وارث د مخلوقاتو دی او باقي پاتې کيدونکي وروسته له فناء دهغوې څخه [13].

[1]- اتاسي – شرح المجلة صـ ٣٨
[2]- عزام – شهيد عبد الله ، القواعد الفقهيه ، خپروونکي : مرکز شهيد عزام الا عدامي – طبع بمشارکة اللجنة النسائيه
[3]: الکاساني ،بدائع الصنائع ۵/ ٢۵٨
[4]: الکاساني ،بدائع الصنائع ٢/ ٣۴٠
[5]: الکاساني ،بدائع الصنائع ٢ / ٣٠٩
[6]: الکاساني ،بدائع الصنائع ٥٣/٢
[7]: الکاساني ،بدائع الصنائع ٧ / ٣٣۶
[8]: ابن نجيم ، البحرالرائق ٨/ ٧٢
[9]: السرخسي، المبسوط ۴/ ۴٠١
[10]: ابن منظور ، لسان العرب ٢/ ١٩٩ ماده ورث
[11]: الصاحب ابن عماد ، المحيط في اللغة ٢ / ۴١۵
[12]: فيروز آبادي ،القاموس المحيط ١ / ٢٢٧
[13]: ابن منظور، لسان العرب ١٩٩/٢ ماده ورث

په اصطلاح کې: (من ينتقل اليه مال الميت بتمليك الله ايا ه ) [1] ژباړه: وارث عبارت له هغه شخص څخه دی چې مال د میت هغه ته انتقالیږي په سبب د مالک ګرزولو د الله تبارک وتعالیده لره.

**الخلف**: په لغت کې په معني دعوض، بدل، ولد صالح [2]، نقیض القدام یعني برعکس د مخکې، یو قرن وروسته د بل قرن. [3] په قاعده کې مراد له خلف څخه عوض یا بدل دی یعني وارث ځای ناستی یا عوض د مورث (میت) دی.

په اصطلاح کې: (کل من یجئ بعد من مضی)[4] ژباړه: هر راتلونکي شخص وروسته له تلونکي شخص څخه.

**المَورِث**: نه مراد میت دی حقیقتاً وي که حکماً لکه: مفقود او یا تقدیراً مړوي .لکه جنین چې په اثر د جنایت په مور د هغه د مور څخه جداء شي تقدیرا مړ ګڼل کیږي ګویا چې ژوندی وو په اثر د جنایت وفات شو اګر که حقیقتاً ژوند یې ثابت نه دی.[5]

**دقاعدې معني**:

قاعده دا افاده کوي چې هرهغه څوک چې هغه ته حقوق اواموال د میت انتقالیږي، هغه قائم مقام د میت دی، نو څه چې میت ته ثابت وو دحقوقواواعیانو څخه هغه ده ته ثابتیږي په طریقه دنیابت د میت څخه[6] دا قاعده په عموم بناء نه ده بلکې بعضې حقوق انتقال مومي وارثانو ته اوبعضې حقوق انتقال نه مومي وارثانو ته. د دې ضابطه دا ده: کوم حقوق چې متعلق د مال د میت پورې وي، اویا دفعه کیږي هغه سره ضرر د وارث نه په عِرض دهغه کې او یا هغه کې یخوالیدزړه دوارثانو وي لکه قصاص اوحد قذف نو دا په میرث وړل کیږي.اوهر هغه حقوق چې متعلق وي دنفس د مورث سره اویا د خواهشاتو اوعقل د میت سره هغه انتقال نه مومي وارثانو ته، د دې سبب دادی چې وارثان خومال په میراث کې وړي، نوپه میراث وړي هغه څه چې د مال سره تړاو لري تبعاً، اوپه میراث نه وړي عقل دهغه، شهوت دهغه، اونفس دهغه نو په میراث نه وړي هغه څه چې دعقل، شهوت، اونفس پورې تړاو لري.[7]

امام سرخسي رحمه الله فرمائي: وارث قائم مقام د مورث دی په هغه څه کې چې هغه مال وي [8]

ابن نجم رحمه الله فرمائي: وارث قائم مقام د مورث دی په حقوقو واملاکو دهغه کې [9] او وارث قائم مقام د مورث دی په قرضونو دهغه کې، اوپه دعاويو دهغه، اوپه ما له وماعلیه کې [10] وارث قائم مقام د مورث دی په مال،اوپه هغه څه کې چې داثارو د مال څخه وي،اوپه هغه حقوقو کې چې متصل د مال سره وي [11]

---

[1]: قلعه جي ،معجم لغة الفقها ء ٢ / ١٠٨

[2]:الفيومي ، المصباح المنير ١ / ١٧٩ كتاب الخاء المعجم الوسيط ١ / ٢٥١ باب الخا ء

[3]: فيروز ابادي، القاموس المحيط ١/ ١٠٤٢

[4]: ابن اثير، النهاية ، ٢/ ١٤٢

[5]: الزحيلي ، الفقه الا سلامي وادلته ١٠ / ٣٨١

[6]: ابن نجيم – الا شباه والنظائر ١/ ٣٤٩ الا شباه ونظائر للسيوطي ٤٧٢/١

[7]: الزركشي المنثورفي القواعد ج ٢ / ٥٦

[8]: السرخسي ،المبسوط ١٣/ ١٣١

[9]: ابن نجيم ، بحرالرائق ٨ / ٢٨٨

[10]: القرافي – شهاب الدين –احمد بن ادريس – الزخيرة - خپروونکي : دارالغرب –بيروت لبنان کال : ١٩٩٤ م ج ٩ / ٣١٢ الشرح الكبير دابن قدامه ج ٥/ ٢٨٨

[11]: الصدرالشهيد ، برهان الدين محمود بن احمد بن الصدر الشهيد – المحيط البرهاني –خپروونکي : داراحياء توارث بيروت لبنان دويم چاپ کال : ١٣٩٧ هـ ج ٤٦٦/١ .

**دقاعدې دليل:**

استدلال کړي امام کاساني رحمه الله ددي قاعدې لپاره په دې حديث شريف باندې.

۱-سنت: ( قال عليه الصلاة والسلام: من ترک مالا اوحقاً فهو لورثته ِ ) [1]

ژباړه: که چا پرېښودو مال اويا کوم حق هغه دوارثانو دهغه دی.

**داستدلال وجه**: بيشکه وګړزول نبي عليه صلاة وسلام متروکه اموال اوحقوق د ميت حصه د وارث اودا چې وارث د دي اموالو اوحقوقو مالک کيږي په مرګ د ميت سره او د لوازمو د ملکيت څخه جواز دتصرف په هغې کې دی.

کتاب الله:

(وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ)[2] ژباړه:- او شته په وارث(د پلار) باندی په شان د هغه (نفقه چی په پلار وه).

**د استدلال وجه**:

الله تبارک وتعالیارث يې سبب د وجوب دنفقې ګرزولی په وارث باندې په حالت دعجز اواعسارکې، اودا تقاضا کوي د اوسيدلو د وارث د تولو نه حقدار په مال د مورث کې وروسته د وفات دهغه څخه.[3]

او وجوب دنفقې په وارث باندې دا وجوب بدلي دی يعنې وارث قائم مقام دپلار دی په نفقه کې، او اصلاً نفقه په پلار باندې واجب ده ځکه چې ايت کې تعبير په ( مثل ذلك ) سره شوی نو ديکې اشاره ده چې وجوب اصلي په پلاردی.[4]

**تطبيقي بيلګې**:

۱ـ که يوسړي غلام يې واخيست په زردرهمو، اومشتري وويل چې ما پنځه سوه درهمه اضافه کړل په حيث د ثمنو اوبايع قبول کړو، اويا بايع ووائي: چې ما دا بل غلام په حيث د مبيع زيات کړو اويا دا يوه جوړه جامه مې زياد کړه اومشتري قبول کړي، نوجائز دی زيادت اوشو ثمن په اصل کې پنځلس سوه درهمه اوشوه مبيع دوه غلامان اويا يوغلام او دوه جوړه لباس، برابره خبره ده چې دا قبل القبض وي اوکه بعدالقبض، همدا رنګه زيادت په قيمتونو کې له وارثانو له طرفه وروسته له مرګ د مورث څخه ځکه چې وارث جانشين د مورث دي. [5]

---

[1]: اخرجه البخاري في صحيحه ، کتاب الا استقراض باب قوله عليه السلام من ترک مالا فلا هله ۸ /۱۵۰ شماره ۲۳۹۸ وباب ميراث الا سير ۸ / ۱۵۶ شماره ۶۷۶۳ ، اخرجه المسلم في صحيحه کتاب الفرائض باب من ترک مالا فلورثته ِ ۳/ ۱۲۳۸ شماره : ۱۶۱۹ لکن په رواياتو لفظ حقا ورسره نشته دي .

[2]: د بقرې سورت ۲۳۳ ايت

[3]: وکتل شي: الجامع لا حکام القرآن للقرطبي : ۳/ ۱۶۸ مدارک التنزيل للنسفي ۱ / ۱۲۶ روح المعاني ۲ / ۱۴۷

[4]: ابوزهرة ، زهرة التفاسير ۲/ ۸۱۱

[5]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ /۲۵۸

۲ـ که مشتري وفات شو، اوبایع (مبیع ) یې د وارثانو د(مشتري ) څخه په کم دهغه پیسو څخه واخستله چې ده پلورلې وه مخکې د ورکلو د ثمن اول څخه دا جائز نه دی ځکه چې ملک دلته مختلف شوی نه دی ځکه چې وارث قائم مقام د مشتري دی.[1]

۳ـ که وپلورله وارث ترکه د میت وروسته د مرګ دهغه څخه اودی نه پوهیده په مرګ دهغه بیع یې جائز ده همدارنګه وصي، ځکه چې وصي هم خلف د موصي اوقائم مقام دهغه دی لکه وارث.[2]

۴ـ که وصیت کوونکي ووایي: دغه غلام اویا داغلام وصیت دی لپاره دفلانکي شخص نو دا به د ثلث د مال نه خارج کولا ی شي، نو ورثه حق لري چې هر یو د دوو غلامانو څخه موصی له ته ورکړي ځکه چې وارث قائم مقام د مورث دی په هغه جهالت کې چې از - همدارنګه که مبیع جاریه ( وینځه ) وه هغه وارث ام ولده کړه اوکور وو په هغه یې نوره ابادي وکړه، بیا بیاوارد شواستحقاق، نو واخیست دهغه څخه د(وارث څخه ) دقیمت دولد، اوړنګه یې کړه په دي باندې ابادې، نووارث کولا ي شي رجوع په بایع وکړي په قیمت دولد اوقیمت دبناء لکه څنګه چې مشتري کولي شو چې رجوع وکړي که هغه ژوندي واي ځکه چې وارث قائم مقام دمورث دي.[3]

۵ـ همدارنګه که مبیع جاریه ( وینځه) وه هغه وارث ام ولده کړه او کور وو په هغې کې یې نوره آبادي وکړه ، بیا وارد شو استحقاق ، نو واخیست د هغه څخه د (وارث څخه) قیمت د ولد ، او ړنګه یې کړه آبادي ، نو وارث کولی شي چې رجوع په بایع وکړي په قیمت د ولد او قیمت د بناء لکه څنګه چې مشتري کولی شي چې رجوع وکړي که هغه ژوندی وی ، ځکه چې وارث قائم مقام د مورث دی.[4]

۶- که دوه نفره دیوکس قرضدار وو، اودواړو یوڅه په رهن کې ورکړل، بیا یو دراهنَینو وفات شو اودهغه څخه میراث واخیست هغه بل راهن، نو رهن په خپل حال باقي پاتې دی ځکه چې وارث قائم مقام دمورث دی په حقوقواو املاکو د مورث څخه او رهن نه باطیلیږي په موت دراهن او یا مرتهن نو باقي پا تیږي په خپل حال.[5]

۷- خیار عیب په میراث وړل کیږي ځکه چې وارث قائم مقام د مورث دي په هغه څیزونو کې چې مال وي.[6]

**دریم مبحث**

**فقهي قواعد په بحث د خیاراتو کې په دي کې لس مطلبه دي.**

**لومړۍ مطلب د ( السبب المفضي الی الشي یقوم مقامه )[7] قاعدې زده کړه.**

هغه سبب چې رسوونکی وي یوشي ته قائم مقام دهغه شي ګرزي

[1]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ /۱۹۹
[2]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۶ /۲۱
[3]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ / ۱۹۹
[4]: الکاساني بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۹۹
[5]: ابن نجیم ، البحرالرائق ۸ / ۲۸۸
[6]: السرخسي ، المبسوط ،۱۳ / ۱۳۱
[7]: الکاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص۱۶۹

**دقاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاساني او نورو فقهاؤ په نورو مختلفوالفاظو او عباراتو هم ذکر کړې ده لکه:

١- السبب يقوم مقام المسبب خصوصا في باب المحرمات [1]

٢- السبب المفضي اليالشي يقوم مقامم ذلك الشي في اصول الشرع [2]

٣- اقامة السبب مقام المسبب اصل في الشرع [3]

۴- الوسيلة اليالشئ حكمها حكم ذالك الشی [4]

**دمفرداتو څیرنه:**

السبب: جمع يې اسباب ده په لغت کې په معني ده: رسۍ (حبل )، لاره (طريق )، قرابت (خپل ولي )، مودت (دوستي ) [5]، اوهر هغه شی چې دهغې په وسيله انسان بل شي ته رسيږي [6]، اوپه معنی د علة، وسيله، او وجود [7].

**او په اصطلاح کې:**

( مايوصل اليالشی ولا يؤثر فيه کالوقت للصلواة ) [8]

ژباړه: هغه شي چې رسوي انسان لره يوشي ته خومؤثر نه وي په هغه شي کې.

المفضي: د ( الإفضاء ) څخه اخستل شوي په معني د(الوصول ) رسيدل. [9]

په اصطلاح کې: (الوصول اليشی بسعة ) [10] ژباړه: رسيدل د يوشي ته په اسانۍ سره.

**د قاعدې معنی:**

د قاعدې مطلب دا دی، هرهغه شی چې سبب يا لاره د رسيدو يو شي ته وي، دا سبب قائم مقام د هغې شي ګرځي او د هغې حکم اخلي يعنی څه چې په هغه شي (چې مسبب دی ) مرتب کيږي هغه په دې ( سبب ) هم مرتب کيږي. که په مسبب حکم د بطلان يا فساد يا وجوب يا کراهت يا جواز، يا فسخ مرتب کيدو نو هماغه حکم په سبب هم مرتب کيږي.

**تنبيه:**

سبب مفضي چی قائم مقام د مسبب ګرځي دا هغه وخت کې چې مسبب غايب الوجود وي په وسيله د دغه سبب اوکه غايب الوجود نه وي بيا سبب قائم مقام د مسبب نه ګرځي ځکه چې په دې صورت کې شک پيدا کيږي او يقين د شک سره له منځه نه ځي [11] او بل دا چې سبب هغه وخت قائم مقام د مسبب ګرځي

---

[1]: المحيط البرهاني ٣ / ١٧

[2]: موسوعة الفقهيه الکويتيه ٣٠/ ١٧٨

[3]: البخاري ، کشف الا سرار عن اصول البزدوي ١/ ٢٢۴

[4]: الکاساني، بدائع الصنائع ج٧ ص١٠۶

[5]: الزيات ،المعجم الوسيط ۴١١/١ باب السين ، مصباح المنير ، النهايه ،لا بن اسير ٢/ ٨٣

[6]: الکاساني، بدائع الصنائع

[7]: قاموس المحدث ١ / ١٢١٩

[8]: الزيات ، المعجم الوسيط ١/ ۴١١

[9]: ابی بقاء ، الکليات ج ١ ص ٢٢٠

[10]: ابی بقاء ، الکليات ١/ ٢٢٠

[11]: العناية شرح الهداية ١/ ۵٧

چې په اسانۍ او بغیر د حرج نه وقوف په مسبب باندی نه لاس ته نه راځي، اوکه په اسانی سره امکان د وقوف وو بیا سبب قائم مقام د مسبب نه ګرځي.[1]

**د قاعدې دلیل:**

استدلال کړی امام کاساني رحمه الله په دې قول د الله تبارک وتعالی باندې:

١- کتاب الله: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ)[2] ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی ! کله چې اذان وویل شي لپاره د لمانځه په ورځ د جمعی کې ؛نو ځغلی منډی ووهی طرف د ذکر د الله تعالی ته او پرېږدئ (بیع شراء – پلورل او پیرودل )

**د استدلال وجه:**

الله عز و جل بیع په وخت د آذن د جمعې کې منع کړې ده اګر که په اصل کې بیع جائزده مګر کله چې دا وسیله یا سبب د ترک صلاة ده او ترک صلاة خو حرام دی نو دا بیع هم حرام شوه. [3]

٢- سنت: همدارنګه استدلال امام کاساني رحمه الله په دې حدیث شریف باندی ما رُوِيَ أَنَّ أَبَا اليسْرِ بَائِعُ الْعَسَلِ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ فقال إِنِّي أَصَبْت من امْرَأَتِي كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الْجِمَاعَ فقال تَوَضَّأْ وَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ ) [4] ژباړه: روایت شوی چې ابا یسر رضي الله عنه چې پلورونکی د شاتو وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یي پوښتنه وکړه پس وویل: ماخپلې ښځې سره هر څه کړي بغیر د جماع څخه رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل: اودس وکړه او دوه رکعته مونځ وکړه.

**د استدلال وجه:**

مباشرت په هغه طریقه چې ذکر یې شوي دا سبب د خروج د مذي دی عادة نو شو سبب د مفضي خروج د مذي ته او قائم مقام کیدل د سبب په ځای د مسبب دا یو اصل معهود دی په شرعیت کې.[5]

٣- معقول: سبب دلالت کوونکی دی په مسبب باندې، نو سابتيږي په سبب باندې شبه د وجود د مسبب او شبه د وجود قائم مقام د وجود حقیقي ده خصوصا په هغه ځای کې چې احتیاط بناء وي.[6]

**تطبیقي بیلګي:**

خیار شرط لکه څنګه چې په صراحتا اجازې سره ساقطيږي همدارنګه په دلالتاً اجازې سره هم ساقطيږي.

١- که د خیارشرط په صورت کې مبیع وینځه وه او مشتري ورسره د خیار شرط په مدت کې جماع وکړه یا په شهوت سره ښکل یا لمس کړه نو دلالتا خیار شرط ساقط شو، اوکه وینځې مباشرت وکړو د مشتري سره اویا یې ښکل یا لمس کړو په شهوت سره، که دا کار په خوښه او تمکین د مشتري وو یا نه وو بیا هم خیار شرط ساقطيږي په نزد امام اعظم رحمه الله او په نزد د امام محمد رحمه الله د وینځې فعل خیار شرط نه ساقطوي ځکه چې خیار شرط حق د مشتري دي اوهغه داسې کوم کار نه دی کړی چې صراحتاً اویا دلالتاً خیار یې ساقط شي. ابوحنیفه رحمه الله فرمایي: چې سقوط د خیار شرط په دې

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ١/ ٢٩
[2]: دجمعي سورت ٩ آیت
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٣٢
[4]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ١/ ٣٠ داحدیث نقل کړي دي خومایي اصل اومصدر پیدانه نشوکړي
[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ١ / ٣٠
[6]: وکتل شي : کشف الا سرار عن اصول البزدوي ١ / ٢٢٥

صورت کې په سبب د احتیاط دی ځکه که خیار ساقط نه شي نو ممکن دی چې بیع فسخ شي نو بیا خو لمس او تمکین د لمس حاصل شو په غیر د ملک کې او دا ټول حرام دي، پس شو سقوط د خیار شرط لپاره د صیانت د ارتکاب د حرامو څخه او صیانت د ارتکاب د حرامو څخه واجب دی، او ځکه چې لمس د شهوت سره مفضي کیږي وطې ته، مفضي سبب یوشي ته قائم مقام دهغه شي ګرځي خصوصا په ځاي د احتیاط کې.[1]

۲- او ثابتیږي حرمت مصاهرت په لمس شهوت سره د جانبینو له طرفه ځکه چې دا سبب مفضي دی وطی ته نو دا قائم مقام د وطی شو.[2]

۳- په غنیمت کې د راجل (پیاده ) لپاره یو سهم دی او فارس( په اس سور شخص ) لپاره دوه سهمه دي یو سهم د آس او بل سهم د شخص.او معتبر په فارس او راجل کې وخت د مجاوزې (تیریدو د دار اسلام نه دار حرب ته ) دي که مجاوزې وخت کې فارس وو نو د دوه سهمو حقدار دی اګر که فرس یا اس یی هلاک شي او که د مجاوزې په وخت کې راجل وو بیا د یو سهم حقدار دی اګر که بیا ځانته آس واخلي ځکه چې مجاوزه خپله قتال دی ځکه چې په دې سره خوف ویره په کافرانو خوریږي، او وروسته له مجاوزې حالت د دوام د قتال دی او هغه ته اعتبار نشته ځکه چې خبریدل په حقیقت د قتال مشکل دي همدارنګه لیدل د صحنې د قتال، ځکه چې دا وخت د مخامخ کیدل د دواړو صفونو دی، نو مجاوزه قائم مقام د قتال شوه ځکه چې همدا مجاوزه سبب د مفضي دی قتال ته [3]

۴- په نزد د احنافو او حنابله و قرائت د ایت د سجدی امام لپاره په خفیه لمونځونو کې مکروه دي ځکه چې قرئت د ایت د سجدې په خفیه لمونځونو کې د کراهت نه خالینه وي ځکه که ایت د سجدی تلاوت کړي او سجده ونه کړي نو ترک د واجب شو په نزد د احنافو او ترک د سنت شو په نزد د حنابله و، او که سجده وکړي دلته په خلکو باندې لمونځ کډوډیږي ځکه خلک به فکر کوي چې امام سهوه شو رکوع ورڅخه پاتې شوه نو خلک به تسبیح سبحان الله الله اکبر وایې، او همدا مکروه دي – اوهر هغه څه چې د مکروه نه جدا نه وي هغه هم مکروه دي نو پریخودل د هغه مفضي سبب دا غوره دي.[4]

۵- په روانه کشتۍ کې په ناسته لمونځ کول جائز دي برابره خبره ده چې قادر په قیام وي او کنه ځکه چې رفتار د کشتۍ سبب د دوران ( ګرځیدل ) د سر دي غالباً او سبب قائم مقام د مسبب وي.[5]

۶- قائم مقام کیدل د سبب په ځای د مسبب په شرعیت کې یو شائع امر دی لکه اقامت د سفر په مقام د مشقت کې، او اقامت د نوم په ځائ د حدث کې، او اقامت د بلوغ په ځای د اعتدال د عقل کې، او حدوث د ملک په مقام د شغل د رحم کې په وجوب د استبراء کې. [6]

۷- په خلوت صحیحه سره هم عدت واجبیږي لکه څنګه چې په دخول سره عدت واجبیږي ځکه چې خلوت صحیحه قائم مقام د دخول دی سره د دې چې دا حقیقتاً دخول نه دی ځکه چې دا سبب مفضي دی د دخول نو د دخول قائم مقام وګرځول شو احتیا طاً. [7]

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵/ ۲۶۹
[2]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ / ۲۶۹
[3]: بحرالرائق ۵ / ۹۶ العنا یه شرح الهدا یه ۸ / ۱۰
[4]: موسوعة القواعد الفقهیه الکویتیه ۲۴ / ۲۳۱
[5]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۱ / ۱۱۰
[6]: البخاري ، کشف الا سرار عن اصول البزدوي ۱ / ۲۵۷
[7]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۳ / ۱۹۱

**دویم مطلب: ( الباطل متلاش ) [1] قاعدې زده کړه.**

باطل زر له منځه تلونکي دی

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاساني رحمه الله په لاندې الفاظو هم ذکر کړی ده :

١- الباطل لا یحتمل العود. [2]

٢- الساقط لا یحتحمل العود. [3]

٣- الساقط لا یحتمل الرجوع بهِ. [4]

۴- الساقط شرعا ملحق باالساقط حقیقته. [5]

۵- الملحق بالعدم شرعا والعدم الأصلي سواء. [6]

**د مفرداتو څېړنه:**

الباطل: د بطل یبطل بطلا و بطولا فهو باطل څخه دی جمع یې اباطیل راځي په معنی د ضد د حق [7] ضایع شوی، خراب شوی، د منځه تللی، یا ساقطیدل د حکم د یوشي [8] او شجاع ته ځکه بَطَلْ ویل کیږي ځکه چې هغه خپل ځان د تلف یا هلاکت ځایونو ته وړاندې کوي [9].

**او په اصطلاح کې:**

(الذي لا یکون صحیحا باصله، او مالا یعتد بهِ، ولا یفید شیأً، او ما کان فائت المعنی مع وجود الصورة، اما لإنعدام الأهلیة او لإنعدام المحلیة، کبیع الحر وبیع الصبي ویقابله في العملیات الصحیح وفي المعتقدات الحق ) [10] ژباړه: باطل هغه شی دی چې اصلاً صحیح نه وي، او یا هغه شی چې اعتبار ورته نه ورکول کیږي او د هیڅ شي افاده نه کوي یا هغه شی چې معنی یې له منځه تلې وي او صورت یا شکل یې وجود ولري، دا له وجې د نشته والید اهلیت او یا نشته والید محلیت لکه پلورل د اصیل شخص او یا بیع د صبي، د دې مقابل په عملي احکامو کې (الصحیح ) دي او په معتقداتو کې (الحق ) دي.

**متلاش:** په معنی د زائل د منځه تلونکی، هغه شی چې زر له منځه ځي. [11]

**الساقط:** د سقط یسقط سقوطا – ابن فارس وائي: السین والقاف والطاء یو اصل دی په معنی د وقوع غورزیدل [12] او په مصباح المنیر کې دي – سقط سقوطا: دبره نه لاندې غورزیدل – الساقط په معنی د رزیل سړي چې د نسب او شرافت د لحاظه ټولو نه ښکته وي [13] ( او مراد د ساقط نه په قاعده کې هغه

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ /۲۷۱

[2]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۶ / ۱۲۹

[3]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۶ / ۳۹

[4]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۶/ ۱۵

[5]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۲ / ۷۳

[6]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ / ۲۹۹

[7]: الرازي ، مختار الصحاح ۱ / ۷۳ معجم الوسیط ۱/ ۶۱

[8]: الفیومي ، المصباح المنیر ۱ / ۵۲ کتاب الباء تاج العروس ۲۸ / ۸۹ ماده بطل

[9]: ابن فارس ، معجم مقایس اللغة ۱ ۲۵۸

[10]: البرکتي ، التعریفات الفقهیة ۱۲۸

[11]: قاموس المحدث ۱ / ۲۲۰۱۹

[12]: ابن فارس ، معجم مقایس اللغة ۱ / ۴۶۳

[13]: الفیومي ، مصباح المنیر ۱ / ۲۱۱ ماده سقط

حکم چې صادر شوی وي، یا هغه تصرف چې مکمل شوی وي، یا هغه حق چې ساقط کړی وي هغه لره صاحب د هغه او یا ابراء یې ورڅخه کړې وي او الساقط دا صفت دی د محذوف موصوف چې تقدیر یې: الحکم الساقط، او یا التصرف الساقط، او یا الحق الذي اسقطه صاحبه ) [1]

**العود:** ابن فارس وایي: العین والواو والدال. دوه اصله دي یو په معنی د تثنیة في الأمر یعنی دوباره منځ ته راتلل او بل په معنی د یو ډول لرګی دی او قاعده کې اوله معنی مراد ده. [2]

اصطلاحي معنی یې د لغوي معنی څخه خارجه نه ده او مراد په عود سره په الفاظو د قاعده کې رجوع ده لکه څنګه چې د بعض الفاظو نه معلومیږي.

**د قاعدې معنې:**

که چا خپل حق باطل کړو، یا یې د خپل حق څخه تنازل وکړو، اویا یې ابراء وکړه، او یایې خپل حق ساقط کړو، په دی شرط چې هغه حق قابل د اسقاط وي نو دغه ابطال او تنازل یا ابراء په ده لازمه شوه نو دا حق د مطالبې وروسته د دې نه لرې مګر په نوي سبب سره.او باطل تصرف لره وجود نه وي مګر د صورت یا شکل د لحاظه، او باطل تصرف لره حکم نشته یعنی وربانده حکم نه مرتب کیږي نو هغه ملحق بالعدم وي ځکه چې هغه متلاشي یعنی د منځه تلونکي دی. [3]

**د قاعدې دلیل:**

۱- کتاب الله: (فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ اليهِ بِإِحْسَانٍ ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ اليمٌ) [4] ژباړه: نو هغه څوک چې عفوه وکړای شي (مصلحتا ) ده ته له (قصاص د اسلامي ) ورور د ده نه څه شی، نو لازمه ده (په دې عفوه کوونکي ) مطالبه د دیت ( قاتله ) په ښه وجه سره، او ورکول د ( دیت ) دي هغه عفوه کوونکي ته په ښه وجه سره، دا کار ( د قصاص یا دیت یا عفوه ) آساني ده له ( له طرفه ) د رب ستاسي، او مهرباني ده (چې اختیاریې درکړو تاسي ته ) نو هر چاچې زیاتوالیوکړ ( په ظلم او وژلو د قاتل ) وروسته له دې فیصلې ( چې دیت یاعفوه ده ) نو ده لره دی عذاب درد ناک ( د دوزخ په عقبی کې، اوقصاص په دنیا کې ).

**د استدلال وجه:**

که چا قصاص واخیست د قاتل د خپل ولي څخه اوهغه وینه تویه کړه وروسته د هغې چې خپل حق یې باطل یا ساقط کړی وو په اخذ د دیت یا قبلولو د دیت اویا په عفوې سره، نو ده سره وعده شوی ده د سخت عذاب ځکه چې ده داسې کار وکړ چې کول یې د ده حق نه وو او دا حکم د هغه څه د جملې څخه دی چې ساقط دوباره نه راګرځي. [5]

**سنت:** استدلال کړی امام کاساني رحمه الله په دې حدیث باندی: قول النبي صلي الله علیه وسلم:( جیدها و ردیئها سواء ) [6] ژباړه: جید او ردي د هغې ( د ربوي اموالو ) برابر دي.

---

[1]: البورنو ، موسوعة القواعد الفقهیة ۶ / ۶

[3]: البورنو ، موسوعة القواعد الفقهیه ج ۷ ص ۱۰۳

[4]: دبقري سورت ۱۷۸ ایت

[5]: وکتل شي : ابن کثیر ابوالفداء اسماعیل ابن عمر – تفسیرالقرآن العظیم – خپروونکي – دار الطیبة – مدینه منوره – دویم چاپ کال : ۱۴۲۰ هـ ج ۱ / ۴۹۲ – الجامع للا حکام للقرطبي – ۲ / ۲۵۵

[6]: علامه زیلعي رحمه الله فرمایي : داحدیث غریب دي او د ده معني اخستل کیږي د اطلاق د حدیث ابي سعید خدري رضي الله عنه څخه چې امام بخاري روایت کړي دي : ان رسول الله صلي الله علیه وسلم استغمل اجلا علي خیبر فجاءه بتمر جنیب فقال رسول الله صلي الله علیه وسلم اکل تمر

**د استدلال وجه:**

نبي كريم صلي الله عليه وسلم ساقط کړو جودت ( کره والي ) په ربوي اموالو کې، نو نه شته دي ( جودت) لره قيمت شرعا په وخت د مقابله د خپل جنس کې،او ساقط شرعا ملحق دی د ساقط حقيقتاً سره.[1]

**تطبيقي بيلګې:**

۱- خيار د بايع او مشتري دواړو ساقطيږي په هغه څه سره چې په انفرادي حالت کې ساقطيږي، نو هر يو چې اجازه وکړي صراحتا يا دلالتاً باطليږي خيار د هغه او لازميږي بيع د هغه له جانبه او هغه بل په خپل خيار دی که خوښه يې وه اجازه دې وکړي او که خوښه يې وه فسخ دې کړي، او که هريو له دوی څخه صراحتاً يا دلالتاً بيع يې فسخ کړه نو بيع اصلا فسخ کيږي او اجازه ورپوری نه ملحق کيږي له جانبه د صاحب د هغه ځکه چې فسخ تصرف دی په عقد کې په ابطال د هغه او باطل احتمال د اجازې نه لري ځکه چې باطل متلاشي وي. [2]

۲- که ثمن مؤجل وي په عقد کې، نو مشتري مبيع قبض نکړه تر دې چې اجل يا نيټه پوره شوه، نو دی حق لري چې مبيع مخکې له ورکولو د ثمنو څخه قبض کړي او بايع حق د حبس د مبيع نه لري ځکه چې هغه خپل حق ساقط کړی په تاجيل سره او ساقط متلاشي دی احتمال د راګرځيدو نه لري [3]

۳- کفيل بالنفس که صلح وکړه په مال باندې په دې شرط سره چې (مکفول له ) به دې لره بري کوي د کفالت څخه نو دا صلح باطله ده، نو ايا کفالت باطليږي او کنه په دې کې دوه روايته دي. په يو روايت کې نه باطليږي ځکه چې دی ( مکفول له ) نه دی راضي په اسقاط د حق د خپل مګر په مقابل د عوض کې اوعوض خو تسليم شوی نه دی نو نه ساقطيږي حق د ده، او په بل روايت کې کفالت باطليږي ځکه چې ابراء موقوفه نه وي په عوض باندې نو ابراء صحيح کيږي اګر که عوض تسليم نه شي نو کله چې صحيح شوه نو دا اسقاط دی نو ساقط شوی شی احتمال د عود نه لري. [4]

**دريم مطلب: د ( كلما يوجب النقصان في عادة التجار نقصانا يسيراً اوفاحشا فهوعيب ) [5] قاعدې زده کړه.**

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده نورو فقهاؤ په لاندی الفاظو او عباراتو هم ذکر کړی ده :

۱- العيب هو ما ينقص ثمن المبيع عند التجار و ارباب الخبرة [6]

۲- كل ما اوجب نقصان الثمن في عادة التجار فهو عيب [7]

۳- العيوب هي النقائص الموجبة لنقص المالية في عادة التجار [1]

---

خيبر هكذا ؟ قال لا والله يارسول الله ، انا ناخذ الصاع من هذا با لصاعين ، والصاعين بثلا ثة ، فقا ل رسول الله صلي الله عليه وسلم : لا تفعل ، بع الجمع با لدراهم ثم ابتع بالدراهم جنيبا . صحيح البخاري ۱۰۲/۳ شماره ۲۲۰۲ نصب الرايه ۴/ ۳۷ باب الربا او ويلي ابن حجر ر حمه الله : لم اجده ومعناه يوء خذ من اطلاق حديث ابي سعيد الخدري . الدراية في تخريج احاديث الهدا ية باب الربا ۲ / ۱۵۶ .

[1]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۲/ ۲۰۶ – ۴ / ۴۱۰ – ۵ / ۵۷

[2]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵/ ۲۷۱

[3]: الكاساني ، بدائع الصنائع

[4]: الكاساني ، بدائع الصنائع ج۶ ص ۳۰۳

[5]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۷۴

[6]: مجله الا حكام ۱ / ۶۷

[7]: فتح القدير ۶ / ۴

**د مفرداتو څیرنه:**

**النقصان:** په لغت کي په معنی د کمیدل – کمول د یو شي، کمول د حق د چا، کم شوی مقدار، کمبود.[2] پورتني قاعده پخپله د نقصان اصطلاحي تعریف دی .

**العادة:** د دي معني مخکي ذکر شوی ده.

**العیب:** جمع یي العیوب ده په معنی د: نقصان، درز په لرګي کي بغیر د جداوالیڅخه. [3]

په اصطلاح کي: اصطلاحي معنی د عیب په ضمن د تعریف د ډولونو د عیب کي واضح کیږي.

عیب په دوه ډوله دی:

۱-عیب یسیر: عبارت دی د هغه عیب څخه چي په مقدار د ثمنو کي دومره کموالیراولي چي داخلیږي لاندی د قیمت د قیمت کوونکو.

۲- عیب فاحش: دا په خلاف د عیب یسیر دی هغه دا چي نه داخلیږي لاندي د قیمت د قیمت کوونکو څخه. [4]

**د قاعدي معني:**

هرهغه څه چي پیدا شي په مبیع کي او سبب د نقصان په ثمنو د مبیع کي شي داعیب دی، او مرجع په پیژندلو د نقصان کي عادت د تجارانو، او اهل خبره دي دي کي به د عرف مطابق حکم کیږي ځکه چي چیرته نص نه وي هلته عرف حَکَم وي.[5]

**د قاعدي دلیل:**

امام کاساني رحمه الله د دي قاعدي لپاره کوم دلیل نه دی ذکر کړی –لکن دا قاعده د ( عرف المسلمین وعادتهم حجة ) قاعدي فرع ده لکن دا قاعده خاص عرف سره تړاو لري چي هغه عرف د تجارانو دی، نو د عرف اوعادت دلائل د دی قاعدي دلائل دي.

**تطبیقي بیلګي:**

۱- اسلام عیب نه دی که چا یو نصراني غلام واخیست او هغه مسلمان وو ځکه چي اسلام زیادت دی نه عیب، او نکاح په غلام او وینځه کي عیب دی ځکه چي منافع د بضعي مملوک د زوج وي اوغلام پلورل کیږي په مهر او نفقه د زوجه کي نو دا لازموي نقصان په ثمنو کي.[6]

۲- تبنتیدل، غلا کول، او بول کول په ځای د خوب کي دا ټول عیبونه دي ځکه چي هر یو له دوی څخه لازموي نقصان په ثمنو کي نقصان فاحش په عادت د تجارانو کي.[7]

۳- د شرائطو د ثبوت د خیار عیب څخه یو شرط ثبوت د عیب په نزد د بایع دی او یا وروسته قبل القبض که چیرته عیب پیدا شو وروسته د قبض څخه بیا خیارعیب نه لري. [8]

---

[1]: القرافي – الذخیرة ۵ / ۸۲

[2]: الزیات ، المعجم الوسیط ۲ / ۹۴۷ باب النون

[3]: الجرجاني ، التعریفات ج ۱ ص ۲۰۴

[4]: الجرجاني ، التعریفات ۱ / ۲۰۵ باب العین

[5]: الندوي ، شرح القواعد الفقهیه ج ۱ ص ۲۰۵

[6]: الجرجاني ، التعریفات ۱ / ۲۰۵ باب العین

[7]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۷۵

[8]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۷۵

**ځلورم مطلب: د ( السلامة مشروطة في العقد دلالة فكان كالمشروط نصا) [1] قاعدې زده کړه**
سلامتیا دلالتا مشروط ده په عقد کې نو دا داسې ده کله چې مشروط وي صراحتاً.
**د قاعدې نور الفاظ:**
دا قاعده امام کاساني رحمه الله په لاندی الفاظو هم ذکر کړی ده :
١- السلامة من العيب مطلوبة عادة .[2]
٢- السلامة شرط في العقد دلالة .[3]
٣- ( السلامة مشروطة في العقد دلالة ) [4]
**د مفرداتو څېړنه:**
**السلامة:** د سَلِمَ، يَسَلمَ، سلاماً او سلامةً اخستل شوی او جنت ته دارالسلام ویل کیږي ځکه چې هغه ځای د سلامتیا د آفاتو څخه. [5] ابن فارس رحمه الله وايي: السين، واللام والميم، په معنی د صحت اوعافیت سره راځي [6] او السلامة په معنی العافية او برائت د عیوبو څخه [7].
په اصطلاح کې: ( التعري عن الآفات الظاهرة والباطنة ) [8] ژباړه: السلامة: عبارت دی د خالیوالي د ظاهري او باطني آفاتو څخه.
**مشروطة:** د شرط څخه اخستل شوی او د شرط معنی مخکې ذکر شوی ده همدارنګه د العقد او دلالة معني مخکې ذکر شوې ده.
**د قاعدې معني:**
سلامتیا د مبیع د عیب څخه دا ضمني شرط دی په عقد کې ځکه چې هیڅ یو عاقل اقدام په مصرفولو د مال خپل نه کوي په وخت د عقد کې مګر په قصد د سلامتیا د عیب څخه، او دا یو متعارف کار دی په منځ د خلکو کې، نو شو عقد متضمن د شرط د سلامتیا اګر که تصریح یې ورباندی نه وي کړي، نو قاعده دا افاده کوي چې عقد تقاضا د سلامتیا کوي او دا یو کلي ضابطه ده، او صحیح دی اعتماد په دې باندې لپاره د اثبات د دې خبرې چې اتفاق د عاقدینو په مبیع سلیم باندی وو نه په معیب باندې کله چې حاصل شي اختلاف اوشاهدان نه وي [9]
**د قاعدې دلیل:**
**١- سنت:** ممکن دی چې استدلال وکړو د دې قاعدې لپاره په هغه حدیث چې روایت شوی د عداء بن خالد رضي الله تعالیعنه څخه چې وائي ولیکه ماته نبي علیه السلام ( هذا ما اشتري محمدرسول الله صلي

[1]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ٥ / ٢٧٤
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٤ / ٣١
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٧٤
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٧٥
[5]: ابن اثیر ، النها یة ٢/ ٩٨٥
[6]:ابن فارس ، معجم مقایس اللغه ١ / ٤٦٥ ماده سلم
[7]: ابن منظور ، لسان العرب ١٢ / ٢٨٩
[8]: المناوي التوقيف علي مهمات التعريفات ١ / ٤١٣
[9]: الطيار- عبدالله بن احمد بن محمد – خيارالمجلس والعيب في الفقه الاسلامي – علمي رساله ده په اشرف مناع القطاع مدير دالدرسات العليا په جامعه الامان محمدبن سعود .

الله عليه وسلم من العداء بن خالد بيع المسلم المسلم لا داء، ولا خبثه، ولا غائلة ) [1] ژباړه: دا هغه څه دي چې پيرودلي محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم د عداء بن خالد څخه بيع د مسلمان د مسلمان سره نشته داء (علت، عيب ) اونشته خباثت (حرام ) اونشته اغتيال (چل او فريب ).

**د استدلال وجه:**

بيان او واضح کړه رسول الله صلي الله عليه وسلم چې بيع د مسلمان د مسلمان سره هغه بيع ده چې نه وي په هغه کې داء ( عيب ) تدليس، اونه چل او فريب نو دلالت وکړو دې خبرې چې بيع د مسلمان تقاضا د سلامتيا کوي اگر که تصريح په مشروط واليدهغې ونکړي. [2]

**۲- معقول:**

امام کاساني رحمه الله فرمايي: سلامتيا د مبيع مطلوب د مشتري وي عادة، ځکه چې غرض د مشتري انتفاع اخستل وي د مبيع څخه او نه کامليږي انتفاع مگر په قيد د سلامتيا سره او مشتري نه دي ورکړي ټول ثمن مگر دي لپاره چې ورته تسليم کړی شي ټوله مبيع (يعني سالمه ) او بيع خو عقد معاوضه ده اوبنا ء د معاوضاتو په مساوات ده عادة او حقيقة او نه متحقق کيږي مساوات مگر په مقابل د بدل د مبدل سره، او سلامتيا د سلامتيا سره نو دې مطلق عقد تقاضا کوونکي د سلامتيا. [3]

**تطبيقي بيلگې:**

هغه غلام چې په اجاره اخستل شوی وي معلوم شي چې دا غل دی نو اجاره اخستونکی حق لري چې دا اجاره فسخه کړي ځکه چې سلامتيا ( د عيب ) څخه مشروط ده عادتا نو شوه لکه مشروط چې وي صراحتاً. [4]

۲- ثابتيږي خيار عيب په فوت کيدو د سلامتيا د عيب څخه کله چې مبيع يې معيب و مونده ځکه چې سلامتيا مشروط ده دلالة، او ثابت په دلالت النص سره لکه ثابت په خپله نص سره وي. [5]

۳- که چا يو کس يې وکيل کړو په شراء د وينځې او نوعيت او ثمن يې ورته معين کړل تر څو وکالت صحيح شي، نو هغه (وکيل ) وينځه وپيرودله چې يولاس او يو پښه يې قطع وه او يا سترگې يې کړې وې د مؤکل شوه همدارنگه که دواړه لاسونه اويا دواړه پښې يې قطع وي او يا وړنده وي په نزد د امام ابوحنيفه رحمه الله ، او په نزد د صاحبينو دا وکيل باندې لازم ده، نه په مؤکل. د دوې د قول وجه داده چې جاريه لپاره د خدمت اخستل کيږي عرفا اوعادتا اوغرض د استخدام نه حاصليږي په وخت د فوات د جنس د منفعت، نو مقيد کيږي (وکالت ) په سلامتيا سره د دغه صفاتو څخه په دلالت دعرف سره. [6]

۴- که چا وپيرودلو غلام د يو سړي څخه، بيا خبر شو په عيب باندې او مخاصمت يې وکړو د بايع سره د عيب په اړه او بيا صلح يې وکړه بايع سره په يو شي باندې او يايې ثمن ورباندې کم کړل، نو دا صلح

---

[1]: اخرجه البخاري تعليقا في صحيحه ، کتاب البيوع باب : اذا بين البيعان ولم يکتما ونصحا ج ۳ / ۵۸ اومام ترمذي په خپل سنن په ابواب البيوع باب ماجاء في کتابة الشروط ج ۳ / ۲۵۰ شماره عـ۱۲۱۶ او ويلي دي : حسن غريب اوعلامه الباني ورته هم حسن ويلي دي صحيح وضعيف سنن الترمذي ۳ / ۲۱۶ شماره ۱۲۱۶

[2]: ابن قدامه ، المغني ، ۴ / ۲۵۷

[3]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ / ۲۷۴

[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۴ / ۱۹۵

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۲۰

[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶/ ۲۹-۳۰

جائز ده ځکه چې صلح د عيب څخه دا صلح ده د ثابت حق نه په محل کې، اوهغه صفة د سلامتيا د مبيع دی دعيب څخه.[1]

**پنځم مطلب: د ( اختلاف السبب يوجب اختلاف الحكم ) [2] قاعدې زده کړه.**

اختلاف دسبب لا زموي اختلاف دحکم.

**د قاعدې نور الفاظ:**

امام کاساني رحمه الله او نورو فقهاؤ دا قاعده په لاندې الفاظو هم ذکر کړې ده .

١ـ العين تختلف با ختلا ف اسباب الملك حكما . [3]

٢ـ اختلاف السبب بمنزلة اختلاف العين.[4]

٣ـ اختلاف السبب كتفرق العقد والتسليم.[5]

٤ـ اختلاف السبب كإختلاف العين شرعا.[6]

**د مفرداتو څيرنه:**

( السبب، الحكم، الإختلاف ): د دې کلماتو لغوي او اصطلا حې معنا ګانې مخکې ذکرشوي دي.

**د قاعدې معنی:**

خبره دا ده کله چې تغير شي هغه سبب چې حکم په هغې باندې بناء شوی، اوهغه سبب دحکم لپاره علت وي، پس حکم د دغه شي تغير اوتبدليږي په تغير د دغه سبب يا علت سره اګرکه حقيقتا تبديلي په دغه شي کې نه رازي.

**د قاعدې دليل:**

امام کاساني رحمه الله فرمائي: اصل په دې کې هغه حديث دی چې روايت شوی چې بريرة رضي الله عنها هغه څه به يې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته هديه کول، چې دې ته به صدقه کې ورکړی شوې وه. اوپيغمبر صلي الله عليه وسلم به هغه خوړله او فرمايله به يې: ( هولها صدقة ولنا هدية ).[7] ژباړه: دا د هغې لپاره صدقه ده او مونږ لپاره هديه ده.

**د استدلال وجه:**

بريرة رضي الله عنها به چې کوم غوښه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته هديه کوله عين هماغه غوښه وه چې ده ته به په صدقه کې ورکول شوې وه اوصدقه خو په رسول الله صلي الله عليه وسلم حرامه وه، لکن نبي عليه السلام په سبب د هديې د غوښې مالک کيدلو، نو وګرځاوه رسول الله صلي الله عليه وسلم اختلاف د سبب د ملک؛ موجب د اختلاف د حکم او همداغه د قاعدې مطلب دی. علامه نووي رحمه الله فرمائي: په دې حديث کې دليل دی په دې خبره چې کله تغير شي صفت د يوشي نو تغيريږي حکم د هغه

---

[1]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ۵۱
[2]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۷۶
[3]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۴ / ۱۴۶
[4]: الزيلعي، تبيين الحقائق ، ج۲ص۱۴۷
[5]: السرخسي، المبسوط ،ج۱۲ ص ۱۴۴
[6]: السيواسي، شرح فتح القدير، ج۲ ص ۲۳۱
[7]: اخرجه البخاري في صحيحه كتاب الهبة و فضلها باب قبول الهد ية ج – ص شماره ۲۴۳۹

شي، نو جايز دی غني لپاره پيرودل د صدقې د غريب څخه او خوړل د صدقې کله چې هديه شي ده ته د فقير له طرفه. [1]

**تطبيقي بيلګې:**

۱-که چيرته غلام وتختيدو، يايې غلا وکړه، اويا يې د خوب په ځای کې بول وکړل او دا صغير عاقل وو او بيا دا عيبونه موجود شول په نزد د مشتري وروسته له بلوغ څخه، نه ثابتيږي مشتري لره حق د رد ځکه چې اختلاف د حال په دا درې واړو عيبونو کې لازموي اختلاف د سبب ، ځکه چې سبب د بول په ځای د خوب کې په حالت د صغر کې ضعف د مثانې وي او په حالت د غټواليکې مرض وي او سبب د تښتيدو اوغلا په حالت د صغر کې جهل او قلت د تميز وي او په حالت دغټواليکې شرارت اوخباثت د طبعيت وي او اختلاف د سبب لا زموي اختلاف د حکم لره نو موجود په لاس د مشتري کې غير د هغه عيب دی چې موجود وو په لاس د بائع کې نو داعيب، عيب حادث شو چې منع کوي حق د رد په عيب سره.[2]

۲- واجب دی عدالت په منځ د حقوقو د زوجاتو کې ، نو برابره ده په نوبت کې باکره او ثيبه، پيغله او زړه، نوې او مخکينی، مسلمانه او کتابيه ځکه چې دوی مساوي دي په سبب د وجوب د نوبت ( قسم ) کې چې هغه نکاح ده نو نوبت کې هم مساوي دي.

او که يوه ښځه اصيله وه او بله وينځه وه بيا نوبت کې مساوات لازم نه دی، نو اصيلې لپاره دوه ورځې او وينځې لپاره يوه ورځ... ځکه چې دوی په سبب د وجوب (د نوبت ) کې مساوي نه دي چې هغه نکاح ده ځکه چې جائز نه ده نکاح د وينځې وروسته د نکاح د اصيلې او يا د هغې د نکاح سره يو ځای... نو برابر نه دي دوی په سبب کې نو برابر نه دي په حکم کې هم. [3]

۳- که خارج شوه مبيع د ملک د مشتري څخه، بيا وپيرودله بائع د دويم مالک څخه په کم د هغه ثمنو چې ده پلورلې وه مخکې د ورکولو د ثمن څخه دا بيع جائز ده، ځکه چې اختلاف د ملک په منزله د اختلاف د عين دی. [4]

۴- تنها خويندې ( يعني چې ورونه ورسره نه وي ) دا ذوی الفروض دي د نيکه سره په نزد د حضرت علي رضي الله عنه اوعبدالله ابن مسعود رضي الله عنهما وجه د قول د دوی دا ده: انثي د مذکر په واسطه هغه وخت عصبه ګرځي چې سبب کې اتحاد موجود وي (يعني سبب د ميراث يو شی وي ) نوسبب د ميراث په حق د نيکه کې يوشی دی او په حق د خويندو کې بل شی دی نو ځکه د نيکه سره عصبه نه ګرځي او سبب د ميراث خويندو او ورونو يو دی ځکه عصبه ګرځي. [5]

**شپږم مطلب ( البينة حجة مطلقه ) [6] قاعدې زده کړه.**

شاهدان مطلقاً حجت دي

[1]: النووي ، شرح صحيح المسلم ۱۰ / ۶۱۶
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۷۶
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۲ / ۳۳۲
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۱۹۹
[5]: السرخسی ، المبسوط ۲۹ / ۳۴۵
[6]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ج ۵ ص ۲۸۱

**د قاعدې نورالفاظ:**

دا قاعده امام كاساني رحمه الله په لاندې الفاظو هم ذكر كړې ده .

١- البينة حجة من حجج الشرع .[1]

٢- البينة حجة من حجج الشرع فيجب العمل بها .[2]

٣- البينة مظهرة للحق .[3]

۴- البينة حجة متعدية .[4]

**د مفرداتو څيرنه:**

**البينة:** معنى مخكې په ضمن د قاعدې (وماشرعت البينات الا لإثبات خلاف الظاهر ) كې ذكرشوى ده.

**الحجة:** په ضمه د حاء او شد د ميم جمع يې حجج او حجاج راځي په معني د دليل، برهان [5] او په معنى د قصد ويل كيږي حججت فلانا اى قصدته.[6]

**په اصطلاح كې:**

(ما يدل على صحة الدعوى او الدليل المفيد غلبة الظن )[7] هغه څه چې دلالت كوي په صحت د دعوى يا هغه دليل چې مفيد د غالب ظن وي.

**د حجت ډولونه:**

حجت په دوه ډوله دى: ١- البينة (الشهادة ) ٢- الا قرار. او دا ددې قول د امام كاساني رحمه الله څخه معلوميږي چې په بحث د شروطو د شهادت په حدودو كې فرمايلي: (لان الشهادة احد نوعى الحجة فيعتبر بالنوع الآخر وهو الإقرار)[8] ژباړه: شهادت يو د دوه ډولونو د حجت څخه دى نو ده ته اعتبار وركول كيږي د هغه بل ډول په شان چې اقرار دى.

فائده: او مراد د حجة مطلقه څخه په دې قاعده كې، متعدي حجت دى چې اثباتيه قوت يې منحصر د هغه چا پورې نه وي چې په چا قائم وي بلكې نورو ته هم متعدي كيږي [9].

**د قاعدې معني:**

مخكې بيان شو چې بينه نوم دى د هر هغه شي چې حق ښكاره كوي نو كه مدعي داسې دلا ئل او براهين وړاندې كړي چې هغه سره صحت د دعوې د هغې معلوميږي، او دلالت په صدق د هغه كوي، نو واجب دى عمل په دې براهينو او دلائلو تر كوم حده چې ممكن وي، او جائز نه دى ابطال د دې براهينو ځكه چې دا سبب د ضايع كيدو د ډيرو حقوقو، او نشر د ظلم او باطل ګرځي په ټولنه كې، او ظالمان به ډير په اساني سره خپلو شومو اهدافو او اغراضو ته ورسيږي. او دا كار منافي دى د مقاصدو د شرعيت سره نو بينه چې كله شرائط پوره كړي دا يوشرعي حجت ګڼل كيږي، همدارنګه دا متعدي حجت دى يعني تجاوز غيرته هم كوي صرف منحصر محكوم عليه باندى نه وي، مګر دومره خبره ده چې بينه په خپله حجت نه

[1]: الكاساني ، بدائع الصنا ئع ۶ / ٢٣٢
[2]: الكاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ / ٣١
[3]: الكاساني ، بدائع الصنا ئع ٧ / ٢٠٢
[4]: الكاساني ، بدائع الصنا ئع ۶ / ٢٣٢
[5]: قلعه جى ، معجم لغة الفقها ء ١ / ٢١١
[6]: ابن فارس ، معجم مقاييس اللغة ٢ / ٢٩
[7]: قلعه جى ، معجم لغة الفقها ء ١ / ٢١١ التعريفات للجرجاني ١ / ١١٢ باب الحاء
[8]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۶/ ٢٧٧
[9]: دررالحكام شرح مجلة الا حكام ١ / ۶٨

دي ځکه چې دا ملزمه نه دي مګر په قضاء د قاضي سره نو ځکه امام کاساني رحمه الله فرمائي: ( البينة ليست بحجة بنفسها بل بقضاء القاضي ) [1]

**د قاعدې دليل:**

امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره استدلال کړی په سنت ، اجماع او معقول باندی.

سنت: نبي عليه السلام فرمايلي دي (البينة علي المدعي واليمين علي من انکر ) [2]

ژباړه: بينه په مدعي لازم دي او قسم په هغه چا چې انکار کوي.

**د استدلال وجه:**

امام کاساني رحمه الله فرمائي چې نبي عليه السلام بينه يې حجت ګرځولي لپاره د مدعي، نو دا دلالت کوي په مشروعيت د بينه [3] همدارنګه فرمائي: چې نبي عليه السلام لازم کړی دی يمين په مدعی عليه باندې، اوس که دا حجت و ګرځول شي د مدعي نو واجب به پاتې نه شي په مدعی عليه باندې دا بيا خلاف د نص کار دی. [4]

۲- **اجماع:** امام کاساني رحمه الله فرمائي: په اجماع سره بينه حجت د مدعي دی اګر که احتمال د کذب لري ځکه چې دا خبره د هغه چا ده چې معصوم نه دی د کذب څخه لکن ظاهر صدق دی نو احتمال د کذب ساقط شو [5]

۳- **معقول:** امام کاساني رحمه الله فرمائي: همدا رنګه معقول هم دلالت کوي چې بينة حجت د مدعي دي او يمين حجة د مدعي عليه، ځکه چې مدعي دعوی د امر خفي کوي نو محتاج دی اظهار د دې امر ته او دا قوت د اظهار د بينه لري، ځکه چې داخبره د هغه چا ده چې خصم نه دی، او قسم اګر که مؤکد شوی په نوم د الله تعالی سره لکن د دې وجهې نه چې کلام د خصم دی نو صلاحيت د حجت والیلپاره د اظهار د حق نلري، او د دې وړتيا لري چې حجت شي د مدعي عليه لپاره ځکه چې هغه متمسک دی په ظاهر باندی، چه هغه ظاهر د يد دی ، نو د ده ضرورت دی استمرار د حکم د ظاهر ته ، او يمين اګر چې کلام د خصم دی لکن لپاره د استمرار د حکم د ظاهر کافي دی، نوګرځول د بينه حجت لپاره د مدعي او يمين لپاره د مدعي عليه ، دا کيخودل د يو شي دي په خپل ځاي کي اوهمدي ته حکمت وائي.[6]

**تطبيقي بيلګي:**

۱- که مبيع رد کړی شوه په وکيل باندې نو دې کولاي شي چې مؤکل ته يې رد کړي ؟ نو که رد کړې وه په وکيل باندی په سبب د اقامت د بينه په عيب باندې نو رد کوي به يې په مؤکل باندې، ځکه چې بينه حجت مطلقه دي، او دی نائب د هغه څخه نو لازميږي په مؤکل باندې.[7]

۲- کله چې ووائي مولا خپل غلام ته: که تا ما ته زر روپې راکړې نو ته به ازاد يې نو بيا دواړو اختلاف وکړو په مقدار د مال کې، نو قول قول د مولا دی ځکه چې اختلاف واقع شو په شرط د ثبوت د

---

[1]: الکاسانی ، بدائع الصنائع ۵ / ۱۳۰

[2]: اخرجه ترمذي کتاب الا حکام باب ما جاء في ان البينة علي المدعي واليمين علي مدعي عليه ج ۳ ص ۶۱۸ شماره ۱۳۴۱ ، امام ترمذي رحمه الله ويلی: هذا حديث في اسناد ه مقال ومحمد بن عبد الله العززمي ضعيف ګڼل کيده په حديثوکې د حافظې د لحاظه ابن مبارک دا ئي ضعيف ګڼلي . اوعلامه الباني رحمه الله ورته صحيح ويلي دي. ارواء الغليل ج ۶ ص ۳۵۷ صحيح وضعيف سنن الترمذي ج ۳ ص ۳۴۱

[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۳۱

[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۲۵

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ۲۳۰

[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ۲۲۵

[7]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۸۱

عتق کې، نوغلام دعوی د عتق کوي په مولا او هغه انکار کوي، او قول قول د منکر دی، او که دواړو بینه قائم کړل نو بیا بینه د غلام معتبر دي ، ځکه چې اصل عمل کول دي په دواړو بینو باندې تر کوم حده چې ممکن وي، او دلته جمع ممکن ده ځکه چې هیڅ منافات نشته، هغه داسې چې مونږ يې ګڼو چې ګویا مولا د ده عتق معلق کړی دی په يو د دغه دوه شرطونو نو هر يو چې موجود شو دې به ازادیږي.[1]

۳- که خاوند دعوه وکړه چې ده خپلې ښځې ته واجبه نفقه ورکړې ده، او ښځې انکار وکړ نو قول قول دښځې دی سره د قسم ، ځکه چې خاوند دعوی د ورکولو د هغه څه کوي چې په ده باندې وو، او دا ښځه منکره ده نو معتبر دی قول د ښځې سره د یمین.[2]

**اووم مطلب (الإقرارحجة قاصرة)[3] د قاعدې زده کړه.**

اقرار قاصرة حجت دی.

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاساني رحمه په لاندې عباراتو هم ذکر کړی ده .

۱- اقرار المقر یلزم دون غیره .[4]

۲- اقرار المقر حجة في حقه .[5]

۳- اقرار المقر حجة في حق نفسه لافي حق غیره .[6]

۴- اقرار الإنسان حجة علي نفسه لا علي غیره .[7]

**د مفرداتو څیړنه:**

**الإقرار:** په لغت کې د قر- یقر- قرار څخه دی په معنی - ثابت پاتی کیدل او اقرار په معنی د تمکن، اعتراف ، او ایقان هم راځي.

**اصطلاحا:** - ( الإقرار، اخبارعن امر سابق ) [8] ژباړه: اقرار عبارت دی د خبر ورکولو څخه د امر سابق نه یا ( المقرمن یخبرعما في ید نفسه لغیره ) [9] ژباړه: اقرار کونکې خبر ورکوي د هغه څه چې دده په لاس کې دي لپاره د بل چا.

**الحجة:** - د دی لغوي او اصطلاحي معنی مخکې قاعده کې ذکر شوې.

**القاصرة:** صیغه د اسم فاعل ده د قصر یقصر قصرا څخه په معني د حبس [10] (بندول ) او مراد په قاعده کې د قاصرة څخه بندوونکې د اثر د اقرار د غیرد مقر نه په مقر باندې فقط [11]

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۴ / ۷۴

[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۳ / ۴۳۸

[3]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ / ۲۸۱

[4]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۵ / ۲۸۱

[5]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۷/ ۹۷

[6]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۷/ ۲۵۸

[7]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ۷ / ۳۰

[8]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ج۴ ص ۱۰۴

[9]: الکاساني ، بدائع الصنا ئع ج۶ ص ۲۲۴

[10]: ابن فارس ، معجم مقاییس اللغة ۵/ ۹۶ ماده قصر اولسان العرب ۶ / ۴۰۷ ماده قصر

[11]: البورنو ، الوجیرفي ایضاح القواعد الفقه الکلیة ۳۵۳

**د قاعدې معني:**

قاعده دا افاده کوي چې اقرار حجت شرعي دی بلکې د ټولو حجتونو نه قوي دی، ځکه چې په دې کې تهمت نشته، لکن دا قاصره حجت دی یعنی اثر یې صرف په اقرار کوونکې منحصر وي د هغه نه بغیر بل چا ته تجاوز نه کوي [1] او د اقرار کوونکي به تصدیق کیږي په هغه څه کې چې اقرار یې کوي او د څه چې خبرورکوي په هغې کې به مواخذه کیږي او اقرار تر هغه وخت نه صحیح کیږي چې په هغې کې ارکان اوشرایط یې پوره نه شي.

د اقرار شرائط او ارکان:

د اقرار لپاره یو رکن دی چې هغه صیغه د اقرار ده هغه صراحتاً وي او که دلالتاً صریح لکه دا چې ووایي د فلاني پر ما زر روپۍ دي او دلالتاً لکه دا چې یو سړي په بل چا دعوی وکړي چې زما پر تا زر درهم دي اوهغه ووایي چې ما درکړي دي ، په دې وینا سره چې ما درکړي دي دلالتاً اقرار په ثبوت د قرض شو، دا په نزد د احنافو او په نزد د جمهورو فقهاؤ د اقرار څلور شرطونه دي.

صیغه د اقرار – مقر- مقرله – مقربه ) اوشرائط داقرار په لاندي ډول دي.

**۱- شرائط د مقر:** مقر باید عاقل وي ، مقر باید مختار یعنی په خپل اختیار یي اقرار کړی وي، مقرباید معلوم وي، اوکه مجهول وو نو بیا اقرار صحیح نه دی، لکه دا چې دوه کسان ووایي: چې د فلاني کس په یو تن زمونږ د دواړونه زر روپۍ دي. نو دا اقرار صحیح نه دی بل دا چې مقر متهم نه وي او که متهم وي بیا اقرار یي صحیح نه دی ځکه تهمت خلل پیدا کوي په ترجیح د جانب د صدق په کذب باندی.

**د مقرله شرطونه:** د مقرله لپاره یو شرط دی هغه دا چې مقرله باید معلوم وي.

**د مقربه شرطونه:** مقربه په اصل کې په دوه ډوله دی: ۱- حق د الله تبارک و تعالي: دا به بیا خالینه وی یا به صرف حق د الله عز و جل وي او یا به ورسره حق د بنده هم وي نو د دې دواړو حق د اقرار لپاره شرط دی ۱- تعدد د اقرار ۲- مجلس د قضاء ۳- عبارت یا نطق که ګونګې نه وي.

دویم – چې صرف حق د بنده وي: نو لپاره د اقرار په عین یا دَین باندې لازم دی چې اقرار باید فارغ وي د حق د غیر څخه او که مشغول وو په حق د غیر نو بیا اقرار صحیح نه دی ځکه چې حق د غیر معصوم دی نو جائز نه دی ابطال د حق د غیر بغیر د رضا د هغه څخه.[2]

**د قاعدې دلیل:**

استدلال کړی امام کاساني رحمه الله ددې قاعدې لپاره په کتاب الله او په معقول باندې

۱- کتاب الله: قوله تعالي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ ) [3] ژباړه: ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی (اي مؤمنانو ) اوسۍ تاسې تل محکم ولاړ په انصاف سره شاهدان (خاص ) لپاره د الله اګرکه وي (شاهدي )پرنفسونو ستاسي (چې زیان مو وي په کې ) یا په والدینو (موراو پلار ) یا په خپلوانو ستاسي ).

---

[1]: علی حیدر ، دررالحکام شرح مجلة الا حکام
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ۲۳۳ - ۲۵۶
[3]: د النساء سورت ۱۳۵ ایت

**د استدلال وجه:**

امر کړی الله ج په اقامت یا قائمول د شهادت خاص د الله لپاره اګر که په خپل ځان باندې وي او اقامت د شهادت په خپل ځان باندې دا اقرار دی ، نو واضحه شوه چې په خپل ځان دا اقرار دی او اقرار حجت دی.[1].

**معقول:**

ځکه چې عاقل انسان په دروغه په ځان اقرار نه کوي چې په هغې کې د نفس یا مال ضرر وي، نو راجح دی جانب د صدق د ده د خپل ځان په حق کې نو د ده تصدیق کیږي په اقرار کې په خپل ځان باندې – او انسان متهم نه دی په خپل اقرار کې په خپل ځان باندې.[2].

**تطبیقي بیلګې:**

۱- که رد شوه مبیع په وکیل باندې په سبب د اقرار د ده په عیب باندې نو بیا به کتل کیږي که دا داسې یوعیب وو چې په مثال د دې نه پیدا کیږي په دومره وخت کې ، نو دا مبیع به رد کیږي په مؤکل باندې، ځکه چې معلوم شو ثبوت د هغه (عیب ) په نزد د بائع په یقین سره، او که دا داسې یوعیب وو چې په مثل د ده پیدا کیدو په دومره وخت کې نو بیا به نه رد کیږي په مؤکل باندې تردې چې بینة قائم کړي، نو که رد کړي شوې وه مبیع په قضا د قاضي په سبب د اقرار د ده نو نه به رد کیږي په مؤکل باندې ځکه چې اقرار د مقرپه مقر لازم دی نه په غیر باندې ځکه چې دا حجت قاصره دی نو د ده په حق کې حجة دی نه په حق د مؤکل کې.[3]

۲- کور د یو سړي ذوالید کې وو او دې سړي اقرار وکړو چې دا د بل چا دی، بیا وپلورل شو یو کور د ده په خوا کې او مطالبه وکړه مقرله د شفعې، نو ده لپاره شفع نشته ده ، تر څو چې ګواهان یې قائم کړي نه وي چې دا کور د ده دی. ځکه چې ملک په اقرار سره ثابت شوی اوهغه قاصره حجت دی، نو ظاهریږي په حق د مقرله کې نه په حق د مشتري کې .[4]

۳- په شرکة العنان کې که اقرار وکړو یو د شریکانو څخه په قرض باندې نو نه لازمیږي په ملګري د ده باندې، ځکه چې اقرار حجت قاصره دی [5]

۴- که اقرار وکړو مولا په اعتاق د غلام خپل نوغلام یې ازادیږي، ځکه ظاهر دا دی چې انسان په خپل ځان د درواغو اقرار نه کوي ، نو د اقرار تصدیق به یې کیږي په حق د نفس د ده کې [6].

۵- که اقرار وکړو خاوند چې دا ښځه چې ما نکاح کړې دا مې – رضاعي خور، یا مور یا لور ده او په خپل اقرار ثابت پاتې شي، نو د دوی په منځ کې به تفریق راوړل شي، ځکه چې د اقرار کړی په هغه څه چې اختیار د بطلان د هغه لري في الحال، نو تصدیق به یې کیږي په حق د نفس د ده کې [7]

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۷ ص ۱۷۰
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۳۳۶ ــ ۳ / ۵۹۹- ۵۶۰
[3] : الکاسني ، بدائع الصنائع ۵/ ۳۳۸ ــ ۵۹۹- ۵۶۰
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع
[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ج۶ ص ۷۲
[6]: الکاساني ، بدائع الصنائع
[7]: الکاساني ، بدائع الصنائع

**اتم مطلب: (الشركة في الأعيان عيب ) [1] د قاعدې زده کړه.**

شرکت په اعیانو کې عیب ګڼل کیږي

**دقاعدې نورالفاظ:**

دا قاعده امام کاساني رحمه الله په لاندې عباراتو هم ذکر کړی ده .

۱- الشقص فى الأعيان عيب. [2]

۲- الشركة عيب. [3]

۳- الشركة في الأعيان المجتمعة عيب. [4]

**د مفرداتو څیړنه:**

الشركة: ابن فارس وایی: الشين والراء والكاف دا دوه اصله دي یو په معنی د یوځای والیخلاف د انفراد او بل امتداد او استقامت. نو الشرکة: په نظر سره اوله معنی ته یو شې چې د دوه کسانو منځ کې شریک وي ویل کیږي: شاركت فلانا في الشی، دا هغه وخت ویل کیږي چې ته ورسره شریک شې. [5]

په اصطلاح کې: ( اختلاط نصيبين فصاعدا بحيث لا يتميز ) [6] ژباړه: یوځای کیدل د دوه حصو او یا ډیرو په داسې ډول سره چې د یوبل څخه نه جدا کیږي.

دویم تعریف: ( هی الإجتماع فی استحقاق او تصرف ) [7] ژباړه: دا عبارت دی له جمع کیدو څخه په استحقاق او یا په تصرف کې.

د دې تعریف څخه معلومیږي چې شرکت په دوه ډوله دی. ۱- شرکت املاک. ۲- شرکت عقود. اجتماع په استحقاق کې دا شرکت املاک ته اشاره او اجتماع په تصرف کې شرکت عقود ته اشاره ده. بیا شرکت املاک په دوه ډوله دی. ۱- یو هغه شرکت املاک دی چې په فعل د شریکانو ثابتیږي – لکه دا چې دوی یو شی په شریکه سره واخلي او یا یو شی دوی ته هبه – یاصدقه – او یا وصیت یی وشي او دوی قبول کړي نو دا شی به د دوی په منځ کې شریک وي.

۲- دویم هغه شرکت املاک دی چې بغیر د فعل د شریکانو څخه منځ ته راځي لکه شرکت د میراث په مال کې نو کوم شی چې په میراث کې وارثانو ته پاتې شي نو هغه به د دوی په منځ کې شریک وي.

او شرکت عقود بیا په درې ډوله دي.

۱- شرکت په اموالو کې: دا عبارت دی له دې څخه چې دوه نفره په رأس المال کې شریک شي، او ووايي: مونږ شریک شولو په دې کې پلورو او پیرو به او ګټه به زمونږ په منځ کې په دا ډول وي.

۲- شرکت په اعمالو کې: عبارت دی له دې څخه چې شریک دوه یا زیات له دوه څخه په یوعمل کې لکه خیاطي، دوبي ګري، یا رنګمالي، او ووايي: چې په شریکه به کار کوو نو څه مو چې وګټل هغه زمونږ منځ کې په داسې ډول تقسیمیږي.

---

[1]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۸۴

[2]: الكاساني ، بدائع الصنائع

[3]: الكاساني ، بدائع الصنائع

[4]: الكاساني ، بدائع الصنائع

[5]: ابن فارس ، معجم مقاييس اللغة ۱ / ۵۳۵

[6]: للبركتي ، التعريفات الفقهية ۲۰۶

[7]: ابن قدامه ، المغني ۵ / ۱۰۹

۳- شرکت وجوه: دا عبارت دی له دې څخه چې دوی شریک شي او مال ونلري لکن خلکو ته اعتماد او مخ ولري او ووايي: مونږ شریک شولو ، مال په نسیه اخلو او په نقده به پلورو نو څه مو چې وګټل هغه به زمونږ په منځ کې په دا ډول تقسیمیږي.[1]

**د قاعدی معنی:**

قاعده دا افاده کوي چې شرکت په اعيانو کې عیب دی او په دې سره په ثمن د مبیع کې فرق راځي ځکه چې شريك شی خلک په هغه قیمت نه اخلي چې کوم قیمت چې بې له شراکت نه يې اخلي، او دا قاعده عملي بڼه ده د یو اصل د اصولو د اسلام څخه هغه دا چې ضرر منفي دی، او واجب دی دفع د ضرر په قدر د امکان، او دې قاعدې سره تحقق مومي یو مقصد د مقاصدو د اسلام څخه چې هغه دفع د حرج او ضیق دي.

نو کله چې تفرق راشي په صفقه کې په بائع باندی – مثلا – داسې چې قبول کړي مشتري غیر د هغه څه څخه چې بایع د هغه ایجاب کړي، او یا یوه برخه د هغه څه چې بائع ایجاب کړي نوعقد نه تمامیږي مګر په نوي ایجاب سره ځکه چې دا تفریق د صفقې دی او تفریق د صفقې په ضمن د شرکت کې هم راځي او شرکت په اعيانو کې عیب نو دا ضرر شو لپاره د بائع او دفع د ضرر واجب ترکوم حده چې ممکن وي، نو ثابتیږي ده لره خیار. د دې قاعدې زیات تړاو د شرکت املاک سره دی په نسبت سره شرکت عقود ته ځکه چې په شرکت املاک کې، شریک نه شي کولی چې خپله حصه شائع کې داسې تصرف وکړي چې شریک ته پکې ضرر وي لکه استهلاک د عین او یا تغیر د شکل دهغه.

**د قاعدې دلیل:**

استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې لپاره په ضمن د استدلال کولو د هغه ، لپاره د عدم د جواز د تفريق د صفقې، نو ویلي دي: جائز نه دی تفریق د صفقې په بایع باندې مخکې د تمامیدو د صفقې څخه ځکه چې تفریق کې ضرردی بایع ته، او ضرر چې دی واجب دی دفع د هغه تر کوم حده چې ممکن وي، او بیان د ضرر دا دی، مبیع به خالینه وي یا شی واحد وي او یا به اشیاء وي حقیقتاً او شی واحد وي تقدیراً، او په تفریق کې ضمنا شرکت هم راځي، او شرکت په اعیانو کې عیب دی، نو تفریق عیب شو، او دا یو زائد عیب دی چې نه وو په نزد د بایع نو ضرر رسیږي په ده سره بایع ته [2].

۲- سلامتیا د مبیع د عیب څخه مطلوب د مشتري دی، ځکه چې غرض د هغه انتفاع وي د مبیع څخه، او نه تمامیږي انتفاع په مبیع باندی مګر په هغه صورت کې چې سالمه وي د عیب څخه، ځکه چې دې (مشتري ) نه دي ورکړي ټول ثمن مګر دې لپاره چې ورته تسلیم کړی شي ټوله مبیع، نو کله چې ښکاره شي چې مبیع مشترکه ده، نو مساوات په منځ د مبیع او ثمن کې ختم شو، نولازم نه دي په ده باندی اخستل د دې مبیعې په عوض کامل سره، او شته دې لپاره خیار. [3]

۳- مقصود د عقد څخه تقابض دی، او قبض سره عقد تمامیږي، او مقصود حاصلیږي، نو که قبض نکړي مشتري مبیع لره په کامله توګه، هغه داسې چې قبض کړي یوه برخه د مبیعې او رد کړي بله برخه نو نه حاصیلیږي مقصود د عقد او نه متحقق کیږي مصلحت او منفعت یو د دوی ته هم [4].

---

[1]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۷۳

[2]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۸۷

[3]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵/ ۲۷۴

[4]: ابن تيميه ، مجمع الفتاوي ۲۹ / ۴۰۲

**تطبيقي بيلګې:**

۱- که دوه نفرو یو شی واخست او بیا اطلاع حاصله کړه دوې په عیب باندې په مبیع کې چې د بایع سره وو، نو یو له دوی څخه نه شي کولای په انفرادي ډول مبیع رد کړي بغیرد ملګري د هغه څخه په نزد د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله ځکه چې د شرطونو د رد څخه یو شرط دا دی چې مبیع باید په وخت د رد په هغه صفت وي په کوم صفت چې په وخت د قبض کې وو او دا شرط په دې صورت کې موجود نه دی ځکه چې دوې مبیع قبض کړې په داسې ډول چې عیب داره په عیب زائد سره نه وه، نو اوس چې رد کوي، نو رد کوي یې په عیب زائده سره چې هغه شرکت دی او شرکت په اعیانو کې عیب دی [1].

۲- که خبر ورکړی شو چاته په شراء د نصف دار نو ده شفعه تسلیمه کړه، بیا معلومه شوه چې هغه ټول کور اخیستی دی نو دې حق د شفعې لري، او که ده ته خبر ورکړل شو د شراء د ټول کور او ده شفعه تسلیمه کړه، او بیا معلومه شوه چې هغه نیم کور اخیستی دی، نو تسلیم د شفعې صحیح ده او ده لره حق د شفعي نشته، دا روایت مشهور دی او د دې روایت وجه دا ده چې تسلیم د شفعې په نصف کې دا لپاره د ځان ساتل د ضرر نه چې هغه ضرر، ضرر د شرکت دی، او دا ضرر نه موجودیږي په تسلیم د کل کې، نوغرض او هدف مختلف شو نو صحیح نه دی تسلیم، نو په خپل شفعي باقي پاتې دی، او کله چې صحیح شوه تسلیم د شفعي په کل کې نو تسلیمي د کل دا تسلیمي د نصف ده، ځکه چې شرکت عیب دی، نو تسلیمي بغیر د عیب څخه دا تسلیمي ده د عیب سره په طریق اولی [2]

۳- که ایجاب وکړو بایع په ټول غلام کې او مشتري قبول کړي په نصف کې، دا بیع نه منعقد کیږي، ځکه چې بایع متضرر کیږي په تفریق سره، ځکه چې لازمیږي په بایع باندې عیب د شرکت [3]

۴- که چېرته مشتري ټوله مبیع قبض کړه، بیایې په کې عیب پیدا کړو که چېرته مبیع شئ واحد وو حقیقتا او یا تقدیرا نو د مشتري خوښه ده که ټول رد کوي او ټول ثمن مسترد کوي او که یې خوښه وي ټول مبیع دې واخلي په کل ثمن سره او حق نه لري چې صرف عیب دار مقدار رد کړي په مقابل د عوض د حصه د هغه له ثمن څخه ځکه چې په دې صورت کې الزام د عیب د شرکت، او دا عیب حادث دی چې مانع د رد دی او که مبیع حقیقتا ډیر شیان وو لکن تقدیرا یو شی وو لکه: خفین، نعلین، چوکاټونه، دروازی، او هرهغه شی چې ګټه نه اخستل کیږي د یوه د هغه څخه بغیر د جوړې د هغه، نو همدارنګه حکم دی، ځکه چې د هر یو نه په انفرادي توګه هغه ګټه نه اخستل کیږي د کومې ګټې لپاره چې وضع شوې وي نو په رد کولو د یو له دوی څخه بائع ته ضرر دی. ځکه چې د معنی د لحاظه دا شئ واحد دی نو په رد سره شرکت راځي د لحاظه معنی او شرکت په اعیانو کې عیب دی [4]

۵- که وپلوري وکیل بعض د هغه څه چې دې وکیل دی د بیع دهغه، او د هغه په تبعیض کې ضرر وي لکه دا چې مؤکل دې لره وکیل کړي په بیع د غلام او دې نصف غلام خرڅ کړي نو جائز دي په نزد امام ابوحنیفه رحمه الله او جائز نه دي په نزد د صاحبین لپاره د وجوب د دفع د ضرر چې حاصلیږي په سبب د شرکت په اعیانو کې [5]

---

[1]: ابن تیمیه ، مجمع الفتاوي ۲۹ / ۴۰۲
[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۰
[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۱۳۶
[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۸۷
[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ۲۸

**نهم مطلب( ماكان تابعا في العقد يكون تابعا في الفسخ )** [1] **د قاعدې زده کړه .**
هرهغه شی چې تابع وي په انعقاد د عقد کې نو تابع به وي په فسخ د عقد کې هم.
**د قاعدې نورالفاظ:**
دا قاعده په دې الفاظو سره صرف امام كاساني رحمه الله ذكر كړې ده د دې نور الفاظ ما پیدا نشو كړای لكن دې ته نزدې الفاظ دا دي.
١- يسقط الفرع اذا سقط الأصل.[2]
٢- التابع يسقط بسقوط المتبوع .[3]
٣- اذا بطل الشی بطل ما فی ضمنه .[4]
**د مفرداتو څیړنه:**
التابع: صيغه د اسم فاعل ده د تبع يتبع تبعا څخه. ابن فارس وائي: التاء والباء والعين – يواصل دی په معنی د چا پسې تلل، چا سره تلل، پيروي كول ويل كيږي. تبعت فلانا – فلاني پسې لاړم – والتبعته – هغه سره یوځای لاړم – المصلي تبع لامامه – لمونځ کونکې تابع د خپل امام وي. التبع یا التابع – سیوري (ظل) ته هم ويل كيږي [5] ځکه چې سيوری د يو شي تابع د هغه شي وي چې هر طرف ته ځي سیوری ورسره هم ځي.
العقد: د دې لغوي او اصطلاحي معنی په ضمن د ( العبرة للمعنى لا للصورة ) قاعدې ذكرشوی ده.
الفسخ: الفسخ په لغت کې ډيرى معنى ګاني لري لكه: ضعف په بدن اوعقل کې، جهل ځکه چې ضعف دی په عقل کې، هغه کس چې خپل حاجت نه شي حاصلولی [6]. او په معنى د ضد د عقد [7] او (الفسخ) په اصل کې په معنی د: (زوال المفصل عن موضعه ِ وفي البيع نقضه )[8] جدا كيدل د بند د خپل ځای نه او په بیع کې ماتيدل د هغې.
په اصطلاح کې: (ارتفاع العقد من الأصل كأَن لْم يكن )[9] ژباړه: له منځه وړل د عقد د اصل نه ګویا چې بلكل موجود شوی نه دی.
**د قاعدې معني:**
قاعده دا افاده كوي چې كوم شی په عقد کې تابع د بل شي وي نوفسخ کې هم تابع وي ځکه چې هغه شی اصل شو او دا يی فرع او فرع تابع د اصل وي، او د تابع حكم، حكم د متبوع وي یعنی په متبوع کې چې کوم حکم مرتب شي هماغه حکم په تابع هم مرتب كيږي، كه اصل يا متبوع حكم د انعقاد، يا بطلان، يا فساد، يا فسخ او يا كوم بل حكم مرتب شو نو همدا حكم په تابع هم مرتب كيږي.

---

[1]: الكاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٨٥
[2]: ابن نجيم ، الاشباه والنظائر ١٢١
[3]: على حيدر ، دررالحكام شرح مجلة الاحكام
[4]: ابن نجيم ، الاشباه والنظائر ٣٩١
[5]: الزيات ، المعجم الوسيط ١ / ٨٢
[6]: الزيات ، المعجم الوسيط ٢/ ٦٨٨ باب الفاء
[7]: قلعه جى ، معجم لغة الفقها ء ١ / ٤١٦
[8]: الصاحب بن عباد ، المحيط في اللغة ١ / ٣٤٩
[9]: الكاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٣٨

**د قاعدې دليل:**

امام كاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره صراحتاً كوم دليل نه دى ذكر كړى لكن مونږ كولى شو چې د دې قاعدې لپاره په بله فقهي قاعدې او د هغې په دلائلو استدلال وكړو. هغه قاعده دا ده.

القاعدة: (التابع تابع )[1] ژباړه: تابع تابع وي يعنى تابع حكم د متبوع لري. بعضى علماء دا قاعده استنباط كړى د دې قول د الله تعالى څخه (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ)[2] ژباړه:....رسول الله صلي الله عليه وسلم متبوع دى او امت تابع دى خطاب په ايت شريف كې اول متبوع ته شوى بيا عام حكم تابع ته شوى نو دا دلالت كوي چې حكم د تابع حكم د متبوع دى. په ايت شريف كې اول خطاب نبي عليه السلام ته شوى په (يا ايهاالنبى ) سره او بيا يې بيان كړو چې امت به په دې كې د رسول الله صلي الله عليه وسلم اقتداء كوي نو وې فرمايل (اذا طلقتم النساء )[3]

**تطبيقي بيلګې:**

امام كاساني رحمه الله په بحث د موانعو د رد په خيارعيب سره – فرمايى:

١- په صحيح بيع كې چې كله زيادت پيدا شي په مبيع كې قبل القبض كه دا زيادت متصل او متولد وو د اصل مبيع څخه، نو رد په خيار عيب سره نه منع كوي، ځكه چې زيادت تابع د اصل دى حقيقتاً ځكه چې قيام د زيادت په اصل باندې دى، نو ګويا چې زيادت هم مبيع دى تبعاً او اصل دا دى چې كوم شي تابع وي په عقد كې نوهغه به تابع وي په فسخ كې هم ځكه چې فسخ رفع د عقد ده اصل نه ګويا بلكل عقد نه وي شوى نو فسخ كيږي عقد په اصل كې مقصودا او په زيادت كې تبعاً د وجهي د فسخ كيدو نه په اصل كې.[4]

٢- او كه چېرته دا زيادت متصل غير متولد وي د اصل څخه، نو بيا رد په خيارعيب سره منع كوي، ځكه چې داسې زيادت تابع نه وي په عقد كې نو نه تابع كيږي په فسخ كې [5]

**لسم مطلب د (الضرر واجب الدفع ما امكن )[6] د قاعدې زده كړه.**

دضررد فع كول واجب دي تركوم حده چې ممكن وي

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام كاساني رحمه الله او نورو فقهاؤ په لاندې عباراتو هم ذكر كړى ده .

١- الأصل في الضررين اذا اجتمعا ان يدفعا ما امكن .[7]

٢- الضرر يدفع بقدرالامكان .[8]

**د مفرداتو څيرنه:**

الضرر: د دې كليمي لغوي او اصطلاحي معنى په ضمن د ( الضرر منفي) قاعدې كې ذكرشوى ده.

---

1: ابن نجيم ، الاشباه والنظائر ١٢٠
2: د طلاق سورت ١ ايت
3: عبدالغفار ، القواعد الفقهية بين الاصالة والتوجية ١ / ٣٤٩ شرح مجلة للاتاسي ج ١ ١٠٧
4: الكاساني ، بدائع الصنائع ٥/ ٢٨٩
5: الكاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٨٩
6: الكاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٨٦
7: الكاساني ، بدائع الصنائع ٢ /٢٤٩
8: على حيدر ، مجلة الاحكام العدليه ١/ ١٩

الدفع: ابن فارس رحمه الله وائي: الدال والفاء والعين – يو اصل دی په معنی د: يو طرف کول او په قوت سره لرې کول د يو شي ويل کيږي. دفع عنه الاذي والشر: يعني لري کړو د هغه څخه ضرر او شر.[1]

**په اصطلاح کې:** (صرف الشی قبل الورود ) [2] ژباړه: لرې کول د يو شي مخکې له ورود د هغه څخه.

الامکان: د تمکن څخه دی په معنی د قدرت پيدا کول په يو شي باندې ويل کيږي.( تمکن من الشئ اذ قدرعليه). کله چې قادر شي په هغه باندې.

او په اصطلاح کې: (التمکن من الشئ ان يکون للانسان عليه قدرة وسلطان ) [3] ژباړه: تمکن په يو شي باندې عبارت دی له قدرت او تسلط درلودلو نه په هغه شي باندې.

**د قاعدې معنې:**

قاعده دا افاده کوي چې کله ضرر واقع شي له منځه وړل او لرې کول د هغه واجب دي او د قاعدې نه معلوميږي چې دفع د ضرر قبل الوقوع هم واجب ده، ځکه چې دفع اسانه د رفعې نه او دا بايد په قدر د امکان وي، او که اسان نه وو دفع او لرې کول په کُلي توګه نو لرې دې کړې شي په قدر د امکان، ځکه چې دا کار غوره دی له ترک د ضرر څخه په خپل حال.

**د قاعدې دليل:**

١- کتاب الله: (وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا) [4] ژباړه:او هغه ښځی چی ويريږئ تاسي له سرکشي ( بد ګزراني ) د دوې نه نو نصيحت وکړئ دوی ته او پريږدئ تاسي دوې (خپلې شاوئ ورته وګرځوئ ) په ځای د خوب ( که په نصيحت سمې نه شوې او ووهئ تاسي دوی (که په بيلتون سمې نه شوې نو که اطاعت يی وکړ (غاړه يی کيښوده ) تاسو ته نو مه لټوئ تاسي پر دوې لاره ( د ضرر او اذيت ) بی شکه الله دی ډير پورته ( په غلبه او مرتبه کې) ډير لوی له ټولو اشياؤ.

**د استدلال وجه:**

د ښځې اطاعت نه کول د خپل ميړه څخه په هغه امورو کې چې اطاعت ورباندې لازم دی دا ضرر شمارل کيږي په خاوند باندی، نوپه دې حالت کې خاوند لپاره حق د تاديب شته لپاره د دفع د ضرر، نوخاند کولی شي چې تاديب ورکړي خپل ښځې ته په هغه ترتيب باندې چې ايت کې ذکرشوي [5]

٢- کتاب الله: قوله تعالي: (وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ) [6] ژباړه: او تياروئ (ای مومنانو ! ) لپاره (د جنګ) د دغو (ماتوونکو د عهد يا مطلق کفارو) څومره چی توانږې (جمع کولې شی)

---

[1]: ابن منظور ، لسان العرب ٨/ ٨٧ معجم مقاييس اللغة ٢ / ٢٨٨ ماده دفع

[2]: ابی البقاء ، الکليات ١ / ٧٠٨

[3]: المناوي ، التوقيف علي مهمات التعريف ٢٠۶

[4]: دالنساء سورت ٣۴ ايت

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٢ / ٣٣۴

[6]: د انفال سورت ۶٠ ايت

**د استدلال وجه:**

الله تبارک و تعالی امر کړی په تیارولو د قوت هغه قوت چې په هغې سره دفع د ضرر د کفارو کیږي، او هغوی لره ویروي، او دا تیارې يې لازم کړی په اندازه د قوت، نو دا دلالت کوي په دې باندې چې دفع د ضرر واجب ده لکن په قدر د امکان [1]

۳- سنت: قول النبي صلي الله عليه وسلم ( واذا امرتكم بامر فاتوا منه ما استطعتم ) [2] ژباړه: کله چې امر وکړم تاسو ته په څه با ندې نو وکړئ هغه کار څومره چې توان لرئ.

د استدلال وجه: حديث دلالت کوي په دې باندې چې دفع د ضرر مخکې له وقوع د هغه څخه او رفع د ضرر وروسته له وقوع څخه واجب دي او دا تقوا ده لکن په اندازه د توان [3]

۴- سنت: قوله صلي الله عليه وسلم ( من راي منكم منكرا فليغيره بيده، فان لم يستطع فبلسانه، وان لم يستطع فبقلبه، وذلک اضعف الايمان ) [4] ژباړه: چا چې وليدو له تاسو څخه منکر نو تغير دې کړي په لاس خپل که توان يې نه درلودلو، نو بيا دې تغير کړي په ژبه او که توان يې نه درلود، نوپه زړه کې دې بد وګڼي، او دا ضعيف ترين درجه د ايمان ده.

**د استدلال وجه:**

وقوع د منکر يا واقع کيدل د ناروا کارونو، دا ضرر شمارل کيږي او نبي عليه سلام مونږ ته لارښوونه کړی د دې له منځه وړلو په اندازه د توان، نو دا دلالت کوي چې رفع د ضرر واجب ده په اندازه د توان[5]

**تطبيقي بيلګې:**

۱- د شرائطو د جواز د فسخ څخه يو شرط دا دی چې فسخ متضمن د تفريق د صفقې په بايع باندی قبل التمام نه وي، نو که فسخ متضمن د تفريق د صفقې مخکې له تماميدو څخه وه، نو دا فسخ بيا جائز نه ده، مګر دا چې بائع په هغې راضي شي - ځکه چې تفريق د صفقې مخکې له تماميدو ضرر دي بائع ته – او دفع د ضرر واجب ده څومره چې ممکن وي [6]

۲- جائز نه دي تفريق په قبول کې په هغه وخت کې چې اضافت د ايجاب جمله شي ته وشي او مشتري په ځيني کې قبول کړي او ځيني کې قبول نکړي، لپاره د دفع د ضرر له بايع څخه ځکه چې په لزوم د حکم د بيع کې په بعض مبيع کې چې بايع ورته اضافت د ايجاب نه دی کړی ځکه چې هغه ايجاب نه دی کړی مګر چې جمله شي کې نو نه صحيح کيږي مګر په جمله کې، دې لپاره چې لری نه شي ملک د بايع بغير د ازالې د هغه څخه نو متضرر به شي په دې کارسره [7]

۳- کله چې يو انسان غصب کړي د بل چا څخه يو مثلي شي او هغه هلاک کړي، واجب دي په ده باندې رد د مثل د هغه او که مثل يې نه پيدا کيده نو واجب دی په ده باندې رد د قيمت د هغه هلاک شوې مغصوبې لپاره د دفع د ضرر د مغصوب منه څخه په قدر د امکان.[8]

---

[1]: البورنو ، الوجيز في ايضاح قواعد الفقه الكلية . ص ۲۵۶

[2]: اخرجه البخاري في صحيحه في كتاب الا عتصام با لكتاب والسنة باب الاقتداء بسنن رسول الله عليه وسلم ج ۹ / ۹۴ شماره ۷۲۸۸

[3]: الدوسري مسلم بن محمد بن ماجد الممتع في القواعد الفقهيه – خپروونکي – دار زدني – رياض – لومړي چاپ کال ۱۴۲۸ هـ صـــ۲۲۸

[4]: اخرجه مسلم في صحيحه ، كتاب الايمان – باب كون النهي عن المنكر من الايمان – ج ۱ / ۶۹ شماره ۷۸

[5]: الدوسري – الممتع في القواعد الفقهيه ۲۲۹

[6]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵/ ۲۸۶

[7]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۸۷

[8]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ۱۷۱

۴- که وپلوري مشتري هغه برخه چې په هغې کې شفعه ده، بیا شفیع راغی، نو حق لري شفیع چې بیع فسخ کړي او مبیع د شفعي په اساس واخلي لپاره د دفعي د ضرر د خپل ځان څخه.[1]
۵- که یوه ښځه نکاح وکړي بغیر د کفو(سیال ) سره نو اولیاء یې حق د اعتراض لري، ځکه چې په کفائت کې (سیالي) کې حق د اولیاء دی ځکه چې هغوی فخر کوي په اوچت والید نسب د زوم، ننگ اوعارکنېي ښکته والید نسب د زوم، نو متضرر کیږي په دې باندی، نو دې لپاره حق د اعتراض شته دی.[2]

۶- شرعیت په سفیه ( کم عقل) باندې حجر مشروع کړی لپاره د دفع د مالیضرر د هغه څخه [3]

**څلورم مبحث: فقهي قواعد په بحث (مایمنع الرجوع بنقصان العیب وما لایمنع )په دې کې ۷ مطلبه دي.**
**لومړي مطلب: د (القدرة علي الأصل تمنع المصیر الیالخلف )[4] د قاعدې زده کړه.**
ژباړه : قدرت درلودل په اصل باندی منع کوي ورتگ یا رجوع قایم مقام یا عوض ته .
**دقاعدې نورالفاظ:**
دا قاعده امام کاساني رحمه په لاندې عباراتو هم ذکر کړی ده .
۱- لاعبرة بالخلف مع القدرة على الأصل. [5]
۲- یصارالی الخلف عند العجز عن الأصل.[6]
۳- لایجوز المصیرالی الخلف مع وجود الأصل. [7]
۴- لایجوزالمصیرالی البدل مع القدرة على المبدل.[8]
**د مفرداتو څیړنه:**
**د** اصل او خلف معنی مخکی ذکر شوې ده .
القدرة: په لغت کې په معنی – طاقت، قوت [9]
او په اصطلاح کې: ( هي صفة التي تمكن الحي من الفعل وتركه بالارادة ) [10] ژباړه: قدرت هغه صفت دی چې طاقت او توان ورکوي ژوندي ته د کولو او نه کولو د یوکار په خپل اراده.
**د قاعدې معنی:** په دې قاعده کې بیان د دې خبری دی ( چې هغه شی چې سبب وي لپاره د انتقال د اصل څخه بدل یا خلف ته، هغه خلف چې قائم مقام د اصل گرځي، او په راتگ سره په خلف یا بدل باندې د انسان غاړه خلاصیږي، هغه (خلف ) عدم قدرت دی قیام او اتیان په اصل باندې په هغه ډول چې شرعاً

---

1: الکاساني ، بدائع الصنائع ۲ / ۳۱۸
2: الکاساني ، بدائع الصنائع ۲/ ۳۱۸
3: الکاساني ، بدائع الصنائع ۷/ ۱۷۳
4: الکاساني ، بدائع الصنائع ج ۵ ص ۲۸۹
5: الکاساني ، بدائع الصنائع ۳/ ۱۷۳
6: الکاساني ، بدائع الصنائع ۷/ ۱۵۱
7: الکاساني ، بدائع الصنائع ۱ / ۹۸
8: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۹۸
9: تاج العروس ۱۳/ ۳۷۰ مادة قدر المعجم الوسیط ۲ / ۷۱۸
10: التعریفات للجرجاني ۱/ ۲۲۱ معجم لغة الفقهاء ۱ / ۴۳۰

مطلوب وي [1]، نو معلومه شوه چې کله اتيان په اصل ممکن وي نو انتقال بدل يا خلف ته نه کيږي، ځکه چې دا خوعمل کول دي په خلف باندی په وجود د اصل کې او حال دا چې بدل او مبدل نه جمع کيږي[2] ).

**د قاعدې دليل:**

امام کاساني رحمه الله په څو اياتونو د کتاب الله، او په سنت باندې د دې د اثبات لپاره استدلال کړی دی.

۱- کتاب الله: (فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا) [3] ژباړه: نو و نه مومې تاسې اوبه، نو قصد وکړې د خاورې پاکې).

د استدلال وجه: امام کاساني رحمه الله فرمائي: الله تبارک و تعالی خاوره د اوبو قائم مقام گرځولې په وخت د نشته والید اوبو کې [4] او گرځولي الله پاک تيمم لره اودس د مسلمان تر وخت د عدم د وجود د اوبو پورې او ممدود ترغايې پورې منتهي کيږي په وجود دغايې [5] اوبه اصل دی او خاوره خلف يا بدل همدارنگه اودس اصل دی او تيمم خلف او بدل. نو ايت شريف نه په صراحت سره معلوميږي چې خلف يا بدل ته هغه وخت صيرورت کيږي چې اصل نه وي او که اصل وي بيا بدل ته صيرورت جائز نه دی[6].

۲- امام کاساني رحمه الله فرمايي: ( په کفارة د قسم کې لپاره د وجوب د صوم عاجزوالي له درې شيانو څخه ( چې عبارت دي له: اطعام لس مسکينانو ته، يا لباس ورکول لس مسکينانو ته، او يا غلام ازادول شرط دي په دليل د قول د الله تعالی (فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ )[7] ژباړه: نو هر څوک چې و نه مومي (له دغه درې واړه کفاراتو نه يو هم ) نو روژه نيول د دريو ورځو دي.

**د استدلال وجه:**

نوامام کاساني رحمه الله فرمائي: نو څوک چې ونه مومي يو له دغو دريو څخه، نو ده باندې لازم دي روژه نيول، او لازم نه دي روژه نيول سره د قدرت نه په يو د دغو دريو[8] ځکه چې صوم خلف دی د هغه دريو کفاراتو او قدرت په اصل منع کوي مصير خلف ته.

۳- همدارنگه استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره په هغه حديث چې روايت شوی د رسول الله صلي الله عليه وسلم چې هغه صلي الله عيه وسلم فرمايلي: (التيمم وضوء المسلم ولو اليعشر حجج مالم يجد الماء او يحدث ) [9] ژباړه: تيمم اودس د مسلمان دی اگر که تر لسو کلونو وي ترهغې چې اوبه يې موندلي نه وي او يا بې اودسه شوی نه وي.

---

[1]: الكاساني ، بدائع الصنائع ٣ / ٢٥٢

[2]: الكاساني ، بدائع الصنائع ٣ / ٢٢٦

[3]: دمائدي سورت ١۶ ايت

[4]: الكاساني ، بدائع الصنائع ١ / ۵۶

[5]: الكاساني ، بدائع الصنائع ١/ ۵٧

[6]: الكاساني ، بدائع الصنائع ١/ ۵٧

[7]: دمائدي سورت ٨٩ ايت

[8]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ٩٧

[9]: اخرجه ابوداود في سننه – كتاب الطهارة باب الجنب يتيمم ج ١ / ١٢٩ شماره ٣٣٢ علامه الباني ورته صحيح ويلي دي – صحيح ابي دا ود ج ٢/ ١۴٩ تحقيق علامه الباني – واخرجه الترمزي في سننه في ابواب الطهارة باب التيمم للجنب اذ لم يجد الماء ج ١ / ٢١١ شماره ١٢۴ او ويلي يې دي هذا حديث حسن صحيح .

**د استدلال وجه:**

امام کاساني رحمه الله فرمایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم تیمم یې اودس د مسلمان ګرځولی تر وخت د وجود د اوبو یا بی اودسی پورې، او هر هغه شی چې محدود تر یو غایې پورې وي هغه منتهي کیږي په وخت د وجود د غایې، او نشته دی وجود د یوشي لره سره د وجود د هغه شي چې منتهی کیږي وجود د ده سره وجود د هغه، او رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي چې خاوره پاکي یا طهارت د مسلمان دی ترهغې چې اوبه یې پیدا کړی نه وي او یا بي اودسه شوی نه وي ځکه چې دا بدل ده او وجود مبدل منع کوي مصیر بدل ته [1].

**۳- اجماع:** نشته دی خلاف په منځ د علماؤ کې په عمل کولو کې په دې قاعدې باندې، او په تحقیق سره ذکر کړي امام کاسانې رحمه الله اجماع په مشروعیت د تیمم باندې چې فرمایی: (وعلیه اجماع الامة ) [2] او معلومه ده چې تیمم بدل د اودس دی په وخت د متعذر کیدو د اوبو.

**تطبیقي بیلګې:**

۱- د شرائطو د رجوع په نقصان د عیب څخه یو شرط امتناع او متعذر کیدل د رد دي، نو نه ثابتیږي حق د رجوع په نقصان د عیب سره د امکان د رد د مبیع، که پیدا کړو مشتري عیب په مبیع کې او ده اراده وکړه چې مبیع ځان سره وساتي سره د دې چې امکان د رد کولو وي، اوغواړي چې رجوع په نقصان دعیب وکړي. مشتري دا حق نه لري، ځکه چې رجوع په نقصان دعیب دا خلف یا عوض دی د رد او قدرت په اصل باندې منع کوي مصیر خلف ته [3]

۲- کله چې مدعي ووایي: زما لپاره شاهدان دي حاضر، او بیا اراده وکړي چې قسم ورکړي مدعي علیه ته په نزد د امام ابوحنیفه رحمه الله مدعي دا حق نه لري او په نزد د صاحبینو دا حق لري، وجه د قول د امام ابوحنیفه رحمه الله دا ده: بینه چې د مدعي حجت دی دا اصل دی، ځکه چې دا کلام د غیر د خصم دی، او قسم دا خلف د بینه دی ځکه چې هغه کلام خصم دی، نو همدې لپاره که مدعي بینه قائم کړل بیا یې اراده د قسم ورکولو مدعي علیه ته وکړه، دا حق دې نه لري ځکه چې قدرت په اصل منع کوي مصیر خلف ته [4]

۳- کله چې وتښتي ګډ په صحرا کې نو حلالول د هغه زخمي کول د هغه دي ځکه چې خاوند یې نه قادریږي په هغه باندې، او که په ښار کې وتښتي بیا جائز نه دي زخمي کول د هغه، ځکه چې ممکن دي نیول د هغه، ځکه چې ګډ د فاع نشي کولی د خپل ځان څخه، نو ده ذبح د هغه مقدورعلیها، نوجائز نه دي زخمي کول ځکه چې زخمي کول خلف یا بدل دي د ذبح، او قدرت په اصل منع کوي مصیرخلف ته. [5]

۴- په باب د کفاراتو کې امام کاساني رحمه الله فرمایی: که چا باندی واجب شي ازادول د غلام او یا یو د دریو څیزونو څخه ( چې – اطعام – کسوة – یا تحریر ) دي، او دې مالداره وو او بیا غریب شو نو د دې روژه نیول صحیح دي ځکه چې په اصل قدرت نه لري نو رجوع به بدل ته کوي، او که یو نفر

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۱ / ۴۶

[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۱/ ۴۴

[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۸۹

[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶/ ۲۲۶

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵/ ۴۳

غريب وي بيا مالدارشي نو نه صحيح کيږي روژه د هغه، ځکه چې دا ډير ښه قادر دی په اصل باندې، او جائز نه دي مصير بدل ته سره د قدرت نه په مبدل. [1]
۵- شرط د وجود د فديې داسې عاجزه کيدل د قضاء د روژې څخه دي چې امید د قدرت په قضاء باندې نه وي، او هغه دوام داره عجز دی، او دا ځکه چې فديه خلف د قضاء ده او قدرت په اصل باندې منع کوي مصير خلف ته. [2]
۶- شرط د واجد کيدو د تاوان يا ضمان – ضمان د مثل يا د قيمت عاجز کيدل د غاصب دي د رد د عين د مغصوب څخه، نو ترڅو چې قادر وي په رد د عين په هغه شکل چې ده اخستی وو نو نه واجبيږي په ده باندې ضمان، ځکه چې اصلي حکم په غصب کې رد د عين د مغصوبې دی ځکه چې په رد سره عين حق يې ورته رد کيږي او په ده سره ضرر د هغه څخه دفع کيږي من کل وجه، او ضمان چې دی خلف دی د رد د عين څخه او رجوع خلف ته کيږي په وخت د عاجز کيدو کې د اصل څخه.[3]

**دويم مطلب: د ( الحرمة الثابتة حقا للشرع لا تسقط برضا العبد )[4] د قاعدې زده کړه.**
هغه حرمت چې ثابت وي په حيث د حق د شريعت ، نه ساقطيږي په رضا د بنده.

**د قاعدې نور الفاظ:**
دا قاعده امام کاساني رحمه الله او نور فقهاؤ په لاندې عباراتو هم ذکر کړی ده .
۱- ما ثبت حقا الله تعاليفالعبد لا يملک التصرف فيه اسقاطا مقصودا.[5]
۲- حق الله لايسقط باسقاط العبد. [6]

**د مفرداتوڅيرنه:**
الحرمة – الثابة – الإسقاط – معنی مخکې قواعدو کې ذکر شوې ده.
الحق: مصدر دی د حق يحق حقا څخه دی جمع يې حقوق راځي – په لغت کې په معني د ثبوت، وجوب، صحت، ضد د باطل. او د معنا ګانو د حق څخه، نصيب، يقين، هغه ثابت شی چې انکار يې جائز نه وي، صدق [7] او د الله تعالی د نومونو څخه يو نوم دی، همدا رنګه قرآن کريم ته حق ويل کيږي او په معنی د عدالت [8].

---

[1]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۹۸
[2]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۲ / ۱۰۵
[3]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۷ / ۱۵۱
[4]: الكاساني / بدائع الصنائع ۵ / ۲۸۹
[5]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۹۷
[6]: ابن امير الحاج موسي بن محمد التبريزي الحنفي – التقرير والتحبير في علم الاصول – خپروونکي دار الفکر بيروت لومړي چاپ کال ۱۴۱۷ هـ ج ۲ / ۱۴۸
[7]: الجرجاني ، التعريفات ۱/ ۱۲۰
[8]: فيروزآبادي ، القاموس المحيط ۱ / ۱۱۳۹ فصل الحاء

او په اصطلاح کې: دوه معنا ګاني لري ۱- ( الحکم المطابق للواقع ) [1] ژباړه: هغه حکم چې مطابق د واقعت وي. نوحق د دې معنی په اعتبار اطلاق یې په اقوالو، عقایدو، مذاهبو هم کیږي او په مقابل کې یې باطل راځي.[2]

۲- دویمه اصطلاحي معني (الواجب الثابت )[3] ژباړه: هغه واجب او ثابت شی.

حق په اعتبار د دې معني په دوه ډوله دی.۱- حق لله. ۲- حق العباد

د حق الله تعریف: ( حق الله تعالی امره ونهیه وما لا یسقط باسقاط العبد ) [4] ژباړه: حق د الله عبارت دی د امر او نهي د الله او هغه څه چې نه ساقطیږي په ساقطولو د بنده سره.

دویم تعریف: ( ما یتعلق بهِ نفع العام للعالم من غیر اختصاص باحد و ینسب الی الله تعالی تعظیماً )[5] ژباړه: هغه څه چې هغې پورې تړاو لري عمومي نفع د عالم نو خاص نه دی تر یو چا پورې او نسبت الله تعالی ته کیږي لپاره د تعظیم. لکه: حدود، زکات، کفارات او داسې نور.

د حق العبد تعریف: ( هو ما یتعلق به مصلحة خاصة له کحرمة ماله ) [6] ژباړه: دا هغه څه دي چې تړاو لري د هغه سره خاص مصلحت د انسان لکه حرمت د مال د انسان. او په قاعده کې د حق څخه حق الله مراد دی.

مقصودا: صیغه د اسم مفعول ده د قصد یقصد قصدا څخه د چا طرف ته تللو ته ، ویل کیږي – قصد الیه – د هغه طرف ته لاړو، میانه روي کول، عدالت، [7].

په اصطلاح کې: ( الغایة التي یریدها المتصرف ) [8] ژباړه: هغه هدف چې متصرف د هغې اراده لري.

**د قاعدې معنی:** هغه حرمت چې ثابت وي په حیث د حق د شریعت یعنی حق د الله تعالی هغه نه ساقطیږي په رضایت د بنده یعنی کوم شی چې په حیث د حقوق الله حرام وي هغه د بنده په رضایت او یا په اسقاط سره نه ساقطیږي، او نه بنده د دې حق لري.

**د قاعدې دلیل:**

امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره د کتاب الله او سنت څخه کوم دلیل نه دی ذکر کړی. لکن کولی شو چې په دې حدیث شریف استدلال وکړو:

۱- سنت: ( عن عائشه رضي الله عنها: ان قریشا اهمتهم المراة المخزومیة التي سرقت فقالوا: من یکلم رسول الله صلي الله علیه وسلم، ومن یجترئُ علیه الا اسامة بن زید، حب رسول الله صلي الله علیه وسلم، فکلم رسول الله صلي الله علیه وسلم فقال: اتشفع في حد من حدود الله، ثم قام فخطب قال: یاایها الناس انما ضل من قبلکم انهم کانوا اذا سرق الشریف ترکوه، و اذا سرق الضعیف اقاموا علیه الحد و ایم الله، لو ان فاطمة بنت محمد صلي الله علیه وسلم سرقت لقطع محمد یدها ) [9] ژباړه: د عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی چې قریشو لره پریشانه کړل یوې ښځې د بني مخزوم له ( قبیلې) څخه هغه ښځه چې غلا یې

---

[1]: موسوعة الفقهیه الکویتیه ۱۸ / ۷

[2]: موسوعة الفقهیه الکویتیه ۱۸ / ۷

[3]: موسوعة الفقهیه الکویتیه ۱۸ / ۷

[4]: القرافي ، الفروق ۱ / ۲۵۶

[5]: علاء الدین البخاري ، کشف الاسرارعن اصول البزاوي ۴/ ۱۹۵

[6]: موسوعة الفقهیه الکویتیه ۱۸ / ۸

[7]: ابن منظور ، لسان العرب ۳ / ۳۵۳

[8]: قلعه جی ، معجم لغة الفقها ء ۲ / ۵۲

[9]: اخرجه البخاري في صحیحه کتاب الحدود باب اقامة الحدود علي الشریف والوضیع ج ۸ / ۱۶۰ شماره ۶۷۸۸

کړې وه: نو وويل دوی چې څوک به خبری وکړي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره او څوک به د دې جرئت وکړي بغير د اسامه بن زيد رضي الله عنه چې محبوب د رسول الله صلي الله عليه وسلم دی نو هغه خبرې وکړی د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره پس وفرمايل رسول الله صلي الله عليه وسلم: ايا ته سفارش کوی په يو حد کې د حدودو د الله تعالی څخه بيا پاڅيده رسول الله صلي الله عليه وسلم او خطبه يې وويله ! او ويې فرمايل: په تحقيق سره گمراه شول هغه کسان چې له ستاسو نه مخکې وو، دوې وو چې کله به شريف سړي غلا وکړه هغه به يې پريښودو، او کله به ضعيف سړي غلا وکړه نوهغه باندې به يې حد قائمولو، او قسم په الله که فاطمه بنت محمد صلي الله عليه وسلم غلا وکړي نو قطع به کړي محمد صلي الله عليه وسلم لاس د هغې.

**د استدلال وجه:**

دې حديث نه صراحتاً معلوميږي چې هيڅ څوک حق نه لري چې د الله تعالی د حقوقو د ساقطولو کوشش وکړي – او بنده نه شي کولای چې د الله تعالی حق ساقط کړي.

**تطبيقي بيلگې:**

۱- د شرائطو د رجوع په نقصان د عيب څخه يو هم دا شرط دی چې امتناع د رد د مشتري له طرفه نه وي، او که امتناع د رد د مشتري له طرفه وي بيا حق د رد نه لري ځکه چې دا حابس يا حصاروونکی د مبيع گرځي په خپل فعل سره او دا لازموي بطلان د حق د رجوع. اوس که پيدا شي په مبيع کې داسې زيادت چې مانع د رد وي لکه: ولد – ثمر – وغيره نو رجوع به په نقصان د عيب کوي ځکه چې په دې صورت کې رد منع دی او دا امتناع د رد له طرفه د مشتري نه ده، اوس رجوع په نقصان د عيب ونکړي بلکه مبيع بغير د زيادت څخه رد کړي، نو باقي پاتې کيږي زيادت په حيث د مقصودي مبيع بغير د ثمن څخه او همدا تفسير د ربا دی په عرف د شرع کې او حرمت د ربا ثابت دی حقا للشرع، نوهمدې لپاره که راضي شي عاقدين په رد ( د مبيع بغير د زيادت څخه ) نو فيصله به د رد نه کيږي ځکه چې حرمت ثابته حقاً للشرع نه ساقطيږي په رضايت د بنده.[1]

۲- که چا وپلورلو يو دينار په لسو درهمو، او درهم يې قبض نه کړل او په هغې باندې يې جامه يا لباس واخست، نو بيع په لباس کې فاسده ده ځکه چې قبض د لسو درهمو لازم دی حقا للشرع، نو نه ساقطيږي په ساقطولو دعاقدينو، او بيع صرف په حال ده نو قبض کوي به بدل د صرف د خپل مقابل عاقد څخه [2].

۳- حرة يا اصيله ښځه به د عدت په جريان کې په اذن د خاوند او بغير د اذن د خاوند څخه به د خاوند له کوره نه ووځي ځکه چې عدت په اصيله مسلمانه ښځه لکه څنگه چې واجب دی حقا للزوج همدارنگه واجب دی حقا لله او د الله حق نه ساقطيږي په اذن د زوج باندی [3].

۴- په دې قول د الله تعالی چې فرمايي (فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا)[4]

ژباړه: نو (شته پر قاتل ) ازادول د غاړې ( د مريي ) مؤمن او (بل) ديت دی سپارلې شوې اهل (وارثانو) د مقتول ته مگر دا که معاف کړي دا (وارثان د هغه قاتل) .

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۲۸۹

[2]: ابن نجيم ، بحرالرائق شرح کنزالدقائق ۶ / ۲۱۱

[3]: الصدر الشهيد المحيط البرهاني ۴ / ۸۷

[4]: دالنساء سورت ۹۲ ايت

استثناء راجع ده آخري حکم ته چې دیت دی، ځکه چې دیت حق د انسان دی نو ساقطیږي په عفوه د انسان،او تحریر د رقبې حق د الله دی نو نه ساقطیږي په عفو کولو سره له طرفه د انسان [1].
٥- همدارنګه که صلح وکړي د حد قذف لکه دا چې قذف وکړي د يو سړي، بيا صلح وکړي د هغه سره په مال باندې په دې شرط چې عفو به کوي له ده څخه دا صلح صحيح نه ده، ځکه چې اګر که په دې کې حق د بنده هم شته لکن حق د الله په کې غالب دی او حق د بنده مغلوب دی او مغلوب ملحق بالعدم دی شرعا نو شو حد قذف په حکم د حقوق محضه د الله تعالی او دا بیا احتمال د صلح نه لري [2].
٦- اصل دا دی چې هرهغه شی چې خيار شرط او خيارعيب باطلوي هغه خياررؤيت هم باطلوي لکن دومره ده چې خيارعيب او خيارشرط په صريح اسقاط سره ساقطيږي، او خيار رؤيت نه ساقطيږي په صريح اسقاط سره نه مخکې له رؤيت څخه او نه وروسته له رؤيت څخه، مخکې له رؤيت څخه ځکه نه ساقطيږي چې په دې وخت کې خيار رؤيت ثابت نه وي، په دې دليل چې د خيار رؤيت ثبوت په وخت د ليدو د مبيع کې وي او اسقاط د يو شي مخکې له ثبوت او سبب د هغه څخه محال دی. او وروسته له رؤيت څخه ځکه نه ساقطيږي ځکه چې خيار رؤيت نه دی ثابت شوی په شرط کولو د عاقدينو څخه ځکه چې عقد مطلق دی د خيار رؤيت د اشتراط څخه هم صراحتاً او هم دلالتا – او دا ثابت شوي شرعا نو ثابت دي په حيث د حق الله عز و جل [3] او حق د الله په اسقاط د بنده سره نه ساقطيږي.

**دريم مطلب: د ( الأصل في الآدمي عدم الملك والمالية )[4] د قاعدې زده کړه.**

اصل په بني آدم کې عدم د ملک او ماليت دي.

**د قاعدې نوالفاظ:**

دا قاعده امام کاساني رحمه الله او نور فقهاؤ دا قاعده په لاندې عباراتو هم ذکر کړی ده .

١- الأصل في بني آدم الحرية .[5]
٢- الأصل في بني آدم هو الحرية .[6]
٣- الأصل هو الحرية في بني آدم .[7]
٤- الأصل في الآدمي ان يكون هوالمالك للمال لان يكون هوالمال .[8]

**د مفرداتو څيړنه:**

الأصل: معنی يې مخکې ذکرشوی – او قاعده کې مراد د اصل څخه راجح دی.
الادمي: نه مراد انسان دی چې نسبت يې آدم عليه السلام ته شوی ځکه چې د هغه اولاد دی.او فقهاء هم په دې معنی استعمالوي، او د دې مرادف الفاظ، انسان، شخص، او بشر دی [1].

---

1: الزركشی ، المحيط البرهاني في اصول الفقه ٣ /١٨٢
2: الكاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ۴۸
3: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ٢٩٧
4: الكاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ٢٩٠
5: الكاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ١٢۶
6: الكاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ٢٧٠
7: الكاساني ، بدائع الصنائع ۶/ ١٩٧
8: المؤلف : الرئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد ، مجلة البحوث الاسلامية ٧۶/ ٣۵٢

الملك: د دې کلیمې معنی مخکې ذکر شوی ده.
المالیة: منسوب مال ته په لغت کې اسم دی د هرهغه څیز چې انسان د هغې مالک کیږي [2].
او په اصطلاح کې: ( المداد بالمال ما یمیل الیه الطبع، و یمکن ادخاره لوقت الحاجة ) [3] ژباړه: مراد د مال څخه هر هغه شی دی چې طبعیت ورته میلان کوي او ذخیره کول یې د وخت د حاجت لپاره ممکن وي.
الحریة: ابن فارس رحمه الله وایي: الحاء والراء دوه اصله دي ۱- په معنی خلاف د عبودیت او برائت د نقص او عیب څخه. ۲- خلاف البرد یعنی ګرمي. [4] قاعده کې اوله معنی مراد ده. امام کاساني رحمه الله فرمایي: الحریة په لغت کې په معنی: الخلوص – خالص والی – ویل کیږي (طین حر ) ای خالص یعنی خالصه خټه، (ارض حر) اذا لم یکن علیها خراج – هغه ځمکه چې په هغې خراج نه وي [5]
په اصطلاح کې: امام کاساني رحمه الله فرمایي: چې الحریة په عرف د شریعت کې په معنی د: (الخلوص عن الملك والرق ) [6] ژباړه: خالص والې د مملکت او غلامۍ څخه.

**د قاعدې معنی:**

قاعده دا افاده کوي چې اصل یا راجح په بني آدم کې عدم د مملوکیت او غلامي دی، یعنی بني آدم په اصل کې اصیل ازاد دی، مملوکیت یا غلامي وربانده عرضي او طاري امر دی، برابره خبره ده چې دا بني آدم مزکر وي که مؤنث، صغیر وي او که کبیر، مسلمان وي او که کافر – نه به پلورل کیږي او نه به پیرودل کیږي دا اصل دی او غلامي خلاف د اصل دی ځکه چې هغه عرضي شی دی.

**د قاعدې دلیل:**

استدلال کړی امام کاساني رحمه الله [7] د دې قاعدې لپاره په هغه اثر چې روایت شوی د حضرت عمر او حضرت علي رضي الله عنهما څخه چې ( انهما حکما بکون اللقیط حرا ) [8] ژباړه: په تحقیق سره دې دواړو حکم کړی په حریت د لقیط. (لقیط هغه ماشوم ته ویل کیږي چې په لاره غورځول شوی وي مور او پلار یې نه وي معلوم )[9] فیصله د دواړو خلفاء رضي الله عنهما دلالت په دې کوي چې اصل په بني آدم کې حریت دی.

**معقول:**

امام کاساني رحمه الله فرمایي: خلک ټول د سیدنا ادم علیه السلام او حواء علیها السلام اولاده ده، او دا دواړه خو اصیل یا حر وو نو د هغوی څخه چې څوک پیدا شوي هغوی هم آزاد او اصیل دي، او پیدا شوي په بعض بني آدمانو کې رق یا غلامي په حکم د شریعت د یو عارضي سبب په خاطر چې هغه کفر

---

1: موسوعة الفقهیة الکویتیه ۱ / ۹
2: قلعه جی ، معجم لغة الفقهاء ۱ / ۴۸۰
3: ابن عابدین ، رد المختار علي درالمختار ۴/ ۳
4: ابن فارس ، معجم المقاییس اللغة ۱ / ۲۲۳ ماده حر
5: الکاساني ، بدائع الصنائع ۴ / ۹۸
6: الکاساني ، بدائع الصنائع ۹۸/۴
7: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ۱۹۷
8: دا اثر امام بیهقي په خپل السنن الکبري ، کتاب اللقطة باب من قال ان اللقیط حر لا ولاء علیه ، السنن الکبري ج ۶ / ۳۳۶ شماره ۱۲۱۳۵
9: موسوعة الفقهیه الکویتیه ۳۵ / ۳۱۰

دی چې باعث د جنګ دی – نو لازم دی عمل په اصل باندې تر هغې چې قائم شي دليل په وجود د عارض باندې [1].

**تطبيقي بيلګې:**

١- او که مشتري خپل غلام آزاد کړو بغير د مال نه يعني په عوض کې يې مال وانخيست او بيا يې په کي عيب پيدا کړو، نو قياس دا تقاضا کوي چې رجوع په نقصان د عيب به نه کوي او استحسان دا تقاضاء کوي چې رجوع به کوي. وجه د قياس دا ده چې رد منع شوی دی په فعل د مشتري چې هغه اعتاق دی نو مشابه شو د بيع او کتابت سره.

او وجه د استحسان دا ده: چې متعذر والي د رد دلته له طرفه د مشتري نه دی، ځکه چې اعتاق ازاله د ملک نه ده بلکې اعتاق سره ملک ختميږي يا منتهي کيږي او دا په دې دليل چې اصل په بني آدم کې عدم د ملک او ماليت دی ځکه چې ټول خلک د آدم او حوا عليهما السلام اولاد دي، آدم او حواء عليهما السلام خو حرين يا آزاد او اصيل دي نو اولاده يې هم ازاد او اصيل دي، مګر دا چې شريعت په بعض خلکو مملوکيت او ماليت راوستی مؤقتاً له وجهې د يوعارضي سبب چې هغه کفر دی تر اعتاق پورې، او هر مؤقت تر يو غايې پورې منتهي کيږي په وخت د وجود د غايې، نو منتهي کيږي ملک او ماليت په اعتاق سره لکه څنګه چې منتهي کيږي په موت سره نو ثابته شوه اعتاق حبس د مبيع نه (چې رجوع په نقصان د عيب منع کړی ) دی لکه بيع [2].

٢- که دعوه وکړه يو نفر چې لقيط د ده ځوی دی، او بل دعوه وکړه چې لقيط د ده غلام دی، نو فيصله به د هغه چا په حق کيږي چې دعوه د ځوی واليکوي ځکه چې دا په اصل کې دعوه د حريت کوي او هغه بل دعوه د رقت غلامي کوي، نو شاهدان د حريت قوي دي ځکه چې د هغوی سره اصل هم ملګری دی، هغه دا چې اصل په بني ادم کې حريت دی [3].

٣- شرط نه دی لپاره د قبض کولو د موهوب حريت، نو جائز دي هغه غلام لپاره چې منع شوی دی له تجارت څخه قبض د هغه څه چې ديته بخشش کړې شي، ځکه چې قبض د حقوقو د عقد څخه دي، او عقد واقع شوی لپاره د غلام، نوقبض هم د ده کار دی، ځکه چې اصل په بني ادم کې حريت دی او رق عارضي دی [4].

٤- که چا دعوی وکړه په يو لوی هلک باندې چې دا زما غلام دی، او هلک وويل چې اصيل يم نو قول، قول د هلک معتبر دی ځکه چې هغه متمسک په اصل دی [5].

٥- کله چې څوک قتل کړي يو شخص او بيا دعوه وکړي چې دا غلام وو، او انکار وکړي اولياء د مقتول نو قول، قول د اولياؤ معتبر دی ځکه چې حريت اصل دی [6].

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٢٩٠/٥

[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ٢٩٠/٥

[3]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ٢۴٥

[4]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ١٢۶

[5]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۶ / ١١٥

[6]: ابن قدامه المقدسي ، الکافي في فقه الحنبلي ۴ / ۴٨

**څلورم مطلب: د (حکم التبع حکم الأصل )[1] د قاعدې زده کړه.**

تابع لره حکم د اصل یا د متبوع دی

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاساني رحمه الله او نورو فقهاؤ په لاندې عباراتو هم ذکر کړی ده .

١- الحکم فی التبع یثبت بعلة الأصل .[2]

٢- ثبوت الحکم فی التبع بثبوته فی الأصل .[3]

٣- ثبوت الحکم فی التبع بثبوته في المتبوع .[4]

۴- حکم التبع لا یخالف حکم المتبوع .[5]

**د مفرداتو څیرنه:**

د الحکم – التبع – الثبوت د دې کلماتو لغوي او اصطلاحي تعریفونه مخکې بیان شوي دي.

**د قاعدې معنې:** قاعده دا افاده کوي چې کله یو شی د بل شي تابع وي، نو دا ملحق کیږي د متبوع سره په حکم کې، او ده باندې یواځې حکم نه کیږي او نه مقصود بالعقد وي. او مراد تبع نه په قاعده کې هغه شی دی چې جز د بل شي وي، لکه عضوه د یو حیوان، او یا ښاخونه د ونو، او یا په مثل د جز وي په پیدائشي اتصال کې او قابل د انفصال وي لکه جنین او یا د ضروریاتو د یو شي څخه وي لکه کِلي (مفتاح ) د قفل لپاره او لاره (طریق ) د کور لپاره [6].

**د قاعدې دلیل:**

استدلال کړی امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې لپاره په لاندی دلائلو:

١- سنت : قول د نبي علیه السلام دی چې فرمایی ( ذکاة الجنین ذکاة امه )[7] ژباړه: حلاله د جنین حلاله د مور د هغه ده.

**د استدلال وجه:**

امام کاساني رحمه الله فرمایی: ملحق کړی نبي علیه السلام جنین لره د مورسره د حیث د حلالې نه، هغه دا چې مور یې حلاله شي نو ګویا چې د دې حلاله هم حاصله شوه، نو که خارج شو مړ، وروسته د حلالې د مور د هغې نو دا به خوړل کیږي، څکه چې دا تابع د خپل مور دي، دا قول د امام ابویوسف او امام محمد رحمهم الله دی، لکن امام ابوحنیفه رحمه الله او امام زفر او امام حسن بن زیاد رحمهم الله فرمایی – نه به خوړل کیږي کله چې خارج شي جنین مړ اګر که کامل الخلقت وي [8].

٢- اجماع: په تحقیق سره اجماع کړې علماؤ په عمل باندې په دې قاعدې باندې په داسې ډول چې ټول اتفاق لرې په دې باندې چې داخل دي په بیع د دار کی څمکه او ټوله ابادي تر حمامه پورې. او نقل کړی

---

[1]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵

[2]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۱ / ۱۰۱

[3]: السرخسی ، المبسوط ۸ / ۳۹

[4]: السرخسي ، المبسوط ۷ / ۱۹۰

[5]: الصدر الشهید ، المحیط البرهاني ۹ / ۶۸۰

[6]: علی حیدر ، در رالحکام شرح مجلة الاحکام ۱ / ۲۰۹ - ۲۳۰ - ۲۳۳

[7]: اخرجه الترمذي في سننه کتاب الاطعمة ، باب ماجاء في ذکاة الجنین ج ۴ / ۷۲ شماره ۱۴۷۶ – امام ترمذي رحمه الله فرمائلي : هذا حدیث حسن صحیح . واخرجه الحاکم في المستدرک . کتاب الاطعمة ج ۴/ ۱۱۵ شماره دحدیث : ۷۱۰۹ او ویلي دي هذا حدیث صحیح ولم یخرجاه

[8]: الکاساني ، بدائع الصنائع ۵ / ۴۲

ابن منذر[1] رحمه الله اجماع په دې باندې چې جنين كله خارج شي مړ حلاله د هغه حلاله د مور د هغه ده[2].

**معقول:**

تابع متصل وي د متبوع په خلقت كې لكه جنين چې تغذيه كيږي په غذا د مور نو ده حلاله د ده لكه حلاله د يو اندام د هغه – او تابع وي په حكم هم لكه دا چې جنين پلورل كيږي په پلورلو د اصل او ازاديږي په ازاديدو د اصل ( او حكم په تبع كې ثابتيږي په علت د اصل، نو شرط نه دى دې لپاره علاحده علت ځكه چې تبع بيا اصل گرځي [3].

**تطبيقي بيلگې:**

١- كه مشتري بعض مبيع وليده او بعض يې و نه ليده نو دا به خالينه وي يا به مبيع يو شى وي او يا به اشياء كثيره، كه يو شى وو بيا به خالينه وي يا به ليدل شوې برخه مقصودي وي او هغه بله برخه به تابع وي او يا به دواړه مقصودي وي او كه وي هغه برخه چې نه ده ليدل شوې تابع د هغې برخې چې ليدل شوې نو نشته ده لره خيار رؤيت برابره خبره ده چې ليدل د دې برخې سبب د علم په هغه برخه كيږي او كه نه، ځكه چې حكم د تبع حكم د اصل دى. نو ليدل د اصل لكه ليدل د تبع دي مثلا: كه چا غلام يا وينځه وپيرودله او د هغې مخ يې وليد بغير د نورو اندامونو څخه نو نشته خيار رؤيت ده لره اگر كه ليدل د مخ مفيد د علم په نور اندامونو نه دي ځكه چې مخ اصل دى په ليدو كې په بني ادم كې او نور ټول اندامونه تابع دي د مخ په ليدلو كې او كه نور اندامونه يې وليدل او مخ يې و نه ليدو نو ده لره خيار شته دى ځكه چې ليدل د تبع ليدل د اصل نه وي گويا چې دې هيڅ شى نه دى ليدلى [4].

٢- مالک كيږي شفيع په شفع سره د هغه څه چې مشتري مالک شوى په شراء سره برابره خبره ده چې اصلا مالک شوى وي او يا تبعا، كله چې متصل وي په وخت د تملك په شفع سره دا لكه: نهال، بناء، زرع، ثمر... ځكه چې حق كله ثابت شي عقار كې نو ثابتيږي په هغه څه كې چې هغه تابع د عقار وي ځكه چې حكم د تبع حكم د اصل دى [5]

٣- او معتبر په نيت كې نيت د اصل دى تر دې چې گرځي غلام مسافر په نيت د مولا خپل او ښځه په نيت د خاوند خپل ځكه چې حكم د تبع، حكم د اصل دى [6].

۴- كه چيرته معتادة ښځه وينه ويني په ورځو د عادت خپل كې او وروسته له هغه څخه لكن تجاوز ونكړي د لسو ورځو څخه، نو دا ټول حيض حسابيږي ځكه چې وروسته دعادت د ورځو څخه دا تابع د عادت د ورځو دي، او صحيح ده اثبات د تبع وروسته له اثبات اصل څخه [7].

---

[1]: محمد بن ابراهيم بن منذرالنيشاپوري – دي محدث – فقيه – حافظ – زاهد – دشوافعودفقهاء له جملې څخه دي له تاليفاتودجملې څخه يې : الاشراف في معرفة الخلاف – الاوسط في السنن ، والاجماع – والاختلاف – الاقناع – اوپه كال ٣١٨هـ په مكه كې وفات شوي – طبقات الشافعية الكبرائ ٣ / ١٠٢ – سيراعلام النبلاء ١۴/ ۴٩٠ .

[2]: ابن قدامه ، المغني. ١١ / ٥٢

[3]: الكاساني ، بدائع الصنائع ۴ / ١٥٩

[4]: الكاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٩٣

[5]: الكاساني ، بدائع الصنائع ٥ / ٢٨

[6]: الكاساني ، بدائع الصنائع ١/ ٩۴

[7]: السرخسى ، المبسوط ٣ / ٣٣٢

**پنځم مطلب: د ( الشي قد يثبت ضمنا لغيره وان كان لا يثبت مقصودا)[1] د قاعدې زده کړه.**

يو شی كله په ضمن د غير کې ثابتيږي اګر که مقصودا نه ثابتيږي.

**د قاعدې نورالفاظ:**

دا قاعده امام كاساني رحمه الله او نورو فقهاؤ په لاندې عباراتو هم ذکر کړی ده .

١- قد يثبت بمقتضي الشئ ما لا يثبت به مقصودا .[2]

٢- الشي قد يثبت ضمنا وان لم يثبت ابتداء .[3]

٣- الشي قد يثبت ضمناً وان لم يثبت صريحا .[4]

۴- الشي قد يثبت تبعا وان كان لا يثبت مقصودا .[5]

۵- الشي قد يثبت من الحكم تبعا ما لا يثبت مقصودا .[6]

**د مفرداتو څيرنه:**

الثبوت: معنی مخکې ذکرشوې ده.

ضمنا: ابن فارس رحمه الله وايی: الضاد والميم والنون يو صحيح اصل دی په معني د – جعل الشي في شئ يحويه يعني – ځايول د يوشئ په بل شي کې چې هغه ورباندی مشتمل وي. لغوي او اصطلاحي معنی يو شی ده مقصودا معنی مخکې ذکر شوې ده.

**د قاعدې معني:**

قاعده دا افاده کوي كله چې د يو شي په حالت د انفراد کې يو خاص حكم وي، او لازم وي په هغې کې ټول شرعي مطلوب شرطونه، ځکه چې دا مقصود بالذات وي لکن كله چې همدا شی شريک او يا ګډ شي د بل شي سره او د هغه تابع و ګرځي نو بيا تساهل او تسامح كيږي په پوره واليد بعضی شرطونو کې، ځکه چې دا تابع د غير وي او حکم د متبوع اخلي [7] يعني كله چی په يو شي باندې استقلالا او قصدا يو حكم نه كيږي، لکن د طبعيت په اساس همدا حكم وربانديې مرتب كيږي ، ځکه چې هغه تابع وي او په حكم کې هم مستقل نه ګڼل كيږي.

**د قاعدې دليل:**

د دې قاعدې د اثبات لپاره په لاندې احاديثو استدلال كولې شو:

١ـ سنت: قوله صلی الله عليه وسلم:(ذكاة الجنين ذكاة امه)[8] ژباړه: ذبح د جنين ذبح د مور د هغه ده .

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع ج۵ ص۲۹۶

[2]: الكاساني، بدائع الصنائع ٢ / ٨٢

[3]: ابن حجر ، العنا يه شرح الهدايه ٣ / ٢٧۶

[4]: ابن حجر ، العنايه شرح الهدايه ۵ / ٩٠

[5]: الصدر الشهيد ، المحيط البرهاني ٢ / ٢٣٧

[6]: ابن الهمام ، فتح القدير ١۴ / ٩١

[7]: البورنو، الوجيز في ايضاح القواعد الفقة الكلية، ج٢ص١٢٣

[8]: د دې حديث تخريج مخکې صفحه ذکر شوی دی.

**د استدلال وجه:**

جنین چې کله مړ خارج شي مخکې د هغه د مور د ذبح کولو څخه، نو دا حرام دي لکن که مړ خارج شو وروسته د ذبح کیدو د مور د هغې ، نو دا به حلال وي لکه ذبح شوی حیوان ، ځکه چې په دې صورت کې دا تابع د مور ګڼل کیږي . یعنې استقلالا په جنین حکم د حلالوالیونه شو لکن تبعا وشو، او د قاعدې مطلب هم همدا دی.

۲ـ سنت: د عمربن خطاب رضی الله عنه څخه روایت دی چې هغه و فرمایل: ( نهی النبي صلی الله علیه وسلم عن لبس الحریر إلا موضع إصبعین او ثلاث أصابع أو أربع)[1] ژباړه: منع کړې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اغوستلو د وریښمو څخه مګر په اندازه د دوه ګوتو یا درې ګوتو او یا څلور ګوتو.

**د استدلال وجه:**

نبي علیه السلام اجازه کړې په دې مقدار استعمالولو د وریښمو ، کله چې وي په اطرافو د جامو ، یا خولې، او یا لنګې کې ، ځکه چې دومره اندازه استعمالوونکي ته لابس الحریر نه ویل کیږي، ځکه چې دومره اندازه تابع د غیر دی، ا و دا هغه خبره ده چې دلالت کوي په دې باندې چې یو شی کله ضمنًا ثابتیږي اګر که مستقلا او قصدا نه ثابتیږي، نو ځکه امام کاساني رحمه الله فرمایی: کله چې وریښم لږ وي لکه نښه په جامو کې او یا په پټکي کې په اندازه د څلورو ګوتو او یا کم د هغه څخه ، نو مکروه نه دي ځکه چې دا تابع د غیر وي او اعتبار متبوع لره دی.[2] او استدلال کړی امام کاساني رحمه الله په خبره په اجماع باندې هم هغه فرمایی: همدارنګه روان دی عادت په استعمال د پټکو او جامو سره د دومره اندازه وریښمو په ټولو زمانو کې بغیر د انکار څخه نو دا اجماع شوه.[3]

**تطبیقي بیلګې:**

۱ـ وکیل په قبض د یو شي : کله چې وکیل په قبض ، مبیع قبض کړه او مؤکل ورته کتل ، نو ساقطیږي خیار رؤیت په نزد د امام ابوحنیفه رحمه الله ، ځکه چې په نزد د امام ابوحنیفه رحمه الله وکیل مقصودا اختیار د اسقاط د خیار رؤیت نه لري لکه څنګه چې مؤکل یې نه لري ، لکن باطلیږي خیار رؤیت په قبض سره ځکه چې دا د لوازمو د قبض څخه دي ، او وکیل په یو شي باندې وکیل په اتمام د هغه شي وي او قبض تمامیږي په اسقاط د خیار رؤیت سره ځکه چې خیار رؤیت مانع د اتمام د قبض دی ، لکن دا اسقاط یا ابطال د خیار رؤیت په ضمن د قبض کې منځ ته راځي ، او ځینې شیان ثابتیږي ضمنا اګر که نه ثابتیږي مقصودا.[4]

۲ـ خیار رؤیت نه ساقطیږي په اسقاط سره نه مخکې له رؤیت نه او نه وروسته له رؤیت نه ، ځکه چې خیار رؤیت ثابت شوی د شریعت له طرفه حقًا لله تعالی ، او هر هغه څه چې ثابت شي په حیث د حق د الله تعالی بنده اختیار نه لري چې په هغې کې تصرف وکړي په اسقاط سره مقصودا ، ځکه چې بنده حق د تصرف په حق د غیر کې نه لري مقصودا ، لکن خیار رؤیت ضرورتًا احتمال د سقوط لري هغه داسې چې څوک مقصودا خپل حق کې تصرف وکړي ، او هغه تصرف متضمن شي د سقوط د حق د شریعت ، نو ساقطیږي حق د شریعت په ضمن د تصرف په خپل حق کې ، او جائز دی چې ثابت شي یو شی

[1]: اخرجه البخارِ فی صحیحه، کتاب الباس باب لبس الحریر و افتراشه للرجال و قدر مایجوز من ذلک ج ۷ ص ۱۹۳ رقم الحدیث(۵۸۲۹)
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۳۱
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۱۳۱
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۲۹۶

ضرورتًا اګر که نه ثابتیږي قصدًا ، لکه داچې مشتري دلالتا او یا نصًا اجازه د بیع وکړي او یا راضي شي په هغې وروسته له رؤیت څخه ، په مباشرت د تصرف چې دلالت کوي په رضا او اجازې باندې ، ځکه دا خیار رؤیت اګر که ثابت شوی په حیث د حق د شریعت ، لکن شریعت دا یې نظر بنده ته ثابت کړی تر دې چې بنده کله چې دا مبیع وګوري او خوښه یې شي نو اجازه به وکړي او که خوښه یې نه شي رد به یې کړي ، ځکه خیار عبارت دی د اختیار درلودلو څخه په منځ د فسخ او اجازې کې ، نو شو مشتري په اجازې سره متصرف په خپل حق کې مقصودا ، نو بیا د ضروریاتو د اجازې څخه لزوم د عقد دی ، او د ضروریاتو د لزوم د عقد څخه سقوط د خیار دی نو شو سقوط د خیار رؤیت له طریقه د ضرورت نه مقصودي اسقاط سره ، او جائز دی چې ثابت شي یو شی په طریقې د ضرورت اګرکه نه ثابتیږي مقصودًا .[1]

۳ـ که مؤکل خپل وکیل په بیع عزل کړي د وکالت څخه او وکیل په دې خبره خبر نه شي ، نو دا نه عزل کیږي ، او که مؤکل په خپله بیع وکړه نو د دې کار په ضمن کې وکیل د وکالت څخه عزل کیږي.[2]

۴ـ که چا قسم وکړو چې نه به اخلم د ګډې بچی ، نو واخیستله ګډه حامله ، همدارنګه قسم یې وکړو چې نه به اخلم لبن (شودې) نو بیا واخلي ګډه چې غلانځه کې یې شودې وې ، او همدارنګه که قسم وکړي چې نه به اخلم صغیر مملوک ، نو بیا یې واخیستله وینځه حامله ، او همدارنګه که قسم وکړي چې نه به اخلم اوړه بیا یې واخیستل غنم ، نو په دې ټولو صورتونو کې نه حانثیږي ځکه چې د ګډې بچې او هغه نور شیان مقصودًا معقود علیه نه دي بلکې هغه داخل دي په عقد کې ضمنا او تبعا.[3]

۵ـ د هغه څیزونو له جملې څخه چې په هغې سره بیع فسخ کیږي: کله چې را منځ ته شي د بایع له طرفه داسې یو تصرف په مبیع کې که همدا تصرف موجود شي له طرفه د بایع په ثمنو کې نو دا اجازه د بیع حسابیږي ، نو همدا په مبیع کې فسخ حسابیږي ، نو اقدام کول په داسې تصرف فسخ د بیع ده دلالتا او دا ډول فسخ موقوفه نه ده په علم د صاحب د هغه یعنې جانب مقابل د عقد بغیر د کوم خلاف څخه ، ځکه چې فسخ په دې صورت کې نه ده ثابته مقصودًا ، بلکه دا ثابته ده په ضمن د غیر کې ، نو شرط نه دی دې لپاره هغه څه چې شرط دی مقصودي فسخې لپاره.[4]

**شپږم مطلب : (الثابت بدلالة النص كالثابت بصريح النص)[5] قاعدې زده کړه.**

هغه شی چې ثابت وي په دلالت النص سره دا داسې دی لکه چې ثابت وي په صریح نص سره.

**د قاعدې نور الفاظ:**

دا قاعده امام کاساني او نورو فقهاؤ رحمهم الله په مختلفو الفاظو ذکر کړې ده چې ځینې الفاظ یې په لاندې ډول دي:

۱ـ الثابت دلالةً كالثابت نصًا.[6]

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج٥ ص٢٩٧

[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج٥ ص ٢٩٨

[3]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج٣ ص ٨٣

[4]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج٥ ص٢٧٢

[5]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج٥ ص ٢٩٧

[6]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج٢ ص ٢٢١

۲ـ المذكور دلالةً كالمذكور نصًا.[1]
۳ـ الثابت دلالةً نصٌ.[2]
۴ـ وماثبت بدلالة النص عادة فهو كالمنصوص عليه.[3]

**د مفرداتو څېړنه:**
د ـ الدلالةـ النص ـ الصريح ـ لغوي او اصطلاحي معناګاني مخکې د ( لا دلالة مع النص بخلافها) قاعدې په ضمن کې ذکر شوي دي.
**د قاعدې معنی:**
اصل په تعبير کې له ارادې څخه دا دی چې تعبير بايد په قول يا وينا سره وي ، ځکه چې قول د ټولو دلالتونو څخه ډير ښه واضح دلالت کوونکی دی ، لکن لفظ مقصود لذاته نه دی ، په مطلوب باندې بلکې دا يو غوره ترجمان دی د ارادې څخه په واضحه توګه ، همدې لپاره چې لفظ مقصود لذاته نه دی نو يو عاقل کولی شي چې د لفظ په ځای نور داسې څيزونه وکاروي چې دلالت په مطلوب باندې وکړي ، نو که بيان کړي خپله اراده په نورو څيزونه لکه قرائن د حال ، عرف او عادت د خلکو، او يا په اشارې سره ، نو لازم دی چې دا دلالت معتبر وګڼل شي لکه تعبير په الفاظو سره ، او ثابت شي احکام په موجب دلالت سره او بې پروائي راشي په دې تعبير سره د صراحت نه.[4]
**د قاعدې دليل:**
امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبات لپاره استدلال کړې په لاندې دوه حديثونو باندې:
۱ـ په حديث د بريرې رضي الله عنها باندې ، په هغه حديث کې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (إِنْ وَطِئَك زَوْجُك فَلاَ خِيَارَ لَك)[5] ژباړه: که وطې کړې خاوند دې نو نشته اختيار تا لره.

**د استدلال وجه:**
تمکين يا قدرت ورکول د بريرې رضی الله عنها خپل خاوند ته په وطې باندې ، په دې کې دلالت دی په اختيارولو د بقاء د هغه سره ، نو ګويا چې تصريح يې کړې وي په دې باندې ، نو حق د رجوع نه لري د دې خبرې نه ، دا حديث يو اصل دی په دې باب کې.[6]
۲ـ په حديث د بي بي عائشې رضی الله عنها چې فرمائي : (قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «البِكْرُ تُسْتَأْذَنُ» قُلْتُ: إِنَّ البِكْرَ تَسْتَحْيِي؟ قَالَ: «إِذْنُهَا صُمَاتُهَا»)[7] ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل : د باکرې څخه دې اجازه واخيستل شي ، ما ورته وويل : باکره خو حيا کوي ، وويل رسول الله صلى الله عليه وسلم : اذن د هغې چپوالی د هغې دی.

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۴ ص ۱۸۳
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۷ ص ۲۷۸
[3]: السرخسي، المبسوط، ج۱۸ ص ۱۲۱
[4]: وکتل شي: المدخل الفقهي العام ج۱ ص ۴۱۸ـ ۴۳۷
[5]: اخرجه ابو داؤد في سننه، في كتاب الطلاق ، باب حتى متى يكون لهما الخيار، ج۲ ص ۲۷۱ رقم الحديث(۲۲۳۸) او علامه الباني رحمه الله ورته ضعيف ويلي دي د وجې د عنعنې د ابن اسحاق نه. ضغيف ابي داؤد للالباني ،ج۲ ص۲۴۲
[6]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۴ ص۱۰۳ ـ ج۵ ص ۲۶۷ ـ ج۷ ص ۳۷۹
[7]: اخرجه البخاري في صحيحه ، في كتاب الحيل، باب فی النکاح ،ج ۹ ص ۲۶ رقم الحديث(۶۹۷۱)

**د استدلال وجه:**

باکره حیاء کوي د نطق نه په اذن باندې لپاره د نکاح ، ځکه چې په دې کې اظهار د رغبت دی نارینه وو ته ، نو د دې نسبت کیږي سپیني سترگی ته ، نو که ونه گرځول شي سکوت د هغې اذن او رضا په نکاح باندې دلالتاً ، او شرط کړی شي نطق د هغې په نکاح باندې او هغه خو نطق نه کوي ، نو فوت به شي مصالح د نکاح چې دا ورته حاجت لري او دا جائز نه دی .[1]

**تطبیقي بیلگې:**

۱ـ په هر څه چې خیار شرط او خیار عیب باطلیږي په هماغه ډول خیار رؤیت هم ساقطیږي ، مگر دومره خبره ده چې خیار شرط او خیار عیب په صریح اسقاط سره ساقطیږي او خیار رؤیت په صریح اسقاط سره نه ساقطیږي نه مخکې له رؤیت څخه او نه وروسته له رؤیت څخه ، ځکه چې خیار رؤیت ثابت شوی له طرفه د شریعت نو ثابت دی په حیث د حق د الله تعالی ، او حقُ الله د بنده په اسقاط سره نه ساقطیږي، او خیار شرط او خیارعیب دا ثابت شوي په شرط کولو د عاقدَینو، د خیار شرط ، شرط کیدل له طرفه د عاقدَینو خو ښکاره خبره ده پاتې شو خیار عیب، هغه ځکه چې سلامتیا مشروط ده دلالتًا او هر هغه شی چې ثابت وي دلالتًا دا داسې ده لکه چې ثابت وي صراحتًا ، نو دا (خیار عیب) ثابت شو په حیث د حق د بنده او هر هغه شی چې ثابت شي په حیث د حق د بنده نو هغه په اسقاط د بنده سره احتمال د سقوط لري ، ځکه چې انسان په خپل حق کې، حق د تصرف او اختیار د تصرف لري .[2]

۲ـ د اجارې د شرطونو څخه یو شرط دا دی چې مستأجَر ( هغه شی چې په اجاره ورکړی شوی وي) عیب دار نه وي په وخت د عقد یا په وخت د قبض کې په داسې عیب سره چې خلل واقع کوي په انتفاع کې ، نو که په مستأجَر کې داسې کوم عیب وي بیا عقد نه لازمیږي ، تر دې چې فقهاؤ ویلې دي: که چیرته مستأجَرغلام غل (سارق) وي ، نو اجاره اخیستونکی د اجارې د فسخې حق لري ، ځکه چې سلامتیا د مستأجَر مشروط ده دلالتًا نو گویا چې مشروط ده نصًا.[3]

۳ـ که چا په اجاره او یا په کرایه واخیستله یوه دابه تر کوفې پورې ، نو دا عقد صحیح دی اگر که اطراف او جوانب د کوفې د یوبل څخه لرې دي، ځکه چې مکان دلته معلوم دی عادةً، هغه د دې کور دی په کوفه کې ، ځکه چې انسان کله یو شی په اجاره یا کرایه ونیسي د خپل ښاره پورې نو هغه په اجاره نیسي تر خپل کوره پورې ، نو وگرځیده کور د ده چې په کوفه کې دی مذکور په عقد کې دلالتًا، او مذکور دلالتًا داسې دی مذکور لکه مذکور نصًا.[4]

۴ـ شفعه دلالتًا هم باطلیږي: هغه داسې چې موجود شي له شفیع څخه داسې یو کار چې دلالت کوي په رضاء د هغه په عقد باندې ، او په ثبوت د حکم د عقد لپاره د مشترِي چې هغه ثبوت د ملک دی ، ځکه چې حق د شفعې یو عقد دی لکه څنگه چې په تصریح سره باطلیږي همدارنگه په دلالت سره هم باطلیږي ، هغه داسې چې شفیع پوه شي په شراء باندې او بالفور طلب د شفعې ونکړي بغیر د کوم عذر څخه ، او

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۲ ص۲۴۲

[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۲۹۷

[3]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۴ ص۱۹۵

[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج۴ ص۱۸۴

يا پاسيده له مجلسه څخه ، او يا مشغول شو د طلب د شفعې څخه په بل عمل باندې ، ځکه چې ترک د طلب ؛ سره قدرت نه په هغې باندې دا دليل د رضايت دی په عقد او حکم د هغې.[1]
۵ـ که چا د قرباني لپاره يو ګډ واخيست ، نو هغه يې سملولو ، او ښپې يې ورته وتړلې په ورځو د قربانۍ کې ، نو يو انسان راغی او دا ګډ يې ذبح کړو ، نو دا جائز دی استحسانًا لپاره د موجود والید إذن دلالتًا ، وجه د استحسان دا ده: کله چې ده دا ګډ واخيست لپاره د ذبحې او تعين يې کړو لپاره د ذبحې ، نو کله چې ذبح کړو بل چا ، نو په تحقيق سره حاصل شو غرض د ده او لرې شو له ده څخه تکليف د ذبح کولو ، نو ظاهره خبره دا ده چې دی راضي دی په دې کار ، نو دا اذن شو دلالتًا.[2]
۶ـ د هغه څيزونو له جملې څخه چې خيار شرط ورباندې ساقطيږي او بيع لازميږي ، يو هم اجازه ده ، او اجازه په دوه ډوله ده : ۱ـ صراحتًا ۲ـ دلالتًا ، او دلالتًا اجازه داسې ده چې موجود شي د بايع څخه داسې يو تصرف په ثمنو کې چې دلالت کوي په اجازې او ايجاب د بيع کوي ، نو اقدام په داسې يو کار اجازه ده دلالتًا بناء په همدې اصل که ثمن عين وي او بايع په هغې کې داسې تصرف وکړي لکه تصرف د مالکانو لکه دا چې : خرڅ يې کړي ، يا يې نرخ کړي ، او يا يې ازاد کړي ، او يا يې مدبر کړي ، او يا يې ګروي (رهن) ورکړي ، نو دا به اجازه وي د بيع دلالتًا.[3]

**اووم مطلب:( القدرة على الأصل بعد حصول المقصود بالخلف لايبطل حكم الخلف)[4]قاعدې زده کړه.**
قدرت موندل په اصل وروسته د حصول د مقصد نه په خلف يا بدل باندې نه باطلوي حکم د خلف .

**د قاعدې نور الفاظ:**
دا قاعده امام کاساني او نورو فقهاء رحمهم الله په مختلفو الفاظو ذکر کړې ده چې ځينې الفاظ يې په لاندې ډول دي:
۱ـ القدرة على المبدل بعد حصول المقصود بالبدل لا يبطل البدل.[5]
۲ـ القدرة على الأصل بعد حصول المقصود بالبدل لاتسقط حكم البدل.[6]
۳ـ القدرة على الأصل بعد حصول المقصود بالبديل لا يبطل حكم البديل.[7]

**د مفرداتو څيړنه:**
د ( القدرة) او د (الخلف) کليمو لغوي او اصطلاحي معناوې په ضمن د ( القدرة على الأصل تمنع المصير الى الخلف ) کې ذکر شوې دي هلته دې وکتل شي.

[1] : الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۲۱
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۶۷
[3] : الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۲۶۷
[4] : الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۲۹۸
[5] : الكاساني، بدائع الصنائع، ج۵ ص۹۸
[6] : السمرقندي،تحفة الفقهاء، ج۲ ص۹۱
[7]: الزحيلي، الفقه الاسلامي وادلته ، ج۶ ص ۲۶۲

**د قاعدې معنی:**
که اصل یا مبدل معدوم وي او یا عمل کول وربانديې متعذر وي ، او شخص قادر چی په بدل یا په خلف باندې عمل وکړي ، بیا دا شخص په اصل باندې  قادر شو لکن وروسته د حصول د مقصود نه په بدل باندې یعني وروسته د عمل کولو نه په بدل باندې ، دا قادریدل په اصل ، د بدل حکم نه باطلوي بلکې بدل صحیح او حکم یې معتبر ګڼل کیږي ، او که مخکې د حصول د مقصود نه قادر شو په اصل باندې بیا حکم د بدل ساقطیږي او شرعًا معتبر نه ګڼل کیږي نو ځکه امام کاساني رحمه الله فرمائي: ( قدرت موندل په مبدل (اصل) مخکې د حصول د مقصود نه په بدل باندې باطلوي حکم د بدل)[1] او بل ځای کې فرمائي: ( نشته حکم لپاره د بدل سره د وجود د مبدل نه.)[2]
لکن دا خبره علی الاطلاق نه ده ؛ ځکه چې کله صحیح وي عمل کول په بدل باندې او د هغې حکم معتبر ګڼل کیږي سره د قادریدو نه په اصل باندې وروسته د پیل نه په بدل باندې او مخکې د حصول د مقصود نه په بدل باندې ، نو په همدې اساس زرکشي رحمه الله فرمائي: (چې بدل دوه حالته لري په لاندې ډول:
**لومړی حالت:** هغه دا چې بدل مقصود في نفسه وي ، نو داسې حالت کې وروسته له پیل او مخکې له حصول د مقصود نه په بدل باندې ، قادریدل په اصل یا مبدل باندې حکم د بدل نه باطلوي بلکې د بدل حکم په خپل ځای باقي پاتې کیږي لکه داچې : متمتع حاجي قادر شي په هدیې باندې وروسته له درې ورځو روژې نیولو څخه او وروسته له رجوع نه خپل وطن ته .
دویم حالت: هغه داچې بدل مقصود لغیره وي ، نو په داسې حالت کې قادریدل په اصل وروسته له پیل نه په بدل باندې او مخکې د حصول د مقصود نه په بدل باندې باطلوي حکم د بدل لکه دا چې قادر شي تیمم وهونکی په اوبو باندې په منځ د تیمم وهلو کې او یا وروسته له تیمم څخه او مخکې لمونځ کولو څخه ، نو په داسې صورت کې تیمم باطلیږي او اودس کول لازمیږي.[3]

**د قاعدې دلیل:**
امام کاساني رحمه الله د دې قاعدې د اثبت لپاره استدلال کړی په کتاب الله او سنت باندې:
۱ـ کتاب الله : په دې قول د الله تعالی باندې : (فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا)[4]ژباړه: نو ونه مومئ تاسی اوبه ( یائې نشئ استعمالولی) نو ارده وکړئ تاسې مخ د ځمکې (خاورې )پاکې ته.

**د استدلال وجه:**
امام کاساني رحمه الله فرمائي: الله تعالی جواز د تیمم یې متعلق کړی دی د نشته والي د اوبو پورې ، نو کله چې یو څوک په حالت د نشته والي د اوبو کې په تیمم باندې لمونځ وکړي نو ده اداء کړو لمونځ په هغه طهارت باندې چې شرعًا معتبر دی ، نو حکم کیږي په صحت د دغې لمونځ ، نو هیڅ وجه نشته

---

[1]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۳ ص ۲۰۰
[2]: الكاساني، بدائع الصنائع، ج۳ ص۹۱
[3]: الزركشي، المنثور فى القواعد ، ج۱ ص ۲۲۰
[4]: د النساء سورت ۴۳ ایت

لپاره د وجوب د اعادې.[1] ځکه چې مقصود چې هغه اداء د صلوة دی حاصل شو په بدل باندې چې تیمم دی او قادریدل په اصل باندې وروسته د حصول د مقصود نه په بدل باندی نه باطلوي حکم دبدل.
۲ـ سنت : استدلال کړی امام کاساني رحمه الله په دې حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې (عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ قَالَ خَرَجَ رَجُلاَنِ فِى سَفَرٍ فَحَضَرَتِ الصَّلاَةُ وَلَيْسَ مَعَهُمَا مَاءٌ فَتَيَمَّمَا صَعِيدًا طَيِّبًا فَصَلَّيَا ثُمَّ وَجَدَا الْمَاءَ فِى الْوَقْتِ فَأَعَادَ أَحَدُهُمَا الصَّلاَةَ وَالْوُضُوءَ وَلَمْ يُعِدِ الآخَرُ ثُمَّ أَتَيَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَذَكَرَا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ لِلَّذِى لَمْ يُعِدْ « أَصَبْتَ السُّنَّةَ وَأَجْزَأَتْكَ صَلاَتُكَ ». وَقَالَ لِلَّذِى تَوَضَّأَ وَأَعَادَ « لَكَ الأَجْرُ مَرَّتَيْنِ ».)[2] ژباړه: ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائي : چې دوه نفره په سفر ووتل ، نو وقت د لمانځه شو او دوې سره اوبه نه وې ، نو دوې تیمم ووهلو او لمونځ یې وکړو ، بیا دوې اوبه وموندلې مخکې له خروج د وقت د لمانځه څخه یو له دوې څخه لمونځ او اودس اعاده کړو، او هغه بل اعاده نه کړو ، بیا دوې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او قصه یې ورته بیانه کړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کَس ته چې اعاده یې نه وه کړې و فرمایل:( ته رسیدلی یې سنت ته او صحیح شو لمونځ ستا ) او و فرمایل هغه کَس ته چې اودس یې کړی وو او اعاده یې کړې وه : ( ستا لپاره اجر دی دوه ځله).

**د استدلال وجه:**

امام کاساني رحمه الله فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کَس ته چې ( لمونځ او اودس یې اعاده کړی وو و فرمایل : تاته درکړی شو اجر ستا دوه ځله ، او هغه بل ته ( چې اعاده یې نه وه کړې ) کافي شو ستا له طرفه لمونځ ستا ، او دا وینا درسول الله نفي کوي وجوب د اعادې د لمونځ .[3] او دا خو واضحه ده چې اودس اصل دی او تیمم بدل ، نو دې حدیث شریف نه واضحه شوه چې کله مقصود حاصل شي په بدل باندې او بیا قادر شي په اصل باندې دا قادریدل په اصل باندې نه باطلوي حکم د بدل .
او الصدر الشهید [4]په خپل کتاب (المحیط البرهاني) کې د دې حدیث په تشریح کې فرمائي: وجه دا ده چې دا لمونځ اداء کړی شوی دی په کامل طهارت سره او حکم شوی په صحت او جواز باندې ، نو له منځه نه ځي دا حکم په رؤیت د اوبو سره او دا چې تیمم اصل دی او دا قادر شو په اصل باندې بیا هم حکم له منځه نه ځي ځکه چې دی قادر شوی په اصل وروسته د حصول د مقصود نه په بدل باندې نو نه باطلوي حکم د بدل.[5]

---

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج۱ ص ۶۰
[2]: اخرجه ابو داؤد في سننه ، في كتاب الطهارة ، باب فى المتيمم يجد المار بعد مايصلى فى الوقت ج۱ ص ۹۲ رقم الحديث(۳۳۸) علامه حاکم رحمه الله ویلي: هذا حدیث صحیح على شرط الشیخین. المستدرک للحاکم، ج۱ ص ۱۷۸ رقم الحديث(۶۳۱) او علامه الباني رحمه الله وربانديې هم د صحیح حکم کړی دی. صحیح سنن ابی داؤد للالباني ج۲ ص ۱۶۵ رقم الحدیث (۳۳۸)
[3]: الکاساني، بدائع الصنائع،ج۱ ص ۶۱
[4]: الصدر الشهید برهان الدين محمد بن احمد بن عبدالعزیز د احنافو د اکابرو له جملې څخه دی او ابن کمال باشا له جملې د مجتهدین فی المسائل څخه شمارلی دی د تصانیفو له جملې څخه یې : المحیط البرهاني فی الفقه دالنعماني او الواقعات دي او په کال ۶۱۶ه کې په بخاری کې وفات شوی . کشف الظنون للحاجي خلیفه ج۲ ص ۲۳۴ ، معجم المؤلفین ج۱۲ ص۱ ۴۷
[5]: الصدر الشهید، المحیط البرهاني، ج۱ ص۱۸۲

**تطبيقي بيلګې:**

۱ـ ساقطيږي خيار رؤيت د ړوند (اعمی) په هغه څه باندې چې قائم مقام د رؤيت وي ، او روايت شوی د امام محمد رحمه الله نه چې ړوند بايد دومره فاصله کې د مبيعې څخه ودرول شي ، چې که دی بينا وای نو ليدلې به يې وه ، او بيا دې ورته د مبيعې اوصاف بيان کړی شي ، که چيرته ړوند ته د مبيعې اوصاف بيان شول او دی راضي شو او بيا وروسته له دې څخه بينا شو ، حق د خيار رؤيت نه لري ځکه چې بيان د وصف په حق د ړوند کې لکه خلف يا بدل دی له رؤيت څخه ، ځکه چې ړوند عاجز دی د اصل څخه ، او قادريدل په اصل باندې وروسته له حصول د مقصود نه په بدل باندې نه باطلوي حکم د بدل .[1]

۲ـ د کومې ښځې چې حيض نه راځي د هغه عدت د طلاق په مياشتو باندې درې مياشتې دی ، اوس که کومې ښځې د درې مياشتو عدت تير کړو او بيا وروسته له هغې څخه ورباندې حيض راغلو نو دې باندې دوباره عدت په حيض سره لازم نه دی ، ځکه چې عدت تيرول په حيض سره دا اصل دی او عدت په مياشتو دا بدل دی ، او قادريدل په اصل باندې وروسته له حصول د مقصوده په خلف يا بدل باندی نه باطلوي حکم د اصل .[2]

۳ـ که کوم سړي اودس وکړو په نبيذالتمر باندې او بيا يې مخکې له خروج د وقت څخه اوبه پيدا کړې ، نو لمونځ د ده صحيح دی په نزد امام ابوحنيفه رحمه الله تعالی ځکه چې له اصولو د امام ابوحنيفه رحمه الله څخه يو اصل دا دی چې نبيذالتمر په حال د نشته واليد خالصو اوبو بدل او يا خلف دی د اوبو څخه ، نو کله چې قادر شي په اصل وروسته د حصول د مقصود نه په بدل باندې نو لازميږي په ده باندې اعاده .[3]

۴ـ که چا لمونځ وکړو په تيمم باندې او بيا قادر شو په اوبو باندې ، نو نشته په ده باندې اعاده د لمانځه ځکه چې مقصود حاصل شو په بدل باندې او قادريدل په اصل باندې وروسته له حصول د مقصود نه په بدل باندې نه باطلوي حکم د بدل.[4]

[1]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ ص ۲۹۸
[2]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ ص۶۰
[3]: السرخسي ، المبسوط ، ج۲ ص ۱۶۴
[4]: الکاساني، بدائع الصنائع، ج ۵ ص۶۰

**پایله:**

د الله تعالی په توفیق او مرستي دغه علمي څیرنه چې د ( فقهي قواعد په کتاب البیوع د بدائع الصنائع کې ) تر عنوان لاندې تر سره شوه د تکمیل څخه ۱وروسته یې مهم نتائج او لاسته راوړني دخاتمې او پایلې په توګه دفصلونو ، مباحثو ، او مطالبو دترتیب پر اساس په لاندې مختصره توګه وړاندې کوم :

۱- د (الفقه) کلمه په لغت کې ډیرې معناګانې لري لکه: مطلق پوهه ، دقیقه پوهه ، پوهیدل په غرض د متکلم ، پوهیدل په خفي څیزونو، فقه په حقیقت کې څیرکول او خلاصول ، لکن راجح قول دا دی چه (الفقه) په لغت کې مطلق فهم ته وایي ، لکن په عرف کې د شرعي احکامو علم ته او مخصوصا بیا د شریعت فروعي احکامو علم ته فقه ویل کیږي. نو ځکه بعض اهل لغت د (الفقه) معنا په (العلم فی الدین) سره کړې ده.

۲- فقه فقهاوو په اصطلاح کې په مختلفو تعریفونو سره تعریف کړې لکن مشهور تعریف یې دا دی ( بانه العلم باالاحکام الشرعیة العملیة المکتسبة من ادلتها التفصیلیه) ژباړه: فقه په هغه شرعي عملي احکامو باندې علم حاصلول دي چې له تفصیلي دلایلو څخه اخیستل شوی وي..

په دې تعریف کې فقه د یو مستقل علم په توګه تعریف شوې ، له همدې امله دا تعریف نسبت نورو تعریفونو ته شاید جامع تعریف وي، ځکه چې ډیر قیدونه لري چې فقه له نورو علومو څخه بیلوي.

۳- قاعده په لغت کې به معنا د اساس او بنیاد ده برابره خبره چې دا اساس یا بنیاد حسي وي او که معنوي او په اصطلاح کې قاعده عبارت ده له هغه کلي قضیې څخه چې په خپلو ټولو جزئیاتو باندې منطبق کیږي او فقهي قاعده دا یو فقهي کُلي اصل دی، چې متضمن دی تشریعي احکامو لره هغه احکام چې عام دي ، د متعددو ابوابو څخه په هغه قضایاو کې چې د دې د موضوع لاندې داخلیږي.

۴- فقهي قواعد ډیر اهمیت لري یو اړین اهمیت یی دا دی که څوک غواړي د فقهې د علم په پراخ ډګر کې داخل شي او پدې اړه هر اړ خیز معلومات پیدا کړي ؛ نو باید قواعدو باندې پوهه حاصله کړي تر څو فروعاتو او جزئیاتو باندې د تطبیق کولو وړتیا پیدا کړي.

۵- فقهي قاعده د مختلفو اعتباراتو د لحاظه مختلف ډولونه لري د اتفاق او عدم اتفاق د لحاظه په څلور ډوله ده : ۱- هغه چې اتفاقي وي په منځ د ټولو مذاهبو کې ۲- هغه چې اتفاقي په منځ اکثرو مذاهبو کې ۳- هغه چې مختلف فیها په منځ د مذاهبو کې ۴- هغه چې مختلف فیها وي په منځ علماوو د مذهب معین کې. د استقلالیت او عدم استقلالیت د لحاظه قاده په دوه ډوله ده ۱- مستقله یا اصلي قاعده ۲- غیرمستقله یا تابع قاعده . او قاعده دلحاظه د مصدر یا دلیل په دوه ډوله ده ۱- منصوصي قاعده په دې معنا چې خپله نص شرعي وي ۲- مستنبطه قاعده یعني چې د شرعي نصوصو څخه استنباط شوې وي . فقهي قواعد د لحاظه شمولیت په درې ډوله دي ۱- القواعد الکلیة الشاملة الکبری ۲- القواعد الکلیة الشاملة الصغری ۳- القواعد الخاصة بباب فقهي واحد چې دې ته ظابطه ویل کیږي.

۶- امام کاسانی رحمه الله یو اصولي ، جید او فقیه عالم وو نو ځکه فقهاء ورته امام الحنفیه وایی او ملقب په مَلِكُ العلماء دی.

۷- امام کاساني رحمه الله ته الله تعالی دفقهي قواعدو په جوړونه ( تقعید ) او په هغو باندې ګڼ شمیرفقهي فروعات او جزئیاتو تنظیمولو کي ډېره پوهه او برلاسي ورکړي وه ، ځکه هغه ډېر فقهي مسائل دفقهي قواعدو باندې تفریع کوي .

۸- بدائع الصنائع د حنفي مذهب یو مهم او معتبر کتاب دی چی بیان د مسائلو پکي په نا اشنا ترتیب سره شوی دی او په اکثرو مسائلو کې بیان د دلائلو هم کړی دی.

۹- : عرف په لغت کي مختلفي معناوې لري لکه: پیژندل،د خوښي ځیز،ضد النکر، اعتراف یا اقرار کول ، عام خلکو ته یو منل شوې ځیز ، عرف او معروف په معنی د( الجود) سخاوت،احسان،نیکي، او په اصطلاح کي عبرت دی د اکثره خلکو عادت په وینا او کار کی ، او عرف په دوه ډوله دی ۱- قولي ۲- او فعلي. او دعرف حجت والی د کتاب الله او سنت نه ثابت دی.

۱۰- په وخت د حصول دعقد کی د عاقد لخوا ویل شوي یا کارول شوي الفاظو ته په حین د عقد کی، نه کتل کیږي بلکې د عاقد د الفاظو حقیقي مقصد ته کتل کیږي او حقیقي مقصد معنی ده ، نه الفاظ او مستعملي صیغي، ځکه چی الفاظ ندي مګر قالبونه لپاره د معناګانو.

۱۱- د هر قسم تصرف د منعقد کیدو لپاره هغه فعلي تصرف وي اوکه قولي ، د متصرف اهلیت شرط دی، اهلیت په لغت کي په معنی د صلاحیت،وړتیا او دا په دوه ډوله دی ۱- اهلیت د وجوب۲- اهلیت د اداء ، اهلیت د وجوب عبارت دی، له وړتیا د انسان څخه لپاره؛ د وجوب د حقوقو مشروعه و، د ده لپاره او په ده باندی ، ا و اهلیت د اداء عبارت دی: وړتیا د انسان؛ لپاره د صادریدو د افعالو د ده څخه په داسي ډول چي شرعا معتبر وي.

۱۲- حکم د جزء د یو ځیز لکه حکم د کل دی، یعني کوم حکم چي په کل مرتب کیږي همغه حکم په جزء یي هم مرتب کیږي ، مثلا : که حکم په کل کي وجوب وو نو په جزء کي هم وجوب دی . همداسی اباحت، حرمت،کراهت، استحباب و غیره.

۱۳- اشاره د ګنګي په مثل د عبارت د ناطق ده ، لکه څنګه چی د ناطق په نطق احکام مرتب کیږی، او عقود یي صحیح کیږي همدارنګه د اخرځ اشاره په ټولو ځیزونو کي لکه: بیعه، اجاره،هبه،رهن،طلاق،عتاق،ابراء ،اقرار، دعاوي، قصاص، قائم مقام د عبارت ده.

۱۴- لیکل شوي عبارتونه لکه الفاظ منطوقه دي په وخت د خطاب کي، نو کوم احکام چي په مخاطبه مرتب کیږي په مکاتبه هم مرتب کیږي .

۱۵- حکم دعلت تابع وي ، نو چیرته چي علت موجود شي هلته به حکم هم موجودیږی او چیرته چي علت نه وي نو هلته حکم هم نه وی، او په کومه کچه او درجه او ترتیب چي علت وي په هماغه کچه او درجه او ترتیب به حکم هم موجودیږي.

۱۶- تصرفات د فضولي لکه بیع ، اجاره، نکاح وغیره چي د هغي لپاره په وخت د عقد کي مجیز موجود وي ، منعقد کیږي موقوف په اجازې مجیز پورې ، او کوم تصرفات د فضولي چي په وخت د انشاء یا

ایجاد د عقد کې مجیز ونلري هغه نه منعقد کیږي بلکې هغه تصرفات یې باطل دي او اجازه ورپورې نه ملحق کیږی.

۱۷ـ هغه اوصاف چې داخلیږي په عقد کې بغیر د ذکر نه په وخت د عقد کې لکه اشجار او بناء په بیع د ځمکې کې ، او اطراف د حیوان په بیع د حیوان کې ، د دې اوصافو په مقابل کې ثمن نه واقع کیږي ، مګر په هغه صورت کې په مقابل کې یې ثمن واقع کیږي چې مقصود وګرځي په قبض او یا په اتلاف سره.

۱۸ـ جهالت په ساقطولو د حقوقو کې د صحت مانع نه ګرځي یعنې سره د جهالته اسقاط د حقوقو صحیح کیږي ځکه چې جهالت په اسقاطاتو کې سبب د نزاع نه ګرځي ، او جهالت په تملیکاتو کې مانع د صحت دی ځکه چې اکثره سبب د نزاع ګرځي.

۱۹ـ کوم څیز چې غالب وي همغه د اعتبار وړ دی او حکم وربانديې مرتب کیږي په نسبت سره مغلوب ته ، او مغلوب لکه معدوم کڼل کیږي او حکم وربانديې نه مرتب کیږي.

۲۰ـ هرهغه شی چې سبب یا لاره د رسیدو یو شي ته وي، دا سبب قائم مقام د هغې شي ګرځي او د هغې حکم اخلي یعنی څه چې په هغه شي (چې مسبب دی ) مرتب کیږي هغه په دې ( سبب ) هم مرتب کیږي. که په مسبب حکم د بطلان یا فساد یا وجوب یا کراهت یا جواز، یا فسخ مرتب کیدو نو هماغه حکم په سبب هم مرتب کیږي.

۲۱- پوره کول د شرطونو په حدودو د شریعت کې واجب دي ، خو د انسان د توان په اندازه او دا شرطونه د مختلفو جهتونو د لحاظه مختلف ډولونه لري لکه : د مصدر له لحاظه شرط په دوه ډوله دی شرعي شرط او جُعلي شرط ، او د صحت او د فساد له لحاظه په درې ډوله دی صحیح شرط ، فاسد شرط او باطل شرط.

۲۲- دوام او بقا د یو څیز په اولني حالت باندی اسانه دی له احداث او ایجاد د هغه څخه ځکه چې ابتداء د یو څیز کې ضرورت وي هغه څیزونو ته چې په بقا کې ورته ضرورت نه وي.

۲۳- ټول هغه تصرفات چې د مسلمان څخه د هغه په اراده صادریږي هغه قولي تصرفات وي او که فعلي لازم دی حمل د هغه په ښه او صحیح محمل باندی.

۲۴- حقیقي معنی راجحه ده پس کله چې ممکن وي حمل د لفظ په حقیقي معنی باندی نو عدول به نه کیږي مجازي معنی ته .

۲۵- عادت عام وي او که خاص دا به حَکَم ګرځول کیږي لپاره د اثبات د شرعي حکم ، خو شرط دا دی چې د هغه حکم په اړه چې زمونږ مراد اثبات د هغې وي نص موجود نه وي.

۲۶- عقود د معاوضاتو چې د عاقدینو په متقابلو غوښتنو ولاړ عقود دي داسې عقودو کې څه نا څه بخل او تنګي موجوده وي نو ضرور ده چې بنا وي په عدل او مساوات باندی د جانبینو له طرفه چې دا یو لوی مقصد په عقودو او معاوضاتو کې.

۲۷- که حیوان یو څه له منځه یوسي او یا په سبب دحیوان کوم انسان ته خساره ورسیږي دا جنایت د حیوان هدر یا باطل دی، او صاحب د حیوان ته ئي نسبت نه کیږي. یعني په صاحب د حیوان ضمان یا تاوان نشته په دې شرط سره چې د صاحب د حیوان له طرفه کومه تعدي یا تجاوز اوتقصیر نه وي شوی اوبرابره خبره ده چې دا جنایت د ورځې له طرفه وي، که د شپې له طرفه.

۲۸- کله چې د چا په فعل مرتب شي اتلاف د مال دغیر، بغیر د اذن د مالک او یا نائب د مالک څخه، نولازمیږي په دې کس باندې ضمان د تلف شوي څیز، نو تاوان کې به قیمت ورکوي که تلف شوي څیز قیمي وي او یا به مثل ورکوي که چیرته مثلي وي، نو ضمان ورکونکي به د مضمون مالک گرځي، او د دې ملکیت به مستند وي وقت د سبب د ضمان ته.

۲۹- دلالت لره اعتبار نشته په مقابل د نص یا تصریح کې، په همدې بنسټ کله چې د دلالت او صراحت تر منځ ټکر راشي، نو صراحت ته اعتبار ورکول کیږي او دلالت له پامه غورزول کیږي، خو که چیرته په یوه مسئله کې صریح حکم نه وي، بیا په دلالت عمل کیږي.

۳۰- هرهغه څوک چې هغه ته حقوق او اموال د میت انتقالیږي، هغه قائم مقام د میت دی، نو څه چې میت ته ثابت وو د حقوقو او اعیانو څخه هغه ده ته ثابتیږي په طریقه د نیابت د میت څخه دا خبره په عموم بناء نه ده بلکې بعضې حقوق انتقال مومي وارثانو ته او بعضې حقوق انتقال نه مومي وارثانو ته ، د دې ضابطه دا ده: کوم حقوق چې متعلق د مال د میت پورې وي، اویا دفعه کیږي هغه سره ضرر د وارث نه په عِرض د هغه کې او یا هغه کې یخوالید زړه د وارثانو وي لکه قصاص او حد قذف نو دا په میراث وړل کیږي.اوهر هغه حقوق چې متعلق وي د نفس د مورث سره او یا د خواهشاتو اوعقل د میت سره هغه انتقال نه مومي وارثانو ته.

۳۱- هرهغه شی چې سبب یا لاره د رسیدو یو شي ته وي، دا سبب قائم مقام د هغې شي گرځي او د هغې حکم اخلي یعنی څه چې په هغه شي (چې مسبب دی ) مرتب کیږي هغه په دې ( سبب ) هم مرتب کیږي. که په مسبب حکم د بطلان یا فساد یا وجوب یا کراهت یا جواز، یا فسخ مرتب کیدو نو هماغه حکم په سبب هم مرتب کیږي.

۳۲- هرهغه څه چې پیدا شي په مبیع کې او سبب د نقصان په ثمنو د مبیع کې شي داعیب دی، او مرجع په پیژندلو د نقصان کې عادت د تجارانو، او اهل خِبره دي دې کې به د عرف مطابق حکم کیږي ځکه چې چیرته نص نه وي هلته عرف حَکَم وي.

۳۳- بینه نوم دی د هر هغه شي چې حق ښکاره کوي نو که مدعي داسي دلا ئل او براهین وړاندې کړي چې هغه سره صحت د دعوې د هغې معلومیږي، او دلالت په صدق د هغه کوي، نو واجب دی عمل په دې براهینو او دلائلو تر کوم حده چې ممکن وي، او جائز نه دی ابطال د دې براهینو، او اقرار حجت شرعي دی بلکې د ټولو حجتونو نه قوي دی، ځکه چې په دې کې تهمت نشته، لکن دا قاصره حجت دی یعنی اثر یې صرف په اقرار کوونکي منحصر وي د هغه نه بغیر بل چا ته تجاوز نه کوي.

۳۴- هغه حرمت چې ثابت وي په حیث د حق د شریعت یعنی حق د الله تعالی هغه نه ساقطیږي په رضایت د بنده یعنی کوم شی چې په حیث د حقوق الله حرام وي هغه د بنده په رضایت او یا په اسقاط سره نه ساقطیږي، او نه بنده د دې حق لري.

۳۵- کله یو شی د بل شي تابع وي، نو دا ملحق کیږي د متبوع سره په حکم کې، او ده باندې تنها حکم نه کیږي او نه مقصود بالعقد وي.

۳۶- کله چې د یو شي په حالت د انفراد کې یو خاص حکم وي، او لازم وي په هغې کې ټول شرعي مطلوب شرطونه، ځکه چې دا مقصود بالذات وي لکن کله چې همدا شی شریک او یا ګډ شي د بل شي سره او د هغه تابع و ګرځي نو بیا تساهل او تسامع کیږي په پوره والید بعضی شرطونو کې.

۳۷- که اصل یا مبدل معدوم وي او یا عمل کولورباندې متعذر وي ، او شخص قادر چی په بدل یا په خلف باندې عمل وکړي ، بیا دا شخص په اصل باندې قادر شو لکن وروسته د حصول د مقصود نه په بدل باندې یعنې وروسته د عمل کولو نه په بدل باندې ، دا قادریدل په اصل ، د بدل حکم نه باطلوي بلکې بدل صحیح او حکم یې معتبر ګڼل کیږي ، او که مخکې د حصول د مقصود نه قادر شو په اصل باندې بیا حکم د بدل ساقطیږي او شرعًا معتبر نه ګڼل کیږي.

**وړاندیزونه :**

دمخکنیو فقهي تراثو څېړنه او دهغو څخه فقهي قواعد راټولول داسې یوه موضوع ده ، چې ډېرې پراخې او هر اړخیزې څېړنې ته اړتیا لري ، ما هم تر خپل ممکن حده هڅه وکړه تر څو د موضوع پوره پوره حق ادا کړم ، دا چې زما موضوع د بدائع الصنائع د کتاب البیوع د فصلونو څخه د قواعدو را ټولول وه ، نو د نوموړي موضوع اهمیت په کتو له څېړونکو څخه په آینده کې لاندې وړاندیزونه لرم :

1 – لکه څرنګه چې دحنفي فقهې ځینې نور کتابونه په ځانګړې توګه هدایه په پښتو ژبه شرحه شوي او دفقهي قواعد ترینه راټول شوي ، دبدائع الصنائع کتاب په اړه داسې کوم خدمت ندی شوی ، که په آینده کې څېړونکي دې ټکي ته متوجه شي او دخپلو څېړنو لپاره يې غوره کړي ، نو یو خوبه یوه علمي پانګه شي او بل به د بدائع الصنائع کتاب څخه په اسانۍ سره د فقهي مسائلو داستخراج او په هغو باندې داسانه پوهې لاره برابره شي .

2 – امام کاساني رحمه الله دفقهي مسائل او قواعدو داستدلال لپاره ډېر داسې أحادیث ذکر کړي چې دهغو تخریج ، د صحت او ضعف معلومول یو اړین او ضروري کار دی .

3– په بدائع الصنائع کتاب کې ډېر اصولي قواعد هم شتون لري چې دهغو څېړنه او تحقیق هم دیو څېرونکي د علمي پانګي لامل ګرځي .

او په پای کې د الله تعالی له لوی دبار څخه غواړم چې دغه لیکنه ماته او لوستونکو ته په دنیوي او اخروي ژوندانه کې د ګټه رسولو وسیله وګرځوي او زموږ ژوند دقرآني او نبوي لارښوونو او تعلیماتو سره سم برابر کړي او هم ټول اسلامي أمت ته خپل هغه ورک شوی برم او عزت را وګرځوي .

وصلی الله وسلم علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلی یوم الدین

## د آیاتونو فهرست


| گڼه | آیات شریف | سورت | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا {اتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا | النساء | 1 |
| ۲ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ | آل عمرن | 1 |
| ۳ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ... | الاحزاب | 1 |
| ۴ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ | البقره | 2 |
| ۵ | وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي يفقهوا قولي | طه | 11 |
| ۶ | قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا ........ | هود | 11 |
| ۷ | ولَا تَقْرَبُوا الزِّنَا | الاسراء | 14 |
| ۸ | وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ | البقره | 14 |
| ۹ | قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُمْ مِنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ | النحل | 15 |
| ۱۰ | يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ اليسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ | البقره | 20 |
| ۱۱ | وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ | الاعراف | 38 |
| ۱۲ | وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا | مرسلات | 38 |
| ۱۳ | وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ | النساء | 40 |
| ۱۴ | وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ | البقره | 40 |
| ۱۵ | إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِمَنْ يَخْشَى | النازعات | 42 |
| ۱۶ | يَـا أَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُود | المائده | 43 |
| ۱۷ | وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ | المائده | 43 |
| ۱۸ | وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَلِكَ إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا | البقره | 44 |
| ۱۹ | مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَار | النساء | 45 |
| ۲۰ | لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا | البقره | 48 |
| ۲۱ | فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا | مريم | 55 |
| ۲۲ | كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا | مريم | 56 |
| ۲۳ | لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا | البقره | 58 |
| ۲۴ | وَمَا أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَعْلُومٌ | الحجر | 61 |
| ۲۵ | قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ إِنِّي أُلْقِيَ اليكِتَابٌ كَرِيمٌ | النمل | 62 |
| ۲۶ | وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا | الاسراء | 65 |
| ۲۷ | وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اليهِ | الانعام | 65 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۸ | فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ | البقره | 65 |
| ۲۹ | وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ | القصص | 70 |
| ۳۰ | قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ اليكُمْ جَمِيعًا | الاعراف | 71 |
| ۳۱ | وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ | النساء | 72 |
| ۳۲ | وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ | البقره | 73 |
| ۳۳ | وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ | البقره | 78 |
| ۳۴ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ | محمد | 82 |
| ۳۵ | وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ | النمل | 82 |
| ۳۶ | وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ | الاسراء | 85 |
| ۳۷ | وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ | البقره | 92 |
| ۳۸ | يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ | البقره | 93 |
| ۳۹ | فإذا قُضِيَتْ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا في الْأَرْضِ وَابْتَغُوا من فَضْلِ اللَّهِ | الجمعه | 93 |
| ۴۰ | وَتَعَاوَنُوا على الْبِرِّ وَالتَّقْوَى | المائده | 96 |
| ۴۱ | وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ | البقره | 96 |
| ۴۲ | لهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ | البقره | 99 |
| ۴۳ | وَأَنْ ليس لِلْإِنْسَانِ إِلَّا ما سَعَى | النجم | 100-99 |
| ۴۴ | وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ | الاسراء | 105 |
| ۴۵ | وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِتَعْتَدُوا | البقره | 107 |
| ۴۶ | أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ | الطلاق | 107 |
| ۴۷ | وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ | البقره | 114 |
| ۴۸ | يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ... فلم تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا | المائده | 114 |
| ۴۹ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ | الجمعه | 115 |
| ۵۰ | وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ | يوسف | 133 |
| ۵۱ | فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِر | القمر | 133 |
| ۵۲ | يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا | البقره | 134 |
| ۵۳ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ | المائده | 144 |
| ۵۴ | مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ | النحل | 149 |
| ۵۵ | لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ | النور | 150 |
| ۵۶ | خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ | اعراف | 157 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵۷ | وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا | البقره | 160 |
| ۵۸ | وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ | انعام | 170 |
| ۵۹ | قُلْ لا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ اليمُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ ...... | انعام | 171 |
| ۶۰ | وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ | البقره | 189 |
| ۶۱ | فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ ..... | البقره | 195 |
| ۶۲ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ .......... | النساء | 206 |
| ۶۳ | يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ | الطلاق | 211 |
| ۶۴ | وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ | النساء | 212 |
| ۶۵ | وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ | الانفال | 213 |
| ۶۶ | فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا | المائده | 215 |
| ۶۷ | فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ | المائده | 215 |

## د حدیثونو فهرست


| گڼه | حدیثونه | کتاب | مخ |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: لا توضؤ من البان الغنم و توضؤ من البان الابل | ابن ماجه | 21 |
| ۲ | اغزوا بسم الله ، وفي سبيل الله ، قاتلوا من كفر بالله | مسند ابی حنیفه | 25 |
| ۳ | ما رُوِيَ أَنَّ رَجُلًا جاء إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رضي اللَّهُ عنهما وقال إنَّ صَاحِبًا لنا مَاتَ | ابن ابی شیبه | 40 |
| ۴ | إنما الأعمال بالنيات وإنما لكل امرئ ما نوى | صحیح البخاری | 45 |
| ۵ | رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ | ابو داؤد | 48 |
| ۶ | من ادرک رکعة من الصلوة فقد ادرک الصلوة | صحیح مسلم | 51 |
| ۷ | الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ اللَّيْثِيِّ، أَنَّهُ أَهْدَى لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا وَحْشِيًّا | صحیح البخاری | 52 |
| ۸ | الشهر هكذا و هكذا وهكذا | صحیح البخاری | 56 |
| ۹ | لا ضرر ولا ضرار | ابن ماجه | 59 |
| ۱۰ | من قتل دون ماله فهو شهيد | ابو داؤد | 65 |
| ۱۱ | ومن السحت مهرالبغِي وثمن الكلب | صحیح البخاری | 68 |
| ۱۲ | رُوِیَ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کتب الی مجوس هَجَرَ اما ان تذروا الربا او تأذنوا بحرب من الله ورسوله | بدائع الصنایع | 72 |
| ۱۳ | الحلال بين والحرام بين بينهما امور مشتبهات | سنن الکبری | 76 |
| ۱۴ | نهی النبی صلی الله علیه وسلم ان یقرن الرجل بین التمرتین | صحیح البخاری | 78 |
| ۱۵ | لا يبيع الحاضر لبادٍ دعوا الناس يرزق الله بعضهم من بعضٍ | صحیح مسلم | 79 |
| ۱۶ | لا ینصرف حتی یسمع صوتا او یجد ریحا | صحیح البخاری | 86 |
| ۱۷ | عن عائشة قالت : جاءت فتاة إلى النبي فقالت : يا رسول الله إن أبي ونعم الأب | النسایی | 93 |
| ۱۸ | عن حكيم بن حزام أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث معه بدينار | ابو داؤد | 96 |
| ۱۹ | ما روی ان النجاشي زوج رسول الله صلی الله علیه وسلم أم حبیبة رضی الله عنه | ابو داؤد | 103 |
| ۲۰ | عن جابر رضی الله عنه قال: نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن بیع الحصاة و بیع الغرر | صحیح مسلم | 111 |
| ۲۱ | عن ابي هريرة رضی الله عنه نهى عن الملامسة والمنابذة | صحیح البخاری | 111 |
| ۲۲ | الْمُسْتَحَاضَةُ تَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ | ابو داؤد | 114 |
| ۲۳ | إِنَّ بَنِي هِشَامِ بْنِ الْمُغِيرَةِ اسْتَأْذَنُوا فِي أَنْ يُنْكِحُوا ابْنَتَهُمْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَلَا آذَنُ | صحیح البخاری | 120 |
| ۲۴ | لاَ تُصَرُّوا الإِبِلَ وَالغَنَمَ، فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدُ فَإِنَّهُ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا: إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا وَصَاعَ تَمْرٍ | صحیح البخاری | 121 |
| ۲۵ | في ميراث قد درست فقال لهما علیه الصلاة والسلام استهما واوجبا الحق ولیحلل کل واحد منکما صاحبه | ابو داؤد | 123 |
| ۲۶ | عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنْتُ أَبِيعُ الإِبِلَ بِالْبَقِيعِ فَأَبِيعُ بِالدَّنَانِيرِ وَآخُذُ الدَّرَاهِمَ وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ | ابو داؤد | 126 |
| ۲۷ | ذكاة الجنين ذكاة امه | ابو داؤد | 129 |
| ۲۸ | نهى رسول الله {صلى الله عليه وسلم} عن بيع الصبرة من التمر لا يعلم مكيلتها بالكيل المسمى من التمر | صحیح مسلم | 131 |
| ۲۹ | ما رُوِيَ عن رسول اللَّهِ أَنَّهُ قال من اشْتَرَى شَاةً مُحَفَّلَةً فَوَجَدَهَا مُصَرَّاةً فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ | صحیح البخاری | 134 |
| ۳۰ | عن علي أن النبي صلى الله عليه و سلم نهى أن يضحى بعضباء الأذن والقرن | ابو داؤد | 137 |
| ۳۱ | الاصل فیه ما روی ان بریرة رضی الله عنها کانت یتصدق علیها و کانت تهدي ذالک الی رسول الله صلی الله علیه وسلم و کان یأکل منه | صحیح البخاری | 140 |
| ۳۲ | اتته امرآة فقالت :انی تصدقت علی امي بجارية و انها ماتت فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم وجب اجرک و ردها علیک المیراث | صحیح مسلم | 140 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۳ | قالت عايْشه رضى الله عنها : كانى انظر الى وبيص الطيب فى مفارق رسول الله صلى الله عليه وسلم و هو محرم | صحيح مسلم | 146 |
| ۳۴ | قال صلى الله عليه وسلم اذكرو انتم اسم الله عليه و كلوا | صحيح البخارى | 150 |
| ۳۵ | قال النبى صلى الله عليه وسلم: ما رآه المسلمون حسنا فهو عندالله حسن | مسندامام حنبل | 157 |
| ۳۶ | ان رسول الله صلي الله عليه وسلم، نهي عن بيع الثمار حتي يبدُوَ صلاحها، نهي البايع والمبتاع | صحيح البخارى | 164 |
| ۳۷ | الذهب بالذهب، والفضته بالفضته ............ | صحيح مسلم | 165 |
| ۳۸ | جرح العجماء جبار | النسايى | 168 |
| ۳۹ | الرجل جُبار | ابو داؤد | 168 |
| ۴۰ | شكى الى النبي صلي الله عليه وسلم الرجل الذي يخيل اليه انه يجد الشئ في الصلاة .... | صحيح البخارى | 172 |
| ۴۱ | البينة علي المدعي واليمين علي المدعى عليه | سنن ترمذى | 174 |
| ۴۲ | ان هذه الشاة لتخبرني انها ذبحت بغير حق | ابو داؤد | 178 |
| ۴۳ | قال عليه الصلاة والسلام: من ترک مالا اوحقاً فهو لورثته | صحيح البخارى | 189 |
| ۴۴ | رُوِيَ أَنَّ أَبَا الْيُسْرِ بَائِعُ الْعَسَلِ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ فقال إنِّي أَصَبْت من امْرَأَتِي كُلَّ شَيْءٍ إلَّا الْجِمَاعَ فقال تَوَضَّأْ وَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ | الكاسانى | 192 |
| ۴۵ | واذا امرتكم بامر فاتوا منه ما استطعتم | صحيح البخارى | 213 |
| ۴۶ | من راي منكم منكرا فليغيره بيده | صحيح مسلم | 213 |
| ۴۷ | ان قريشا اهمتهم المراة المخزومية التي سرقت فقالوا | صحيح البخارى | 218 |
| ۴۸ | قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «البِكْرُ تُسْتَأْذَنُ» قُلْتُ: إِنَّ البِكْرَ تَسْتَحْيِي؟ قَالَ: «إِذْنُهَا صُمَاتُهَا | صحيح البخارى | 228 |
| ۴۹ | عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ قَالَ خَرَجَ رَجُلاَنِ فِى سَفَرٍ فَحَضَرَتِ الصَّلاَةُ وَلَيْسَ مَعَهُمَا مَاءٌ فَتَيَمَّمَا صَعِيدًا طَيِّبًا | ابو داؤد | 232 |

# د اعلامو فهرست

| مخ | اعلام | ګڼه |
|---|---|---|
| ۱۱ | ابن فارس ، ابو الحسين ، احمد بن فارس بن زكريا | ۱ |
| ۱۱ | ابن الاثير ابوالسعادات مجدالدين المبارک بن محمد بن | ۲ |
| ۱۲ | الجرجاني علي بن محمد بن علي | ۳ |
| ۱۲ | الزمخشري ابوالقاسم محمود بن عمر بن محمد | ۴ |
| ۱۳ | التهانوي، محمد بن علي بن القاضي محمدحامد الحنفي | ۵ |
| ۱۶ | القرافي احمد بن ادريس بن عبدارحمن شهاب الدين | ۶ |
| ۱۷ | ابو بكر بن ابى القاسم بن احمد اليمني التهامي الحنفي | ۷ |
| ۱۷ | الحافظ العراقِي ابوالفضل زين الدين عبدالرحيم بن الحسين بن عبدالرحمن | ۸ |
| ۱۷ | جلال الدين السيوطي | ۹ |
| ۱۷ | عبدالرحمن بن رجب بن الحسن البغدادي الدمشقي | ۱۰ |
| ۱۷ | ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم | ۱۱ |
| ۲۱ | النووى يحيى بن شرف بن مري بن حسن الحزامي الحوراني | ۱۲ |
| ۲۲ | الحموي، احمد بن محمد مكي ابو العباس شهاب الدين | ۱۳ |
| ۲۳ | ابن عديم : كمال الدين عمربن أحمد بن هبة الله بن أبي الجرادة العقيلي | ۱۴ |
| ۲۶ | نورالدين محمود زنكي بن عماد الدين زنكي | ۱۵ |
| ۲۷ | الغزنوي : مشهورپه تاج الحنفي | ۱۶ |
| ۳۶ | ابن عابدين امين بن عمر بن عبدالعزيز | ۱۷ |
| ۳۶ | خسرو شاهي : عبدالحميد بن عيسى بن عمربن | ۱۸ |
| ۴۰ | الشوكاني اليمني.محمد بن علي بن محمد بن عبد الله ا | ۱۹ |
| ۴۴ | محمد بن ابي بكر بن ايوب بن سعد ، ابن القيم الجوزي، | ۲۰ |
| ۵۲ | شهاب الدين أبو الفضل، أحمد بن علي بن محمد بن محمد بن علي، الكناني، العسقلاني | ۲۱ |
| ۵۶ | القرطبى ابو عبدالله، محمد بن احمد بن ابي بكر بن فرح الخزرجي الانصاري، | ۲۲ |
| ۵۹ | ابن رجب زين الدين عبدالرحمن بن احمد | ۲۳ |
| ۶۶ | ابن تيميه تقى الدين ابو العباس احمد بن عبدالحليم بن عبد السلام الحراني | ۲۴ |
| ۷۱ | السرخسى محمد بن احمد بن ابى سهل | ۲۵ |
| ۷۵ | ابراهيم بن موسى بن محمد اللخمي | ۲۶ |
| ۹۹ | شيخ الاسلام، عزالدين بن عبدالعزيزبن | ۲۷ |
| ۱۱۶ | أبو زكريا يحيى بن زياد بن عبد الله بن منظور الأسلمي | ۲۸ |
| ۱۵۰ | ابن كثيرعمادالدين ابوالفداء اسماعيل بن عمروالبصرى | ۲۹ |
| ۱۵۳ | الرازى ابو عبدالله-فخرالدين-محمد بن عمربن الحسين | ۳۰ |
| ۱۶۱ | السمعانى – ابوالمظفر منصور بن محمد بن عبدالجبار | ۳۱ |
| ۱۸۰ | الآمدي علي بن ابي علي بن محمد التغلبي | ۳۲ |
| ۱۸۱ | شهاب الدين ابوالفضل احمد بن علي بن محمد | ۳۳ |
| ۲۲۴ | محمد بن ابراهيم بن منذرالنيشاپوري | ۳۴ |
| ۱۸۵ | ابوالبركات احمد ابن محمود النسفى | ۳۵ |
| ۲۳۲ | الصدرالشهيد برهان الدين محمد بن احمد بن عبدالعزيز | ۳۶ |

## مآخذونه

### قرآن مجید

### تفاسیر


۱- ابو زهره محمد بن احمد بن مصطفى ، **زهرة التفاسير**، خپروونکی، دارالفکرالعربي، قاهرة ، لومړی چاپ کال ۱۴۲۰ه

۲- الزرکشي بدر الدين محمد بن عبد الله بن بهادر، **البرهان فی علوم القرآن**،خپروونکی، دار إحياء الكتب العربية بيروت لومړی چاپ کال۱۳۷۶ه

۳- الطبري، محمد بن جرير، **جامع البيان في تأويل القرآن**. خپروونکی مؤسسة الرسالة بيروت لومړی چاپ کال ۱۴۲۰

۴- الشنقيطي محمد الأمين بن محمد بن المختار الجكني، **أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن** ، خپروونکی دارالفکر بيروت لومړی جاپ کال ۱۴۱۵ه

۵- الشربيني شمس الدين محمد بن احمد **تفسير السراج المنير**، خپروونکی، دارالکتب العلمية بيروت، لومړی چاپ کال ۱۴۲۳ه

۶- الشيخ العلامة ، محمد الامين بن عبدالسلام ، **تفسير حدائق الروح والريحان** ، خپروونکی: دارطوق النجاة بيروت لبنان ، کال ۱۴۲۱ه

۷- القرطبي، أبو عبد الله، محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري، **الجامع لاحکام الفران،** خپروونکي، دار عالم الكتب، والنشر، د چاپ ځای،الرياض، سعودي،د چاپ ،کال ۱۴۲۳ه

۸- الجصاص، أبو بكر، أحمد بن علي الرازي ،**احکام القرآن**، تحقيق : محمد الصادق قمحاوي خپروونکي، دار إحياء التراث العربي، د چاپ ځای:بيروت لبنان، د جاپ کال:۱۴۰۵ ه


### د احاديثو کتابونه:


۹- أبوالحسين مسلم بن الحجاج ، ،**صحيح المسلم** ، ، خپروونکی : دار احياء التراث العربي – بيروت ، لومړی چاپ کال : 1283 هـ ، تحقيق :محمد فؤاد عبد الباقي

۱۰- الأصفهاني ، أبونعيم أحمد بن عبدالله ، **مسند الإمام أبي حنيفة رحمه الله** ، چاپ : مكتبة الكوثر – رياض ، لومړی چاپ کال: 1415 هـ ، تحقيق : نظر محمد الفاريابي


### شروح الحديث


۱۱- البستي، ابوسليمان،احمد بن محمد الخطابي، **معالم السنن،** خپروونکی، المطبعة العلمية حلب سوريه لومړی چاپ کال ۱۳۵۱ه

۱۲- الحميدي محمد بن أبي نصر فتوح بن عبد الله **تفسير غريب ما فی الصحيحين البخاری ومسلم** . خپروونکی.مكتبة السنة قاهره لومړی چاپ کال ۱۴۱۵ه

۱۳- المباركفوري أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم ، **تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي،** خپروونکی، دارالکتب العلمية بيروت لومړی چاپ کال ۱۴۲۳ه

۱۴- ابن عبد البر، أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد، **التمهيد لما في الموطأ من المعاني والأسانيد،** خپروونكي،مؤسسة القرطبة،http://www.raqamiya.org_

۱۵- بن رجب، أبو الفرج عبد الرحمن بن أحمد الحنبلي، **جامع العلوم والحكم،** خپروونكي: دارالمعرفه، د چاپ ځای، بیروت، د چاب کال ۱۴۰۸ د چاپ ګڼه۱

۱۶- لنووي،أبو زكريا يحيى بن شرف بن مري،**شرح النووي على صحيح مسلم،** خپروونكي، دار إحياء التراث العربي، د چاپ ځای، بیروت ـ لبنان، د چاپ ګڼه ۲ ،کال ۱۳۹۲ج۵ص

۱۷- العسقلاني، أبو الفضل، أحمد بن علي بن حجر، **فتح الباري شرح صحيح البخاري،** خپروونكي، دارالمعرفة، د چاپ ځای، بیروت ـ لبنان، د چاپ ګڼه ۲ ،کال ۱۳۷۹ج۴ص۳۳

**دسیرت کتابونه**

۱۸- ابن قيم، محمد بن أبي بكر بن أيوب **زاد المعاد في هدي خير العباد،** خپروونکی،مؤسسة الرسالة بيروت ۲۷چاپ کال ۱۴۱۵ه

فقهي کتابونه

۱۹- بن قدامه، عبدالرحمن بن محمد بن احمد، **الشرح الكبير،** خپروونکی، مؤسسة الرسالة بیروت،دویم چاپ کال ۱۳۹۷ه

۲۰- الحمد، الشسخ حمد بن عبدالله، **شرح زاد المستنقع** ، مکتبة الشامله

۲۱- المقدسي، عبدالرحمن بن ابراهيم، بن احمد، **العدة شرح العمدة،** خپروونکی، دارالکتب العلميه بیروت دویم چاپ کال ۱۴۲۶ه

۲۲- ابن قدامة أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد ، **عمدة الفقه،** خپروونکی،المکتبة العصريه رياض، دریم چاپ کال ۱۴۲۵ه

۲۳- العثيمين محمد بن صالح بن محمد ، **الشرح الممتع على زاد المستقنع**،خپروونکی، دارابن جوزي رياض، لوړی چاپ کال ۱۴۲۸ه

۲۴- البهوتي. منصور بن يونس بن ادريس، **كشاف القناع،** خپروونکی دالفکر بیروت لبنان لومړی چالپ کال ۱۴۰۲ه ج۳ ص

۲۵- برهان الدين مازه محمود بن أحمد بن الصدر الشهيد النجاري , المحيط البرهاني, خپروونکی، داراحياءالتراث العربي، بيروت لومړی چاپ کال ۱۴۲۰ه ج الدسوقي. محمد عرفه،**حاشية الدسوقي على ۲۶- الشرح الكبير**،خپروونکی، دارالفکر بیروت،لومړی چاپ کال ۱۴۲۰ه

۲۷- السيواسي كمال الدين محمد بن عبدالواحد، **شرح فتح القدير،** خپروونکی، دارالفکر بیروت لبنان، دویم چاپ کال ۱۴۱۷ه

۲۸- ابن نجيم زين الدين بن ابراهيم ، **بحرالرائق شرح كنز الدقائق،** خپروونکی،دارالمعرفة بیروت لبنان، لومړی چاب کال ۱۴۲۳ه

٢٩- لقرافي، شهاب الدين احمد بن ادريس، **الذخبرة**، خپروونکی، دالغرب بیروت لبنان لومړی چاپ کال ١٩٩۴م

٣٠- البخاري عبيد الله بن مسعود المحبوبي الحنفي، شرح التلويح على التوضيح لمتن التنقيح في أصول الفقه، الناشر دار الكتب العلمية بيروت لبنان دويم چاپ کال ١۴١۶ه ج١ص١۶

٣١- الرملي شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة ابن شهاب الدين الشهير بالشافعي الصغير، **نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج**. خپروونکی دار الفكر للطباعة بيروت لبنان دريم چاپ کال ١۴٠۴ه

٣٢- الشافعي، ابو عبدالله، محمد بن ادريس، **الام** ، خپروونکي، دارالمعرفة ، د چاپ ځای بیروت، دچاپ کال١٣٩٣ج۴ص١۶٨

٣٣- الزيلعي،فخر الدين عثمان بن علي،**تبين الحقائق شرح كنز الدقائق**، خپروونکي، دار الكتب الإسلامي، د چاپ خای،قاهره ، د چاپ کال١٣١٣، ج۵ص٨

٣۴- یوه مجوعه د علماء، **مجلة الاحكام العدلية** خپروونکي، نور محمد، کارخانه تجارتِ کتب، د چاپ خای، آرام باغ،کراچي، د چاپ کال١۴١٨، د چاپ ګڼه ٢ص٢۴

٣۵- الكاساني، الحنفي ،علاء الدين، ابي بكر، د مسعود ځوی، چی لقب یې ملک العلماء دی. **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**.خپروونکی:دارالکتاب العربي، دچاپ ځای: بیروت لبنان، د چاپ کال:١۴٠٢ه.

٣۶- الشامي، ابن عابدين،محمدامين،د محمدعمرځوی د عابدین مسی.**ردالمحتار على درالمختار**. خپروونکي:دارعالم الکتب،د چاب ګڼه ١چاپ ځای:الرياض، دچاپ کال:١۴٢٣.

٣٧- ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم بن محمد بن محمد المصري **بحرالرائق**، خپرونکي، دارالمعرفة، د چاپ ځای، بیروت ـ لبنان،کال ١۴٢٣ج١ص٢۶

٣٨- ابن نجيم، زين الدين، د ابراهيم ځوی، د محمد مسي، د بکر کړوسی. **الاشباه والنظائر**.خپروونکی،امام محمد غزالي.چاپ اول، کال ١٣٩٩،ص٧٩،

٣٩- كمال الدين، د محمد ځوی، د عبد الواحد السواسي مسی. **شرح فتح القدير**. خپروونکی:دارالفکر،د چاپ ځای:بیروت. لبنان،د چاپ کال:١۴٣٢،د چاپ ګڼه:٣ ج٨ص٣۵۵.

۴٠- الزرقا، مصطفى احمد، **المدخل الفقهى العام**، خپروونکی،دارالقلم.د چاپ ځای .دمشق د سچاپ ګڼه ٢،دچلپ کال ١۴٢۵،ج٢ص ٨٧٢

۴١- على حيدر، **درر الحكام شرح مجلة الأحكام**، خپروونکی: دارالکتب العلمية. د چاپ ځای ،بیروت لبنان، لومړی. د چاپ ج١ص١٨

۴٢- الحصفكي. علاء الدين، محمد بن علي بن محمدالحصكفي، **الدر المختار**، خپروونکی:دارالفکر. د چاپ ځای ،بیروت لبنان، د چاپ ګڼه لومړی. د چاپ کال ١٣٨۶ه ج۴ص

۴٣- السرخسي، شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل، **المبسوط**، خپروونکي، دارالقکر، د چاپ ځای:بیروت لبنان، د جاپ کال:١۴٢١ ج١٣ص٢٣٨

۴۴- یوه ډله د هند د علماء ، **الفتاوى الهندية،** خپروونکي، دار الفکر، د چاپ ځای ،بیروت لبنان،کال۱۴۱۱ ج۱ص ۸۲
۴۵- الماوردي. أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري،**الحاوي في فقه الشافعي ،** خپروونکي،دار الكتب العلمية، د چاپ ځای،بیروت لبنان، کال۱۴۱۴ج۱۸ص۷۱

۴۶- الشامي، ابن عابدين، محمد امين بن عمرعابدين، **رد المحتار على الدر المختار،** خپروونکي، دار الفكر للطباعة والنشر، د چاپ ځای، بيروت ـ لبنان، د چاپ ګڼه ۲ ،کال ۱۴۲۱ج۲ص

**د قواعدو کتابونه**

۴۷- ابو محمد عزالدين عبدالعزيزبن عبدالسلام ، **قواعدالاحكام في مصالح الانام،** خپروونکی، دارالمعارف بيروت لومړی چاپ کال ۱۴۲۰ه

۴۸- الباحسين، دكتور يعقوب، **قاعدة اليقين لازول بالشك،** خپروونکی، مكتبة الرشيد، رياض، لومړی چاپ کال ۱۴۲۱ه

۴۹- المجددی، مفتي عميم الاحسان، **المجموعة للقواعد الفقهية** ،خپروونکی، مكتبة دارالبشرى، كراچی پاکستان لومړی چاپ کال ۱۴۳۷ه

۵۰- أبو محمد عز الدين عبد العزيز بن عبد السلام ، الملقب بسلطان العلماء ، **قواعد الاحكام بمصالح الانام،** خپروونکی، دارالمعارف بيروت لبنان لموړی چاپ کال ۱۴۰۷ه

۵۱- السدلان، دكتور، صالح بن غانم، **القواعد الفقهية الكبرى وماتفرع عنها،** خپروونکي، مكتبة الملك فهد الوطنية، رياض،لومړی چاب کال ۱۴۱۷ه

۵۲- الدبوسي،ابوزيد،عبدالله بن عمر، **تأسيس النظر،** خپروونکی، دارالمعرفة، بيروت لبنان دريم چاپ کال ۱۴۱۵ه

۵۳- د عماد علي جمعة ، **القواعد الفقهية الميسرة** ، خپروونکی، مكتبة الملك فهد الوطنية، رياض، لومړی چاپ کال ۱۴۲۷ه

**۵۴-** الخادمي، نورالدين مختار، **القواعد الفقهية،** خپروونکی، جامعة تونس الافتراضية ، کال ۲۰۰۷م

۵۵- السيوطي جلال الدين عبدالرحمن بن ابي بكر ، **الاشباه والنظائر** خپروونکی، دارالكتب العلمية بيروت لبنان لومړی چاپ کال ۱۴۰۳ه

۵۶- ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم، **الاشباه والنظائر،** خپروونکی دارالكتب العلمية دويم چاپ کال ۱۴۰۰ه

٥٧- الحنبلي ابن رجب ، **تقريرالقواعد او تحريرالفوائد**، خپرونکی دارالحسن للنشر والتوزيع ، اردن بيدون له تاريخه

٥٨- الاهدل ابوبکربن ابی القاسم ، **الفرائدالبهية نظم قواعد الفقهية**،خپرونکی دارالکتب العلمية بيروت لبنان دريم چاپ کال ١٤٢٣ه

٥٩- القرافي أبو العباس أحمد بن إدريس الصنهاجي **الفروق أو أنوار البروق في أنواء الفروق**، خپرونکی ، دارالکتب العلميه بيروت لبنان دويم چاب کال ١٤١٨ه

٦٠- الزحيلي، وهبة بن مصطفى، **نظرية الضرورة**، خپرونکي، مؤسسة الرسالة ، د چاپ ځای،بيروت، د چاپ کال ١٤٠٥ ص٦٤

٦١- الصقعبي، خالد بن ابراهيم، **شرح منظومة القواعدالفقهية للسعدي**، خپرونکی:داراحياء تراث العربي،بيروت لومړی چاپ کال ١٤١٥ه

٦٢- الندوي، دکتور علي احمد، **موسوعة القواعد والضوابط الفقهية** ، خپرونکي، الرسالة ، بيروت، د چاپ کال ١٤١٩ د چاپ ګڼه٢ ج١ص١٣٨

٦٣- البورنو. ابو الحرث ،محمد صدقي بن احمد الغزي، **موسوعة القواعد الفقهيه**، خپرونکي، مکتبة التوبة، د چاپ خای،الرياض، د چاپ کال١٤١٨، د چاپ ګڼه ١ج١ص٤٨

٦٤- دکتور، محمد بکر اسماعيل، **القواعد الفقهيه بين الاصالة والتوجيه**، خپرونکي، دار المنار، بغير د مکان او زمان د نشر ص٣٥

٦٥- الحصني. تقي الدين، ابي بکر بن محمد بن عبد المؤمن، **کتاب القواعد**، خپرونکي، مکتبة الرشد، د چاپ ځای، رياض، سعودي، د چاپ کال ١٤١٥ د چاپ ګڼه، ١ ج١ ص ٣٣٣

٦٦- موافي، الدکتور احمد ، **الضرر فی الفقه الاسلامي** ، خپرونکي، دار ابن قيم، د چاپ ځای، رياض، سعودي، د چاپ کال ١٤٢٩ د چاپ ګڼه، ٢ ج١ ص ٩٧

٦٧- الزرقا، احمد بن محمد بن عثمان ، **شرح القواعد الفقهية** ، خپرونکي: دارالقلم، د چاپ ځای، دمشق سوريه، د چاب کال ١٤٠٩ د چاپ ګنه ٢ص ١٦٥

**عامه فقه**

٦٨- ابن قيم ابوعبدالله محمد بن ابی بکر ايوب الزرعي، **اغاثة اللهفان**، خپرونکی: دارالمعرفه بيروت دويم چاپ کال ١٣٩٥ه

۶۹- أبو شجاع محمد بن علي بن شعيب‌ **تقويم النظر في مسائل خلافية ذائعة** ، خپروونکی، دارالرشد، رياض لومړی چاپ كال ۱۴۲۲ه

۷۰- ابن قيم، محمد بن أبي بكر أيوب الزرعي ، **بدائع الفوائد** ، خپروونکی. مکتبة نزار مصطفى الباز - مكة المكرمة، لومړی چاپ كال ۱۴۱۶ه

۷۱- ابن تيمية، تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم، **مجموع الفتاوى**، خپروونكي، دارالوفاء، د چاپ گڼه ۳ د چاپ كال۱۴۲۶ ج۲۱ص۵۶۳

۷۲- الشاطبي، إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي، **الموافقات**، خپروونكي، دار ابن عفان د جاپ گڼه ۱كال ۱۴۱۷http://www.raqamiya.org

۷۳- ابن تيمية. تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام، **الفتاوى الكبرى**، خپروونکی، **دار الكتب العلمية**.د چاپ ځاى .بيروت د چاپ گڼه لومړی،دچلپ كال ۱۴۲۰، ج۳ص ۲۷۴

۷۴- الهيتمي، ، أبو العباس. شهاب الدين، أحمد بن محمد بن علي بن حجر **الفتاوى الفقهيه الكبرى**، خپروونکی، دار الفكر.د چاپ ځاى .بيروت د چاپ گڼه لومړی،دچلپ كال ۱۴۲۷، ج۳ص

۷۵- زيدان، دكتور، عبدالكريم، **المدخل لدراسة الشريعة الاسلامية**، خپروونكي،مؤسسة الرسالة،د چاپ ځای، بيروت لبنان، د چاپ گنه،۱۶،د چاپ كال،۱۴۲۳ص۷۸

۷۶- العتيبي، سعود بن عبد العاليالبارودي، **الموسوعة الجنائية الإسلامية**، د چاپ ځاى:رياض، د جاپ كال:۱۴۲۷ ج۱ص

۷۷- زيدان، دكتور، عبدالكريم، **المدخل لدراسة الشريعة الاسلامية**، خپروونكي،مؤسسة الرسالة،د چاپ ځای، بيروت لبنان، د چاپ گنه،۱۶،د چاپ كال،۱۴۲۳ص۷۸

۷۸- ابن قيم الجوزية ، أبو عبد الله، محمد بن أبي بكر أيوب الزرعي، **اعلام الموقعين** ، خپروونکي، دار الجيل، د چاپ ځاى:بيروت لبنان، د جاپ كال:۱۹۷۳م ج۳ص۹۶د

۷۹- هيئة من كبار العلماء، **الموسوعة الفقهية الكويتية**، خپروونكي: دارالسلاسل ، د چاپ ځاى:الكويت، د جاپ كال:۱۴۲۷ج۱۲ص۷۱

۸۰- مجموعة من المؤافين، **موسوعة فقه المعاملات**، ج۱ص۸۵۳ المصدر : موقع الإسلام http://moamlat.al-islam.com

۸۲- ابن قيم الجوزية ، أبو عبد الله، محمد بن أبي بكر أيوب الزرعي، **بدائع الفوائد** ، خپروونکي، مكتبة نزار مصطفى الباز، د چاپ ځاى:مكه مكرمه، د جاپ كال:۱۱۴۱۶ه ج۲ص۲۸۴

۸۳- الزحيلي، وهبة بن مصطفى، **الفقه الاسلامي وادلته**، خپروونکي، دار الفكر، دچاپ ځاي، دمشق سوريه، د چاپ گڼه، ۱

**د اصول فقهي كتابونه**

۸۴- الشاطبي، ابراهيم بن موسب، **الموافقات**،خبروونکی، دار ابن عفان، بيروت،لومړی چاپ كال ۱۴۱۷ه

۸۵- الرازي محمد بن عمر بن الحسين. المحصول فی علم الاصول، خپروونکی جامعة الإمام محمد بن سعود الإسلامية – الرياض لومړی چاپ کال ۱۴۰۰ه

۸۶- سبط ابن الجوزی، **ايثار الانصاف فی اثارالخلاف**، خپروونکی، دارالسلام ، قاهره لومړی چاپ كال ۱۴۰۸ه

۸۷- زيدان، دكتور عبدالكريم ، **الوجيز في اصول الفقه**، خپروونکی: دارنشرالكتب الاسلاميه، لاهور پاكستان

۸۸- ابن اميرالحاج، **التقرير و التحريرفي اصول الفقه**، خبروونکی: دارالفكر بيروت لبنان كال ۱۴۱۷ه ج

۸۹- البخاري، علاء الدين عبد العزيز بن أحمد بن محمد،، **كشف الأسرار عن أصول البزدوي**، خپروونکي، دار الكتب العلمية د چاپ ځای:بيروت لبنان، جاپ ګڼه لومړي كال:۱۴۱۸ ج۴ص۳۳۵

۹۰- السرخسي، شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل، **اصول السرخسي**، خپروونکي،دارالكتب العلمية، د چاپ ځای:بيروت لبنان، د جاپ كال:۱۴۱۴ه ۱ ج۲ص۳۴۰

**الانساب وتراجم:**

۹۲- الذهبي ، شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان ، **تاريخ الإسلام ووفيات المشاهير ولأعلام** : ،خپروونکی : دارالغرالإسلامي – بيرت - لبنان دريم چاپ كال : 2003م ، تحقيق او تعليق : د / بشار عواد معروف

۹۳- ابن العماد، عبد الحي بن أحمد العكري الدمشقي، **شذرات الذهب**، خپروونکی دارالكتب العلمية بيروت لبنان لومړی چاپ کال ۱۴۳۵هـ

۹۴- ابن العديم ، كمال الدين عمربن أحمد بن هبة الله بن أبي الجرادة العقيلي ، **بغية الطلب في تاريخ حلب** خپروونکی : دارالفكرللنشروالتوزيع.

۹۵- السمعاني، أبو سعد عبد الكريم بن أبي بكر ، **الانساب** ، خپروونکی، دارالفكر بيروت لبنان دريم چاپ كال ۱۴۲۳ه ج۳ ص۲۳۵

۹۶- العبودي ، الشيخ ، محمد بن ناصر، **فی بلاد المسلمين المنسيين ببخاری و ماوراء النهر لومړی** خپروونکی دارالفكر بيروت لبنان كال ۱۴۱۲ه

۹۷- الحموي ، شيخ امام شهاب الدين أبي عبد الله ياقوت بن عبد الله ، **معجم البلدان** :خپروونکی .: دار صادر – بيروت ،لومړی چاپ کال : 1397 هـ 1977 م

## د لغت کتابونه


۹۸- الراغب الأصفهاني الحسين بن محمد بن المفضل ، **مفردات الفاظ القرآن**،خپرورنکی دارالقلم دمشق لومړی چاپ کال ۱۴۱۳ه

۹۹- الزمخشري، ابوالقاسم محمود بن عمر، **الفائق في غريب الحديث**، خپروونکی: دارالمعرفة بیروت لبنان، دویم چاپ ۱۳۹۸ه

۱۰۰- البرکتي، مفتي، عمیم الاحسان المجددي، **التعریفات الفقهیة**، خپروونکې، مکتبة البشری،د چاپ ځای،کراچي پاکستان،د چاپ کال۱۴۳۷، د چاپ ګڼه ۱، ص۱۱۵

۱۰۱- قلعه جي، دکتور،محمد رواس، **معجم لغة الفقهاء**،خپروونکې، دار النفائس،د چاپ ځای،بیروت،د چاپ کال۱۴۰۵، د چاپ ګڼه ۱،

۱۰۲- لویس, معلوف,ترجمه: محمد بندر ریګِی،**المنجد عربی به فارسی**. خپروونکی:انتشارات ایران ،د چاپ ځای: تهران ،د چاپ کال:۱۴۳۲،د چاپ ګڼه:۵ ج۲ص۱۱۰۷

۱۰۳- مرتضی ، الزَّبیدي , أبو الفیض, محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسیني, **تاج العروس من جواهر القاموس**, تحقیق مجموعة من المحققین، خپروونکی، دار الهدایة، د چاپ ځای: بیروت لبنان ،د چاپ کال:۱۴۱۸،د چاپ ګڼه:۳ ج۸ص۲۱۰۷

۱۰۴- الافریقي, محمد بن مکرم بن منظور. **لسان العرب**، خپروونکی:دارصادر بیروت لبنان ، لومړی چاپ کال ۱۴۱۲ه

۱۰۵- المناوي،محمد عبدالروف، **التوقیف علی مهمات التعاریف**، خپروونکی،دارالفکر المعاصر.د چاپ ځای .بیروت د چاپ ګڼه لومړی،دچلپ کال ۱۴۱۰،

۱۰۶- الفیومي، أحمد بن محمد بن علي المقري. **المصباح المنیر في غریب الشرح الکبیر للرافعي**،، خپروونکی:مکتبة العلمیة. د چاپ ځای ،بیروت لبنان، د چاپ ګڼه دویم. د چاپ کال ۱۴۲۰ه ص۱۸۲

۱۰۷- الکفومي، ابو البقاء، ایوب ابن موسی الحسیني ، **الکلیات**، خپروونکې: مؤسسة الرسالة ، د چاپ ځای:بیروت، د جاپ کال:۱۴۱۹ج۱ص۸۳۴ ج۱ص

۱۰۸- التهانوي،محمد بن علي ابن القاضي محمد حامد بن محمّد صابر الفاروقي،**کشاف اصطلاحات الفنون والعلوم**، خپروونکی: مکتبة لبنان ناشرون. د چاپ ځای ،بیروت لبنان، د چاپ ګڼه لومړی. د چاپ کال ۱۹۹۶م ج۲ص

۱۰۹- بو الحسین أحمد بن فارس بن زکریا ، معجم مقاییس اللغة ، خپروونکی:دارالفکر. د چاپ ځای ،بیروت لبنان، د چاپ ګڼه لومړي. د چاپ کال ۱۳۹۹ه ج۴ص۲۰۷

۱۱۰- ابن اثیر، أبو السعادات المبارك بن محمد الجزري، **النهایة في غریب الحدیث والأثر**، خپروونکي، المکتبة العلمیة، د چاپ ځای،بیروت لبنان، کال۱۳۹۹ج۱ص۱۰۲۳

**تاريخ، طبقاتو، او تراجمو كتابونه.**

١١١- ابن خلكان أبو العباس شمس الدين أحمد بن محمد بن أبي بكر، **وفيات الأعيان،** خپروونکی،دار صادر بيروت لومړی چاپ کال ١٩٠٠م

١١٢- التقي الغزي، **الطبقات السنية فى تراجم الحنفية،: ملحق البدرالطالع،** تاليف: محمد بن محمد بن يحى . خپروونکې دارالمعرفة بيروت لبنان لومړی چاپ کال ١۴٠۵ه

١١٣- الذهبي شمس الدين محمد بن احمد ، **سير اعلام النبلاء** ، خپروونکی: مؤسسة الرسالة لومړی چاپ کال ١۴٠١ه ج

١١۴- الذهبى، محمد بن أحمد بن عثمان، **تذكرة الحفاظ،** تحقيق: زكريا عميرات، خپروونکې، دار الكتب العلمية ، د چاپ ځای، بيروت ـ لبنان، د چاپ ګڼه ١ ،کال ١۴١٩٢ج۵ص ١٠۵

١١۵- ابن صلاح تقى الدين ، ابو عمر عثمان بن عبد الرحمن . **طبقات الفقهاء الشافعيه** خپروونکی: دارالبشائر الاسلاميه ، بيروت لبنان کال ١٩٩٢م

# Summary

The study, which was conducted in the book Al-Bayy, a book on the jurisprudential rules in the book Al-Bayy, in the book Al-Bayy ;in the Book of Al-Bayy " Al-Bayy Rahmaullah and his book Badai al -Sanai, which is one of the most reliable and well-known sources of Hanafi jurisprudence, and the rules of jurisprudence which are found in Islamic jurisprudence are as follows:

The preface consists of three chapters, results, summaries, lists of verses, hadiths, and proclamations, sources, and finally a summary of the English language.

The introduction introduces the importance, necessity, reasons for preference, the main questions of the research, previous writings on the subject, procedure, objectives, problems and sequence.

1. The first chapter deals with the identification of the rules of jurisprudence and its value and importance, and its types. The following is an excerpt from the translation of Imam Kasani (may God have mercy on him) and an introduction to his book.

2. Chapter 2 describes the rules that have been extracted from the chapter (Rukn al-Bay'ah) to the chapter (Bi'u al-Makrooh) in the dec (2). Are debatable.

    - Topic 1: Jurisprudential rules in the chapter (Rukn al-Bayy).
    - Topic 2: Jurisprudential Rules in Chapter (Conditions of Conduct of Sale) which relate to Aqeed, Nafs Al-Aqd, and Makan Aqd.
    - Topic 3: Jurisprudential Rules in Chapter (Conditions of Conduct of Sale).
    - which are related to Maqood Alayh.
    - Topic 4: The rules of jurisprudence in the chapter on the conditions of the sale
    - Topic 5: Jurisprudential Rules in Chapter (Conditions of Enforcement of Sale).
    - Topic 6: The Rules of Jurisprudence
    - Topic 7: Jurisprudential Rules in the Chapter

3. In the third chapter, the jurisprudential rules are mentioned which are mentioned in the chapter of Hukam-ul-Bayy and in the chapter of Mairfa-i-Hukam-ul-Bayy and this chapter consists of four topics.

    Topic 1: Discussing the rules of jurisprudence.
    Topic 2: The rules of jurisprudence are subject to discussion.
    Topic 3: The rules of jurisprudence in the discussion of cucumbers have ten meanings.
    Topic 4: Discussing the rules of jurisprudence.

Salam University
Faculty of Sharia & Law
Master Program in  Jurisprudence & Law

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# Islamic religious law ruls in ketab ul buyoo of badaye - us -  sanaye

A master’s thesis

Student: Hazrat Gul (muskin)

Supervisor: Dr. Salim (Madani

Year: 2022

Salam University
Faculty of Sharia & Law
Master Program in  Jurisprudence & Law

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# Islamic religious law ruls in ketab ul buyoo of badaye - us - sanaye

A master's thesis

Student: Hazrat Gul (muskin)

Supervisor: Dr. Salim (Madani)

Year: 2022